فتاویٰ رحیمیہ

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاری مفتی سید عبد الرحیم لاجپوری

خطیب بڑی مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خلیل

حضرت مولانا غلام ربی

مکتبہ فاروقیہ

محلہ جنگی پشاور

فتــــاوی رحــیمـیه

(دویم جلد)

کتاب العقائد، کتاب السنة والبدعة

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحـیم لاجپوري رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مســـجـد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :

حضرت مـــــــولانا عـبدالخلیل صاحب

مکتبہ فاروقیہ محلہ جنگی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

د کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه
جلد : لومړی
ترجمه : مولانا غلام ربي

کمپوزر : بشارت الله

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

گڼه	عنوان	صفحه
۸۶	سلف صالحو له بدعت نه سخت نفرت درلود	۲۴۶
۸۷	د سنت او شریعت د پیروي متعلق د شیخ عبد القادر جیلاني هدایت	۲۵۳
۸۸	د کوم کار په بدعت کیدو کی چی شک وي هغه دی پریښودی شي	۲۵۸
۸۹	په بدعت کی سخت قباحت ولی دی ؟	۲۶۰
۹۰	بدعتي دین ناقص گڼي	۲۶۲
۹۱	ایا هر نوی شی بدعت دی ؟	۲۶۳
۹۲	د سنت تعریف او حکم یی	۲۶۴
۹۳	د سنت د اتباع په متعلق نبوي ارشاد	۲۶۷
۹۴	د فساد په وخت کی په یو سنت باندی د عمل کولو ثواب	۲۶۸
۹۵	د سنت له پیروي سره د محبت راز	۲۷۰
۹۶	د سنت معمولي گڼلو انجام	۲۷۰
۹۷	د اولیاو کرامت حق دی	۲۷۱
۹۸	یو څو مروجه بدعتونه	۲۷۳
۹۹	د مولانا احمد رضا خان مفصله فتوه	۲۷۶
۱۰۰	رسمي قرآن خواني	۲۸۱
۱۰۱	د علامه شامي تحقیق	۲۸۲
۱۰۲	په مزارونو باندی عرس او قوالي	۲۸۵
۱۰۳	د مولانا رضاخان فتوه	۲۸۷
۱۰۴	د یو بل پیشوا مولانا حکیم محمد حشمت فتوه	۲۸۸
۱۰۵	د قبرونو طواف	۲۸۹
۱۰۶	په قبرونو باندی سجده	۲۹۰
۱۰۷	قبر باندی تعظیمي سجده	۲۹۳
۱۰۸	د نورو رضاخاني علماو فتوې	۲۹۴
۱۰۹	د ښځو زیارت ته د تللو په متعلق د احمد رضا خان فتوه	۲۹۵
۱۱۰	په قبرونو باندی ډیوې بلول	۲۹۶
۱۱۱	په قبرونو باندی گلان اچول	۲۹۸
۱۱۲	د شاه محمد اسحاق صاحب مفصله فتوه	۲۹۹
۱۱۳	یو نوی بدعت	۳۰۱
۱۱۴	په کوم عبادت کی چی اجتماع ثابت نه ده	۳۰۳

د کفري کلماتو په اړه

په خبرو اترو کی کفريٰ کلمات ویل څنګه دي ؟

(۱ سوال) په جلسو کی خبری اتری کیږي ،له دوو هلکانو نه یو هلک خپل ځان کافر ښکاره کوي او لباس هم (انګریزي ټوپۍ ، کوټ ، پتلون وغیره) اغوندي ، البتـه عقیده يې داسی نه وي ، په اجلاس کی دلچسپي پیدا کولو لپاره او یا د تعلیم په غـرض داسـی کولی شي ، کافر جوړېدونکی هلـک وایـي : زه د الله نـه منکـر یم ، د الله تعـالی اقـرار حماقت او بیوقوفی دی وغیره وغیره کفري کلمات وایي ، نو پداسی خبرو اترو کی څـه بدي شته یا نه ؟

ځواب : دٰ ضرورت لپاره د کوم کافر او د اسلام مخالف کفري کلمه او عقیده نقـل کـولی شي چی فلانی داسی وایي او د فلاني دا عقیده ده او د حکم بیـانولو پـه غـرض سـره ویل کیدی شي چی داسی ویل کفر دی او داسی ویل کفر ندی ، همداشان د اکـراه او ډیر سخت ویری په حالت کی په زړه کی ایمان باندی قائم پاتی کیدو سره یـواځی پـه ژبه د کفري کلماتو ویلو اجازت شته ، الله تعالی فرمـایي : " من کفر بالله من بعد ایمانه الا من اکره وقلبه مطمئن بالایمان " (سورت النحـــل) لدینـه عـلاوه علـی سـبیل الاختیار په ګپ شپ کی او تعلیمي مقصد لپاره آزادانه طور سره د کفـر کلمـات ویـل او یواځی د تماشی لپاره د کافرانو او فاسقانو لباس اغوستل ، خپل ځان غیر مسـلم ښـودل لکه چی په سوال کی ذکر شوي دي اګر که عقیده داسی نـه وي ناجـائز او حـرام دي[1]

---

[1] ـ زه د الله نه منکر یم ، د خدای اقرار حماقت دی پشان جملی ادا کولو نه کفر لازمیږي او انسان د اسلام لـه دائری نه وځي اګر که حقیقت کی د الله نه منکر نه وي : " فی الفتح من هزل بلفظ کفـــر ارتـــدو ان لم یعتقـــده للاستخلاف فهو ککفر العناد قال فی الشامیة تحت قوله من هزل بلفظ کفر ای تکلم به باختیاره غیر قاصد معناه وهذا لا ینافی مامر من ان الایمان هو التصدیق فقط او مع الاقرار لأن التصدیق وان کان موجوداً حقیقة لکنه زائل حکما لأن الشارع جعل بعض المعاصی امارة علی عدم وجوده کالهزل المذکور کمالو ســجد لصـــنم او وضـــع مصحفاً فی قاذورة فانه یکفر وان کان مصدقاً لان ذلک فی حکم التکذیب کما افاده ، فی شرح العقائد واشار الی ذلک بقوله للاستخفاف فان فعل ذلک استخفاف واستهانة بالدین فهو امارة عدم التصدیق " الخ فتاوی شامی باب المرتد ج ٤ ص ۲۲۲

په ځینو صورتونو کی د کفر خطره هم ده ، په " مالا بد منه " کی دي : " اگر کسی کلمهٔ کفر عمداً گفت لیکن اعتقاد بکفر نه کر بعض علماء گفته اند که کافر نه شود که کفر از اعتقاد تعلق دارد و بعض گفته اند که کافر شود که رضاست بکفر (ص ۱۴۵) .
او په " مجموعه فتاوی " کی دي : " عمداً د کفر کلمه ویل اگر که دایی عقیده نه وي کفر دی " (۳٦٠/۲ کتاب الایمان) .
او امام رباني حضرت مولانا رشید احمد محدث گنگوهي رحمه الله نه تپوس اوشو چی " حضرت زمونږه عقیده فلسفي مسائلو باندی نده یواځی په ژبه سره د دی الفاظو ویل او لوستل دي پدی کی څه گناه شته ؟ حضرت وفرمایل : اول خو په ژبه د کفر و شرک کلمات ویل او دا په دلائلو ثابتول ، د دی اعتراضات دفع کول پخپله د عقیدی دلیل دی او که بالفرض عقیده یی نه وي بیا هم حرام او د الله تعالی د قهر و غضب موجب دی مثلاً یو څورک درته خر او خنزیر ووایي یا کوم بل سخت ناروا کنځل وکړي نو دا خو ظاهره ده چی هغه شخص دا عقیده نلري چی ته خر او خنزیر یا هغه شی یی چی هغه درته په کنځلو کی استعمالوي ، یواځی په ژبه سره درته وایي مگر په رشتیار ووایه چی ته پدی غصه کیږی او یا نه ؟ ضرور به غصه کیږی ، نو همداسی وگڼه چی کفري او شرکي کلمات هم خامخا د الله تعالی د قهر و غضب موجب گرځي څکه چی الله تبارک و تعالی د زیات نه زیات حیادار مسلمان نه هم زیات غیرتي دی (تذکرة الرشید ۹۲/۱) .
مطلب دا چی ذکر شوی طریقه جائزه نه ده ، لائق د پرینبودو ده ، تعلیم او اصلاح پدی باندی موقوف ندی د دی جائزی طریقی زیات موجود دي ، مسلمان ته د کافر څوی ویل جائز ندي ، په " فتاوی قاضي خان " کی دي : " امرأة قالت لولدها (ای مغ بچه) او (ای کافر بچه) او (ای جهود بچه) قال اکثر العلماء لایکون هذا کفرا وقال بعضهم یکون کفراً " (ج ٤ ص ۸۸۵) فقط والله اعلم بالصواب
باب مایکون کفراً من المسلم وما لا یکون (فصل) ومن الفاظ الکفر بالفارسیة .

پاتی شوه د ماشوم او د بالغ ، نو بالغ عاقل سړی چی مذکور الفاظ استعمال کړي نو کافر کیږي ، که ماشوم مراهق وي یعنی قریب البلوغ او یا بالغ وي نو د مذکوره الفاظو په استعمالولو سره د اسلام له دائری نه خارجیږي.

له مسلمانانو نه کافران ښه دي دا وينا څنګه ده ؟

(۲ سوال) مسلمان کله وايي چې له مسلمانانو نه کـافران ښـه دي پـدی وينـا کـی څـه بدي خو نشته ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : له داسی وينا څخه د مسلمانانو ځان ساتل ضروروي دي ځکه چې د کفر خطره ده ، په نصاب الاحتساب کی دي : " معلم صبيان قال اليهود خير من المسلمين بكثير فانهم يقضون حقوق معلم صبيانهم يكفر ، من سيرة الذخيرة فی كلمات الكفـــر " يعنی په سيرت ذخيره کی د کفري کلماتو په باب کی ذکر شوي دي : د ماشومانو استاذ ته دا وينا پکار نده چې د مسلمانانو نه يهود ښه دي چې دوی دخپلو ماشومانو د اســتاذ حق پوره پوره ادا کوي ځکه چې پدی قسم وينا سره کافر کيږي (انصاف الاحتساب ص ۸۲ باب ۳۳ قلمي) .

" زه هندو مذهب اختياروم او خپل بچي هم هندو جوړوم " د داسی وينا کوونکی ښځی څه حکم دی ؟

(۳ سوال) يوی ښځی د خاوند سره د جګړی پـه وخـت کـی دا الفـاظ وويـل : " زه د خاوند په کور کی نه ووسيږم او هندو مذهب خپلوم او خپل بچي هم هندو جـوړوم " دا څه حکم لري ؟

ځواب : په سوال کی چې کوم الفاظ ليکل شوي ، مسـلمان بايـد هيڅکلـه داسـی قسم الفاظ ونه وايي ، ډير خطرناک کلمات دي ، د ښځی مقصـد بـه دهمکـي او ويـرول وي مګر بيا هم پديکی د رضا بالكفر مشابه ده نو داسی الفاظ په ژبه ويـل بلکـی لـه داسـی خيالاتو نه هم بچ کيدل پکار دي ، الله تعالی دی مونږه ټول له داسی کلماتو او داسـی ګنده خيالاتو نه محفوظ وساتي ، آمين .

الله تعالی مونږ ته د ايمان او د اسلام دولت بغير د استحقاق نه يـواځی د خپـل فضـل و کرم څخه نصيب کړی دی نو هره لمحه د دی دولت په سر سترګو سره شکريه ادا کـول پکار دي او هميشه الله تعالی ته دا دعا کول پکار دي چـی پـه ايمـان او اسـلام بانـدی استقامت او په همدی باندی حسن خاتمه نصيب کړي ، د دی په ځای پـه ژبـه بانـدی په سوال کی ذکر شوي کلمات راوړل ډيـره لويـه ناشـکري او د دی عظـيم نعمـت بـی قدري دی ، لهذا پدی ذکر شوي سوال کی په ښځی باندي لازم دي چې پـه صدق د

زړه سره توبه او استغفار وکړي او آینده دا قسم الفاظ په ژبـه رانـه وړي او احتیـاط لپـاره دی د ایمان او د نکاح تجدید وکړي .

په د فقه اکبر په شـرح کـی دي : " والرضاء بالکفر کفر سواء کان بکفر نفســه او بکفر غیره " (ص ۱۸۸) فقط والله اعلم .

" لمونځ خو خر هم کوي پدی سره هغه نه مسلمانیږي " د داسی ویونکی لپاره څه حکم دی ؟

(۴ سوال) یو مسلمان د لمونځ په توهین کولو سره داسی وویل : " لمونځ خـو خـر هـم کوي پدی سرد هغه نه مسلمانیږي " د لمونځ پشان فرض عین عبادت لپاره دا قسم الفـاظ استعمالونکی شخص د اسلام نه خارجیږي او که نه ؟ ایا د هغه نکاح هـم ماتیـږي او کـه نه ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : د دی الفاظو په ظاهره د لمونځ او لمونځ کذارانو توهین لازمیږي لـیکن د دی تاویل کیدی شي ، د ویونکي مقصد به دا وي چی لمونځ خو اصل دین دی خـو لـیکن د عقیدی صحیح کول مخکی دي ، که چیرته عقیده فاسـده وي نـو بیـا د نجـات لپـاره لمونځ کافي نه دی ، پدی وجه ویونکی د اسلام نه نشي خـارجولی .... البتـه کـه دا سړی لمونځ نه کوي او لمونځ کول ضروري نه ګڼي نو څکه لمانځه په باره کـی داسـی الفاظ استعمالوي نو بیا بیشکه چی د اسلام نه خارجیږي او توبـه ، د ایمـان او د نکـاح تجدید ضروري دی ، فقط والله اعلم .

مسلمان ته د کافر ویلو په اړه

د بدعتیانو د کفر بازي تسلي بخش ځواب :

(۵ سوال) ما قولکم رحمکم الله تعالی ! ځینی په نام ملایان حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي ، مولانا قاسم نانوتوي ، مولانا خلیل احمد انبهټیوي ، مولانا اشرف علي تهانوي وغیره علماء کرامو ته کافر ، مرتد ، بې ایمان ، بدعقیده ، جهنمي او لعنتي وغیره وایي او نورو خلکو ته هم د داسې ویلو تعلیم ورکوي او وایي : څوک چې دوی کافر او بد ونه ګڼي هغه مسلمان نه دی ، دی باره کې د قرآن و حدیث په رڼا کې تفصیلي ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : د اهل حقو د بدنامولو ناپاک کوشش او د دی متعلق دخلکو په زړونو کې د نفرت پیدا کولو ناجائز حرکت کومه نوې خبره نده د پخوانه د باطل او نفس پرستو دا عادت او طریقه پاتې شوې ده ، حضرت نوح علیه السلام ته ګمراه ویل شوی او د سنګسارولو وینا ورته شوی ، حضرت هود علیه السلام ته احمق او دروغجن ویل شوي ، حضرت صالح علیه السلام او د ده ملګري منحوس ګرځول شوي ، حضرت لوط علیه السلام ته د جلا وطن کولو دهمکي ورکړل شوی ، حضرت شعیب علیه السلام ته ویل شوي چې خمونږ په دین کې داخل شه او که نه ته او ستا ملګري به له ښار نه وباسو ، حضرت ابراهیم علیه السلام مجرم ګرځولو سره اور ته اچول شوی ، حضرت موسی علیه السلام ته ساحر او لیونی ویل شوی ، حضرت عیسی علیه السلام دروغجن ګرځولو سره واجب القتل ګڼلې شوی ، د ده مور حضرت مریم علیها السلام باندی تهمت لګول شوی او د ده حوارین (ملګري) منحوس ګرځولو سره د سنګسارولو دهمکي ورکړی شوی ، حضرت زکریا علیه السلام ته دروغجن او لیونی ویل شوي او بې حده تکلیف ورته رسول شوی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : څومره تکلیفونه چې ماته رسول شوي کوم بل نبي علیه السلام ته ندي ورکړل شوي .

رباني او حق پرست علماء چونکې د انبیاء کرامو حقیقي وارثان دي لهذا لازمې وُ چې دوی ته هم د هغو نه څه حصه ملاو شوی وای ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : د ټولو نه سخت امتحان او ابتلاء په انبیاء کرامو وي ، دوی ته سخت تکلیفونه رسول کیږي او بیا درجه په درجه کوم چې افضل او بهتر وي هغه باندی

زیات امتحانات راخي [۱] ، لکه چې همداسې وشو ، اولنی دری واړه خلفا روافضو د اهل بیتو دشمنان ښودلو سره کافران وګرځول ، خوارجو حضرت علي کرم الله وجهه ته کـافر وویل او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باندی نفس پرستو د قرآن مجید غلـط تفسـیر کولو بهتان جوړ کړ ، حضرت امام زین العابدین رضی الله عنه متعلق ویل شوي چې دی د بت پرستو پشان خبری کوي ، حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ته مکار او منـافق ویل شوي ، حضرت حسن بصري رحمه الله ته د تقدیر منکر ویل شوي ، حضـرت امـام ابوحنیفه رحمه الله ته ګمراه ، د امت دشمن او د امت شیطان ویل شوي (معـاذ الله) او د ده قتلولو ته (۷۰) جهادونو نه افضـل ویـل شـوي دي (حقیقـة الفقـه ۲۲۵/۱ سلسـله اشاعت علوم حیدر آباد دکن) .

حضرت امام مالک رحمه الله د نفس پرستو د ظلـم پـه وجـه اوړده مـوده (۲۵) کالـه د جمعي او جماعت لمونځ لپاره کور نه باهر ندی پریښودل شوی ، لنـډه دا چـې دی پـه ډیر سختی سره وهل ټکول شوی ، حضرت امام شـافعي رحمـه الله تـه (اضـــر مـــن الشیطان) (یعنی د شیطان نه زیات ضررې) خطـاب شـوی او داسـی تهمتونـه لګـول شوي چې خلکو به ورته لعنت او کنځلی کولی ، حضرت امام احمـد ابـن حنبـل رحمـه الله د حق وینا په بدل کې جیل خانه کې روزانه دومره کوړی (دری) وهل کیدو چـې بی هوشه به شو او لدی سره سره به خلکو ورته په مخ څپیړی ورکولی او توکلی حضرت ذو النون مصري په غاړه کې رسی او ښپو کې زولنی اچولو سره د مصر نه ویستل شوی ؤ ، دحضرت محمد بلخي په غاړه کې رسی اچولو سره دښار نـه شـړل شـوی ؤ ، حضـرت امام نسائي د بدعتیانو په لاس د الله تعالی په کور کې شـهید شـوی ، د حضـرت بایزیـد بسطامی رحمه الله اقوال او احوال خلاف شرع ښودل شـوي ، د حضـرت امـام غـزالي رحمه الله د کتابونو سوځول فرض او په ده باندی لعنت کول د ثواب کـار ګڼـل شـوی دی ، دحضرت امام ابوبکر نابلوسي خرمن ویستل شوی ، په حضـرت جنیـد بغـدادي ، حضرت تاج الدین سبکی ، حضرت امام بخاري ، حضـرت مجـدد الـف ثـاني ، حضـرت شبلی رحمهم اله باندی د کفر فتوی لګول شوی ،او دوی سره کیناسـتل ګنـاه ګرځـول شوی ، د حضرت شیخ محی الدین عربي متعلق ویل شوي چې "کفره اشد من کفـــر

[۱] ـ اشد الناس بلاء الانبیاء ثم الامثل فالأمثل .

اليهود الخ" (يعنی دی د يهود و نصاری نه هـم سـخت كـافر دی) حضـرت ابوالحسن اشعري د اهل سنت امام ته په صريح الفاظو کی کافر و ملحد ويل شـوي دي ، حضرت شاه ولی الله رحمه الله د نفس پرستو د ظلـم نـه هجـرت تـه مجبـور شـوی [1] د همـدی سلـلی یوه کړی د خوارلسـمی پیړی بـدعتیان دي چـی د توحيـد مـبلغين او د سنت متبعين ، صحيح العقيده مشائخ حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي ، حضرت مولانا قاسم نانوتوي ، حضرت مولانا خليل احمد مهاجر مـدني ، حضـرت مولانـا شـاه اشـرف علي تهانوي رحمهم الله وغيره رباني علماؤ ته د خپلی خيتی لپـاره كـافر و ملحـد گرخـوي (معاذ الله) .

دغه مذكور بزرگان په توحيد ، رسالت ، حشر نشر ، دوزخ جنـت ، خـتم نبـوت وغيره د دين ټول ضـروريات د الله پـه فضـل بانـدی منـي او ايمـان پـری لـري او اهـل سنت والجماعت دی په اصولو او عقائدو کی دحضرت امـام ابوالحسـن اشـعري رحمـه الله او دحضرت امام ابو منصور ماتريدي رحمه الله پيروان وو او پـه فروعـو کـی د امـام اعظم رحمه الله مقلدين وو ، د چشتيه ، نقشبندي ، قادريه ، سهرورديه سلسلی سره نسـبت لرلو ، باكمال صاحب د كرامت ، متبع د سنت ، د رسول الله صـلی الله عليـه وسـلم حقيقي عاشقان او بزرگان وو ، د دوی فتواگـانی ، د دوی كتابونـه او د مريـدانو عملونـه د دی خبری شاهدي کوي ، په زرگونه كاملين علماء او مسلمانان د دوی مريـدان وو ، د هند او هند نه بيرون په کروړونو مسلمانان دوی خپل مذهبي او دينـي رهبـران او پيشوايان گني .

په حديث شريف کی راځي کوم وفات شوی شخص چی نيک او پرهيزگار سړی په نيکئ سره ياد کړي او د هغه د ايمان گواهي ورکړي نو هغه لپاره جنت واجب دی [2] .

---

[1] ـ د دشمن او مخالفينو ظالمانه اقدامالو دی مجبور کړی ؤ چـی حجـاز مقـدس تـه لاړ شـي او هلتـه الله تعالی ورباندی د اسرار و معارف او د نبوت د علومو دروازی پرانستی او د ده سينه يی د حقائقو خزانه جـوړه كـړه ، ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء (سيف يماني مولانا منظور نعماني حصه اول) او (حقيقة الفقه حصـه اول سلسـله اشاعت علوم حيدر آباد دکن وغيره) .

[2] ـ يعني د هغه زړه دا گواهي وکړي چی دا د ايمان خاوند ؤ او دهمدی زړه په گواهي او رشتولی جذبی سره په ژبه بالدی د هغه متعلق د تعريف الفاظ راشي چی والعي رشتونی مسلمان ؤ .

" فاثنوا علیها خیرا فقال النبی صلی الله علیه وسلم وجبت فقال عمر بن الخطاب ما وجبت ؟ قال هذا اثنیتم علیه خیرا فوجبت له الجنة وهذا اثنیتم علیه شرا فوجبت له النار انتم شهداء الله فی الارض " (بخاری شریف ج ۱ ص ۱۸۲ پاره ۵ باب ثناء الناس علی المیت) .

دغه حضرات په حقیقت کی اولیاء کرام او د انبیاء کرامو حقیقي وارثان او د " الشیخ فی قومه کالنبی فی امته " صحیح مصداق وو ، د دوی تول عمر په قال الله او قال الرسول صلی الله علیه وسلم د دین اسلام په تبلیغ او خدمت کی تیر شوی او د دوی د فتواګانو رنګ او سیاهي د حدیث له مخی د شهیدانو له وینی نه زیات قدر و قیمت لري ، داسی جلیل القدر بزرګانو ته کافر ، جهنمی او (معاذ الله) لعنتي ویل خپل آخرت خرابول دي .

په حدیث شریف کی دي : چی سړی یو چاته کافر ووایي او په واقع کی هغه کافر نه وي نو هغه کفر واپس ویونکي ته راګرځي یعنی هغه خپله کافر وګرځي : " لایرمی رجل رجلاً بالفسق والکفر الا ردت علیه ان لم یکن صاحبه کذلك " رواه بخاری (مشکواة ص ۱۱٤ باب حفظ اللسان من الغیبة والشتم) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : ستا د ورو د خولی نه چی کومه خبره ووځي نو څو پوری چی دهغه صحیح مطلب جوړیدلی شي تر هغی پوری د هغه په غلطه او باطل باندی د حمل کولو کوشش مه کوه (در منثور) .

پدی وجه فقهاء فرمایي : کوم مسئله چی کفر سره متعلق وي که چیرته پدیکی (۹۹) احتمالات د کفر وي او یواځی یو احتمال د کفر نفي کوي نو مفتي او قاضي ته پکار دي چی پدی د کفر کونکی احتمال باندی عمل ونه کړي او د کفر فتوی ورنکړي : "وقد ذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذا کان لها تسع و تسعون احتمالا للکفر واحتمال واحد فی نفیه فالأولی للمفتی والقاضی ان یعمل بالاحتمال الثانی" (شرح فقه اکبر لابی المنتهی ص ۱۹۹) .

مذکوره بزرګانو په خپل ژوند کی زباني او تحریري طور باندی بار بار اعلان کړی دی چی کوم عقائد بدعتیان مونږ ته منسوبوي هغه خمونږ عقائد ندي مونږ دغسی عقائد

لرونکي کافر ګڼو ، د دغو بزرګانو هغه ارشادات وګورئ کوم چې صحیح سندونو سره نقل کولی شي :

(۱) حضرت مولانا ګنګوهي (د یو سوال په ځواب کې)

(سوال) پدې مسئله کې علماء کرام څه فرمایي چې د الله تعالی ذات د کذب په صفت سره موصوف دی یا نه ؟ او الله تعالی دروغ وایي او که نه ؟ او څوک چې په الله تعالی باندی دا خیال کوي چې هغه دروغ وایي هغه څنګه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمایي :

ځواب : " د الله تبارک و تعالی ذات پاک او منزه دی لدینه چې په صفت د کذب (دروغ) باندی موصوف کړی شي ، معاذ الله د الله تعالی په کلام کې هرګز هرګز شائبه د دروغو نشته قال الله تعالی : " ومن اصدق من الله قیلا " کوم سړی چې په الله تعالی دا عقیده وساتي او یا په ژبه ووایي چې دی دروغ وایي هغه قطعي کافر او ملعون او د قرآن و حدیث او اجماع د امت نه مخالف دی ، هغه هرګز مؤمن ندی " (فتاوی رشیدیه ۱۸/۱) .

(۲) حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله فرمایي : ځمونږ دین و ایمان دادی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د کوم بل نبي کیدو احتمال نشته ،او څوک چې پدیکی فکر کوي هغه کافر ګڼم " (مناظره عجیبه ص ۱۰۳).

(۳) حضرت مولانا خلیل احمد انبهټیوي رحمه الله فرمایي : " زه او زما استاذان هغه سړی کافر ، و مرتد او ملعون ګڼو چې دالله ذات دکذب په صفت سره موصوفوي او وایي چې الله دروا‌غ وایي " (السحاب المدرار ص ۴۹ مولانا مرتضی حسن) .

(۴) د " حفظ الایمان " د عبارت متعلق د مولانا تهانوي رحمه الله وضاحت :

" ما دا خبیث مضمون په هیڅ یو کتاب کی ندی لیکلی ، لیکل خو پریده زما په زړه کی هم د دی مضمون کله خیال ندی راغلی " او " څوک چې دا عقیده وساتي او یا بغیر د عقیدی نه صراحتاً یا اشارتاً دا خبره وکړي زه هغه سړی د اسلام نه خارج ګڼم " .

(سبط البنان ص ۱۰)

بیا هم بدعتیان د خپلی خیتی په خاطر هر ځای کی دا خبره کوي چې نه نه د دی خلکو همدا عقیده وه او د دوی د لیکونو همدا مطلب دی نو ځکه کافر دي او د دوی په کفر کی شک کونکی هم کافر دی .

په حدیث شریف کی دي چې اسامه رضی الله عنه په میدان جنګ کی یو کافر باندی حمله وکړه هغه فوراً " لا اله الا الله " وویل مګر اسامه هغه قتل کړ او کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خبر شو نو حضرت اسامه رضی الله عنه ته یی وفرمایل : چې د لا اله الا الله ویلو نه وروسته دی هم قتل کړ ؟ ځواب یی ورکړ چې حضور (صلی الله علیه وسلم) هغه فلاني او فلاني لره قتل کړي وو کله چې ما پری حمله وکړه نو د ځان بچ کولو په خاطر له ویری نه کلمه وویله د زړه له صدق نـه نـه وه ویلی ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : تا د هغه زړه شلولو سره لیدلي وه چې په صدق سره یی ویلی وه یا د ویری نه ؟ او وی فرمایل : د قیامت په ورځ کله د هغه له طرفه د توحید کلمه مدعي جوړه شوی او درته راشي نو ته به څه ځواب ورکوې ؟ حضرت اسامه رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما لپاره د مغفرت دعا وکړئ خو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به ورته په ځواب کی بار بار همدا خبره کوله ، حضرت اسامه رضی الله عنه وایي : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم بار بار دغه ځواب په اوریدو سره تمنا وکړه چې کاش ما همدا نن اسلام راوړی وای چې زما نوي اسلام دا ګناه محوه کړی وای (مسلم باب تحریم قتل الکافر بعد قوله لا اله الا الله ۶۷/۱) او (بخاری باب بعث النبی صلی الله علیه وسلم اسامه بن زید الی الحرقات من جُهینة ۶۱۲/۲) .

لدی واقعی نه بدعتیانو ته عبرت اخستل پکار دي او له مسلمانانو نـه د کـافر او مرتد جوړولو له ناپاک کوشش نه منع کیدل پکار دي .

کنځل او بدرد ویل د منافق علامه ده ، او بدګوئي او بیزاریدل دشیعه ګانو طریقه ده او مذهبي پیشوایانو ته ازار او تکلیف رسول او قتلول د یهودو سنت دی ، اسلامي طریقه نه ده ، بدعتي له اسلامي تعلیماتو نه بنکاره خلاف ورزي کوي چې د حدیثو او د فقه روایتونه د دی ګواهي کوي ، بنی اسرائیلو د ورځی په ابتدایي حصه کی (۴۳) انبیاء

کرام علیهم السلام وژلي وو او دهمدې ورځی په آخري حصه کی (۱۱۲) عابدان وژلي وو.

په "فتاوی حدیثیه" کی دي : " مسلم او غیر مسلم (د چا متعلق چی دا علم نه وي چی هغه د کفر په حالت باندی مړ شوی دی) هغه باندی لعنت کول منع دي :

" لان لعن المسلم حرام بل لعن الکافر الغیر الحربی کذلك واما لعن شخص بعینه فان کان حیا لم یجز مطلقاً الا ان علم انه یموت علی الکفر کابلیس وذلك کمن لم یعلم موته علی الکفر وان کان کافراً فی الحال الخ " (فتاوی حدیثیه لابن حجر هیثمی مکی ص ۲۳۱) .

پدی وجه د حجاج او یزید متعلق هم د محققینو رأی او معتبر مذهب همدا دی چی خاموش پاتی کیدل بهتر دي ، د لعنت اجازه یی نده ورکړی .

یو ځل د بلال بن ابی برده ذکر وشو نو خلکو ورباندی لعنت او ملامتول شروع کړ خو ابن عون خاموش وُ ورنه تپوس وشو چی ته ولی بد رد نه وایی ؟ وی فرمایل : د قیامت په ورځ به په عملنامه کی دوه خبری وي یوه " لا اله الا الله " او بله دا چی " په فلاني او فلاني باندی لعنت کړی دی " زه دا غواړم چی زما په عملنامه کی د " لا اله الا الله " کلمه وي نه دا چی فلاني او فلاني باندی الله لعنت کړی دی .

" قال مکی بن ابراهیم کنا عند ا بن عون فذکروا بلال ابن ابی بردة فجعلوا یلعنونه ویقعون فیه وابن عون ساکت فقالوا یا ابن عون انما تذکره لما ارتکب منك فقال انما هما کلمتان تخرجان من صحیفتی یوم القیمة لا اله الا الله ولعن الله فلاناً فلانٌ یخرج من صحیفتی لا اله الا الله احب الی من ان یخرج منها لعن الله فلانا " (احیاء العلوم ج ۳ ص ۱۲۲) .

حضرت رابعه بصریه رحمها الله به کله شیطان ته هم بدرد نه ویل او فرمایل به یی : خومره وخت چی پدی مهمل کار کی لګولی شي که چیرته دا وخت د محبوب په ذکر کی تیر کړی شي نو خومره فائده به وي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : په تاسو کی چی کوم سړی وفات شي نو بیا د هغه غیبت مه کوئ : " اذا مات صاحبکم (احدکم) فدعوه ولا تقعوا فیه "

(ابوداؤد ۳۲۳/۲) او فرمایي . دخپلو مړو ښه صفات یادوئ او د دوی له بدو ځخه خوله بنده وساتئ . " اذکروا محاسن موتاکم وکفوا عن مساويهم " (ابوداؤد شریف ۳۲۳/۲ ، ترمذی شریف باب ما جاء فی قتلی احد ۱۲۱/۱ ترغیب و ترهیب ۱٤٤/٦) او فرمایلي دي : څوک چی وفات شي د هغوی بدي مه ذکر کوئ او بدرد ورته مه وایئ ځکه چی کوم شی چی هغوی وړاندی لیږلی ؤ هغه ورته ملاو شوی دی : " لاتسبوا الاموات فانهم قد افضوا الی ما قدموا " (بخاری ۱۸۷/۱ باب ما ینهی من سب الاموات ، شامي و احیاء العلوم وغیره) .

په احیاء العلوم کي روایت دی چی مړي په نیکئ سره یادوئ ځکه که هغوی جنتیان وي نو تاسو دهغوی پسی بدرد ویلو سره ګنهګاریږئ او که جهنمي وي نو هغوی لپاره همدا بدي کافي ده ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : مړو ته بدرد مه وایئ چی پدی سره ژوندو ته تکلیف رسوئ : " لاتسبوا الاموات فتؤذوا به الاحیاء " (احیاء العلوم ۱۲۲/۳ کتاب آفات اللسان الآفة الثامنة اللعن) (یعنی د مړي پسی بدرد ویلو سره د ده ژوندي متعلقینو ته تکلیف رسیږي) .

یو سړي هر وخت د " تبت یدا ابی لهب " سورت لوستلو ، ابولهب اګر که کافر ؤ مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ؤ پدی سورت کی د دی بدی ذکر دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې سړي هر وخت دا سورت ویل خوښ نه شو نو هغه سړی یی منع کړو چی تا ته د دی سورت نه علاوه بل کوم سورت یاد ندی ؟

په جنګ بدر کی چی کوم مشرکان قتل شوي وو هغوی ته هم بدرد ویل منع دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی چی دوی ته بدرد مه وایئ ، ځکه تاسو چی دوی ته څه وایئ هغه ورته نه رسي ، او ژوندو ته پری تکلیف رسي ، خبردار بدګویي رزالت دی : " لا تسبوا هؤلاء فانه لایخلص الیهم شئ مما تقولون وتؤذون الاحیاء الا ان البذاء لؤم " (احیاء العلوم ۱۱۷/۳ الآفة السابعة الفحش والسب وبذؤة اللسان) .

د رئیس المنافقین عبدالله بن ابی نفاق بدیهی او د ده ضرر رساني په ښکاره ؤ مګر کله چی دی په مدینه کی وفات کیږي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده خوی ته د کفن

لپاره خپل مبارک قمیص ورکوي ، د جنازې لمونځ ورباندې کوي او د ده سر په پتون باندې کېښودو سره د خپلې مبارکې خولې لاړې په خوله کې ورته اچوي ، پدې طریقه د جهنم نه د بچ کېدو او جنتي جوړېدو پوره پوره کوشش کوي او د ده ژوندي خپلوان خوشحالوي . پداسې حال کې چې نن صبا بدعتي ملایان ، رشتوني مسلمان او جلیل القدر بزرگان او مذهبي مشران کافر ، مرتد ، جهنمي او لعنتي وغیره گرځوي او د دوی معتقدین او متعلقینو ته تکلیف ورکوي .

ببین تفاوت راه از کجاست تابه کجا

الله تعالی دې ورته هدایت وکړي چې دا خلک رشتوني مسلمان لره د کافر جوړولو په ځای ضعیف الایمان مسلمانان د کافر او مرتد کېدو څخه وساتي .

آمین ثم آمین فقط

د علماء دیو بند او تبلیغي جماعب په باره کې د رضا خانیانو غلطه پروپیګنډه

(٦ سوال) دلته (جام نګر ، سوراشټر کې) د رضاخاني ډله داسې پروپیګنډه کوي چې د دیوبند علماء او تبلیغي جماعت والا کافر او د اسلام نه خارج دي او د دوی معاونین او دوی لره نیک صالح ګڼونکي هم کافر او د اسلام نه خارج دي نو دغه شان علماء دیوبند او تبلیغي جماعت لره مسلمان او نیک صالح ګڼونکي څنګه دي ؟ او پدې باره کې د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه حکم دی ؟

ځواب : د رضاخاینانو پروپیګنډه غلطه او ګمراه کونکې ده ، په علماء دیوبند او تبلیغي جماعت باندې چې دوی کوم بهتان تراشي کوي له هغه نه دغه حضرات بالکل بري او پاک دي ، دا خلک پاخه مسلمانان او رشتوني اهل سنت والجماعت دي او پوخ حنفیان دي ، د مجلس شوری ترکیبي هیئت (۱۲) دفعه د ټولو ارکانو حنفي مذهب کېدل ضروري دي ، دستور آساسي دار العلوم دیوبند (ص ۱۰) د توحید الهي او د رسالت محمدي صلی الله علیه وسلم مبلغ د سنت محافظ او د انبیاء کرامو حقیقي وارثان دي ، د دار العلوم دیوبند د مهتمم حکیم الاسلام حضرت مولانا قارئ محمد طیب صاحب الفاظ : د دیو بند علماء دیناً مسلمانان او اهل سنت والجماعت دي او مذهباً حنفي دي او مشرباً صوفي ، او کلاماً ماتریدي او سلوکاً چشتي بلکې د ټولو سلسلو جامع دي او فکراً ولی الهي ، اصولاً قاسمي ، فروعاً رشیدی او نسبةً دیوبندي دي " الحمدلله علی

هذه الجامعية " د علماء دیوبند مسلک قرآن و حدیث او د فقه دخدمت لپاره عمرونه وقف کړي وو ، د دیني علومو یونیورستي " دار العلوم دیوبند " فیض یافته لکونه علماء حافظان قاریان ، مفسرین ، محدثین ، صوفیان ، مفتیان او مبلغین د دنیا په ګوټ ګوټ کی د اسلام تبلیغ او نشر و اشاعت کوي ، د دوی د علمي خدمتونو ښکاره ثبوت د دوی بی شمیره تصانیف (کتابونه) دي چی د سوونو نه زیات دي یواځی د حدیث شریف په سلسله کی او په عربي ژبه کی یو څو کتابونه دا دي کوم چی د علمي دنیا نه تحسین او آفرین حاصلوي :

(۱) فیض الباری شرح صحیح البخاری

(۲) لا مع الدراری علی جامع البخاری (شرح صحیح بخاری) .

(۳) فتح الملهم شرح صحیح المسلم .

(۴) العرف الشذی شرح جامع ترمذی .

(۵) الکوکب الدری شرح جامع ترمذی .

(٦) بذل المجهود شرح ابی داوٗد .

(۷) او جزا المسالک شرح مؤطا امام مالک .

(۸) التعلیق الصبیح شرح مشکواة المصابیح .

(۹) امانی الاحبار شرح معانی الاثار .

(۱۰) معارف السنن شرح جامع ترمذی .

(۱۱) اثار السنن مع التعلیق الحسن وتعلیق التعلیق .

(۱۲) اعلاء السنن (ستره حصص) .

دا یوه نمونه ده د واضح خدمتونو ،د دیني سعادت او الهي انعاماتو چی لدینه رضاخانی بالکل محروم دي دوی دغه شان عظیم الشان اسلامي خدمت یو مثال هم نشي وړاندی کولی " هاتوا برهانکم ان کنتم صادقین "

ایـن سعـادت بـزور بـازو نیست
تـانه بـخشد خـدای بـخشده

د الله تعالی داسی مقبول او صالح بندګان او د دین واقعي خادمان او د رسول الله ﷺ وارثانو ته کافر ویل او د اسلام نه خارج ګڼل جهالت ، بی دیني ، اسلام دشمني او د ګمراهي دلیل او خپل آخرت خرابول دي .

او تبلیغي جماعت والا هم خپل عیش و آرام پریښودو سره ، کور ، اولاد ، دکان ، پټي ، پیشه او تجارت سره خدای پاماني کولو سره خپل خوراک او د خپلی خرچی نه د سفر تکالیف برداشت کولو سره د دین د تبلیغ اهم خدمتونه (کوم چی اصل کی د پیغمبرانو علیهم السلام کار دی) سر ته رسوي چی دا ډیر لوی د نیکی او دخیر کار دی ، عوام یعنی ناواقف مسلمانانو ته توحید او کلمه شهادت وغیره (چی د اسلام مدار وربانـدی دی) په صحیح طریقی سره لوستل زده کړي ، معنی ورته ښائي ، بیلمانازان لمونځ گذار او نام نهاد مسلمانان په صحیح معنو کی مسلمان او لمونځ گذار جوړوي ، اسلامي اخلاق تقوی و طهارت ، حقوق الله و حقوق العباد ، اطاعت والدین ، د مشرانو احترام او کشرانو سره د همدردی او شفقت تعلیم ورکوي لدینه اوچت بل د خیر کار څه کیدی شي ؟ الله تعالی د داسی خلکو په تعریف کی فرمایي : " ومن احسن قولاً ممن دعا الی الله وعمل صالحاً " یعنی د هغه چانه زیاته ښه خبره د چا کیدی شي کوم چی الله تعالی طرف ته خلک رابلي او پخپله هم نیک عمل کوي ، د الله تعالی ارشاد دی " ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویؤمرون بالمعروف وینهون عن المنکر وأولئك هم المفلحون "

یعنی : په تاسو کی یوه داسی ډله پکار او ضروري ده چی خلکو ته نیکی طرف ته دعوت او د نیک کار کولو حکم کوي او د بدو کارو څخه منع کوي (حقیقت کی) همدا خلک کامیاب دي (سورت آل عمران) .

د دین داسی واقعي خادمانو ته (د چا تعریف چی الله تعالی پخپله کړی) او د دوی ملګري او د دوي منونکو ته کافر ویونکي او د اسلام نه خارجونکي د اسلام دشمنان او د مسلمانانو بدخواه او د دین د اړه ماران دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخی پخپله کافر او د اسلام نه خارجیږي د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی :

" لایرمی رجل رجلاً بالفسق والکفر الا ردت علیه ان لم یکن صاحبه کذلك " رواه بخاری (مشکواة ص ۱۱٤ باب حفظ اللسان من الغیبة والشتم) .

یعنی کوم سړی چی یو چا باندی د فاسق او کافر کیدو تهمت ولګوي که هغه داسی (فاسق او کافر) نه وي نو د ده دا وینا بیرته هم ده ته واپس کیږي (یعنی هغه ویونکی پخپله فاسق او کافر ګرځي) .

او دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : " من دعا رجلا بالکفر او قال عدو الله ولیس کذلك الاحار علیه " (مشکوٰة شریف باب حفظ اللسان فصل اول)

یعنی کوم سړی چی چاته کافر یا د الله دشمن ووایي او هغه داسی نه وي نو دغه وینا واپس ویونکی ته راګرځي یعنی ویونکی کافر او د الله دشمن جوړیږي .

د حدیثو په کتابو کی دي چی حضرت اسامه رضی الله عنه د جنګ په میدان کی یو کافر باندی حمله وکړه او هغه فوراً لا اله الا الله وویل مګر حضرت اسامه رضی الله عنه هغه مړ کړ کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر شو نو د حضرت اسامه رضی الله عنه نه یی تپوس وکړ چی د لا اله الا الله ویلو نه وروسته دی هم مړ کړ ؟ عرض یی وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څو تنه صحابه کرام رضی الله عنهم قتل کړي وو او چی ماورباندی حمله وکړه نو د مرګ له ویری نه یی کلمه وویله ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ایا تا د هغه سینه څیرلو سره لیدلی و چی هغه په صدق سره کلمه نه وه ویلی ؟ ای اسامه ! د قیامت په ورځ کله چی د توحید کلمه (لا اله الا الله) مدعي جوړیدو سره درته راشي نو څه ځواب به ورکوی ؟ حضرت اسامه رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم ماله پاره د مغفرت دعا وکړئ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کی بار بار همدا فرمایل چی د قیامت په ورځ به د کلمه توحید څه ځواب ورکوی ؟ د دی په اوریدو سره حضرت اسامه رضی الله عنه دا تمنا وکړه چی کاش ما نن اسلام راوړی وای چی دا ګناه می په اسلام سره محوه شوی وای (مسلم شریف ۶۸/۱ باب تحریم قتل الکافر بعد قوله لا اله الا الله) .

لدی واقعی نه رضاخانیانو ته عبرت اخستل پکار دي او مسلمانانوته د کافر او مرتد جوړولو ناپاک کوشش کولو نه منع کیدل پکار دي .

غرض دا چی د دین خادمان او تبلیغي خدمت تر سره کونکي رشتوني او خالص مسلمانان دي ، د دوی مدد کول او صحیح مسلمان ګڼل دایمانداری دلیل دی ، الله تعالی د داسی نیک کار کونکو مدد او مرسته کولو حکم په قرآن مجید کی ورکړی دی :

" تعاونوا علی البر والتقوی " یعنی په نیکی او تقوی کی د یو بل مدد کوئ .

الله تعالی چی د کومو خلکو صفت کوي او د چا د مدد او د مرستی چی حکم کوي وی او د دوی ملګرو ته کافر او د اسلام نه خارج ګڼل د الله او د رسول الله صلی الله

علیه وسلم نافرمانه ، د اسلام او د مسلمانانو دشمنان ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم تبلیغي مشن ته نقصان رسونکي ، او د آیت کریمه " وکذلك جعلنا لکل نبي عدوا شیاطین الانس والجن " (سورت الانعام)

ترجمه :او دغه شان مونږه د هر نبي لپاره ډیر دښمنان شیطانان پیدا کړي دي ، انسانان او جنات یو بل ته دوکه ورکولو لپاره غلط اشاعت کوي ، او د نبوي حدیث " ضلوا فاضلوا " یعنی پخپله هم گمراه شول او نور خلک یی هم گمراه کړل ، (بخاري کتاب العلم باب کیف یقبض العلم ۱/ ۲۰) صحیح مصداق دی ، اعاذنا الله منها ،الله تعالی دی د نیکی هدایت او توفیق ورکړي آمین والله اعلم بالصواب .

د دیو بند علماؤ باندی د رضاخانیانو د نفرت او د حقارت باران

(۷ سوال) فی الحال په بهرونچ کی د رضاخانی فرقی کنفرانس شوی ؤ چی پدی کی د دی فرقی ملایان حضرات حشمت علی وغیره علماء دیوبند ته ښه بد رد او کنځل وکړل ، کافر، مرتد او د اسلام له دین نه یې خارج وښودل او وی ویل چی صحیح اهل سنت والجماعت مونږه یو ، دیوبندیان ندي ، او نوری ډیری خبری یی وکړی نو سوال دا دی چی بریلويْ علماء د دیوبندي علماؤ مخالفت ولی کوي ؟ د دی لړ وضاحت وکړئ چی زیات خلک پریشانه دي مهرباني .

ځواب : د اهل حق او صاحب کمال خلکو د بدنامولو ناپاک کوشش او د دوی متعلق د خلکو په زړونو کی نفرت پیدا کولو ناجائز حرکت د باطل او نفس پرستو پخوانی عادت دی څه نوی خبره نه ده .

باطل پرستو انبیاء کرام بدنام کړي او مجرمان یی گرځولي اول دری خلفاء راشدین داهل بیتو دښمن ښودلو سره کافر گرځولی شوي ، څلورم خلیفه حضرت علی رضی الله عنه خوارجو کافر ښودلی ، حضرت ابن عباس رضی الله باندی د قرآن شریف د غلط تفسیر کولو الزام لگول شوی .

حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ته گمراه ، د امت دښمن او د امت شیطان ویل شوی دی او د ده وژل د (۷۰) جهادونو نه افضل ښودل شوی ، حضرت امام شافعي رحمه الله ته " اضر من ابلیس " یعنی د شیطان نه زیات نقصاني خطاب شوی دی .

د حضرت شیخ اکبر محی الدین بن عربي متعلق ویل شـوي دي چـې " کفره اشد من کفر الیهود والنصاری " یعنی دی د یهودو و نصاراو نه هم زیات کافر دی . د همـدی سلسلی یوه کړی دخوارلسمی صدی بدعتیان دي کوم چی د الله تعالی د توحید واقعي مبلغین او د سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم محافظین د دیو بند بزرگانو ته د خپل نفس او خیتی په خاطر کافر و مرتد وایي ، الله تعالی دی ورته هدایت ورکړي ، آمین .
د دوی د مخالفت وجه حسد او کینه ده او دا شیطاني طریقه ده شیطان هـم د حضـرت آدم علیه السلام عزت او عظمت په لیدو سره حسد وکړ د ده او د ده د اولاد دښمنـي تـه ملا تړلی ، حضرت ابوحازم فرمایي : " د خلکو یو عادت دا هم دی چی د خپل ځان نـه په لوی عالم کی چیجي لتهوي (یعنی د هغه عیبونه لټوي) تر څو نور خلک ترینـه نفـرت وکړي او پریدي " (العلم والعلماء ص ۲۳۸) .
د حضرت یحیی بن معین رحمه الله په وړاندی به چی چا وویل چی فلانـی عـالِم امـام ابوحنیفه رحمه الله ته بدرد وایي نو ده به فرمایل :

حســـدوا الفتی اذا لم ینـــالوا ســـعیه
فـــــالقوم اعـــداء لـــه وخـــصوم
کضرائر الحسنـــاء قـــلن لـــوجهها
حســـداً او بغیـــاً انهـــــا لـــذمیم

یعنی خلک څکه د هغه دښمنان جوړ شوي چی په علم و عمل کی ورسره برابـري نشـي کولی .
د دوی مثال د کومی ښایسته ښځی د بنې دی چی د حسد له وجـی هغـی تـه بدرنګـه وایي .
او همدا صورت حال دلته هم دی ، علماء دیوبند د الله پاک په فضل و کرم سره په علـم ، تقوی و طهارت او د دین په تبلیغ او د قرآن و حدیث په خدمت او سیاسـت کـی چـی دکوم کمال او شهرت مالکان دي د دی نظیر او مثال په مخالفینو کې نـه پیـدا کیـږي " هاتوا برهانکم ان کنتم صادقین " وګـورئ د حـدیثو مشـهور کتابونـه : (۱) د صـحیح بخاري عربي شرح فیض الباري د حضرت علامه انور شـاه کشـمیري رحمـه الله تصـنیف (۲) د صحیح مسلم عربي شرح فتح الملهم د مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله تصنیف

(۳) د ترمذي شریف عربي شرح عرف شذي د حضرت علامه انور شاه صاحب رحمه الله تصنیف (۴) دویم شرح الکواکب الدری د حضرت علامه رشید احمد گنگوهي رحمه الله تصنیف (۵) د ابوداوٗد عربي شرح بذل المجهود د حضرت علامه خلیل احمد انبهیټوي مهاجر مدني رحمه الله تصنیف (٦) د مشکواة شریف عربي شرح التعلیق الصبیح د مولانا محمد ادریس کاندهلوي ، لدینه علاوه د کنز الدقائق ، هدایه ، شرح وقایه ، نور الایضاح ، شرح نقایه ، زاد الفقیر وغیره د فقه او حدیث د کتابونو شروح او حواشي او مستقل طور د عربي تصنیفاتو د شائع کولو شرف یواځې د دیوبند علماوٗ ته حاصل دی ، ذلك فضل الله یؤتیه من یشاء .

او بریلوي علماء لدی شرف نه بالکل محروم دي او د ذکر شوي عربي کتابو څخه د عربو او عجمو اسلامي ملکونه فیض یاب کیږي ، د دار العلوم دیوبند شیخ الحدیث شیخ العرب والعجم حضرت مولانا سید حسین احمد مدنی رحمه الله د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د روضی په خوا کی مسجد نبوي کی تر څو کالو پوری عربو ته د قال الله او قال الرسول الله صلی الله علیه وسلم درس ورکولو .

این سعادت بزور بازو نیست
تانه بخشد خدای بخشنده

پورته ذکر شوي الهي نعمتونه او انعامات رضاخانیان لیدل نه غواړي نو د علماء دیوبند سره د مخالفت اصلی وجه همدا ده ، د دوی دا دعوی چی واقعي اهل سنت والجماعت مونږه یو او نور ندي د ابوعامر د دعوی پشان ده ، ابو عامر ته د عربو سردار او د لیډر جوړیدو شوق وٗ مکر د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابله کی د داسی رذیل به څه حیثیت وٗ ؟ ده په حسد سره وویل : زه په صحیح ملت او د ابراهیم په دین حنیف باندی یم او رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کوم دین ابراهیمي پیش کوي اصلي ملت حنیف ندی ، د داسی غلطی پروپیګنډی کولو سره یی ځای په ځای د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقابله وکړه او په ضرر او تکلیف رسولو کی یی هیڅ کوتاهي ونه کړه ، مدینه منوره کی د منافقانو په لمخولو سره د مسجد قبا په مقابل کی د خپل مقصد پوره کولو لپاره یو مسجد جوړ کړ ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وحي په ذریعه خبر ورکړی شو چی پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی مسجد د ورانولو حکم وکړ هغه جومات د مسجد ضرار په نوم سره مشهور دی ، الله تعالی

فرمايي " والذين اتخذوا مسجدا ضراراً وكفرا وتفريقا بين المؤمنين وارصادا لمن حرب الله ورسوله من قبل وليحلفن ان اردنا الا الحسنى والله يشهد انهم لكاذبون " (سورت توبه) .

ترجمه : او کوم خلکو چی جومات جوړ کړ (د اسلام او مسلمانانو ته د نقصان رسولو او د غلطی عقیدی خورولو او مسلمانانو کی د اختلاف اچولو او دغه ابوعامر ته د موقع ورکولو لپاره) کوم چی الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وړاندی نه جنګ شروع کړی او دا خلک به قسمونه کوي چی لدینه څمونږه مقصد یواځی خیر او نیکي دی ، او الله تعالی ګواهي کوي چی دوی دروغجن دي .

او همداشان په مسلمانانو کی د اختلاف پیدا کولو او دخپل مطلب تر سره کولولپاره رضاخانیانو د اهل حقو په مقابل کی د رضاخانی جماعت بنیاد ایښی دی لدینه علاوه کوم بل مقصد په ذهن کی نه راځي ، والله اعلم بالصواب .

دیوبندي جماعت په اصول او عقائدو کی دحضرت امام ابوالحسن اشعري او د حضرت امام ابو منصور ماتریدي او په فروعو کی د حضرت امام اعظم ابوحنیفه مقلد او پیروان دی او په پیری مریدی او تصوف کی چشتیه ، قادریه ، نقشبندیه او سهروردیه سلسلو سره نسبت لري ، دغه حضرات واقعي اهل سنت والجماعت دي ، د دوی کارنامی او تصنیفات د دی خبری شاهدي کوي .

د اهل سنت والجماعت علامه څه ده ؟

حضرت پیران پیر رحمه الله فرمایي : " فالسنة ما سنه رسول الله صلى الله عليه وسلم والجماعة ما اتفق عليه اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فى خلافة الائمة الاربعة الخلفاء الراشدين المهديين رحمة الله عليهم اجمعين " .

ترجمه : سنت هغه طریقه ده چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پری عمل کړی وي او جماعت هغه طریقه ده چی هغه باندی د څلورو خلفاء راشدینو په زمانه کی صحابه کرام متفق شوي وي (غنیة الطالبين ۵۵/۱) .

پدی مذکوره طریقی باندی عمل کونکی او د دی نشر کونکی څوک دی ؟ دیوبندیان او که رضاخانیان ؟ انصاف وکړئ .

د علماء دیوبند په وړاندی اسوه حسنه ده چی الله تعالی فرمایي : " لقد كان لكم ف رسول الله اسوةٌ حسنةٌ " او د رضاخانی مذهب بنیاد خلاف سنت ، بی اصل آبائي رسم او رواج دی دوی د سنت طریقی په مقابل کی بدعت ته وده ورکوي ، قرآن شریف کی د گمراه قومونه په باره کی ځای په ځای ارشاد دی : " واذا قيل لهم اتبعوا ما انزل الله قالوا بل نتبع ما وجدنا عليه اباءنا " (سورت بقره) .

ترجمه : او کله چی دوی ته وویل شي چی د الله تعالی د نازل کړی طریقی پیروي وکړئ نو وایي : مونږ هغه طریقه باندی عمل کوو چی کوم څمونږ د پلرونو او نیکونو ده .

او دیو بندي حضرات خلاف سنت د پلرونو او نیکونو بی اصل رسومات او رواجونه نه مني او سخت مخالفت یی کوي نو پدی وجه رضاخانی بدعتي جماعت د دوی غیبت کوي . حضرت پیران پیر فرمایي : " فعلامة اهل البدعة الوقيعة فى اهل الأثر " یعنی د بدعتیانو نښه دا ده چی په سنتو باندی د عمل کونکو غیبت کوي .

(غنية الطالبين ۹٦/۱)

عمر خیام په یو فارسي رباعي کی د داسی گمراهانو ځواب ورکړی دی :

با این دوسه نادان که چنان می دانند
اهل جهل که دانای جهان ایشا نند
خوش باش که خرنئ ایشان بمثل
هر که نه خر است کافرش می دا نند

ترجمه : ځینی احمقان او جاهلان ځان باندی د عالِم خیال کوي او حال دا چی هغوی عالمان نه وي او دوی خپل خرتوب په وجه کوم خلک چی د دوی پشان خر ندي کافر گڼي .

د دیو بند په اکابرو باندی د مولوي احمد رضا دروغ او افتراء او د دی ځواب

(۸ سوال) خمونږ د جومات امام صاحب بدعت نواز دی بلکی خپلو اقوالو او افعال سره د بدعاتو په ترویج او اشاعت کی لگیا دی او د رضا خانی علماؤ پشان دی هم

دیوبند اکابر حضرت نانوتوي ، حضرت گنگوهي ، حضرت سهارنپوري ، حضرت تهانوي رحمهم الله ته بدرد بلکی کافر او مرتد پوری وايي (معاذ الله) او پدی خبره ډير کلک هم دي پدی وجه جومات کی اختلاف شوی دوه ډلی جوړی شوي دي ، اوس سوال دا دی : دغه خلک چی ځمونږه اکابرو ته کومی خبری منسوبوي او د کفر فتوی وربا‌ندی لګوي د دی خبرو حقيقت څه دی ؟ داسی معلوميږي چی د ديو بند اکابرو د دی ټولو خبرو رد کړی او خپل برائت ورنه اعلان کړی ، که دا صحيح وي نو تاسو دا ټولی خبری تفصيل سره وليکئ اميد دی چی ستاسو فتوی په راتلو سره ډير زيات مسلمانان د دوی د دوکی او فريب نه بچ پاتی شي او اصل حقيقت ورته واضح شي ، او هغوی دا هم وايي چی د عربو علماؤ هم ديوبند علماؤ ته کافر ويلی دي ايا دا خبره صحيح ده ؟ تفصيلي ځواب راکړئ مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! د ديوبند اکابرو ته چی کوم عقائد منسوب کړی شوي هغه بالکل غلط او بی بنياد دي ، او دغه حضرات له دی باطلو عقيدو نه بالکل بري دي بلکی دغو حضراتو لدی باطلو عقائدو نه خپله بيزاري اعلان کړی ده چی کوم عقائد رضاخانی مونږ ته منسوبوي هغه ځمونږه عقائد ندي او مونږ پخپله هغه شخص چی داسی باطل عقائد ولري کافر ګڼو ، لدی اعلاناتو او برائت نه وروسته هم دوی طرف ته دغه عقائد منسوبول او معاذ الله د الله تعالی داسی پاکانو ته کافر و مرتد ويل په هيڅ وجه سره د جومات د يو امام بلکی ديو مسلمان دشان سره نه ښائيږي ، حقيقت دا دی چی د ديوبند د اکابرو علماؤ د کومو عبارتونو نقل کولو سره چی پری اعتراضونه شوي او د کفر فتوی ګانی لګولی دي د دغو ټولو عبارتونو په نقل کولو او دهغو په تشريح کولو کی صفا خيانت نه کار اخستل شوی دی او د " لعنة الله علی الکاذبين " خيال هم ورته ندی شوی ، د اختصار په خاطر مونږ دلته يواځی د حضرت نانوتوي رحمه الله د "تحذير الناس" عبارت په نقل کولو کی چی کوم خيانت کړی هغه واضح کوو او د حضرت نانوتوي رحمه الله د عبارت صحيح مطلب په لنډ ډول پيش کوو ، او پخپله د حضرت نانوتوي رحمه الله بيان نقل کوو ، او باقي دريو حضراتو چی کوم بيانونه ورکړي يواځی د هغو په نقل باندی اکتفاء کوو .

حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله باندی دا بهتان لګول شوی چی دی (معاذ الله) د ختم نبوت زمانی څخه منکر دی لکه چی مولوي احمد

رضا خان په حسام الحرمین کی لیکلي دي : " قاسم نانوتوي خپله رساله "تخدیر النـاس" کی لیکلي دي " بلکی بالفرض که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کـی هـم څوک نبی وی بیا هم د ده خاتم النبیین کیدل باقی پاتی دي بلکی بالفرض که د نبوي زمانی نه وروسته هم کوم نبي پیدا شي بیا هم خاتمیت محمدي صلی الله علیـه وسلم کی څه فرق نه راځي ، د عوامو په خیال کی د رسول الله صلی الله علیـه وسلم خـاتم النبیین کیدل پدی معنی دي چی دی د ټولو په آخر کـی نبـی شـوی دی مګـر د فهم خاوندانو ته واضح دي چی په زمانه کی تقدم یا تأخر بالذات څه فضیلت نـه وي الخ " (حسام الحرمین تمهید ایماني ص ۱۰۱) .

د تخدیر الناس عبارت په نقل کولو کی بی حده د خیانت نه کـار اخستل شـوی دی ، کوم عبارت چی حسام الـحرمین کی مسلسل پـیش کـړی شـوی دی لکـه چـی پـدی عبارت کی :

(۱) " بلکه اگر بالفرض آپ کے زمانه مین بهی کهین اور کوئی نبی هو جـب بهـی آپ کـا خاتم هونا بدستور باقی رهتا هے " دا جمله (۱۴) صفحی (۱۵ ، ۱٦ ، ۱۷) کربنې دي .

(تخدیر الناس مطبوعه قاسمی پریس دیوبند)

(۲) " بلکه اگر بعد زمانه نبوي بهی کوئی نبی پیدا هو تو بهی خاتمیـت محمـدی صـلی الله علیه وسلم مین کچه فرق نه آئے گا " دا عبارت د (۲۸) صفحی (۷ ، ۸) کربنه کی دي .

(۳) " عوام کے خیال مین تو رسول الله صلی الله علیه وسلم کا خاتم هونا باین معنـی هے که آپ سب مین آخری نبی هین مگر اهل فهم پر روشن هے که تقدم یا تأخر زمانه مـین بالذات کچه فضیلت نهین " دا عبارت (۳) صفحی (۴ ، ۵) کربنه کی دي .

لوستونکو تاسو وګورئ څومره بنکاره خیانت دی " لعنة الله علی الکـــاذبین " تـه هم خیال نه کوي ، په حضرت نانوتوي رحمه الله باندی افتراء او کفـري مضـمون جوړولو لپاره د کتاب د بیلا بیلو صفحو نه عبارت را اخستو سره پـدی شـکل پـیش کـړی شـوی چی کتونکي دا خیال وکړي چی دا عبارت بعینه د تخدیر النـاس دی او حـال دا چـی دا مسلسل عبارت د تخدیر الناس ندی ، او بل خیانت دادی چـی د جملـو ترتیـب هـم بدل کړی شوی چی د (۱۴) صفحی جمله اول لیکلی او وروسـی یی د (۲۸) صفحه او بیا یی د (۳) صفحی ایا مجدد همداسی وي او دهغه داسـی کارنـامی وي ؟ انا لله وانا الیه راجعون ، پداسی تصرف سره د هر چا په کلام کی بلکی په کلام الله کی کفريَ معانی

پیدا کولی شي کوم بی دینه (نعوذ بالله) په تصرف کولو سره ویلی شي " ان الـذین امنوا وعلموا الصلحت اولئك اصحاب النار هم فیها خالدون " (نعوذ بالله)
حقیقت دا دی چی حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله جناب رسول الله لپاره دری قسمه خاتمیت ثابتوي ، خاتمیت ذاتي ، خاتمیت زماني او خاتمیت مکاني .

خاتمیت زماني :

یعنی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نبوت زمانه پـدی عالم مشاهده کـی د ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام په آخر کی ده ، د ده صلی الله علیه وسلم نه وروسته بـه هیڅ کوم نبي نه وي (حضرت عیسی علیه السلام به تشریف راوړي خو دی بـه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شریعت باندی عمل کوي نو د ده په تشریف آوري سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په آخري نبي او نبی آخر الزمان کیدو بانـدی کـوم اثر نـه پریوځي) د ده آخري نبي کیدل داسی مسلم او اجماعي عقیده ده چـی د دینـه هیڅ انکار نشي کیدی ، که څوک انکار وکړي بلکی شبه قدری وکړي نو هغه بغیر د شبهی نـه کافر دی .

خاتمیت مکاني :

یعنی کوم ځمکه کی چی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم جلوه افروز شـوی هغـه په ټوله ځمکه باندی اوچت او آخري ده د ده نه پورتـه بلـه کومـه ځمکـه نشته نـو پـه مکاني اعتباره سره هم رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتم دی .

خاتمیت ذاتي :

دیته خاتمیت مرتبي هم ویل کیږي یعنی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبـوت په وصف بالذات متصف دی او نور انبیاء کرام بالعرض موصوف دی د نورو انبیاء کرامـو نبوت د ده صلی الله علیه وسلم فیض دی او د ده صلی الله علیه وسلم نبوت د چا فیض ندی .
مطلب دا دی ، څومره کمالات او د قرب الهي مراتب چی دي دا ټـول پـه رسـول الله صلی الله علیه وسلم کی بالذات موجود دي او نورو انبیاء کرامو او اولیـاء کرامـو بلکـی ټولو مخلوقاتو ته چی کوم کمالات حاصل شـوي دا ټـول د ده ذات اقـدس صـلی الله

علیه وسلم په واسطه سره حاصل شوي ، نو حضور اقدس صلی الله علیه وسلم پدی حیثیت سره هم خاتم دی چی ټول کمالات وربانډی ختم شوي دي ، کوم مضمون چی حضرت نانوتوي رحمه الله بیانوي همدا مضمون مولانا روم رحمه الله هم بیان کړی په وعظ " الظهور " کی دي :

بهر این خاتم شد است او که بجود
مثل اونی بود ونی خواهند بود

د تمثیل په طور فرمایي چی وګورئ کله چی په کوم فن او صنعت کی استاذ سبقه وکړي نو تاسو ورته نه وایئ ؟ یعنی دا ورته وایئ چی دا صنعت (فن) په تا ختم دی همدا شان حضور صلی الله علیه وسلم خاتم د کمالاتو دی یعنی په کمالاتو کی د ده مثال نشته نو د ذاتي خاتمیت همدا معنی ده یعنی د خاتم زماني سره پدی شان سره هم خاتم دی . (وعظ الظهور ص ۷۵ حضرت تهانوي)

و کله چی ده صلی الله علیه وسلم لپاره نبوت بالذات ثابت دی نو دا صفت ده لپاره لازم شو ، دی صلی الله علیه وسلم په هغه وخت کی هم نبي و کوم وخت کی چی حضرت آدم علیه السلام لا پیدا شوی هم نه و لکه چی پخپله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " کنت نبیاً وآدم بین الماء والطین "[1] او د نبوت سلسله په ده صلی الله علیه وسلم باندی ختم شو لهذا د ده صلی الله علیه وسلم نه وروسته به بل کوم نبي نه راځي لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : " لا نبي بعدی " لیکن په طریقه د فرض دا وګنئ چی که په فرض د محال د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کی او یا د ده صلی الله علیه وسلم نه بعد کوم نبي پیدا شو نو بیا هم دی د خاتم ذاتي کیدو په وجه خاتم النبیین پاتی کیږي او پدی کی هیڅ فرق نه راځي د دی هرګز دا مطلب ندی چی ده صلی الله علیه وسلم لپاره ختم زماني ثابت نه دی بلکی ختم زماني خو ده صلی الله علیه وسلم لپاره په قرآن و حدیث او اجماع سره ثابت دی ، دلته خو یواځی دا بیانول مقصود دي چی د ده صلی الله علیه

[1] ـ دا حدیث د مشکواة باب فضائل سید المرسلین کی پدی الفاظو سره نقل دی : " عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قالوا یارسول الله صلی الله علیه وسلم متی وجبت لك النبوة قال وآدم بین الروح والجسد " او پدی الفاظو هم راغلی " وعن العرباض بن ساریه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال انی عند الله مکتوب خاتم النبیین وان آدم لمنجدل فی طینته " (مشکواة ص ۵۱۳) .

وسلم منبع الکمالات کیدل داسی وصف دی چی که چیرته کوم محال او ناممکن شی فرض کړی شي بیا هم دا وصف رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لپاره کما فی السابق باقی پاتی کیږي . او حضرت نانوتوي رحمه الله چی کوم تعبیر اختیار کړی دی همدا تعبیر بعینه قرآن مجید کی موجود دی الله تعالی فرمایي :

" قل ان کان للرحمن ولد فانا اول العابدین "

ترجمه : که چیرته الله تعالی لپاره ځوی وای نو د ټولو نه وړاندی د هغه عبادت کونکی به زه وم .

په فوائد عثماني کی دي : یعنی لدینه لوی ظلم به څه وي چی الله تعالی ته لوښی او زامن مقرر کړی شي ، ته ورته ووایه : که چیرته بالفرض والمحال الله تعالی لپاره اولاد وای نو اولني شخص به زه یم چی د ده د اولاد عبادت وکړم (فوائد عثماني) او دا خبره بالکل واضحه ده چی الله تعالی لپاره ځوی کیدل بالکل محال دي (لم یلد ولم یولد) سره صفا اعلان دی چی د ده څوک اولاد نشته ، همدا شان د حضرت نانوتوي رحمه الله د مضمون مقصد دی .

دا مختصر مضمون د تحذیر الناس د هغه مضمون خلاصه ده چی په هغه کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتمیت ذاتـي ثابت کړی دی ، اوس د حضرت نانوتوي د عبارت : " اگر بالفرض بعد زمانه نبوي بهی کوئی نبی پیدا هو تو بهی خاتمیت محمدی صلی الله علیه وسلم مین فرق نه آئے گا " مطلب پدی تقریر سره واضح شو چی پدی عبارت کی د خاتمیت نه مراد خاتمیت ذاتـي دی د دی هرگز دا مطلب ندی چی ده د خاتمیت زمانی څخه انکار کولو ، خاتمیت زماني خو د ده عقیده ده او ده پخپله هغه شخص ته کافر او د اسلام خارج ویلو چی هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین زماني ونه مني ، او د ده صلی الله علیه وسلم نه وروسته د کوم نبي زاتلل جائز وګڼي ، په تحذیر الناس کی د اول نه تر آخره پوری یو لفظ هم داسی نشته چی د هغه نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاتمیت زمانی انکار ثابت شي بلکی د تحذیر الناس خو موضوع د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر قسم خاتمیت ذاتي ، زماني او مکاني حمایت او حفاظت دی بالخصوص د ختم نبوت زماني متعلق خو پدی کی نهایت صاف او واضح تصریحات موجود دي د هغه عبارتونه کتلی شئ ، او بیا یواځی په تحذیر الناس پوری هم منحصر ندي د حضرت مرحوم په نورو تصنیفاتو کی

هم په کثرت سره دا قسم تصریحات موجود دي . صرف د نمونی په طور د مناظره عجیبه یو څو عبارتونه وګورئ :

(۱) د حضرت ختم المرسلین صلی الله علیه وسلم خاتمیت زماني خو د ټولو په نزد مسلم دی او دا خبره هم د ټولو په نزد مسلمه ده چې اول المخلوقات دی (مناظره عجیبه ص ۲۹) .

(۲) خاتمیت زماني ځمونږ دین و ایمان دی . البته د ناحق تهمت څه علاج نشته (رومبی حواله) .

(۳) د خاتمیت زمانی څخه زه انکار نه کوم بلکی داسی ووایئ چې د چا لپاره می د انکار ګنجائش نه دی پریښی ، د افضلیت اقرار بلکی د اقرار کونکو پښی مضبوطوم او د نبیانو په نبوت می ایمان دی خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څوک برابر نه ګڼم (مناظره عجیبه ص ۵۰) .

(۴) او دا خبره منلی شوې ده چې خاتمیت زماني اجماعي عقیده ده (مناظره عجیبه ص ٦٩) .

(۵) د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د کوم بل نبي جوړیدو احتمال نشته او څوک چې پدیکی شک او تردد کوي هغه کافر ګڼم (مناظره عجیبه ص ۱۰۳) .

دا ټول عبارتونه په غور سره وګورئ ایا لدینه وروسته هم ده ته دا غلطه عقیده منسوبول صحیح دي ؟

قطب العالم حضرت اقدس مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله باندی دا بهتان لګول شوی چی ده دا فتوی ورکړی ده چی (نعوذ بالله) الله تعالی دروغ وایي :

په ده باندی دا صراحتاً بهتان او الزام دی ، ده په ټول عمر کی د دی څخه انکار کړی او لیکلي دي چی څوک دا ناپاکه عقیده لري یا په ژبه دا ناپاک الفاظ ووایي هغه کافر دی .

فتاوی رشیدیه به وګورئ .

استفتاء :

پدی مسئله کی دینی علماء څه فرمایي چی ذات باري تعالی په صفت د کذب سره موصوف دی یا نه ؟ او الله تعالی دروغ وایي یا نه ؟ او څوک چی په الله تعالی باندی د دروغو خیال کوي هغه څنګه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب د الله رب العزت پاک ذات د دروغو نه پاک او منزه دى (نعوذ بالله) د الله تعالى په كلام كى هركز د دروغو شائبه نشته . قال الله تعالى " ومن اصدق من الله قيلا " څوک چې د الله تعالى په باره كى دا عقيده وساتي او يا په ژبه ووايي چې هغه دروغ وايي هغه قطعي كافر دى او ملعون دى او د قرآن و حديث او د اجماع نه مخالف دى هغه هيڅكله مؤمن ندى (تعالى الله عما يقولو الظالمون علوا كبيرا)
(فتاوى رشيديه ۱۸/۱) .

تاج المحدثين . سراج المناظرين حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله باندى دا افتراء شوي ده چې دوى په براهين قاطعه كى ليكلي دي : د شيطان لعين علم (نعوذ بالله) د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه زيات وُ .

دا اعتراض هم بالكل بى حقيقت او سراسر بهتان دى د دى اعتراض متعلق پخپله د مولانا خليل احمد رحمه الله سوال شوى وُ او ده د هغه په ځواب كى ليكلي دي ، هغه سوال و ځواب په " السحاب المدرار " كى شائع شوى دى ، چې په لنډ ډول دلته نقل كولى شي

بسم الله الرحمن الرحيم

جناب محترم مخدوم ومكرم مولانا خليل احمد صاحب مدرس اول مدرسه مظاهر علوم سهارنپور

السلام عليكم !

د سلام نه وروسته عرض دا دى چې مولوي احمد رضا خان بريلوي په حسام الحرمين كى ستاسو متعلق ليكلي دي چې تاسو خپل كتاب " براهين قاطعه " كى ليكلي دي چې د ابليس علم د نبى صلى الله عليه وسلم له علم نه زيات وُ (نعوذ بالله) اوس سوال دا دى :

(۱) ايا دامضمون تاسوخپل كتاب په براهين قاطعه كى يا كوم بل كتاب كى ليكلى دى؟

(۲) كه صراحتاً مو نه وي ليكلي نو په طريقه د لزوم سره اشارةً يا كنايةً هم ستاسو د عبارتونو څخه فهميدلى شي يا نه ؟

(۳) که چیرته دا مضمون تاسو نه صراحتاً لیکلی او نه اشارةً او کنایةً ستاسو له مضمون نه تابتیږي نو کوم سړی چې دا عقیده ولري چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم نه د ابلیس علم زیات وٌ هغه سړی تاسو مسلمان ګڼئ یا کافر ؟
(۴) کوم عبارت چې خان صاحب بریلوي براهین قاطعه نه اخستی دی د دی عبارت صحیح مطلب څه دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

الجواب ومنه الوصول الی الصواب

مولوي احمد رضا خان صاحب بریلوي چې ما باندی کوم الزام لګولی دی هغه بالکل بی اصل او لغوه دی ، زه او زما استاذان هغه سړی کافر و مرتد او ملعون ګڼي چې شیطان علیه اللعنت خو څه کوی که کوم مخلوق لره هم د جناب سرور عالَم صلی الله علیه وسلم نه په علم کی زیات وګڼي ، لکه چې د براهین قاطعه (۴) صفحه کی دا عبارت موجود دی ، نو څوک ادنی مسلمان هم د فخر عالَم صلی الله علیه وسلم په تقرب او شرف د کمالاتو کی هیڅوک برابر او سیال نه ګڼي ، خان صاحب بریلوي په ما باندی دا الزام لګولی دی ، د دی حساب خو به د قیامت په ورځ کیږي ، دا کفري مضمون چې د شیطان علیه اللعنت علم د نبی صلی الله علیه وسلم د علم نه زیات وٌ د براهین په هیڅ یو عبارت کی نه صراحتاً شته او نه کنایةً .... الی قوله .... غرض دا چې خان صاحب بریلوي په ما باندی خالص اتهام او کذب (دروغ) ویلي دي ، ما ته خو په ټول عمر کی د دی وسوسه هم ندی پیدا شوی چې شیطان خو څه کوی کوم ولي او فرشته هم د ده صلی الله علیه وسلم علم سره سیالي او برابري نشي کولی دا خو ډیره لری ده چې په علم کی ورنه زیات وي ، دا عقیده چې خان صاحب ماته منسوبه کړی خالص کفر دی ، د دی تپوس به د قیامت په ورځ له خان صاحب نه کوم زه د دی نه بالکل بري او پاک یم ، وکفی بالله شهیداً ، مسلمانان دی د براهین قاطعه عبارت په غور مطالعه کړي مطلب بالکل صاف او واضح دی .

لیکونکی : خلیل احمد

مهر خلیل احمد (له السحاب المدرار نه)

حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ته دا خبره منسوبه کړی شوی ده چی ده په حفظ الایمان کی دا لیکلي دي " د غیبي خبرو علم لکه څنګه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شته همدا شان هر هلک او هر پاګل بلکی هر ځناور او هر چارپای ته هم حاصل دی " (نعوذ بالله) دا هم په حضرت تهانوي رحمه الله باندی تهمت او الزام دی په حفظ الایمان باندی د دی اعتراض متعلق پخپله د تهانوي صاحب نه تپوس شوی او حضرت ځواب ورکړی چی دا په بسط البنان او السحاب المدرار کی چاپ شوی ، مناسب راته ښکاري چی دا هم دلته نقل کړی شي .

جناب محترم حضرت مولانا الحافظ الحاج شاه اشرف علي صاحب .
مدت فیوضکم العالیه

د سلام مسنون نه وروسته عرض دا دی چی مولوي احمد رضا خان صاحب بریلوي په حسام الحرمین کی ستاسو متعلق دا لیکلي چی تاسو په حفظ الایمان کی د دی تصریح کړی دی چی د غیبی خبرو علم لکه څنګه چی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی همداشان هر هلک او هر پاګل بلکی هر ځناور او هر چارپای ته هم حاصل دی پدی وجه سوال دا دی :

(۱) ایا تاسو پ حفظ الایمان او یا بل کتاب کی داسی تصریح کړی دی ؟

(۲) که مو تصریح نه وي کړي نو په طریقه د لزوم سره هم ستاسو د کوم عبارت نه دا مضمون راوځي ؟

(۳) ایا داسی مضمون ستاسو مراد دی ؟

(۴) که چیرته تاسو نه د داسی مضمون نه تصریح کړی او نه اشارةً د کوم عبارت نه معلومیږي او نه ستاسو مراد وي نو داسی سړی چی دا عقیده ولري یا صراحتاً او یا اشارةً ووایي تاسو هغه مسلمان ګڼئ یا کافر ، وضاحت وکړئ مهرباني .

(بنده محمد مرتضی حسن)

الجواب .... مشفق و مکرم سلمهم الله ..... السلام علیکم

ستاسو د خط په ځواب کی عرض کوم چی ما دا خبیث مضمون (غیبي خبرو علم لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی همداشان هر هلک او هر پاګل بلکی هر ځناور او هر چارپای ته حاصل دی) په کوم کتاب کی ندی لیکلی او لیکل خو پریده زما په زړه کی هم داسی مضمون کله ندی تیر شوی .

(۲) زما د کوم عبارت نه هم دا مضمون نه ثابتیږي ، لکه چی په آخر کی به عرض کړم

(۳) کله چی ره دا مضمون خبیث گنم او زما په زړه کی هم د دی تصور ندی راغلی لکه بره چی می عرض کړ نو بیا زما مراد څنګه کیدی شي ؟

(۴) کوم سړی چی دا عقیده ولري یا بغیر د عقیدی نه صراحتاً یا اشارةً دا خبره وکړي زه هغه سړی د اسلام نه خارج گنم ځکه چی هغه د قطعي نصوصو تکذیب او د حضور سروړ عالم فخر نبي آدم صلی الله علیه وسلم تنقیص کوي ، دا خو ستاسو د سوالونو خواب شو ...... الی قوله .... زما او زما د ټولو مشرانو عقیده او قول همیشه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د " افضل المخلوقات فی جمیع الکمالات العلمیة والعملیة " کیدو په باب کی دا ده :

بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

(بسط البنان مع حفظ الایمان ص ۱۰۹)

مولوي نذیر احمد رضا خان رام پوري و براهین قاطعه د عبارتونو څخه غلط مطلب ویستلو سره یو خط د څو اعتراضونو سره سید الطائفه حضرت شاه حاجي امداد الله مهاجر مکي رحمه الله خدمت ته ولیږل او پدیکی ډیر زیات بدرد ، کنځل او د تکفیر و تضلیل الفاظ لیکلي و مونږ دلته د هغو نه یوڅو اعتراضات او دحضرت حاجي صاحب ځواب د موقع په مناسبت نقل کوو .

اول اعتراض :

په براهین قاطعه کی لیکلي : چی د الله تعالی نه کذب ممکن دي د دی مسئلی په وجه په الهي کتابو کی د دروغ احتمال پیدا کیدی شي ، یعنی مخالفین دا ویلي شي چی شاید دا قرآن هم دروغ وي او د ده احکام هم غلط وي او د براهین قاطعه د دی مضمون په وجه سره ډیر خلک گمراه شول .

دویم اعتراض :

په براهین قاطعه کی رسول الله صلی الله علیه وسلم په بشریت کی ټولو مخلوقاتو سره برابر ویلو سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره برابر کړی دی ، او هامان و فرعون هم پدی اعتبار سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره برابر شول او دا د کفر خبره ده

دریم اعتراض :

په براهین قاطعه کی د میلاد مجلس ته بدعت ضلاله ویلي او فاتحه او او محفل میلاد کونکو ته هندوان او شیعهٔ ګان لیکلي دي ، الخ

د حضرت حاجي صاحب د خط نقل

نحمد الله الحليم القدير الديان الذى كشف بمحض فضله على من اصطفى من عباده حقائق العلوم والبيان ونصلى ونسلم على عباده الذين اصطفى لاسيما على اشرف الرسل و الانبياء سيدنا محمد ن المصطفى وآله وصحبه النجباء الاتقياء اما بعد .

از فقیر امداد الله چشتي فاروقي عفا الله عنه بخدمت مولوي نذیر احمد خان صاحب بعد سلام تحیۀ اسلام آنکه آپ کا خط آیا مضمون سے مطلع هوا هر چند که بعض وجوه سے عزم تحریر جواب نه تها مگر بغرض اصلاح و توضیح مطلب براهین قاطعه بالاختصار کچھ لکھا جاتا هے ، شاید الله تعالی نفع پهنچادے . ان ارید الا الاصلاح ماستطعت وما توفيقى الا بالله

اول ځواب :

واضح دی وي چی د امکان کذب کومه معنی تا فهم کړی دا خو په اتفاق سره مردوده ده یعنی د الله تعالی له طرفه د وقوع کذب قائل کیدل باطل دي او دنص صریحي نه خلاف دي " ومن اصدق من الله حديثاً .... وان الله لايخلف الميعاد "

........وغیرهما هغه آیتونه چی د الله تعالی د نقص و کذب له شائبی نه پاک او منزه دي ، پاتی شو د علماؤ اختلاف کوم چی وقوع یا عدم وقوع د خلاف وعید په باره کی دي کوم چی صاحب د براهین قاطعه لیکلي دي هغه په اصل کی کذب ندی صورت د کذب دی . د دی په تحقیق کی نورد بحث دی .... حاصل دا : د امکان کذب نه مراد د الله تعالی د قدرت لاندی د کذب داخلیدل دي ، یعنی الله تعالی چی د وعید کومه وعده کړی ده د دی په خلاف باندی هم قادر دی اګر که د دی وقوع نه وي ، امکان

لره وقوع لازم ندی بلکې کیدی شي چې یو شی ممکن بالذات وي او د کوم خارجي سبب سره ورته استحاله لاحق شوي وي لکه چې په اهل حق باندې مخفي ندی ......
نو د اهل اسلام دټولو محققینو ، صوفیاء کرامو او علماء عظامو مذهب پدی مسئله کې دا دی چې کذب د الله تعالی د قدرت لاندی داخل دي ، نو کوم اعتراضات چې تاسو د کذب په وقوع باندې متفرع کړي وو هغه دفع شول ، ځکه چې د وقوع هیڅوک قائل نشته ... الخ .

حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله هم همداشان لیکلي دي ....
وګوری .... " الطاعة عمل الجنة والمعصية عمل النار وبعد ذلك الامر اليه ان شاء اثاب واحداً منا بغير عمل فذالك اليه فعال لما يريد لايسئل عما يفعل وهم يسئالون لو ادخل واحدً من الانبياء والصالحين النار كان عادلاً وكان ذلك الحجة البالغة يجب علينا ان نقول صدق الامير ولا نقول لو وكيف هذا يجوز ان يكون ولو كان كان عن عدل وحق وهو شئى لايكون ولا يفعل شيئاً من ذلك " .

یعنی د جنت حاصلولو عمل خو طاعت دی او د دوزخ عمل معصیت ، لدینه وروسته د الله تعالی اختیار دی که وغواړي نو بغیر د عمل نه چاته ثواب ورکړي او که وغواړي نو بغیر د عمل نه چاته جزا ورکړي هغه مالک او مختار دی چې څه وغواړي هغه کوي د ده د کار نه څوک تپوس نشي کولی او د نورو څخه به تپوس کیږي ، که چیرته دی د انبیاؤ او صالحینو څخه یو څوک دوزخ ته واچوي بیا هم دی عادل دی او دا به حجت بالغه وي (چې مالک په خپل ملک کی هر څه وغواړي وکوي) په مونږ باندی واجب دي چې دا وینا وکړو : حاکم په هر حال رشتونی دی او مونږ چون و چرا نشو کولی ، ذاسی کیدل (چې حق تعالی د جنت مستحق دوزخ ته واچوي) د امکان او جواز په درجه کی ضرور داخل دي او که چیرته داسی وشي نو عین انصاف او حق به وي (ظلم یا کذب به نوي) البته دا داسی خبره ده چې نه واقع کیږي او الله تعالی داسی نه کوي (الفتح الرباني ص ۴۷۳ (٦١) نمبر مجلس) .

او دا هم فرمايي : " وذلك لان الله عزوجل لايجب عليه الاحد حق ولا يلزمه الوفاء بالعهد الخ " یعنی دا خبره ځکه ده چې په الله تعالی باندې د هیچا څه حق نشته او نه ورباندې کومی وعدی پوره کول لازم دي بلکې دی چې څه وغواړي هغه کوي چاته

وغواړي عذاب ورکوي او چاته وغواړي نو بخښنه ورته وکړي چا باندی وغواړي نو رحم پری کوي چاته وغواړي نعمت ورکړي چی څه اراده وکړي نو پوره کوي او چی څه کوي څوک ورنه تپوس نشي کولی او د مخلوق څخه به تپوس کیږي (فتوح الغیوب ص ١٦٧ (٦٨) مقاله) .

دویم ځواب :

بناء پدی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بشریت د جمله بشر سره شریک او مثل کیدل په نص د قرآن سره ثابت دی لدینه انکار د نص نه انکار دی مګر په یو وصف کی شریک او مثل کیدو نه دا نه لازمیږي چی په ټولو اوصافو کی دی شریک وي ، نو د برابری دعوی هیڅوک نه کوي . پخپله په براهین قاطعه کی د " انما انا بشر مثلکم " د آیت د شرح نه وروسته صفا لیکلي دي چی د " یوحی الی " جملی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرتبی اوچتوالی او امتیاز معلوم شو ، شاید چی تاسو د براهین نور عبارتونه د انصاف په نظر نه وي کتلي پدی وجه د علماؤ او صلحاؤ په تکفیر باندی مبادرت او جلتي کولو سره د ځان خیال دی ندی کړی ، دا طعن خو د پردی شانه پخپله د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم بلکی د خالق موجودات پوری رسي ځکه چی د (انما انا بشر مثلکم) اظهار و بیان ارشاد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جناب باري تعالی له طرف شوی دی .

فاعتبروا یااولی الابصار

دریم ځواب :

همداشان صاحب د براهین قاطعه نفس ذکر میلاد ته بدعت ضلاله ندي ویلي هغه زائده محرمه او مکروهه قیوداتو ته ویلي دي او نه نفس ذکر و قیام کونکو ته هندوان او شیعه ګان لیکلي بلکی په باطله عقیدی باندی د حرمت او د روافضو او هندوانو سره د مشابهت حکم کړی دی ، لکه چی د جناب مولوي احمد علي صاحب مرحوم او مولوي رشید احمد صاحب په فتوی کی پخپله صراحتاً موجود دي چی نفس ذکر میلاد ته بدعت د حسناتو او برکاتو لیکلی او په براهین قاطعه کی بیا بیا د دی اظهار شوی دی . انصاف شرط دی .

(از فسانه عبرت ص ٥٦ _ ٥٩ د جناب مولانا مشتاق علي چرتها ولي)

پاتی شود دا دعوه چی د عربو علماؤ هم دی حضراتو ته کافر ویلي دي نو پدی باره کی دا عرض دی . مولوي احمد رضا خان صاحب چی دعلماء دیوبند د کومو کتابونو له احوالو نه درسالې مرتب کولو سره د عربو علماؤ ته وړاندی کړی ده دا ټول کتابونه (مثلا تحذیر الناس . براهین قاطعه . حفظ الایمان) په اردو کی وو او عرب علماء په اردو نه پوهیدل لکه چی پخپله هغو عرب علماؤ کله د دیوبند علماؤ ته (۲٦) سوالونه لیږلي وو نو دهغو په ابتداء کی داسی لیکلي وو .

ایها العلماء الکرام والجهابذة العظام قد نسبه الی ساحتکم الکریمة اناس عقائد الوهابیة واتو باوراق ورسائل لانعرف معانیها لاختلاف اللسان فنرجوا ان تخبرونا بحقیقة الحال ومرادات المقال .

یعنی : ای علماء کرامو او سرداران عظامو تاسو طرف ته خو کسانو د وهابي عقائد منسوب کړی دي او یوڅو اوراق او رسالي داسی راوړي چی د هغوی په مطلب او معانیو باندی د عدم لسان کیدو په وجه مونږ نه پوهیږو پدی وجه امید دی چی مونږ دحقیقت الحال نه خبردار کړئ (التصدیقات لدفع التلبیسات ص ۸) .

د عربو علماؤ لدی عبارت نه معلوم شو چی مولوي احمد رضا خان پخپله خوښه چی څه مرتب کولو سره د دوی په وړاندی پیش کړی ؤ هغو علماؤ په خان صاحب باندی اعتماد کولو سره د هغه تصدیق کړی ؤ لیکن دغو عرب علماؤ ته چی کله حقیقت معلوم شو نو هغوی بیا ډیر زیات پښیمانه شول او دخپلو فتواګانو څخه رجوع وکړ او د دیوبند علماؤ ته یی (۲٦) لیکلي سوالونه ولیږل او د دغو سوالونو ځوابونه محدث جلیل حضرت مولانا خلیل احمد صاحب مهاجر مدنيي (د بذل المجهور شرح د ابی داؤد مصنف) ولیکل او په هغه زمانه کی د هندوستان اکابرو علماؤ د دغو سوالونو د دغو ځوابونو تصدیق وکړ او وی لیکل چی ځمونږه عقیده همدا ده . او دغه ځوابونه دحرمین شرفینو " زاد هما الله عزاً و کرامةً " او د عربو علماؤ ته وړاندی شول نو دغو حضراتو د ځوابونو ملاحظه کولو سره تصدیق وکړ او د دیوبند علماؤ ته یی صحیح العقیده وویل . لکه چی د دغو ځوابونو تصدیق کولو سره چا ولیکل : کوم څه چی مولانا خلیل احمد صاحب لیکلي دي هغه صحیح دي پدی کی شک نشته . نو یو چا ولیکل څه چی بدیکی دي هغه مو بالکل د اهل سنت والجماعت د مذهب سره مطابق بیا مونږ او په کومه مسئله کی مو د ګفتګو ګنجائش ونه مونږ .

دا (۲٦) سوالونه او د دغو خوابونه او د عربو علماؤ تصدیقات د اردو ترجمی سره چاپ شوي دي چی نوم یی " المهند علی المفند معروف به " التصدیقات لدفع التلبیسات " دی

که تفصیل کتل غواړئ نو مذکوره رساله مطالعه کړئ .

د موقع په مناسبت د شیخ العرب والعجم مولانا حاجي شاه امداد الله چشتي فاروقي مهاجر مکي رحمه الله مکتوب گرامي وگورئ (حضرت حاجي صاحب رحمه الله رضاخانی هم خپل مشر گڼي لکه چی رضا خانی مولوي عبدالسمیع د سهارنپور ضلع د رامپور اوسیدونکي خپل کتاب " انوار ساطعه " (۴) صفحه کی حاجی صاحب په باره کی دا القاب لیکلي دي : جناب مرشد و مولائی حضرت حاجي شاه امداد الله عم فیوضه ، دحضرت حاجي صاحب رحمه الله لدی مکتوب گرامي نه د دغو دینی بزرگانو حقانیت ، اوچته مرتبه او د عاشق رسول صلی الله علیه وسلم کیدو باندی مکمل طور وضاحت کیږي) .

د حضرت مرشد العرب والعجم مولانا محترم الحاج الحافظ امداد الله شاه فاروقي مهاجر مکي رحمه الله د مکتوب گرامي نقل :

بسم الله الرحمن الرحیم _ نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وبعد :

له طرفه د فقیر امداد الله چشتي د عامو دوستانو په خدمت کی : پدی ورځو کی ماته د هندوستان نه ځینی خطونه راغلي چی په هغو کی دا لیکل شوي چی مولوي رشید احمد صاحب باندی ځینی خلک بدگماني کوي چی مولوي صاحب خنگه سړی دی ، لهذا زما له طرفه دا خبره مشهوره کړئ چی مولوي رشید احمد صاحب عالِم رباني او فاضل حقاني ، د سلف صالحینو نمونه ، د شریعت او طریقت جامع (خاوند) ، شپه او ورځ د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رضامندی کی مشغول ، د حدیث درس گولو وظیفه لري ، د مولانا اسحاق صاحب نه وروسته د علم دین داسی فیض د مولوي صاحب نه جاري شوی ، مولوي صاحب په هندوستان کی واحد شخص دی ، چی د مشکلو مسائلو خواب او حل کوي ، هر کال تر پنځو سو کسانو پوری د علم حدیث په لوستو سره ورنه د فراغت سند تر لاسه کوي ، د سنت رسول الله صلی الله

عليه وسلم په پيروي كي محو دى ، د رسول كريم صلى الله عليـه وسـلم پـه محبـت او عشق الهي كي مستغرق دى ، حق ويونكى دى ، د لايخافون لامة لائم صحيح مصداق دى ، په الله تعالى باندى مكمل طور سره توكل لري ، له بدعاتو څخه مكمل طـور سـره اجتناب كوي ، د سنتو اشاعت د ده كار او پيشه ده ، د بدعقيـدو څخـه صـحيح العقيـده جوړول د ده كسب دى ، د ده صحبت او ملګرتيا مسلمانانو لپاره اكسير اعظـم او كيميـاء ده . د ده سره كيناستو باندى الله تعالى رايادېږي ، همدا د الله والاو علامـه ده ، متقـى او تارك دنيا دى ، راغب الى الآخرت دى ، په تصوف او سلوك كي كامل ، امير و غريـب ده ته يو شان او ټولو طرف ته يو شان او برابر توجه كوي او د چا نـه طمـع او توقـع نـه لري ، ما چي په ضياء القلوب كي د ده په صفت كي څه ليكلي هغه حـق دي ، د ضـياء القلوب عبارت دا دى : " مولوي رشيد احمد صاحب و مولوي محمد قاسم صاحب سلمه را كه جامع جميع كمالات علوم ظاهري و باطني اند بجائى من فقـير راقـم اوراق بلكـه بمدارج فوق ازمن شمارند ، اگرچه بظاهر معامله برعكس شد كـه اوشـان بجـائى مـن و من بمقام او شان و صحبت او شان راغنيمت دانند كه اين چنين كسان درين زان نايـاب اند .... يعنى ...... د مولوي رشيد احمـد صـاحب سـلمه او د مولـوي محمـد قاسـم صاحب سلمه د ظاهري او باطني علومو او كمالاتو جـامع دى ، لـه مانـه دوى پـه ډيـرو مراتبو اوچت وګڼئ ، اګر كه په ظاهر كي معامله برعكس شوى چي هغوى زمـا ځـاى او زه د هغوى ځاى ته تلى يم (يعنى بايد چي هغوى زما مرشدين واى خـو بـرعكس زه د هغوى مرشد شوى يم) داسي كسان پدى زمانه كي ناياب دي ، د دوى صحبت غنيمت وګڼئ (ضياء القلوب (٦٠) صفحه) .

او اوس زما ورسره د مخكى نه زيات حسن ظن او محبت دى ، زه دوى خپل ځان لپـاره د نجات ذريعه ګڼم ، زه صفا خبره كوم چي كوم سړى مولوي صاحب ته بدرد وايي هغه زما زړه آزاروي ، زما دوه لاسونه دي يـو مولـوي محمـد قاسـم مرحـوم او دويم مولـوي رشيد احمد صاحب ، دا يو چي پاتى دى دا هم د نظره كوي ، زما او د مولوي صـاحب يوه عقيده ده زه بدعات بد ګڼم ، ځوك چي د مولوي صاحب سره په ديني امـورو كـي مخالف وي هغه زما هم مخالف دى او د الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخـالف دى ، او ځينى جاهلان چـي دا وايـي : شريعت ځانلـه شـى دى او طريقـت ځانلـه دا يواځي د هغوى كم عقلي ده ، د الله تعالى پـه دربـار كـي بغـير د شـريعت نـه طريقـت مقبول ندى ، د زړه صفائي كافرانو ته هم حاصلېږي ، زړه د آينى پشان دى ، آينـه چي

زنګ ونیسي نو په متیازو سره هم صفا کیږي او په ګلابو سره هم صفا کیږي لیکن فرق د نجاست او د طهارت دی ، د ولی الله پیژندلو لپاره بنیادی څیز اتباع سنت ده . څوک چې متبع د سنت وي هغه د الله تعالی دوست دی او که مبتدع وي نو خوشې بیکاره دی ، خارق العادة څیزونه د د جال نه هم ډیر ظاهریږي ، الله تعالی فرمایي : " قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی " څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعدار نه وي او د بدعاتو مروج وي هغه د الله تعالی دوست نشي کیدی ، لدی فقیر سره چې کوم اهل علم محبت لري دا د سنتو د اتباع په وجه ده د چا په مخالفت سره د مولوي صاحب هیڅ نقصان نه کیږي _ ع

آپ بے بهره هے جو معتقد میـر نهین

مولوي صاحب داسې سړی دی چې خواصو ته پکار دی د ده له صحبت نه مستفید شي او د ده صحبت خیر کثیر وګڼي او زه دا غواړم چې دمولوي صاحب په باره کې کوم د بې ادبی کلمه ماته وانه روي او نه یې راته ولیکي ، ماته پدی کار سره سخت تکلیف رسیږي ، عجیبه خبره ده چې زما لخت جګر ته دی تکلیف ورسوي او خپل ځان زما دوست هم وګڼي دا هرګز نشي کیدی ، مولوي صاحب پوخ حنفي مذهب ، صوفي مشرب او کامل ولی الله دی د ده زیارت او ملاقات غنیمت وګڼئ .

د حاجي امداد الله مهر ، مکه معظمه ۲۵/ ذیقعده

۱۳۱۰هـ _ امداد الله فاروقي

(الشهاب الثاقب) (فیصله خصومات ص ۴۴ _ ٤٦) (براءة الابرار ص ۴۷۳ ، ۴۷۵)

د موقع په مناسبت د دار العلوم دیوبند پخوانی مفتي اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمن عثماني فتوی او پدی فتوی باندی د محدث کبیر علامه محمد انور شاه کشمیري رحمه الله تصدیق او د نورو علماؤ لیکنی وګورئ :

استفتاء :

د دین علماء او د شریعت رهنمایان پدی باره کې څه فرمایي : څوک چې د دین دغو بزرګانو ته (کوم چې نومونه یې لاندی درج دي (نعوذبا الله) وهابي یا کافر ووایي نو هغه سړی ته کافر ویل او یا هغه پسې لمونځ کول صحیح دي یا نه ؟ بینوا بالکتاب وتوجروا یوم الحساب _ فقط _ عاصی نورالحق عباسي امروهوي ملازم محکمه پیمائش ضلع هزاروي باغ محله پتم بازار _ مورخه ٦ مئی ۱۹۱۷ء .

(۱) حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله .
(۲) جناب مولانا سید احمد صاحب شهید رحمه الله .
(۳) جناب مولانا امانت الله صاحب غازي پوري رحمه الله .
(۴) جناب مولونا عبدالحئی صاحب لکهنوي رحمه الله .
(۵) جناب مولونا احمد علي محدث سهارنپوي رحمه الله .
(٦) جناب مولانا علي صاحب نونگیري رحمه الله .
(۷) جناب مولانا محمد اسحاق صاحب دهلوي مهاجر مدني رحمه الله .
(۸) جناب مولانا لطیف الله صاحب علي گرهي رحمه الله مفتي هایي کورټ حیدر آباد دکن .
(۹) جناب مولانا محمد اسماعیل صاحب شهید دهلوي رحمه الله .
(۱۰) جناب مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوي رحمه الله .
(۱۱) جناب مولانا رشید احمد صاحب محدث گنگوهي رحمه الله .
(۱۲) جناب مولانا خلیل احمد صاحب انبهتي رحمه الله .
(۱۳) شمس العلماء مولانا عبدالحق صاحب حقاني رحمه الله سابق هیډ مولوي مدرسه عالیه کلکته .
(۱۴) شمس العلماء جناب مولانا عبدالوهاب صاحب بهاري رحمه الله پروفیسر مدرسه عالیه کلکته .
(۱۵) جناب مولانا اشرف علي صاحب تهانوي رحمه الله .
(۱٦) جناب مولانا شاه سلیمان صاحب پهلواري رحمه الله .
(۱۷) جناب مولانا ظهیر احسن صاحب رحمه الله محدث نیموي ضلع پټنه .
(۱۸) جناب مولانا سید محمد مرتضی حسن صاحب چاند پوری رحمه الله ضلع بجنور .

الجواب

په حدیث شریف کی دي "من عادى لي ولياً فقد آذنته بالحرب" او كما قال عليه السلام . یعنی چا چی زما دوست او ولي سره دشمني وکړه هغه ته زه د خپل جنګ اعلان کوم . یعنی د هغه مقابله ماسره ده نو ښکاره خبره ده چی د چا مقابله د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره راشي دهغه ځای به د جهنم نه علاوه کوم ځای وي ؟ وقال عليه السلام : " سباب المسلم فسوق وقتاله كفر " الحديث نو د

داسې مردود پـي چې د رباني علماؤ تـوهين کـوي او کـافر ورتـه وايـي لمـونځ کـول صحيح نه دي . فقط والله اعلم
مهر . کتبه عزيز الرحمن عفى عنه مفتي دار العلوم ديوبند ۵ رمضان المبارک ۱۳۳۵ھ
(۲) د عمدة الفقهاء ، اسوة الاصفياء جنـاب مولانـا علامـه انـور شـاه کشميري د دار العلوم ديوبند د محدث ليکنه :
(الجواب صواب) دغه سړي ته کوم چې په سوال کې ذکر دی پخپلـه د کفـر ويـره ده او انشاء الله له دنيا څخه به بې ايمانه ځي . فقط (محمد انور عفا الله عنـه مـدرس دار العلوم ديوبند) .
(۳) د شمس فلک الشريعه او بدر سماء الطريقه حضرت مولانـا حـافظ سـيد غـلام محـى الدين صاحب پشاوري رحمه الله ليکنه : " دغو حضـراتو تـه د کفـر نـسبت کـول پخپلـه ويونکي ته راجع کيږي ، توبه دې وکړي او بغير د توبې نه لمونځ ورپسـې جـائز نـدی ، ځکه چې د دغو حضراتو تصديق د حرمين شريفينو علماؤ هـم کـړی دی چـې نـه کـافر دي او نه بدعتي او نه غير مقلـد ، فقـط ، ليکـــونکې العبـد الـــراجي غـــلام مـــحى الدين عفي عنه .
(۴) د عصر فاضل ، د دهر کامل ، د فهم خزانه جنـاب مخـدوم حـاجى عبدالله صـاحب جهلمي رحمه الله ليکنه : که چيرته څوک دغو مذکوره بزرگانو صاحبانو تـه کـافر ووايـي او يا بدگماني پرې وکړي هغه مسلمان ندی بلکې پخپله کافر و مرتد او زنديق دی .
(مخدوم حاجي عبدالله ساکن دولت ضلع جهلم دستخط)
(۵) د سيد الصلحاء امام الفضلاء حضرت مير عبدالله بادشاه خراساني رحمه الله تصديق:
. اگر هر کسي اين علماء دين راحرف سب و کذب بگويد بقرار امر کتـاب الله خـود آن شخص کافر و مرتد مى باشد ، فقط .
يعنې که چيرته څوک د دين دغو علماؤ ته بدرد ووايي د قرآن کريم په حکم هغـه سـړی پخپله کافر و مرتد دی .
(٦) د قدوة العارفين ، زبدة السالکين هادي راه طريقت رموز حقيقت جناب مولانا محمـد بدر الدين شاه پهلواروي صاحب ليکنه :

بسم الله الرحمن الرحيم

مسنون سلام : د سلام نه بعد واضحه دی وي پدی سوال کی د څومره خلکو نومونه لیکل شوي او د دوی متعلق زما د نظر او عقیدی نه سوال شوی ، د دی ځواب دا دی: چی زه په دوی کی یو هم کافر نه ګنم ، خاص کر شیخ احمد سرهندي کابلی مجدد الف ثاني رحمه الله خو په اولیاء الله کی د عالي درجی ولي ګنم او یواځی زه نه دهندوستان نه واخله تر عربو ، مصر ، شام او روم په لکونو خلک د ده د ولایت قائل دي ، دغه بزرګ په دیني علومو کی متبحر عالِم ، د نبوي صلی الله علیه وسلم سنتو رواجونکی او د بدعاتو ختمونکی وُ د ده نه وروسته ډیر اولیاء الله چی د نورو طریقو وو د ده ولایت منلو ، نو ده ته کافر ویونکی که تر مرګه پوری خپل قول نه توبه ونه‌کړي نو د هغه د خاتمی خرابیدو ویره ده .

دینی علماء په دینی مسائلو کی د صحیح ځواب ورکولو کوشش کوي ، ګویا د بشریت په تقاضا کله کله ورنه پدی برخه کی سهوه او خطاء کیږي ، پدی سوال کی چی د څومره کسانو نومونه لیکل شوي دي له دوی نه هم د مسائلو په ځواب کی کله کله تیروتنی ضرور شوي دي ځکه چی دوی یو هم معصوم ندی ، لیکن د دی تیروتنو په وجه زه دوی د مؤمنانو له ډلی نه نه خارجوم او کافر نه ګنم او بغض ورسره نه ساتم لیکن زه دعا کوم : " ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذين سبقونا بالايمان ولاتجعل فى قلوبنا غلاً للذين امنوا ربنا انك رؤف رحيم " .

لیکونکی : العبد المسکین محمد بدر الدین القادري الفلواروي عفا الله عنه ۲۷/شعبان دوشنبه ۱۳۳۵ھ

(۷) الجواب : د جامع علوم نقلیه ، مجمع فنون عقلیه ، حامي سنت بیضاء ، ماحی بدعت ظلماء مولانا محمد اسمعیل صاحب رحمه الله د کلکتی :

" د دین دغو بزرګانو ته که هغه سړی بغیر د تأویل نه کافر وایي نو هغه پخپله کافر دی او څوک چی ورته کافر نه وایي او د هغه په کفر کی کی شک کوي هغه هم کافر دی (غلبة الحق مطبوعه پبلک پریس مراد آباد ۱۳۳۶ھ) (رضاخاني مذهب ص ۲۱۹، ۲۲۳).

د دار العلوم دیوبند د مفتي اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمان صاحب رحمه الله یوه بله فتوی چی د نورو اکابرو علماؤ ځوابونه او تصدیقونه هم ورسره شته وړاندی کولی شي ، دغه فتوی هغه زمانه کی د یوی رسالی په صورت کی هم شائع

شوی ده چی " الختم علی لسان الخصم " نومیږي ، چی دغه خوابونه او تصدیقونه په مختصر ډول نقل کولی شي ، که څوک تفصیل غواړي نو مذکوره رساله دی مطالعه کړي .

بسم الله الرحمن الرحیم

باسمه تعالی حامداً ومصلیاً ومسلماً : د دیو بند عالیه مدرسی علماء مدرسین . تلامذه و معتقدین حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله ، حجة الله فی الارض فخر الاسلام والمسلمین حضرت مولانا رشید احمد گنګوهي ، رشید الحق والمله والدین پدی لاندنی بیان شوي امورو کی څه فرمایي :

(۱) مولوي احمد رضا خان بریلوي صاحب وایي چی حضرت مولانا نانوتوي رحمه الله په تخدیر الناس کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دختم زماني څخه انکار کړی دی .

(۲) خان صاحب وایي چی حضرت مولانا رشید احمد گنګوهي صاحب د الله تعالی کذب بالفعل لره جائز ګڼي او (نعوذ بالله) څوک چی الله تعالی ته دروغجن وایي او د دی عیب صادریدل ورنه جائز ګڼي هغه کافر او فاسق ندی .

(۳) او همداشان خان صاحب د مولانا خلیل احمد صاحب متعلق وایي چی دوی په براهین قاطعه کی تصریح کړی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم نه د ابلیس علم زیات وُ .

(۴) خان صاحب دا هم وایي چی جناب مولانا اشرف علي صاحب رحمه الله په حفظ الایمان کی تصریح کړی چی لکه څنګه علم غیب رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته حاصل دی دا خو هر ماشوم او هر پاګل بلکی هر څناور ته حاصل دی او دا ټول مضامین په حسام الحرمین کی لیکلي دي او د حرمین شریفینو له علماؤ نه هم د تکفیر فتوی حاصله کړی ده اوس د دی خبرو سوال دا دی :

(۵) ایا دی نومړو حضراتو دا مذکوره خبری صراحتاً یا اشارةً بیان کړي دي ؟ او که نه وي بیان کړي نو ستاسو حضراتو پدی باره کی څه عقیده ده ، او کوم سړی چی داسی عقیده وساتي هغه سړی ستاسو او ستاسو د استاذانو په نزد څنګه دی ؟ صفا صفا بیان وکړئ تر څو حق واضح شي .

(٦) کوم عبارتونه چې خان صاحب په نقل کولو سره د دی مضامینو د صراحت دعوی کړی ده دغه مضامین که د دی عبارتونو څخه صراحتاً نه نو لزوماً هم معلومیږي یا نه ؟
(٧) او که لزوماً هم لدی عبارتونو څخه دغه کفري مضامین نه فهمیږي نو په کوم بل ځای کی دغه مضامین صراحتاً یا ضمناً بیان کړی دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمان رحمه الله د دی سوالونه ډیر تفصیلي ځوابونه ورکړي او د ځوابونو په ختم کولو سره د دی سوالونو نمبروار اختصار سره ځوابونه لیکلي دلته د دی په نقل کولو باندی اکتفاء کوو ، دی لیکي :
" اوس مونږ ته د د تیوس شوو امورو متعلق د څه عرض کولو څه حاجت پاتی نه شو مګر د توضیح او د تحقیق په غرض د هر سوال متعلق نمبروار په صداقت او ایمانداری سره یو څو خبری عرض کوو :
(١) په تحذیر الناس کی یو ځای کی هم د ختم زماني انکار ندی شوی بلکی د دی مدلل ثبوت په تحذیر الناس او د حضرت مولانا په نورو لیکنو کی په وضاحت سره موجود دي او دختم زماني منکر ته کافر ویلي دي .
(٢) د حضرت مولانا ګنګوهي رحمه الله هیڅ یوه فتوه داسی نشته چې په هغه کی الله تعالی لپاره کُذب بالفعل (نعوذ بالله) واقع یا ممکن الوقوع ویلي دي بلکی داسی عقیدی ته یی صریح کفر ویلی دي ، مطلب دا دی چې د حق تعالی سبحانه دروغ ویل محال دي
(٣) مولانا خلیل احمد صاحب هرګز هرګز د دی تصریح ندی کړې چې د ابلیس علم (نعوذ بالله) د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د علم نه زیات دی او نه د هغه دا عقیده ده داسی عقیدی ته مولانا باطل او کفر ویلی دی .
(۴) مولانا اشرف علي صاحب دا غلط مضمون او صریح کفر په هیڅ یو لیکنه کی ندی لیکلی چې نعوذ بالله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم علم غیب د ماشوم ، پاګل او هر ځناور سره برابر دی ، داسی مضامین د حرمین شریفینو علماؤ ته لیکل او ورنه فتوی حاصلول سخته بی حیائي او سراسر افتراء ده .
(۵) دا دروغ او کفري مضامین نوموړو حضراتو په هیڅ یو کتاب کی صراحتاً یا اشارةً هرګز ندي بیان کړي ، ځوک چې داسی عقیده ساتي هغه ځمونږ د بزرګانو په عقیده ضال و مضل ، ملعون ، کافر ، زندیق و ملحد او د هغه شیطان هم استاذ دی کوم چې د دین اکابرو او د اولیاؤ د تکفیر لیواله وي .

(٦) د کومو عبارتونو څخه چې مجدد البدعات دخپل اختراع او افتراء کړي مضامینو ته صراحتاً ثابت وايي د دغو عبارتونو څخه اشارة او لزوما هم دغه مضامین تر قیاسه پورې د عقل و فهم خاوندانو په نزد نشي ثابتیدلی .
(که تفصیل ته ضرورت وي نو السحاب المدرار فی توضیح اقوال الاخیار او توضیح البیان فی حفظ الایمان دی وکتل شي . چې پدیکی نهایت وضاحت سره د دی عبارتو مطلب بیان کړی شوی دی)
(٧) د دغو تپوس شوو کفري مضامینو اثر نه په مذکوره لیکنو کی شته او نه د دغو حضراتو په نورو لیکنو او کتابونو کی نه صراحتاً او نه ضمناً او نه اصالةً یا تبعاً . د داسې خبیثو مضامینو اثر اصلاً نه په کوم تقریر کی شته او نه تحریر کی او نه د دوی په پیروانو کی د دی صریح کفریاتو څوک متعقد شته . په دغو حضراتو باندی دغسی افتراء دومره بی اصل او دروغ دي چې د نادان او جاهل بریلوي معتقدینو خو څه نشم ویلی مګر بریلوي خان صاحب هم نه پوهیږي چې دا دخپلو یارانو کارسازي ده چې هیڅ حقیقت نه لري چې د دی نتیجه انشاء الله تعالی په دنیا کی ناکامي او په آخرت کی خسران او تاوان دی اعاذنا الله والمسلمین من ذلك والله هو الموفق والمعین .
لنډه دا چې څمونږ په اکابرو او مونږ باندی د بدعتیانو دا هغه تهمتونه دي چې سونږ د الله په فضل و کرم سره بالکل بري او پاک یو ...... الخ .
(لیکونکی : عزیز الرحمن عفی عنه مفتي مدرسه عالیه دیوبند)

د شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن رحمه الله تصدیق :

" د کومو څلورو حضراتو متعلق چې دا تپوسونه دي الحمد لله زه د دغو حضراتو د علم ، عقائد ، اقوال او حالاتو نه پوره واقف یم او بلاواسطه د دی حضراتو مقالات او حالات په کثرت سره اوریدلي او لیدلي دي ما ته پوره یقین او اطمئنان دی کوم اباطیل چې دوی ته منسوب کړی شوي دا دومره بی بنیاده دي چې مفتري خو پریږده د دی امورو تصدیق کونکو باندی هم ما ته د سوء خاتمی او بدانجام ویره ده اعاذنا الله والمسلمین من ذلك ، د دی حضراتو په علم و عمل کی د متبع سنت او اهل حق کیدو کی معمولی شک او تردد د ایمان او انصاف والا کار ندی ، په دوی کی چې کوم حضرات موجود دي هغوی وګورئ او دچا چې غواړئ کتابونه وګورئ ، انشاء الله تعالی که د

ناواقفیت نه ځاته څه شک وي هغه به ختم شي . پدی وجه زه د دی فتوی لفظ په لفظ تصدیق کوم "

(بنده محمود عفی عنه مدرس اول مدرسه عالیه دیوبند)

د دار العلوم دیوبند د مهتمم حضرت مولانا محمد احمد صاحب تصدیق

د الله تبارک و تعالی په شاهد گرځولو سره عرض کوم چی ځمونږه موجوده مشران او کشران او حضرت والد ماجد فخر الاسلام والمسلمین مولوي الحاج الحافظ محمد قاسم نانوتوي . حضرت رشید الاسلام والمسلمین استاذنا و مرشدنا مولانا رشید احمد صاحب گنگوهي او د دیوبند د عالیه مدرسی چی څومره مدرسین ، منتظمین او ممبران دي دټولو همدا عقائد دي کوم چی فتوی کی مذکور دي ، ځمونږه مخالفینو چی په مونږ باندی بلاوجه بهتانونه جوړ کړی دي الله تعالی دی ورته هدایت وکړي ، او د تحذیر الناس ، براهین قاطعه او د حفظ الایمان د کومو عبارتونو نه چی خان صاحب بریلوي افتراء کړی د دی عبارتونو صحیح مطلب په رساله د " السحاب المدرار فی توضیح اقوال الاخیار " او " توضیح البیان فی حفظ الایمان " کی وگورئ " .

(محمد احمد مهتمم مدرسه عالیه دیوبند ابن حضرت مولانا محمد قاسم صاحب) .

" ځمونږه او ځمونږ د مشرانو همدا عقیده ده "

محمد مسعود احمد عفی عنه ابن حضرت مولانا رشید احمد صاحب گنگوهي .

د حضرت مولانا حبیب الرحمان عثماني صاحب بیان

کفی بالله شهیداً چی مونږه نه غیر مقلد نه وهابي ، نه د بزرگانو دعظمت نه منکر او نه رب ذو الجلال ته (معاذ الله) دروغ ممکن الوقوع وایو ، او نه د سرور عالَم علم او فضل سره څوک برابروو بلکی رسول الله صلی الله علیه وسلم لره خاتم زماني سره خاتم د ټولو بشري کمالاتو عقیده لرو ، مسلمانان دی ځمونږ طرف نه بالکل مطمئن ووسي ، د دیوبند د عالیه مدرسی ټول مدرسین ، منتظمین اصولاً او فروعاً د الله په فضل سره حنفي دي ، خان بریلوي چی د علم او دیانت په خلاف د کومو عبارتونو غلط مطلب بیانولو سره خلک گمراه کړي دي د دی صحیح مطلب په السحاب المدرار او توضیح

البیان کی وکوری ، د دی رسالو له مطالعی نه وروسته انشاء الله د حق هر طالب لپاره د اطمئنان امید دی ، والله الهادی الی الصواب .
(احقر حبیب الرحمان عفی عنه مددگار مهتمم مدرسه عالیه دیوبند)

د حضرت مولانا محمد مرتضی حسن چاند پوري تصدیق

ما د خان بریلوي ټول الزامات په غور سره وکتل دا نفس په ضد او عناد باندی بناء دی ، لکه څنګه چی د تخدیر الناس او د مناظره عجیبه له نقل شوو عبارتونو څخه ظاهریږي ، لدینه علاوه قبله نما چی په ۱۲۹۵ھ کی لیکل شوی ګویا چی دا د حضرت مولانا نانوتوي مرحوم و مغفور آخري تصنیف دی د دی هم څو عبارتونه نقل کوم چی ختم زماني ورنه صراحتاً ثابتیږي ..... الی قوله .... لنډه دا چی مسلمانان دی بالکل مطمئن ووسی خان صاحب او بدعتیانو چی د دیوبند اکابرو ته کوم اتهامات منسوب کړي بالکل بی اصل او غلط دي د دیو بند علماء پاخه او سوچه حنفیان دي صرف د دین د بزرګانو منونکي ندي بلکی پخپله د الله تعالی په فضل و کرم سره بزرګان او لویو اولیاؤ کی داخل او د اولیاؤ په سلسلو کی شامل نه بلکی پخپله صاحب د سلسلو دي ، دلته لکه څنګه چی د علم ظاهري سلسله ده الحمدلله د تعلیم باطني فیض هم جاري دی ...... الخ .

محمد مرتضی حسن عفی عنه ابن شیر خدا علی المرتضی کرم الله وجهه
خادم طلباء دار العلوم دیوبند _ ادامه الله تعالی

د پاکستان شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیر احمد عثماني بیان

بنده ناچیز د دغو پاکو حضراتو تصنیفات په کراتو مراتو مطالعه کړی دی او تر کومه پوری چی عقل راسره یاري کړی د دغو د پوهیدو می بنه کوشش کړی او بلخوا د مخالفینو اعتراضونه می هم په غور سره لیدلی او اوریدلی لیکن د الله تعالی په زرګونو خله شکر دی چی د دغو حضراتو د تقدس لمن له هغوی خرافاتو نه پاک او صفا بیا موند کوم چی دوی ته منسوب کړی شویدي ، او څومره چی دمخالفینو اعتراضات واوریدل همدومره می لدی حضراتو سره مینه او محبت زیات شو ، نو زه (بحول الله وقوته) دخپل فهم موافق د دغو مضامینو د مطلب ښودلو لپاره د هر سري په وړاندی تیار یم کوم چی مخالفینو د خپل نادانی په وجه مخدوش ګرځولی دی ، دا عجیبه

خبره ده چی د دغو حضراتو متعلق چی کوم بهتانونه جوړ کړی شوی دي ، لدینه وړاندی هم همداشان لغوه عقائد د حضرت شیخ اکبر محی الدین ابن عربي او امام عبدالوهاب شعراني وغیره رحمهم الله متعلق هم حاسدانو مشهور کړي دي چی د دی ته شانتی نبه په کتاب " الیواقیت والجواهر " وغیره کی ملاویدی شي ، لیکن د الله پاک شکر دی چی نه دوی ته پدی شان حملو سره څه نقصان رسیدلی او نه خمونږه اکابرو ته ، فنعم الوفاق والله الموفق .

(شبیر احمد عثماني عفا الله عنه مدرس دار العلوم دیوبند)

د دیوبند علماؤ او نورو اکابرو بیانونه او تصدیقونه :

خمونږه او خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده .

(بنده غلام رسول عفی عنه د دیوبند د عالیه مدرسی مدرس)

خمونږه همدا عقیده ده .

(بنده محمد حسن عفی عنه د دیوبند عربیه مدرسی مدرس)

خمونږ د بزرګانو او خمونږه همدا عقیده ده .

(وهو الصحیح وفیه السداد ، شائق احمد غفر له د دار العلوم دیوبند مدرس)

خمونږه او خمونږ د ټولو مشرانو همدا عقیده ده او حق ده .

(بنده محمد علي اظهر کان الله له ولوالدیه د دار العلوم دیوبند د طلباؤ خادم)

خمونږ او خمونږ د ټولو مشرانو همدا عقیده ده او حق ده .

(احقر الزمن نبیه حسن د دیوبند د مدرسی مدرس)

خمونږ د مشرانو بالکل همدا عقیده او همدا طریقه ده .

(احمد امین عفی عنه د دار العلوم عربیه دیوبند مدرسی مدرس)

خمونږه او خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده .

(بنده رشید احمد عفی عنه خادم دربار رشید عالم ګنګوهي)

خمونږ او خمونږ د اکابرو همدا عقیده ده او همدا د اهل حقو عقیده ده .

(بنده محمد انور عفا الله عنه کشمیري)

خمونږه او خمونږ د طاقت ور مشرانو همدا عقیده ده .

(احقر الزمن ګل محمد خان د دیوبند عالیه اسلامیه مدرسی مدرس)

خمونږه او خمونږ د پاکو بزرګانو همدا عقیده ده .

(فقیر اصغر حسین حسني حنفي د دار العلوم دیوبند مدرس)

خمونږه او خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده
(محمد یسین د دار العلوم دیوبند مدرس)
خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده .
(منظور احمد د دار العلوم دیوبند مدرس)
خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده
(هادي حسن مبلغ احکام اسلام منجانب دار العلوم دیوبند)
بیشکه د بنده او د خپلو مشرانو همدا عقیده ده .
(محمد ابراهیم عفی عنه بلیاوي د مدرسه عربیه دیوبند مدرس)
خمونږ د بزرگانو همدا عقیده ده .
(بنده عطا محمد ولایتي د دیوبند د علماؤ خادم)
خمونږه او خمونږ د بزرگانو همدا عقیده ده .
(محمد عبد الوحید عفی عنه د دار العلوم دیوبند د تجوید استاذ)
خمونږه او خمونږ د مشرانو همدا عقیده ده .
(محمد شفیع عفی عنه د دار العلوم دیوبند د تجوید مدرس)
اشهدنا انه معتقدنا ومعتقد مشائخنا
(بنده سید حسن عفی عنه حسنی چاند پوري د دار العلوم دیوبند مدرس)
(الختم علی لسان الخصم)

یوه بله فیصله وګورئ :

په هغه زمانه کی مشهور اسلامي ریاست " د بهوپـال ریاسـت " وُ چـی د دی لانـدی دار الافتاء ، دار القضاء ، مجلس العلماء او د دینیاتو محکمه قائم وو.

د رنګون رضاخانی فرقی له طرفه د دیوبند اکابرو د تکفیر متعلق یـوه اسـتفتاء د بهوپـال ریاست ته لیږل شوی وه او د دی خواب د بهوپال ریاست د دار الافتاء له طرفه ورکړی شوی چی مجموعه (۱۳) صفحی وه چی پدی کـی تفصـیل سـره غـیر جانبدارانـه طـور باندی د متنازع فیه عبارتونو صحیح مطلب بیان کړی شوی او د خواب په آخـر کـی دا فیصله شوی ده : " دغه علماء کرام د هغو الزاماتو نه بالکل پاک او صـاف دي کـوم چـی په استفتاء کی درج شوي دي ،لهذا په هیڅ صـورت کـی د دغـو حضـراتو تکفیر نشـي کیدی ، مکمله فتوی د مطالعی قابله ده ، د اوږد والي له ویری دلته نشـي نقـل کـولی البته د خواب نه وړاندی یوڅو تمهیدي خبری ذکر دي هغه لانـدی ذکـر کـولی شـي ،

پدى فتوى باندى د رياست بهوپال د مجلس العلماء ، محكمه دينيات او د دار القضاء د اراكينو تصديقي دستخطونه موجود دي او عـلاوه لـه دوى نـه د (۵۸۹) علمـاء كرامـو ، مشائخ عظام او مفتيان كرامو تصديقي دستخطونه هم موجود دي ، دا مكمله فتوى سره د تصديقونو په ۲۳/شوال ۱۳۵۲ه كى د " فيصله خصـومات از محكمـه دار القضـات " پـه نوم شائع شوى ده . اوس هغه تمهيدي كلمات وګورئ :

باسمه تعالى حامداً ومصلياً ومسلماً ! ستاسو د سوالونو ځوابونه قلم ته حواله شوي ستاسـو جناب د هدايت مطابق په استفتاء كى درج شوي كتابونه په غور سـره وكتـل شـو پـدى ټولو كتابو كى هغه مضامين چى ځينى متعصبين يى پيش كوي په هيڅ ځاى كى پيدا نه شول ، د تقوية الايمـان ، تخـذير النـاس ، بـراهين قاطعـه ، فتـاوى رشـيديه او د حفـظ الايمان مصنفينو ته كافر ويل او دوى طرف ته دغه فاسده عقائـد منسـوبول چـى د دغـو حضراتو لمن ترينه پاكه ده پـه اصـل كـى يـوه باطلـه او بـى بنيـاده خبـره ده ، د دغـو حضراتو ځينو عبارتو كى تقديم و تاخير حذف و ابدال كولو سـره د دى خـلاف مـراد د عوامو د دوكه كولو په غرض دا كفري عقائد جوړ كړى شوى دي او دغو مصـنفينو طـرف ته منسوب كړى شـوي دي او حال دا چى دغه حضرات پخپله هغه شخص ته كافر وايـي چى دغو فاسدو خيالاتو ته په خپل ذهن او دمـاغ كـى ځـاى وركـوي ، عنقريـب د هـر ځواب لاندى د دى كتابونو د مصنفينو عبارتونو پيش كولو سره به وښودل شي چـى دا خلك د دى باطلو عقائدو ډير سخت رد كوي كوم چى دوى ته خالص د تعصب او عناد په وجه منسوب كولى شي .... په استفتاء كى پنځه سوالونه دي چى ځوابونـه يى پـه لنډ ډول وړاندى كولى شي .... د ځواب آخري عبارت بيا وګورئ .... دا علمـاء كرام د هغه الزاماتو څخه بالكل پاك او صاف دي كوم چى استفتاء كى مندرج دي لهذا د دغو حضراتو تكفير په هيڅ صورت سره نشي كيدى ، والله اعلم فقط .

ليكونكى : العبد الاحقر سيد عزيز احمد عفى عنه الحنفي النقشـبندي الچشـتي القـادري السهر وردي د جامعه احمديه عربيه دينيه دار الاقبال بهوپال استاذ .

(فيصله خصومات از محكمه دار القضات ص ۴ ، ۲۲)

خلاصه د كلام :

د ديوبند د اكابرو علماؤ خپل تحريري برائت او د عربو علماؤ تصـديقات د شـيخ العـرب والعجم حاجي امداد الله مهاجر مكي رحمه الله شهادت او د عارف بالله حضـرت مفتـي

عزیز الرحمن رحمه الله فتوی او رأس المحـدثین شیخ الهنـد حضـرت مولانـا محمـود الحسن ، محدث کبیر علامه محمد انور شاه کشمیري ، مولانا سـید اصـغر حسـین محـدث دیوبند ، متکلم اسلام مولانا شبیر احمد عثماني او د نورو ټولو دیوبندیانو ځوابونه او تصـدیقونه او د نورو بې شمیره لویو علماؤ او مشائخو ځوابونه او دی د پاڅـه د مشـهور اسـلامي ریاسـت " بهوپال " د دار الافتاء فتوی (چې د ریاست د مجلس العلماء ، محکمه دینیات او د دار القضاء د مقتدر اراکینو او د مختلفو ځایونو (۵۸۹) علماؤ تصدیقي دستخطونه شویدي) سره د رڼـا ورځ پشان ثابت شو چې د دیوبند اکـابر علمـاء (حضـرت نـانوتوي ، حضـرت ګنګـوهي ، حضـرت سهارنپوري او حضرت تهانوي رحمهم الله) د ټولو الزاماتو نه بالکل بري او پاک دي او په مکمل طــــور باندی د اهل سنت والجماعـت د عقیـدی خاونـدان دي ، او د شـریعت او طریقـت جامع دي .

په حقیقت کې مذکوره دیني بزرګـان علمـاء دیوبنـد لـه پخوانـه د شـریعت او طریقـت جامعین ، پوخ حنفـي او اهـل سـنت والجماعـت دي ، د تلمـذ او شـاګردي سلسـله یې حضرت شاه عبد الغني محدث دهلوي ثم المدني ، حضرت شاه محمد اسحاق دهلـوي ثم المکي ، حضرت شاه عبـدالعزیز محـدث دهلـوي او حضـرت شـاه ولی الله محـدث دهلوي سره لري او د ارادت او طریقت سلسله د حضرت قطب عالم حاجي امـداد الله مهاجر مکي سره لري ، په عقائدو کې اهل سـنت د اشـاعرو او ماتریدیـه ؤ پـیروان او پـه اعمالو او فروعـو کـې د حضـرت امـام اعظـم ابوحنیفـه رحمـه الله مقلـدین دي ، دغـو حضراتو په دیوبند و سهارنپور ، مراد آباد او دهلي وغیره ټوره هندوستان و پاکستان کـې د مدرسو په جوړولو سره ټوره دنیا خپلی علمي غیره کی نیـولی ده او د قـرآن و حـدیث او فقه په ذریعه د درس و تدریس او تصنیف و تألیف دومره خدمت کړی دی چې د دی په مقابـل کـې رضـاخاني فرقـه پـه هـیڅ کـې هـم نشـي شـمیرلی ، د هندوسـتان او د هندوستان نه باهر په لکونو او کروړونو مسلمانان دوی خپل مذهبي پیشـوایان او د دیـن رهبران ګڼلي او ګڼي یې ، داسی جلیل القدر بزرګانو ته (نعوذ بالله) کافر او مرتد او بې دینه ویل څنګه جائز کیدی شي ؟ بلکې د دغو بزرګـانو پسـې بـدرد ویـل خپـل عاقبـت خرابول دي ، په حدیث شریف کې دي ، چې سړی یو چاته کافر ووایي او پـه حقیقـت کې هغه کافر نه وي نو هغه د کفر کلمه بیرته ویونکي ته واپـس کیـږي ، " لایرمی رجل رجلاً بالفسق والکفر الا ردت علیه ان لم یکن صاحبه کذلك " رواه البخـــاری

(مشکواة ص ۱۱٤ باب حفظ اللسان من الغیبة والشتم) او دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : کوم خبره چې ستا د ورور له خولی نه وځي څو پورې چې د هغې ښه مطلب جوړیدی شي د غلط مطلب اخستو کوشش مه کوه (در منثور) .
پدی وجه فقهاء کرام فرمایي : کومه مسئله چې کفر سره تعلق لري که چیرته پدی کې (۹۹) احتمالات د کفر وي او یواځې یو احتمال د کفر نفي کوي نو مفتي او قاضي ته پکار دي چې د کفر په نفي کوونکي احتمال باندی عمل وکړي او د کفر فتوی ورنکړي
" وقد ذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذا کان لها تسع وتسعون احتمالاً لکفر واحتمال واحدٌ فی نفیه فالأولی للمفتی والقاضی ان یعمل بالاحتمال الثانی "
(شرح فقه کبیر ص ۱۹۹) .
په آخره کې یوه واقعه وګورئ چې ډیره درس ورکوونکې او د عبرت قابله ده ، په حدیث شریف کې دي چې حضر اسامه رضی الله عنه د جنګ په میدان کې یو کافر باندی حمله وکړه هغه فوراً کلمه (لا اله الا الله) وویله مګر حضرت اسامه هغه قتل کړ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر شو نو حضرت اسامه رضی الله عنه ته وفرمایل د لا اله الا الله ویلو نه دی وروسته هم قتل کړ ؟ ځواب یې ورکړ ، حضرت هغه فلاني او فلاني صحابه وژلی وو او چې ما پری حمله وکړه نو دځان بچ کولو په خاطر کلمه وویله په صدق د زړه یې نه وه ویلی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تا دهغه زړه څیرلو سره لیدلی ؤ چې په صدق سره یې ویلی یا له ویری نه ؟ او وی فرمایل : د قیامت په ورځ کله د توحید کلمه د هغه له طرفه مدعي جوړیدو سره درته راشي نو هغه وخت به ته څه ځواب ورکوی ؟ حضرت اسامه رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما لپاره د مغفرت دعا وکړئ نو په ځواب کې یې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم همدا وفرمایل ، حضرت اسامه رضی الله عنه وایي ، ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی خبری په اوریدو سره آرزو وکړه چې کاشکې همدا نن مې اسلام راوړی وای چې دا ګناه می په اسلام سره محوه شوی وای (بخاری باب بعث النبی صلی الله علیه وسلم اسامة بن زیدٌ الی الحرقات من جهینة ۲/۶۱۲ ، مسلم باب قتل الکافر بعد قوله لا اله الا الله ۱/۶۸) .

حاصل دا :

ستاسو امام او خطيب صاحب دى د كفر تاپه لګولو نه توبه وكړي بيا يى امامت بغير د كراهت نه صحيح دى او كه نه د امامت غوندى عظيم و مقدس منصب لائق ندى

"وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعاً" (شامى ۵۲۳/۱) .فقط والله اعلم

د رضاخانى علماؤ د كفر سازي نمونه :

(۹ سوال) څمونږ په دى علاقه كى د بريلوي مكتب فكر څه كسان دي او دوى كله كله خپل ملايان راغواړي او د دوى علماؤ خپلو تقريرو كى د ديوبند علماؤ ته ډير بدرد وايي ، څينى وختو كى خو كافر و مرتد پورى هم وايي ، د دوى د تقريرونو په وجه څمونږه په علاقه كى ډير انتشار پيدا شوى مونږ څه وكړو ؟ اميد دى چى څمونږه راهنمائي وكړئ ، مهرباني .

ځواب : د بريلوي مكتب فكر باني مولوي احمد رضا خان او د ده د هم نظرو كفر سازي يواځى علماء ديوبند پورى محدود ندي ، بريلوي ملايان د احمد رضا خان او د ده د پيروانو نه علاوه د دنيا ټولو مسلمانانو ته كافر و مرتد وايي او دا داسى واضح حقيقت دى چى د دينه هيڅ يو د بصيرت خاوند او د دوى له كتابونو او فتواګانو څخه واقف انسان انكار نشي كولى ، بريلوي ملايان ډير تيز او سخت طبيعت لرونكي دي د دوى كله هم د كوم هم عصر سره مقابله وشي (كه هغه د دوى هم فكره او هم مشرب هم وي) نو دوى د هغه كلام ته غلطه معنى وركولو سره د مسلمان د كافر ګرځولو اصول له نظره غورځولو سره محض خپل بى بنياد او د ځانه جوړ شوي تشريح په بناء د كفر فتوى لګوي او د كفر فتوى هم داسى چى څوك د دى په كفر كى شك كوي هغه هم كافر او مرتد دى (معاذ الله انا لله وانا اليه راجعون) په معمولي معمولي خبرو باندى د بريلوي حضراتو كفري فتواګانو په ليدلو سره مرحوم مولانا ظفر علي خان (متوفي ۱۳۷٦ھ مطابق ۱۹۵٦ء) فرمايي : ع

جب سے پهوتى هے بريلى سے كرن تكفير كى
ديد كے قابل هے اس كا انعكاس و انعطاف
مشغله ان كا هے تكفير مسلمانان هند

هے وہ کافر جس کو ہوا ان سے ذرا بھی اختلاف
(مقدمه الشهاب الثاقب ص ۱۰۹ طبع پاکستان)
یعنی کله نه چې د بریلویانو کفر سازي شروع شوی ، د دی انعکاس او انعطاف هم د کتلو قابل دي .
د دوی کار بس د هند د مسلمانانو کافر کول دي ، د دوی نه چې څوک معمولي اختلاف وکړي هغه کافر دی .
او نن په همدی طریقه باندی د دوی کشران هم روان دي ، دا څه نوی خبره نده د دوی محبوب شغل د مسلمانانو تر منځ اختلاف اچول او د دین مشران علماء کرامو کافر کول دي .
د فاضل بریلوي او د ده د پیروانو د کفر سازي یو مختصر فهرست د دوی د کتابونو په حوالو سره کتونکو ته هدیه کوو ، دا په غور سره ولولئ او اندازه ولګوئ چې د بریلوي مکتب فکر علماؤ کفر سازي څومره له حدودو نه تجاوز کړی او بیا فیصله وکړئ چې دنیا کې څومره مسلمانان باقي پاتی دي او پخپله تاسو هم د دوی د فتوی په رڼا کې مسلمانان پاتی شوئ یا نه؟

د رضاخانی علماؤ کفر سازي د دوی په ژبه

(۱) مرتد گنگوهي (تجانب اهل السنه عن اهل القنه ص ۲۴۵ مصنفه ابوالطاهر عبید البرکات محمد طیب صدیقی قادري برکاتي داناپوري پدی کتاب باندی د مولوي حشمت علي او د بریلوي علماؤ دستخطونه موجود دي) .
(۲) مرتد تهانوي (تجانب اهل السنه ص ۲۳۷) .
(۳) مرتد نانوتوي بانی مدرسه دیوبند (تجانب اهل السنه ۱۷۳) .
(۴) مرتد دیوبندي محمود حسن (شیخ الهند) (ستر باادب ص ۵٦ مصنفه مولوي حشمت علي) .
(۵) مرتد انبیتهوي (مولانا خلیل احمد صاحب مهاجر مدني رحمه الله) (تجانب اهل السنه ص ۲۸۸) .
(٦) مرتد حسین احمد مدني (مجمل انواز الرضاص ۲۹ مصنفه مولوي حشمت علي) .
(۷) مرتد شبیراحمد دیوبندي (ستر باادب ص ۵٦) .
(۸) مرتد عبد الشکور ایدیټر النجم (تجانب ص ۱٦۰) .
(۹) مرتد ابو الکلام (تجانب ص ۱۷٦) .

(۱۰) مرتد عبد الماجد دريابادي (تجانب ص ۱۳۷) .
(۱۱) مرتد حسن نظامي (تجانب ص ۲۴۷) .
(۱۲) مرتد ثناء الله امر تسري (تجانب ص ۲۴۷) .
(۱۳) مرتد مرتضى حسن دربهنگي (تجانب ص ۲۳۷) .
(۱۴) مرتد محمد علي ، ايم اے (تجانب ص ۲۲۵) .
(۱۵) مرتد عنايت الله (تجانب ص ۱۷٦) .
(۱٦) مرتد قائد اعظم (تجانب ص ۱۱۹) (دستر باادب ص ۱۱۰) .
(۱۷) ابن سعود مرتد (سرت باادب ص ۳۳) .
(۱۸) مرتد ظفر احمد تهانوي (ستر باادب ص ۱۰۱) .
(۱۹) د مظهر الدين واضح كفر (مسلم ليګ كـې زريـن بخيـه درى ص ۷ مصـنف د اولاد رسول محمد ميان قادرى بركاتى ! راه روى) .
(۲۰) د غير مقلدينو پيشوا ابراهيم سيالكوټي (ستر باادب ص ۲۸) .
(۲۱) مرتد اكفر سر سيد احمد خان (تجانب ص ۸۵) .

" په هر حال كوم سړى چې د پير نيچـر (يعنـى سرسـيد احمـد خـان) د يقينـي قطعـي كفرياتو نه د كوم يو قطعي كفر باندى خبريدو وروسته هم د ده په كافر و مرتد كيدو كـې شک ولري يا ده ته په كافر او مرتد ويلو كې توقف وكړي هغـه هـم د شـريعت پـه حكـم قطعي او يقيني كافر و مرتد او كه بې توبې مړ شو نو د ابدي عذاب مستحق دى " .
(تجانب اهل السنه ۸٦ صفحه)

د سرسيد احمد خان د مشاورينو په باره كې ليكي :

" لكه څنګه چې بې دين اكبر شاه بادشاه د خپل حكومت وزيران او د سلطنت مشـيران مقربين جوړ كړي وو همدا شان پير نيچر هم هغه خلک مقربين جوړ كړي وو څوک چـې د پير نيچـر د نيچريـت وزيـران وو او د دهريـت مشـيران او د زنـديقيت مـبلغين وو او د هغوى نومونه دا دي :

نواب محسن الملک ، مهدي علي خان ، نواب اعظم يار جنګ ، مولوي چراغ علي خـان ، نواب انتصار جنګ ، مولوي مشتاق حسين ، مولوي الطاف حسين حالي ، شمس العلمـاء ذكاء الله ، مولوي مهدي حسن ، سيد محمود خـان ، شـبلي نعمـاني ، اعظـم ګـړهي او ډپټي نذير احمد خان دهلوي .

د مستر جناح په باره كې ليكلي دي :

" د شریعت په حکم ستر جناح د خپلو قطعي یقینی کفري عقائدو په بناء باندی قطعي مرتد او د اسلام نه خارج دی او کوم سړی چی د دی په کفریاتو باندی خبریدو نه وروسته دی مسلمان وګنې او یا کافر ونه ګنې او یا د ده په کافر و مرتد کیدو کی شک وکړي او یا د ده په کفر کی توقف وکړي هغه هم کافر و مرتد دی او که بی توبی مړ شي نو د رب ذو الجلال د لعنت مستحق دی (تجانب السنه ، ۱۲۲ صفحه) .

د احراریانو په باره کی لیکلي دي :

" د احرار اشرار فرقه هم د نیچریه یو شاخ دی د دی ناپاکی فرقی لوی لوی سپي دا دي : ملکي شیخ جي امام الخوارج مبلغ وهابیه ایډیټر النجم عبدالشکور کاکوروي ، د دیوبند مدرسی صدر حسین احمد هیا باشي ، بشیر احمد دیوبندي ، عطاء الله بخاري ، حبیب الرحمن لدهیانوي ، احمد سعید دهلوي ، نائی عن الاسلام کفایت الله شاهجهان پوري ، عبدالغفار سرحدي ګاندهي ، د دی فرقی مشر مستر ابو الکلام آزاد دی چی امام الاحرار ورته ویل کیږي " .

(تجانب (۱٦۰) صفحه) او (۱۷۷) صفحه کی لیکي :

" په هر حال ی سړی چی د احراریانو لدی ناپاک او ملعون اقوالو خخه خبریدو نه وروسته هم د دی د قائلینو په قطعي او یقینی کافر و مرتد کیدو کی شک کوي او یا دوی ته په کافر ویلو کی توقف وکړي هغه هم د شریعت په حکم قطعاً کافر و مرتد دی .

(تجانب اهل السنه (۱۷۷) صفحه)

د خواجه حسن نظامي په باره کی لیکلي دي :

" د خواجه ګي دعوایدار د کفر د تبلیغ ټهیکدار ، د اسلام مخالفت علمبردار د کرشن کهنیا امتی مستر جتا دهاري خواجه حسن نظامي دهلوي .

(تجانب (۱۳۹) صفحه)

مولوي حشمت علي خپل کتاب " قهر القهار علی اصول الګاندهویة الکفار " کی د مولانا محمد علی جوهر ، مولانا شوکت علی جوهر او مولانا عبدالباری لکهنوي متعلق دا الفاظ لیکلي دي :

" قطعاً او یقیناً ګمراه او بی دینه بلکی علی العموم کافران او مرتدان " .

او د همدی کتاب (٦۳ ، ٦۴) صفحو کی حکیم اجمل خان ، ډاکټر انصاري ، سیټه چهوټاني ، مرحوم مستر محمد کتهري او د خلافت کمیټي ممبران تقریباً شلو وجوهاتو سره کافر او مرتد ګرځولي دي ، او مولوي عبدالقدیر بدایوني ، مولوي عبدالماجد

بدایوني ۰ مولوي آزاد سبحاني ، مفتي کفایت الله او مولانا احمد سعید ته هم " بې دین " ویلي دي .

(ظفر الاسلام (۱۲ ، ۱۳ ، ۱۵) صفحې دویمه حصه)

ټول کافر و مرتد ـ د ټولو کتابونه یو صف کې دي

نجدیان ۰ وهابیان ، دیوبندیان ، غیر مقلدین ، نیچریان ، رافضیان ، چکړالویان ، قادیانیان ، ګاندهلویان ، صلح کلیان ، کانګرسیان ، لیګیان ، خوارج ، بابیان ، بهائیان ، احراریان او کافران و مشرکان او د اسلام ټول نوي او زاړه مخالفینو له صحبت او ملګرتیا نه ځان وساتئ .

(فتاوی اهل السنن لهدم الفتن (۱۴) صفحه ، مرتب د جماعت اهل سنت ناظم مارهرا) .

" دیوبندي مرتدان ، چکړالوي ملحدان ، خاکساریه زندیقان او لیګي بې دینان او نور ټول کفار او اشرار دي " (تجانب (۲۸۰) صفحه) .

" لیګ غواړي چې مسلمانان بې دینه کړي " .

(الجوابات السنه (۲۱) صفحه تصنیف د مولوي حشمت علي) .

" د لیګ نمرودي آتشکده څومره مسلمانان سوځولي او څومره یې ایره کړي دي " .

(اشک روان (۸۳) صفحه تصنیف د محمد شریف الحق امجدي)

لاندې درج شوي جماعتونو او کمیټو په باره کې فیصله دا ده چې د دغو بانیان کافران او نیچري دي :

مسلم ایجوکیشنل کانفرنس ، ندوة العلماء ، خلافت کمیټي ، جمیعت علماء هند ، خدام الحرمین ، مجلس احرار ، مسلم لیګ ، اتحاد کانفرنس ، مسلم آزاد کانفرنس ، نوجوان کانفرنس ، نمازي فوج ، جمیعت تبلیغ ، الاسلام انباله ، سیرت کمیټي ، پټي ضلع لاهور ، امارت شرعیه ، بهار شریف او آل پاتیز کانفرنس وغیره کمیټې همدی همدی مقصد لپاره دغو نوي څهره کافرانو خپل نیچریت او دهریت خورولو اوسیده ساده مسلمانانو لره د دین نه آزادلو .... الی قوله .... جوړې شوي دي .

(تجانب اهل السنه (۹۰) صفحه)

ډیره هغه مسلمانان چې د رضاخانی علماؤ معتقد او دوی سره مینه لري او دوی خپل دیني پیشوایان ګڼي هغوی دخلافت کمیټي او د مسلم لیګ وغیره قائدین او مشران مسلمان ګڼي او پخپله هم د دغو کمیټو ممبران پاتې شوي اوس دوی خپل ځان باره

کی څه فیصله کوي ؟ ایا د بریلوي علماؤ د فتواګانو له مخی د ایمان او د نکاح تجدید به کوي ، او تر ننه پوری چی کوم لمونځونه کړي ، روژی نیولي ، زکات ورکړی ، قربانی کړی ، حج یی ادا کړی ، صدقه او خیرات یی کړی او لدینه علاوه چی څومره نیک عملونه کړي دي د دی متعلق به څه فیصله کوي ؟ نکاح یی کړی الله تعالی ورته اولاد ورکړی دی نکاح او اولاد ته د کفر په حالت کی وایي ؟

محترمو مسلمانانو ! لږ فکر وکړئ چی دا رضاخاني علماء ستاسو د ایمان محافظ دي او که دشمنان ؟ تاسو نه سني مسلمانان جوړول غواړي او که کافران او مرتدان ؟

ډاکټر علامه محمد اقبال (م ۱۳۸۷ھ) باندی د احمد رضاخان لوی خلیفه اود بریلویانو امام المحدثین مولوي دیدار علي صاحب (م ۱۳۵۴ھ) د لاهور د وزیر خان جومات پخواني خطیب د کفر فتوی ولګوله او وی فرمایل : " لهذا څو پوری چی د دی کفري اشعارو نه توبه ونه باسي نو ټول مسلمانان دی له ده سره ناسته ولاړه پریدي او که نه سخت ګنهګار به وي " (ذکر اقبال (۱۲۹) صفحه ، او سرګذشت اقبال (۱۹) صفحه) .

چونکی نوموړی مفتي د " الور " اوسیدونکی ؤ پدی وجه علامه اقبال مرحوم د نوموړي مفتي په خلاف باندی د " الور " په عنوان لاندني اشعار ولیکل او دغه مفتي یی د انسانیت نه خالي او د ده دا حرکت یی خرتوب وګرځولو :

ګر فلک در " الور " اندازد ترا
ای که می داري تمیز خوب و زشت
ګویمت در مصرعه بر جسته
آنکه بر قاطاس دل باید نوشت
آدمیت در زمین او مجو
آسمان این دانه در " الور " نه کشت
کشت ګرز آب و هوار خردسته است
زانکه خاکش را خری آمد سر شت

ترجمه : ای د ښه او بد تمیز کونکیه ! که چیرته آسمان تا د " الور " په ریاست کی وغرځوي نو ره تا ته په یو برجسته شعر کی نصیحت کوم چی د زړه په تخته باندی لیکل پکار دي او هغه دا چی پدی ځمکه کی د انسانیت لټه مه کوه ځکه چی آسمان

دا تخم پدی خمکه کی له سره شیندلی ندی او که شیندلی یی وي نو د دی د آب وهوا له اثر نه پدی ځمکه نه د انسان پیدا کیدو په ځای خره پیدا کیږي .
(په حواله د الشهاب الثاقب (۱۲۵ ، ۱۲٦) صفحی دجناب انوار احمد ایم کام ناشر انجمن ارشاد المسلمین لاهور) .
په تجانب اهل السنه " کی د علامه اقبال په باره کی لیکلي دي :
" همداشان فلسفي نیچریت ډاکټر اقبال صاحب خپل فارسي او اردو نظمونو کی د دهریت او د الحاد زبردست پروپیګنډه کړی ده (تجانب (۳۳۴) صفحه) .
په مولانا ظفر علي خان صاحب (م ۱۳۷٦ﻫ) باندی د احمد رضا خان صاحب ځوی او د بریلویانو " مفتي اعظم هند " جناب محمد مصطفی رضا خان د کفر فتوی ولګوله او د بریلویانو " مفتي اعظم پاکستان " جناب ابو البرکات صاحب (م ۱۳۹۸ﻫ) د لاهور د دار العلوم حزب الاحناف مهتمم او شیخ الحدیث په کتابي شکل کی شائع کړ او نوم یی ورته " سیف الجبار علی کفر زمیندار " معروف به " القسوره علی ادوار الحمر الکفره " کیښود ،ګویا چی مولانا ظفر علي خان کافر کړی خو دی لیکن لدی سره یی د خرتوب لقب هم ورکړی دی په همدی کفر فتوی باندی مولانا مرحوم و مغفور دا رباعي ویلی وه : ع

کوئی ترکی لے گیا او کوئی ایران لے گیا
کوئی دامن لے گیا کوئی گریبان لے گیا
رہ گیا تھا نام باقی اک فقط اسلام کا
وہ بھی ہم سے چھین کر حامد رضا خان لے گیا

یعنی چا ترکي او ایران یووړ او چا لمن او ګریوان ، یواځی د اسلام تش نوم پاتی ؤ هغه هم له مونږ نه حامد رضا خان یووړ .
(نګارستان (٦۵) صفحه ، په حواله د مقدمه الشهاب الثاقب (۱۲۴) صفحه)

د مولانا حالي د مسدس متعلق دا فیصله کړی :
"د مسټر حالي پدی مسدس کی شل ګونه کفرونه او په زرګونه ضلالتونه او ګمراهی دي" (تجانب اهل السنه (۳۳۴) صفحه) .
دا د رضاخاني علماؤ د کفر سازي یوه نمونه ده .

د مذکوره حضراتو نه علاوه نور هم بی شمیره حضرت شته چی د دوی د تکفیري خنجر نښه گرځیدلي دي ، پدی فهرست نظر واچوئ دا ټول دیوبندیان ندي لیکن دوی د احمد رضا خان او د ده پیروانو په نظر کی کافر او مرتد دي ، مزید تفصیل لپاره " مقدمه الشهاب الثاقب " مطبوعه پاکستان (۱۰٦ _ ۱۳۴) صفحی پوری او تکفیری افسانی د مولانا نور محمد ټانډوي رحمه الله وگورئ .
الله تعالی دی مونږ ته او ټول امت محمدي صلی الله علیه وسلم ته په ایمان باندی استقامت نصیب کړي او حسن خاتمه نصیب کړي ، او د ایمان د ډاکوانو څخه مو محفوظ وساتي ، آمین بحرمة النبی صلی الله علیه وسلم فقط .

د مختلفو فرقو په اړه

اهل سنت والجماعت چاته وویل شي ؟

(۱۰ سوال) اهل سنت والجماعت چاته وویل شي ؟ دیوبندیان اهل سنت والجماعت دي او که د دوی مخالفین رضاخاني ؟ تفصیلي ځواب ورکولو سره ممنون وگرځوئ مهرباني .
ځواب : اهل سنت والجماعت ، فرقه ناجیه او فرقه اهل حق ، هغه دی چی د پیغمبر اسلام خاتم الانبیاء حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم او د ده صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین خصوصاً د خلفاء راشدینو د طریقی او سنت متبع او مطیع وي لکه چی نبوي ارشاد دی : " وتفترق امتی علی ثلاث وسبعین ملة کلهم فی النار الا ملة واحدة قالوا وماهی یارسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما انا علیه واصحابی " .
ترجمه : زما امت (۷۳) فرقی جوړیږي او د یوی فرقی نه علاوه نور ټول به جهنم ته ځي ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم هغه یوه فرقه به کومه وي ؟ وی فرمایل : په کومه طریقه چی زه او زما اصحاب کرام دي (مطلب دا چی دکتاب و سنت پیروي کونکی ډله نجات موندونکی او اهل سنت والجماعت دي) .

(ترمذي شريف ٨٩/٢ ، ابواب الايمان باب افتراق هذه الامة) د " كلهم فى النار "
معنى دا ده چې د بداعتقادي په وجه به جهنم ته ځي بيا چې د چا عقيده كفر ته نه وي رسيدلى هغه به د سزا تيرولو نه وروسته دوزخ نه راوځي او جنت ته به ځي
(مكتوبات امام رباني ٧٠/٣ (٣٨) نمبر مكتوب) .

او په توضيح او تلويح كى دي : " السواد الاعظم عامة المسلمين ممن هو امة مطلقة والمراد بالأمة المطلقة اهل السنة والجماعة وهم الذين طريقهم طريق الرسول صلى الله عليه وسلم واصحابه دون اهل البدع "

يعنى : د سواد اعظم نه اهل سنت والجماعت مراد دي چې د دوى طريقه د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د ده د صحابه كرام رضى الله عنهم طريقه ده نه بدعتيان
(٣٥٠ صفحه) .

او شيخ احمد رومى رحمه الله فرمايي : " لان المراد بالامة المطلقة اهل السنة والجماعة وهم الذين طريقهم طريق النبى صلى الله عليه وسلم واصحابه دون اهل البدع والضلال كما قال النبى صلى الله عليه وسلم امتى من استن بسنتى " .

يعنى د امت مطلقه نه مراد اهل سنت والجماعت دي او دا هغه خلك دي چې د دوى طريقه هغه ده كومه چې د نبى كريم صلى الله عليه وسلم او د ده صلى الله عليه وسلم دصحابه كرامو رضى الله عنهم طريقه ده ، بدعتيان او ګمراهان مراد نه دي ، لكه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دى : زما امت هغه دى چا چې زما طريقه اختيار كړه (مجالس الابرار ١٠ ص ١٣١) . حضرت امام رباني مجدد الف ثاني فرمايي :
"وشک نسبت كه فرقه ملتزم اتباع اصحاب آن سرور اند عليه وعليهم الصلوات والتسليمات اهل سنت وجماعت اند ـ شكر الله سعيهم"

يعنى : پدى خبره كى يوه ذره هم شک نشته چې دا فرقه چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو رضى الله عنهم اتباع او پيروي ضروري ګرځولي همدا اهل سنت والجماعت ده ، الله تعالى دى د دوى كوششونه قبول كړي .
(مكتوبات امام رباني ١٠٢/١ مكتوب نمبر ٨٠)

او شاه عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمـايي : " فعلى المؤمن اتباع السنة والجماعـة فالسنة ما سنه رسول الله صلى الله عليه وسلم والجماعة ما اتفق عليه اصـحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم في خلافة الائمة الاربعة الخلفاء الراشدين المهديين رحمة الله عليهم اجمعين " (غنية الطالبين (۱۴۲) صفحه) .

يعنى : مؤمن بنده باندى لازم دي چى د سنت او د جماعت اتباع وكـړي ، سـنت هغه طريقه ده چى رسول الله صلى الله عليه وسلم وربانـدى عمـل كـړى وي او جماعـت دا دى چى پدى باندى خلفاء راشدينو خپـل دور خلافـت كـى اتفـاق كـړى وي او دغه حضرات د سمى لارى هدايت كوونكي وو او دوى ته هم د سمى لارى هدايت شوى وُ ، پدى ټولو دى د الله تعالى رحمت وي ، او د چا عمل چى سـنت نـه خـلاف دى او د سنت په خلاف د خپل پلار نيكه د رسم و رواج پابنـد وي او ديتـه اسـلامي اعمـال او د نيكى او ديني كار ويلو سره كوي ، تعزيه داري ، په دوم دام سـره عرسـونه او قبرونـو تـه سجدى او د مزارونو طوافونهِ او د غير الله نذر و نياز وغـيره بـدعات كـونكي او دى تـه ترقي وركونكي دي په دوى باندى د اهل سنت والجماعـت نـوم برابـرى او سـمى نـه خوري لكه شيخ عبدالقادر چى فرمايي : بدعتيانو چى د اهـل سـنت كـوم لقـب ظـاهر كړى دى دا د دوى له نوم سره موزون ندى لكـه چـى كـافرانو پيغمبـر صـلى الله عليـه وسلم ته ساحر ، شاعر ، ليونى او كاهن ويلـو (معـاذ الله) دا ټـول نومونـه د رسـول الله صلى الله عليه وسلم له صفاتو سره بالكل برابر نه وو او هيڅ قسم وربانـدى نه صـادقيدل ، همدا شان بدعتيانو باندى د اهل سنت نوم نه صادقيږي ، د بدعتيانو نښه حضرت پـيران پير دا بيان كړى ده چى په حديث او سنت طريقه باندى د عمل كونكو غيبـت كـوي او بدرد ورته وايـي : " فعلامة اهل البدع الوقيعة فى اهل العصر " (غنية الطالبين ص ۱۴۳) او حضرت شيخ احمد رومي رحمه الله فرمايي : بدعتيان په تكمله د بحرالرائق كى د حضرت ابن عمر رضى الله عنه په روايت سره دحديث خلاصه نقل شوى چـى په چا كى لس علامى وي هغه اهل سنت والجماعت دى او هغه لس علامى دا دي :

(۱) " ان يصلى الصلوات الخمس بالجماعة " يعنى چى پنځه وختـه لمـونځ جماعـت سره كوي (۲) " ولايذكر احداً من الصحابة بالسوء ولاينقصه " يعنى صحابه كرامـو

ښخه یوهم په بدي سره نه یادوي او نه یکی عیبونه راوباسي (۳) " ولایخرج علی السلطان بالسیف " او د مسلمان بادشاه په خلاف باندی توره نه اوچتوي (۴) " ولا یشك فی ایمانه " او خپل ایمان کی شک نه کوي (۵) " ویؤمن بالقدر خیره وشره من الله تعالی " او په تقدیر باندی ایمان ولري چی خیر او شر ټول د الله پاک له طرفه وي (٦) " ولا یجادل فی دین الله " او د الله تعالی په دین کی غلط بحثونه نه کوي (۷) " ولایکفر احداً من اهل التوحید بذنب " یعنی د کوم ګناه په وجه یو مسلمان نه کافر کوي (نوټ) مطلب دا دی چی (۷۲) فرقی ټول اهل التوحید او اهل قبله دي‌لهذا د دوی په تکفیر کی به جرائت نه کوي ، خو پوری چی د کومی فرقی متعلق دا ثابت نه شي چی هغه د دین د ضروریاتو او د دانی کومی خبری نه منکر دي چی بدیهي طور سره د اسلام خبره ګڼلی کیږي او خو پوری چی دا نه وي ثابت شوي چی هغه د شرعي احکامو تواتر نه مني او دیته غیر ثابت او غیر یقیني وایي د هغه تکفیر دی نه کوي ، فقهاؤ فرمایلي دي : که چیرته (۹۹) احتمالونه د کفر وي او یو احتمال د اسلام موجود وي نو د دی احتمال په بناء به د کفر حکم نه کوي (مکتوبات امام رباني ۷۰/۳ مکتوب نمبر ۳۸) "وقد ذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذا کان لها تسع و تسعون احتمالا للکفر واحتمال واحد فی نفیه فالاولی للمفتی والقاضی ان یعمل بالاحتمال الثانی" (شرح فقه اکبر لابی المنتهی ص ۱۹۹) .

(۸) " ولا یدع الصلوة علی من مات من اهل القبلة " یعنی خوک چی اهل قبلی والا مړ شي په هغه باندی به دجنازی لمونځ نه پرېدي (۹) " ویر المسح علی الخفین جائز فی السفر والحضر " او په سفر او خپل کلي کی به موزو باندی د مسح قائل وي (۱۰) "ویصلی خلف کل امام بر و فاجر" او د هر نیک او ګنهکار پسی لمونځ جائز ګڼي .

(تکمله بحرالرائق ۱۸۳/۸ . اول کتاب الکراهیه)

لنډه دا چی دیوبندي مسلمان د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده د پاکو صحابه کرامو رضی الله عنهم صحیح پیروان او تابعداران دي او صحیح اهل سنت والجماعت او سني حنفي دي لکه څنګه چی د دار العلوم دیوبند د بنیادي اصولو ښخه دي چی :

(۴) " د دار العلوم مسلک اهل سنت والجماعت ، حنفي مذهب او د دی پاکو بانیانو حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي ، حضرت مولانا رشید احمد گنگوهي رحمهما الله د مشرب موافق به وي " (دستور اساسي مع آئین دار العلوم دیوبند (۵) صفحه) .
په اصولو کی د حضرت امام ابوالحسن اشعري او امام ابومنصور ماتریدي پیروان او په فروعو کی د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مقلدین دي ، او چشتیه ، نقشبندیه ، قادریه او سهروردیه سلسلو سره نسبت لري او د اهل سنت والجماعت پورته ذکر شوي لس علامی په دوی باندی مکمل طور باندی برابر او صادقیږي ، د دی برعکس د دیوبند د حضراتو مخالفین یعنی رضاخانی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د سنت او طریقو تارکین او د بدعت حامیان او د دی رواج کونکي دي او د اهل سنت والجماعت ټولی علامی خو قطعاً په دوی کی نه موجودیږي هغه هم برای نام دي مثلاً (۱) د پنځه وخته باجماعت لمونځ دومره پابند ندي څومره چی د خلاف سنت او غیر ثابت کارونو پابند دي (۲) د صحابه کرامو رضی الله عنهم محبت د دوی په زړونو کی دومره نشته لکه څومره چی د رضاخانی مذهب باني مولانا احمد رضا خان صاحب عظمت د دوی په زړونو کی دی ، د دوی کتاب " وصایا شریف " کی دي : " د زهد و تقوی خو دا حال وُ چی ما د ځینو مشائخو کرامو نه دا واوریدل چی د ده (مولانا احمد رضا خان) په لیدو سره د صحابه کرامو د زیارت شوق کم شوی دی (نعوذ بالله) دا د صحابه کرامو عظمت دی . (۳) سلطان سعود ته کافر وایي (۴) په الهي دین کی ناحق جګړی کولو سره فرقه بندي او ډله بازي کوي (۵) اهل قبله او اهل توحید مسلمانان کوم چی د دوی هم فکر ندي هغو ټولو ته (نعوذ بالله) بی دینه ،کافر او مرتد وایي . (٦) د دوی په جنازه باندی لمونځ کول حرام ګني (۷) او دوی لره د مسلمانانو په مقبره کی دفن کولو ته ناجائز وایي (۸) د دوی پسی لمونځ کول حرام ګني ، وګورئ " تجانب " او " قهر قهار " وغیره وغیره .
دیوبندي مسلمانان د دوی متعلق داسی عقیده نلري هر مصنف مزاج بنی آدم پوهیږي چی صحیح اهل سنت والجماعت څوک کیدی شي ؟ دیوبندي که رضاخاني ؟ الله تعالی دی ټولو مسلمانانو ته د نیکی هدایت او صحیح پوهه ورکړي او په حقیقي معنو کی اهل سنت والجماعت وګرځوي ، آمین فقط والله اعلم .

د حدیث منکرین د اسلام نه خارج دي :

(۱۱ سوال) پدی مسئله کی دیني علماء او مفتیان صاحبان څه فرمایي چی د منکرین حدیث فرقی (اهل قرآن) فاسد او باطل عقائد اوس څه پټه خبره نده ، د نبوي صلی الله علیه وسلم احادیثو نه صراحتاً انکار او تکذیب ، د اسلام اهم رکن د لمونځ تضحیک

(خندا) یا د پنځه وخته لمونځونو نه انکار او یواخې د دوه یا دریو وختو فرض لمونځونو قائل کیدل ، د صحیح بخاري شریف او د صحیح مسلم شریف حدیثونه نقل کولو سره نهایت بی ادبی سره ورباندی تمسخر کول ، دغه فرقه داسې مهلک او فاسد و باطل خیالاتو په نشر و اشاعت کی لګیدلی ده او سیده ا ساده مسلمانان ګمراه کوي د اسلام د بنیادونو په نړولو کې همیشه مکمل طور لګیا دي اوس سوال دا دی چې د داسې عقیدی خاوند ته مسلمان ویل کیږي ؟ او مسلمانانو په مقبره کی دفن کولی شي ؟ د داسې خلکو په جنازه کې شریک کیدل او یا دوی سره واده نکاح کول جائز دي یا ناجائز ؟ وضاحت وکړئ مهرباني (سوات نه) .

ځواب : د اهل قرآن مدعیان کوم چې له احادیثو نه انکار کوي او مسخری پری کوي او لمونځ پسی خندا کوي ، پنځه وخته لمونځونو له فرضیت نه انکار کوي دا خلک له اسلام نه خارج دي د دوی د جنازی لمونځ کول او د مسلمانانو په قبرستان کی دفن کول او دوی واده او نکاح کول او وغیره کوم قسم تعلقات ساتل صحیح ندي ، فقط والله اعلم ، ۱۰/ ربیع الاول ۱۳۹۷ھ .

د سنت په اړه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم مبارک اوریدو سره د ګوتو ښکلول څنګه دي ؟

(۱۲ سوال) لدی لیک سره د احمد آباد نه په ګجراتي ژبه کی شائع کیدونکی میاشتنی مجله " طیبه ".د ۱۹٦۰ء کال د اګست د میاشتی په ګنه کی یوی کی د یوی فتوی نقل هم ستاسو خدمت ته درلیږم چی پدی فتوی کی لیکلی دي : ډیر علماء داسی شته چی فقه حنفي باندی عمل نه کوي او د دی باوجود ځانته حنفي وایي او ناخبره مسلمانان په غلطه لاره روانوي دا خلک دسی وایي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دمبارک نوم اخستو وخت کی خصوصاً د اذان په وخت کی ګوتی ښکلول بدعت دی ، کوم خلک چی د رحمة للعالمین عزت کوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شاه عظمت بیانوي هغه ته دغه علماء بدعتیان وایي ،اوس سوال دا دی چی د ګوتو ښکلولو په ثبوت کی کومی حوالی ورکړی شوي دا صحیح دي یا نه ؟ او د ګوتو ښکلولو ته یی سنت ویلي دي دا صحیح دي یا نه ؟ په تفصیل سره ځواب راکړئ مهرباني .

ځواب : د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک نوم په اوریدو سره د درود شریف ویل صحیح احادیثو نه ثابت دي او پدی کی د دواړو جهانو سردار (صلی الله علیه وسلم) صحیح تعظیم هم دی ، په یو مجلس کی چی څو ځلی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک نوم واخستل شي یا واوریدل شي نو هغه لپاره فتوی دا ده چی هرځل درود شریف ویل مستحب او کم نه کم یوځل ویل واجب دي (درمختار و شامي ۱/۴۸۱ مطلب فی وجوب الصلواة علیه کلما ذکر علیه الصلواة والسلام) مګر پدی وخت کی د ګوتو ښکلول په صحیح یا ضعیف حدیث کی هم ندي ثابت ، لهذا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک نوم په اخستو یا اوریدو سره د ګوتو ښکول په حدیث سره ثابت منل او مسنون ګڼل او دا د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تعظیم مقررول غلطه او بی دلیله خبره ده ، دا بدعتیانو ایجاد کړی لدینه ځان ساتل ضروري دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : "من احدث فی امرنا هذا

مالیس منه فهو رد " (بخاری شریف ۳۷۱/۱ باب اذا اصطلحوا علی صح جور فهو مردود ، مسلم شریف ۷۷/۲ باب نقص الاحکام الباطلة و رد محدثات الامور) .

یعنی چا چی څمونږ پدی دین کی کومه داسی خبره پیدا کړه چی په دین کی داخل نه وي نو هغه د منلو وړ نده .

او دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد " (مسلم شریف ۷۷/۲ ، ایضا) .

یعنی څوک چی داسی یو کار وکړي چی هغه لپاره څمونږ حکم نه وي (یعنی څمونږ په طریقه نه وي) هغه رد دی .

او همداراز د اذان و اقامت په وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک نوم په اوریدو سره د ګوتو نوکان ښکلول او په سترګو کیښودل دیته سنت ویل او نبوي حدیث نه ثابت ګڼل او دا د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم صحیح تعظیم و عزت مقررول او د حنفي کیدو علامه ګرځول او نه ښکلونکي باندی لعن طعن او ملامتول دا هم غلط او په دین کی تحریف یعنی رد و بدل کولو په مثال دی ، دومره خبره صحیح ده چی ځینی علماؤ د څه داسی حدیثونو په بناء چی محققینو علماء ضعیف ګرځولي دا جائز او ځینو مستحب ګرځولي چی په اذان کي کله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نوم راشي نو د ګوتو نوکونه په سترګو باندی کیدي مګر دا کار د سترګو د بیماری د علاج په طور دی ، عبادت او سنت مقصود نه دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخصوص تعظیم او عظمت لپاره ندی (مقاصد حسنه وغیره) (د مولانا احمد رضا خان فتوی هم همدا وایي کوم چی وړاندی کرښو کی لیکل کیږي) لیکن اوس صورت دا دی چی خلک دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم خاص تعظیم او سنت مقصوده ګڼي او نه کونکو ته لعن طعن کوي او د حنفیت مخالفت او اهل سنت والجماعت نه خارج ګڼي ، دا ټولی‌خبری غلطی دي او پدی بناء د دی پریښودل ضروري دي ، د فقه منلی شوی قاعده ده چی کله مستحب د خپلی مرتبی او درجی نه اوچت کړی شي نو هغه مکروه ګرځي ، "واستنبط منه ان المندوب ینقلب مکروهاً اذا خیف ان یرفع عن رتبته" (مجمع البحار ج ۲ ص ۲٤٤) او په فتح الباري شرح د صحیح بخاري کی

دي : " قال ابن المنير ان المندوبات قد تنقلب مكروهات اذا رفعت عن رتبتها لان التيا من مستحب فی كل شی من امور ا لعبادة لكن لما خشی ابن مسعود رضی الله عنه ان يعتقدوا وجوبه اشار الی كراهته "

یعنی مستحبات هغه وخت کی مکروهات جوړيږي چی کله د خپلی اصلي مرتبی نه اوچت کړی شي مثلاً هر یو نیکي په کار کی د نبي طرف نه شروع کول مستحب دي لیکن کله چی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خپل زمانه کی د دی زيات اهتمام وليد نو دیته یی مکروه ووبل ځکه چی ده ته ویره پیدا شوه چی خلک دی مستحب ته واجب په نظر ګوري (فتح الباري ۲۸۱/۲) .

ځینو علماؤ خپل زمانه کی د ایام البیض (۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵) روژو متعلق د کراهت فتوی ورکړی ده ځکه چی د هغوی په زمانه کی د دغو روژو داسی عام رواج جوړ شوی ؤ چی د واجب ګنلو ویره وه او حال دا چی د ایام البیض روژی مستحب دي او په ډیرو حدیثو کی یی فضیلت ثابت دی : " وكل مباح ادی الی هذا فهو مكروه حتی افتی بعض الفقهاء حين شاع صوم ايام البيض فی زمانه بكراهته لئلا يؤدی الی اعتقاد الواجب مع ان صوم ايام البيض مستحبة ورد فيه اخبار كثيرة فما ظنك بالمباح وماظنك بالمكروه " (مجالس الابرار م ۵۰ ص ۲۹۹) .

پدی درجه کی د ګوتو ښکلولو متعلق حدیث څوک نشي پيش کولی .

د اذان په وخت کی د ګوتو ښکلولو متعلق چی کوم روايات او حدیثونه راغلي دي دا د مسند الفردوس دیلمي په حواله په موضوعات کبير او تذکرة الموضوعات او الفوائد المجموعه فی الاحاديث الموضوعه وغیره کی نقل شوي دي .

د علامه سخاوي په حواله ملا علی قاری رحمه الله مذکوره رواياتو متعلق فرمايي : " لا يصح " (موضوعات كبير ص ۷۵) یعنی دغه روایتونه صحیح ندي ، او علامه محمد طاهر رحمه الله لیکي : " ولايصح " (تذکرة الموضوعات (۳٤) صفحه) دا روایت صحیح ندی،او علامه شوکاني رحمه الله د علامه طاهر په حواله نقل کوي چی: " لا يصح " (الفوائد المجموعة فی الاحاديث الموضوعة (۹) صفحه) او امام المحدثين علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله ليکي : " الاحاديث التی رويت فی

تقبيل الانامل وجعلها على العينين عند سماع اسمه صلى الله عليه وسلم عن المؤذن في كلمة الشهادة كلها موضوعاتٌ " يعنى د مؤذن نه په كلمه د شهادت كى د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک نوم اوریدو سره گوتى ښكلول او په سترگو باندى كيښودو متعلق چى كوم حديثونه نقل كړى شوى دا ټول موضوع (دروغ) او جوړ شوي دي (تيسير المقال وغيره) په موضوعي حديث باندى عمل كول ناجائز دى او په ضعيف حديث باندى په څو شرطونو سره د عمل كولو گنجائش شته ، امام سخاوي رحمه الله د حافظ حديث علامه ابن حجر رحمه الله په حواله ليكي : " په ضعيف حديث باندى د عمل كولو لپاره يو شرط دا دى چى زيات ضعيف نه وي او پدى باندى د عمل كونكو دا عقيده نه وي چى دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ثابت دى " (القول البديع ص ١٩٥) . او شيخ الاسلام ابن دقيق العيد فرمايي : " كه چيرته حديث ضعيف وي او موضوعي نه وي نو عمل پرى جائز دى ليكن كه چيرى لدينه په دين كى كوم شعار يعنى امتيازي علامه قائميږي (لكه كوونكي ته سني حنفي او نه كونكي ته وهابي وويل شي) نو په هغه عمل كول ممنوع گرځي " (احكام الاحكام ٥١/١) . او علامه شاطبي رحمه الله فرمايي : " ځينى عملونه فى نفسه جائز بلكى مستحب وي مگر د حيثيت بدليدو او يا د بدليدو له ويرى نه د ترک كولو لائق گرځي " (الاعتصام ٩٢/٢)

او شاه ولى الله محدث دهلوي رحمه الله د دين د تحريف اسباب بيانولو سره ليكي : "وان يلتزم السنن والآدات كالتزام الواجبات" يعنى په دين كى يو قسم تحريف دا هم دى چى سنن او مستحاب د واجباتو پشان ضروري او لازمي وگڼل شي .
(حجة الله البالغة ٢٦١/١ ومن اسباب التحريف التشدد باب احكام الدين من التحريف)

پورتنى بيان څخه د گوتو ښكلولو شرعي حقيقت او حيثيت په ښه شان واضح كيږي ستا په ليږلى فتوى كى ځينى حوالى غلطى دي او ځينى كتابونه مثلاً فتاوى صوفيه ، جامع الرموز ، كنز العباد ، خزانة الروايات او شرح مختصر وغيره غير معتبر دي ، علامه بركلي ، علامه عصام الدين ، علامه جلال الدين مرشدي ، علامه ملا على قارى او علامه ابن عابدين شامي د دغو كتابونو په حوالو سره فتوى وركول منع كړي دي څو پورى چى د معتبرو كتابونو نه د كومى مسئلى تائيد نه وي شوى ، وگورئ (مقدمه مفيد المفتي (٩٤ ، ٩٥) صفحى) .

اوس په آخر کی د رضاخانی فرقی باني او د بریلوي پـارټی حضـور پـر نـور امـام اهـل سنت مجدد دین و ملت شیخ الاسـلام والمسـلمین اعلـی حضـرت مولانـا الحـاج الشـاه احمد رضا خان بریلوي تحقیق او د ده واضحه فیصله وړاندی کوم په غور سره وګورئ :

د مولانا احمد رضا خان نه تپوس وشو چی : د الله تعالی د اکثر او بیشـر مخلـوق طریقـه ده چی د اذان او فاتحه خوانی او (اجماعي ختم) پـه وخـت کـی ګـوتی ښکلـوي او علماء هم ورته صحیح وایـي او د حـــدیث شـــریف نـــه یی ثـــابتوي نـــو دا قـول صحیح دی یا نه ؟

د مولانا احمد رضا خان صاحب بریلوي د ځواب اصلي او ضروري حصه د ده په الفـاظو کی دا ده وګورئ :

ځواب : په اذان کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاک نوم اوریدو په وخـت کـی د ګوتو نوکونه ښکلول او په سترګو اینبودل د کوم صحیح او مرفوع حدیث نه ثابـت نـه دي ، او پدی باره کی چی کوم روایتونه دي هغه د جرحی نـه خـالي نـدي نـو ځـوک چی دا ثابت ګني یا ورته مسنون او موکد وګني او یا نفـس پریښـودو تـه باعـث د زجـر و ملامت وګرځوي هغوی یقیناً غلط او خطاء دي ، البته په ځینی ضعیف او مجروح حدیثو کی تقبیل (ښکلول) راغلی دي .. او ځینی د فقه کتابو کی مـثلاً جـامع الرمـوز ، شـرح نقایـه ، فتـاوی صـوفیه ، کنـز العباد،شـامي حاشـیه دږ مختـار چـی پـدی کـی زیـاتره د اسماعیلي دلی علماؤ مستند او روایتونه دي،وضع د ابهامین هم مستحب لیکلي دي ... "

(ابر المقال فی استحسان قبلة الاجلال ص (۱۱ _ ۱۲) صفحه)

پورته ذکر شوي کتابونه مثلاً کنز العباد ، جامع الرموز ، فتاوی صوفیه او شامي وغیره کـی چی د ګوتو ښکلولو ته مستحب لیکلي دي دا هم مولانا احمد رضـا خـان خـوښ کـړي ندي او وړاندی نور لیکي : " نو حق پدی کی دومره قدری دی چی یو ځوک د سـترګو د رڼائي زیاتیدو په امید مثلاً د مشائخو عمل ګڼلو او یـا پـدی کتـابو کـی د ترغیـب وارد کیدو په نظر د فضل په توقع بغیر د سـنیت د عقیـدی او صـحت د حـدیثو او شـناعت د ترک دا کار وکړي نو څه مواخذه پری هم نشته پـدی چـی پـه فعـل بانـدی د صـحیح حدیث نه موجودیدل لدی فعـل نـه د نهـي او منـع لـره متلـزم نـدی ...... او دفاتحـه خوانی په وخت کی د دی فعل ذکر په کوم کتاب کی ندی لیدل شوی او زمـا فقـیر پـه نزد د اصح او ارجح مذهب په بناء غالباً ترک کول زیات انسب او الیق دي (ابر المقـال

فی استحسان قبلة الاجلال (۱۲ _ ۱۳) صفحی ۱۳۳۸ه په حسنی پریس دهلي کی چاپ شوی) .
د ذکر شوی فتوی حاصل دا دی چی د مولوي احمد رضا خان په نزد د فاتحه خوانی د مجلس پشان ځایو کی د ګوتو ښکلول په کوم کتاب کی ثابت ندي پدی وجه د ده رایه دا ده چی نه ښکلول زیات مناسب دي .
او دا خبره چی د اذان په وخت کی د ګوتو ښکلول ثابت دي پدی باره کی هم دی فرمایي چی د کوم صحیح حدیث نه ثابت ندي او څوک چی د دی قائل وي چی دا په صحیح حدیث سره ثابت دی ، یا کوم سړی نه ښکلول بد ګڼي هغه خطاء ګڼي ، صرف د سترګو د نظر علاج لپاره مني ، سنت نه ګڼي ، او هغه احادیث ضعیف او مجروح ګڼي په کوم کی چی د اذان په وخت د ښکلولو څخه فضیلت ذکر شوی ، او د ښکلولو اجازه پدی شرط ورکوي چی : (۱) د سنیت اعتقاد نه وي (۲) پدی باره کی چی کوم حدیثونه دي هغه صحیح نه ګڼي (۳) نه ښکلونکی بد ونه ګڼي وغیره ، د مولانا احمد رضا خان صاحب په نزد د مسئلی حقیقت دا دی : کوم چی د سنی وهابي بلکی د کفر و اسلام علامه او نښه ښودل شوی ، انا لله وانا الیه راجعون .

بهت شور سنتے تھے پہلو مین دل کا
جو چیرا تو اک قطرا خون نه نکلا

فقط والله اعلم

د رسم و رواجي مجلسونو متعلق صحیح لارښونه

(۱۳ سوال) بدعتیان وایي چی رسمي مجلسو او پروګرامو کی تسبیح او قرآن خواني وي د دی مخالفت په حقیقت کی د تسبیح او د قرآن خوانی مخالفت دی او دیته بدعت ویل په حقیقت کی تسبیح او قرآن خوانی ته بدعت ویل دي پدی وجه مونږ دیوبندیانو ته وهابیان وایو چی دوی د ثواب او د خیر کار نه خلک منع کوي ،لهذا پدی باره کی لارښونه وکړئ .
ځواب : د داسی قسم سوالونو ځوابونه د " پیغام " په صفحو کی بار بار راغلي دي خو بیا هم اجمالي طور سره پدی پوه شئ ! د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمل او تعلیم په خلاف کارونو ته ثواب او دیني کارونه ویل او پدی باندی عمل کول په شریعت محمدي صلی الله علیه وسلم کی د تغیر او تحریف مترادف او برابر دي چی غیر

شریعت لره شریعت او بدعت لره سنت او د ګناه کار ته د اجر و ثواب کار ویل کیږي ، د دی معنی دا ده چی ګویا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندی کړی شریعت ناقص و ناتمام او د تغیر محتاج دی (نعوذ بالله) نو دا خو واضحه ګناه او نعوذ بالله د دین په نوم بی دیني ده همدا وجه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د داسی ایجاداتو سخت ممانعت کړی او په ډیر قوت سره یی رد کړی ، کوم چی یو ذره هم د سنت نه مخالف وي .

(۱) د مجمع البحرین مصنف خپل شرح کی بیان کړی چی یو سړي د اختر په ورځ د اختر لمانځه نه مخکی عیدګاه کی د نفل لمونځ کولو اراده وکړه حضرت علي رضی الله عنه هغه منع کړ هغه سړی ووېل ای امیر المؤمنین ! زه ښه پوهیږم چی الله تعالی په لمونځ کولو باندی عذاب نه ورکوي (نو بیا می د لمونځ کولو نه ولی منع کوی ؟) حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل زه هم ښه پوهیږم چی الله تعالی په یو کار باندی تر هغی پوری ثواب نه ورکوي څو پوری چی هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وي کړی او یا ترغیب نه وي ورکړی نو ستا دا لمونځ عبث دی او عبث کار په عبادت کی حرام دی ، شاید چی الله تعالی درته پدی کار عذاب درکړي پدی چی تا د پیغمبر علیه السلام نه خلاف کړی دی .

" وقال صاحب مجمع البحرين فى شرحه ان رجلاً يوم العيد فى الجبانة اراد ان يصلى قبل صلواة العيد فنهاه على رضى الله عنه فقال الرجل ياامير المؤمنين انى اعلم ان الله تعالى لايعذب على الصلواة فقال على رضى الله عنه وانى اعلم ان الله تعالى لايثيب على فعل حتى يفعله رسول الله صلى الله عليه وسلم او يحث عليه فيكون صلوتك عبثا والعبث حرام فلعله تعالى يعذبك به بمخالفتك لنبيه " .

(مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۹)

وګورئ د اختر لمانځه نه مخکی دوه رکعته نفل د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي پدی وجه حضرت علي رضی الله عنه یی مخالفت وکړ او حال دا چی لمونځ عبادت دی او په لمونځ کی قرآن خواني کیږي ، تسبیح ویل کیږي ، د ابتداء تر آخره پوری د الله تعالی ذکر کیږي نو ایا د حضرت علي رضی الله عنه منع کول د قرآن او تسبیح او د الله تعالی ذکر له منع کولو سره مترادف او برابر دي ؟ او آیا هغه وهابي و .

(۲) د حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه خوی په لمانځه کی د سورت فاتحی په شروع کی بسم الله په زوره وویل نو حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه ورته تنبیه وکړ ځویه بدعت دی ، ګوره هرګز داسی کار ونکړی چی بدعت وي ، صحابه کرامو په اسلام کی د بدعت سره دومره لوی نفرت وُ چی بل ځوک می داسی نفرت کونکی ندی لیدلی .

" عن ابن عبد الله بن مغفل رضی الله عنهما قال سمعنی ابی وانا فی الصلواة اقول بسم الله الرحمن الرحیم قال لی ای بنی محدث ایاك والحدث قال ولم ارا احداً من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم کان ابغض الیه الحدث فی الاسلام یغنی منه وقال وقد صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم ومع ابی بکر و عمر و مع عثمان فلم اسمع احدا منهم یقولها فلا تقلها اذا انت صلیت فقل الحمد لله رب العالمین الخ " (ترمذی شریف : باب ما جاء فی ترك الجهر بسم الله الرحمن الرحیم ج ۱ ص ۳۳) .

وګورئ د بسم الله ورو ویلو په ځای په زوره ویل صحابي ناخوښ ګني او د بدعت کیدو فتوی ورکوي او حال دا چی بسم الله د قرآن شریف یو آیت دی نو ایا عبد الله بن مغفل رضی الله عنه وهابي وُ ؟

(۳) حضرت امام نافع فرمایي : د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په وړاندی یو سړي پرنچی وکړ او بیا یی د الحمد لله په ځای الحمد لله والسلام علی رسول الله وویل یعنی والسلام علی رسول الله یی زیات کړ ، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وفرمایل: دا دواړه جملی په خپل ځای صحیح دي چی د الله تعالی حمد او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی درود وسلام دی ، زه هم الحمد لله والسلام علی رسول الله وایم مګر په کوم رسول صلی الله علیه وسلم چی مونږ درود و سلام وایو هغه دا تعلیم ندی ورکړی ، د هغه تعلیم دا دی چی مونږ پدی موقع باندی الحمد لله علی کل حال ووایو .

" عن نافع ان رجلاً عطس الی جنب ابن عمر رضی الله عنهما فقال الحمد لله والسلام علی رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام علی رسول الله

ولیس هکذا علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم علمنا ان نقول الحمد لله علی کال حال " (ترمذی شریف ج ۲ ص ۹۸ باب ما یقول العاطس اذا عطس) .
اوس وګورئ چی صحابي د والسلام علی رسول الله مخالفت وکړ ایا هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالف ؤ ؟ ایا هغه وهابي ؤ ؟
(۴) حضرت ابومالک اشجعي فرمايي : ما د خپل پلار (طارق رضی الله عنه) نه تپوس وکړ چی تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، حضرت ابوبکر رضی الله عنه ، حضرت عمر رضی الله عنه ، حضرت عثمان رضی الله عنه او تقریباً پنځه کاله دلته کوفه کی حضرت علي رضی الله عنه پسی لمونځ کړی دی ایا دغه حضراتو به قنوت لوستلو ؟ ځواب یی ورکړ ای زما بچیه دا خو بدعت دی .
" عن ابی مالك الاشجعی قال قلت لابی یاابت انك قد صلیت خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکر رضی الله عنه و عمر رضی الله عنه وعثمان رضی الله عنه وعلی بن ابی طالب رضی الله عنه هاهنا بالکوفة نحوا من خمس سنین أکانوا یقنتون قال ای بنی محدث " (ترمذی شریف ج ۱ ص ۵۳ باب ترك القنوت) .
وګورئ ! چونکی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي چی د مخصوص حالت نه علاوه دائمي طور باندی دسحر په لمانځه کی دعاء قنوت لوستی وي نو صحابي د دی د بدعت کیدو فتوی ورکوي او حال دا چی دا دعاء ده او دعاء عبادت بلکی مخ العبادة (د عبادت مغز) دی نو ایا دا صحابي د دعاء قنوت او عبادت مخالف ؤ او ایا هغه وهابي ؤ ؟
(۵) حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په دعاء کی خلک د سینی نه پورته لاس اوچتونکي ولیدل نو وی فرمایل : دا قسم لاسونه اوچتول بدعت دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعاء په وخت کی لاسونه له سینی پورته نه اوچتول : " عن ابن عمر رضی الله عنهما ان یقول ان رفعکم ایدیکم بدعة مازاد رسول الله صلی الله علیه وسلم علی هذا یعنی الی الصدر " (رواه احمد) (مشکواة ص ۱۹۶ کتاب الدعوات الفصل الثالث) .

وګورئ په دعاء کی د استسقاء نه علاوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت شریفه له سینی نه پورته د لاس اوچتولو نه ولهذا صحابي فوراً د بدعت فتوی ورکړه او ایا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د دعاء په وخت کی د الله تعالی دربار ته د لاس اوچتولو مخالف وٌ او ایا هغه وهابي وٌ ؟

(٦) حضرت عماره بن رویبه رضی الله عنه بشر بن مروان په خطبه کی لاس اوچتولو سره دعاء کولو کی ولید نو بده دعاء او خیری یی ورته وکړی چی الله تعالی دی دا دواړه خراب او دواړه لاسونه برباد کړي ، مونږه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خطبه کی لاس اوچتولو سره په دعاء کولو کی ندی لیدلی : " قال سمعت عمارة بن رويبة وبشر بن مروان يخطب فرفع يديه فى الدعاء فقال عمارة قبح الله هاتين اليدين القصيرتين لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم ومايزيد على ان يقول هكـــذا واشـــار مسلم بالسبابه " (ترمذى باب ما جاء فى كراهية رفع الايدى على المنبر ٦٨/١)

وګورئ ! صحابي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عادت شریفه په خلاف خطبه کی دعاء لپاره لاس اوچتول بد وګڼل او نه یواځی مخالفت یی وکړ بلکی بد دعاء یی ورته وکړه نو ایا دا صحابي د الله تعالی په دربار کی لاس اوچتولو سره د دعاء مخالف وٌ او ایا هغه وهابي وٌ ؟

(٧) حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه یو سړی د لمانځه څخه فارغیدو نه مخکی (قعده کی) د دعاء په وخت کی لاس اوچتونکی ولید نو وی فرمایل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چی څو پوری به د لمانځه نه فارغ شوی نه وٌ نو دعاء کی به لاسونه نو اوچتول .

وګورئ ! په قعده کی د دعاء په وخت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لاس اوچتول ثابت نه وٌ نو پدی وجه صحابي یی مخالفت وکړ نو آیا هغه وهابي وٌ ؟

(٨) حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه لره حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په کوفه کی معلم قرآن ، محدث او مفتي مقرر کړی وٌ د هغه دور واقعه ده چی څه کسانو داسی کار شروع کړی وٌ چی د سحر لمانځه نه مخکی چی خلک به د جماعت په انتظار کی ناست وو دوی به خپلی حلقی جوړولی او واړه ګیټي (تیږي) به ورسره وی او بیا به د حلقی یو کس دا ویل چی (١٠٠) ځلی الله اکبر ووایي هغو به ویل او بیا سل

خلی لا اله الا الله او سل خلی الله اکبر هغو به همداسی کول چی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خبر شو نو هلته لاړ او وی فرمایل : دا څه کوئ ؟ هغه خلکو ځواب ورکړ مونږ پدی ګیټو باندی تسبیحات شمارلو سره وایو ، ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : د تسبیحاتو په ځای خپلی بدی او ګناهونه وشمیرئ د تسبیحاتو لپاره د شمیر ضرورت نشته . زه ذمه وار یم چی الله تعالی ستاسو هیڅ یوه نیکي هم نه ضائع کوي لهذا د دی شمیرلو هیڅ ضرورت نشته او بیا یې افسوس کولو سره وفرمایل ای امت محمد صلی الله علیه وسلم ! افسوس ستاسو تباهی څومره تیزی سره روان دی ستاسو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا صحابه کرام رضی الله عنهم په کثرت سره موجود دي د نبی کریم صلی الله علیه وسلم کپړی موجود دي لا زاړه شوي نه دي ، لوښي موجود دي مات شوي ندي او تاسو دا حرکتونه شروع کړل په هغه الله می دی قسم وي چی د هغه په قبضه کی زما ساه ده یا خو تاسو داسی مذهب غوره کړی چی د ملت محمد صلی الله علیه وسلم نه زیات هدایت بخش دی او که نه تاسو د ګمراهی دروازه پرانیزئ هغه خلکو وویل حضرت څمونږ مقصد خالص خیر دی ، عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : ډیر خلک داسی وي چی وایي زمونږ اراده د خیر ده او نیکی ده خو هغو ته خیر او نیکي نه نصیب کیږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته فرمایلي دي : څه خلک به داسی پیدا شي چی قرآن شریف به لولي مګر قرآن کریم به د هغوی له مریو نه ښکته نه ځي (د هغوی قرآن لوستل نه به په زړه څه اثر کوي او نه به عند الله مقبول وي) ځکه چی دا تلاوت به هغوی د خپل منشاء مطابق کوي د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منشاء مطابق به نه کوي هغوی خدا پرست نه دي بلکی عقل پرست او خواهش پرست دي ، حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه داسی خفګان سره له هغه ځایه لاړ ، راوي وایي مونږ ولیدل چی هغه خلک وروسته خوارجو سره یوځای شول او کله چی د خوارجو سره جنګ وشو نو هغوی زمونږ په مقابل کی وو (ازالة الخفاء ۱۳۰/۱ حصه اول پنځم شپږم فصل) .

(۹) په یو روایت کی دي چی حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته خبر ورسید چی څینی خلک د ماښام لمانځه نه وروسته په جوماتت کی حلقه جوړوي او په دوی کی یو کس وائي چی دومره ځلی سبحان الله او دومره ځلی الحمد لله او دومره ځلی الله اکبر ووائي او نور د دی مطابق وائي نو ابن مسعود رضی الله عنه د هغو ځوا ته ورغی او د هغوی دا طریقه چی ولیده نو قسم یادولو سره یې وفرمایل : بیشکه تاسو خلک

بی حده تورتم او بدعت کی مبتلا شوی یئ او یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو نه هم په علم کی زیات پوه یئ او بیا یی هغه خلک له جومات نه وویستل (الاعتصام ۱۶۵/۱) (مجالس الابرار ص ۱۲۵ م ۱۸) ایا د ابن مسعود رضی الله عنه پشان جلیل القدر صحابي د تسبیح خوانی مخالف ؤ ایا هغه وهابي ؤ ؟

(۱۰) په حدیث کی دي چی دری صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت حال معلومولو لپاره د ازواج مطهرات په خدمت کی حاضر شول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت د حال معلومولو نه وروسته وویل مونږ چیرته او رسول الله صلی الله علیه وسلم چیرته د ده صلی الله علیه وسلم خو ټول مخکنـي وروستني ګناهونه او خطاګاني معاف شوي (لهذا ده صلی الله علیه وسلم ته د ډیر عبادت ضرورت نشته) او بیا د هغوی نه یو کس وویل زه به همیشه ټوله شپه لمونځ کوم ، دویم وویل زه به همیشه روژه نیسم او کله به هم نه پریدم دریم وویل زه به هیڅکله واده نه کوم (یواځی عبادت به کوم) رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او وی فرمایل : ایا تاسو داسی خبرې کړي دي ؟ واورئ ! په الله قسم زه له تاسو نه زیات د الله نه ویریدونکی یم او د ټولو نه زیات متقي یم او د دی باوجود زه کله روژه نیسم او کله نه ، او د شپی تهجد هم کوم او آرام هم کوم او لدینه علاوه له ښځو سره نکاح هم کوم (دا زما طریقه ده) چا چی زما طریقه پریښوده هغه زما ندی .

" جاء ثلثة رهط الی بیوت ازواج النبی صلی الله علیه وسلم یسئلون عن عبادة النبی صلی الله علیه وسلم فلما اخبروا کانهم تقالوها فقالوا واین نحن من النبی صلی الله علیه وسلم قد غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر قال احدهم اما انا فانی اصلی اللیل ابداً وقال اخرانا اصوم الدهر ولا افطر وقال اخر وانا اعتزل النساء فلا اتزوج ابداً فجاء رسول الله صلی الله علیه وسلم الیهم قال انتم الذین قلتم کذا وکذا انا والله انی لاخشاکم لله واتقاکم له لکنی اصوم وافطر واصلی وارقدوا تزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی " (بخاری شریف ج ۲ ص ۷۵۷ پ ۲۱) (مشکواة باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۲۷) .

وګورئ ! پدی ذکر شوي حدیث کی ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه صحابه کرام له خلاف سنت زیات نفلي روژو ، لمونځونو نه منع نه کړل ؟ ایا د زیات عبادت په

غرض بغیر واده پاتی کیدو نه منع نه کړل ؟ ایا د دواړو جهانو سردار صلی الله علیه وسلم وهابي و ؟

دا کامل ، مستند ، ایمان تازه او مضبوطونکي واقعات ولولئ او نورو ته یی هم واوروئ ، د چا په زړه کی چی انصاف او د حق طلب وي هغه لپاره به انشاء الله کافي او شافي ثابت شي . البته څوک چی د خپل نفس بنده وي ، د چا مذهب چی نفسي خواهشات وي چی نفس یی کوم خوا ته وغواړي نو روان یی کړي هغه کله هم نه مني ، د داسی ضدي ، معتصب متعلق الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته داسی خطاب کوي : " فان لم یستجیبوا لکم فاعلم انما یتبعون اهوائهم ومن اضل ممن اتبع هواه بغیر هدی من الله ان الله لایهدی القوم الظالمین " (سورت قصص) .

ترجمه : که چیرته دا خلک ستا دلیل او خبره نه مني نو پوه شه چی دا خلک خالص د خپلو نفسي خواهشاتو بندګان دي (چی کوم شی زړه مني قبلوي یی او کوم چی نه مني نه یی قبلوي) او کوم سړی چی د الله تعالی هدایت پریږدي او دخپلو خواهشاتو پیروي وکړي د هغه نه لوی ګمراه بل نشته او یقیناً داسی ظالمانو ته الله تعالی هدایت نه کوي .

لنډه دا : د سوال نه چی کوم ذهنیت ظاهریږي دا ګنده خیالات او ګمراه کن شیطاني حجت بازي دی (نعوذ بالله) د دی مثال د وینه (چینجي) دی لکه وینه چی لرګی ختموي بدعتي هم (نعوذ بالله) نبوي طریقه نیست و نابودونکی او ددی په ځای شیطان ته خوښ بدعات رواجونکی دی ، الله تعالی دی زمونږ حفاظت وکړي (آمین) .

دحضرت سفیان ثوري نه روایت دی چی بدعت شیطان ته د ټولو ګناهونو څخه زیات محبوب دی پدی چی له ګناهونو نه توبه کیدی شي او د بدعت نه خو څوک توبه نه وباسي او د دی وجه دا ده چی ګنهګار خو دا ګني چی زه ګنهګار یم د ده د توبی او استغفار امید شته او بدعتي خو دا ګني چی زه عبادت او طاعت کی لګیا یم نو دا نه توبه کوي او نه استغفار ، دا مضمون پخپله ابلیس نه نقل دی دی وایي چیما د بنی آدم ملا په ګناهونو سره ماته کړه او دوی زما ملا په توبه او استغفار سره ماته کړه نو ما ورته داسی ګناهونه پیدا کړي دي چی نه ورته توبه کوي او نه استغفار او هغه بدعتونه دي چی د عبادت په صورت کی یی کوي (مجالس الابرار ص ۱۳۹ م ۱۸) .

پدی وجه امام غزالي تصریح کړی چی : که چیرته تاسو کوم یوکار د شارع علیه السلام دحکم او پیروي نه بغیر وکړئ اګر که هغه کار د عبادت په صورت کـی ولی نـه وي هغـه عبادت نه بلکی ګناه ده (مکتوب ص ۹) .
دین اسلام الهي دین دی ، د دی احکام چا جوړ کړي ندي بلکی د الله تعالی له طرفـه دي ، الله تعالی چی کوم احکام خپل رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ته لیږلي دي د دی نوم شریعت محمدي صلی الله علیه وسلم دی لهذا د دیني کار کیدو او نه کیدو دار و مدار په قرآن و حدیث او د صحابه کرامو په طریقو باندی دی ، پـه عقـل و خـواهش و اراده او اختیار باندی ندی . فقط والله اعلم

د صفر په میاشت کی نحوست (سپیرتوب) شته او که نه ؟

(۱۴ سوال) د ښځو خیال او عقیـده ده چـی دصـفر میاشـت او خاصـکر ابتـدائي (۱۳) ورځی منحوس او نامبارک دي ، پدی ورځو کی نکاح ، خطبه او سفر کول ښکار نـدي او که نه نقصان به وشـي ، ایا دا عقیده صحیح ده ؟
ځواب : مذکوره خیالات او عقائد د اسلامي تعلیماتو څخه خلاف دي ، د جاهلیت زمانه کی به خلکو د صفر میاشت سپیره ګڼلو ، رسول کریم صلی الله علیه وسـلم دغـه خیـالات په سختو ټکو کی رد کړي دي ، په حقیقت کی وخت ، ورځ ، میاشت یا تـاریخ منحـوس نه وي بلکی نحوست د بندګانو په افعالو او اعمالو پوری تعلق لري ، کـوم وخـت چـی بندګانو په عبادت کی تیر کړی هغه وخت د دوی په حق کی مبارک وي او کوم وخـت چی په ګناه تیر کړ هغه ورته منحوس وي په حقیقت کی مبارک عبادات دي او منحـوس معصیات او ګناهونه ، غرض دا چی د صفر میاشت منحوس نـدی مګـر منحـوس زمونـږه بدعملونه او غیر اسلامي عقیدې دي ، د دی ټولو پریښودل او ورنه توبـه کـول ضـروري دي ، د صفر د میاشتی ابتدائي (۱۳) ورځی سـپیره ګڼلـو سـره د واده ، کویـدن او سـفر وغیره کارونو څخه منع کیدل سخته ګناه ده .
په نصاب الاحتساب کی دي : کوم سړی چی د سفر په اراده له کوره ووځي او د کارغـه په آواز اوریدو سره د سفر نه بند شي نو د بزرګانو په نزد هغه سـړی کـافر ګڼلی کیـږي (مجالس الابرار ص ۲۴۸ م ۳۹) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د جاهلیت د باطلو طریقو په رد کولو سره فرمایلي دي[1] " لا عدوی " یعنی د مرضونو تعدي (ساري توب) هیڅ شی نـدی یعنی د یـو سړي مرض بل ته لګیدل غلطه عقیده ده او وی فرمایل : " ولاطیرة " بدفالي نیول هیڅ شی ندی یعنی مثلاً ښځی ته پیشو یا ښځه یا کوڼ سړی راشي نو کار نه کیږي ، داسی عقیده باطله ده " والطیرة شرك " (دری ځلی) بدفالي شرک دی ، بدفالي شرک دی ، بدفالي شرک دی . او وی فرمایل " ولاهامة " یعنی د کونګ مرغی نحوست هم څه شی ندی ، د مشرکانو عقیده دا وه چی کوم ځای (الو) کونګ آواز وکړي هغه کور تباه کیږي ، پدی بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : " ولاهامة " او دا عقیده یی باطله وګرځوله ، او بیا یی وفرمایل : " ولاصفر " او د صفر د میاشتی نحوست هم هیڅ شی ندی (بخاري باب لاهامة ۸۵۷/۱) .

مشرکانو د صفر میاشت (۱۳) تاریخ پوری منحوس ګڼلو پدی بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی تردید وکړ ، افسوس مسلمانان د پیغمبر اسلام صلی الله علیه وسلم د فرمان په خلاف د مشرکانو د عقیدی پیروي کوي .

همدا شان د ښځی . اس او د کور د نحوست عقیده هم غلطه او باطله ده ، داسی ټول خیالات د مشرکانو دي اسلامي نـدي ، غیر مسلمو سره د ناسته ولاړی په وجه جاهلانو او خصوصاً ښځو کی داسی غیر اسلامي خیالاتو ځای نیولی ، د حکماؤ مشهوره مقوله ده " القبائح متعدیة والطبائع متسرقة " یعنی خرابی خبرې خوریږي او د خلکو طبیعتونه غله دي یعنی خرابی خبرې زر قبلوي ، فقط والله اعلم.

د صفر د میاشتی آخري چهارشنبه ځنګه ده ؟ او دا د خوشحالی ورځ لمانځل ځنګه دي ؟

(۱۵ سوال) د صفر د میاشتی آخري چهار شنبه چی ځنګه لمانځل کیږي او مناویږي سکولونه او مدرسی رخصتیږي او دا د خوشحالی ورځی په طور لمانځل کیږي د دی

---

[1] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاعدوی ولاطیرة ولاهامة ولاصفر (بخاری باب لاهامة ۱ ۸۵۷) .

کوم ثبوت شته ؟ داسې ویل کیږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صفر د میاشتې آخري چهارشنبه کې د مرض نه صحت موندلی او غسل کولو سره سیر و تفریح کړی پدی وجه مسلمانانو ته دغه خوشحالي لمانځل پکار دي ایا دا خبره صحیح ده ؟ خصوصاً بریلوي عقیدی والا مسلمانان د دی ورځې زیات اهتمام کوي.

ځواب : مذکوره خبرې بالکل بې اصل او بې دلیله دي ، مسلمانانو لپاره آخري چهار شنبه د خوشحالی ورځ په طور باندی لمانځل ندي پکار ، شمس التواریخ وغیره کې دي چې " ۲٦ د صفر ۱۱ھ د دوشنبې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته رومیانو سره د جهاد کولو حکم ورکړی او په ۲۷ صفر د سه شنبې په ورځ اسامه رضی الله عنه د لښکر امیر مقرر شوی او په ۲۸ صفر چهارشنبې په ورځ اګر که رسول الله صلی الله علیه وسلم بیمار شوی ؤ لیکن پخپل مبارک لاس یې تیر (غشې) تیار کړ او اسامه رضی الله عنه ته ورکړ تر اوسه لاحرکت یې نه ؤ کړی چې د چهارشنبې د ورځې آخري حصه او د پنجشنبې اوله حصه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض ډیر سخت شو او یوه هنګامه جوړه شوه د همدی ورځې ماسخوتن وخت نه رسول الله صلی الله علیه وسلم د امامت لپاره ابوبکر صدیق رضی الله عنه مقرر کړ (شمس التواریخ ۱۰۰۸/۲ ، ۱۰۰۹) .

لدینه ثابتیږي چې په ۲۸ صفر د چهارشنبې په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض زیات شوی ؤ او دا د صفر د میاشتې د آخري چهار شنبې ورځ وه ، دا ورځ خو مسلمانانو لپاره د خوشحالي نه ده البته د یهودو لپاره د خوشحالي ورځ کیدی شي ، دغه ورځ لمانځل . خوشحالي کول ، مدرسې وغیره رخصتول دا ټولی خبرې خلاف شرع او ناجائز دي ، بریلوي حضرات دی ورځې ته ولی اهمیت ورکوي دا خبره ذهن ته نه پریوځي ، د دوی جلیل القدر بزرګ مولوي احمد رضا خان خو آخري چهار شنبه نه منلو ، په احکام شریعت کې دغه لاندی سوال و ځواب وګورئ :

(سوال) پدی مسئله کې دیني علماء څه فرمایي چې د آخري چهارشنبې متعلق خلکو کې دا مشهور دي چې پدی رسول الله صلی الله علیه وسلم له مرض نه صحت موندلی ؤ نو پدی بناء پدې ورځ خوراک ، شیریني وغیره تقسیموي او سیل لپاره ځنګل ته ځي ......لهذا په شریعت کې د دی ثبوت شته یا نه ؟

خواب : آخري چهارشنبه هيڅ کوم ثبوت نه لري او نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی ورځ د صحت یابی څه ثبوت شته بلکی د مرض کوم چی وفات پکـی واقـع شـو د دی ابتداء په همدی ورځ شوی ، فقط والله اعلم (احکام شریعت ۵۰/۲) .

د محرم په ورځو کی ماتم کول څنګه دي ؟

(۱٦ سوال) هر کال د محرم میاشت په شروع کی لس ورځی د حضرت حسـین رضـی الله عنه ماتم کولی شي د دی څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د حضرت حسین رضی الله عنه د ماتم رسم سخت مکروه او ممنوع دی ، قطب رباني شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمايي : " ولو جاز ان يتخذ يـوم موتـه مصيبة لكان يوم الاثنين اولى بذلك اذ قبض الله تعالى نبيه محمداً صلى الله عليـه وسلم فيه وكذالك ابوبكر الصديق رضی الله عنه قبض فيه "

یعنی که چیرته د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت ورځ د مصیبت او ماتم ورځ په طور ولمانځل شي نو بیا د دوشنبه (پیر) ورځ دی غم او مصیب لپاره زیـات مناسـب دي ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صـدیق رضـی الله عنـه دواړه پـدی ورځ وفات شوي دي (او حال دا چی داسی چا نه دی کړی) ..(غنية الطالبين ۳۸/۲)

او علامه ابن حجر مکي فرمـايي : " واياه ثم اياه ان يشغله ببدع الرافضة ونحوهم من الندب والنياحة والحزن اذ ليس ذلك من اخلاق المؤمنين و الا لكان يـوم وفاتـه صلى الله عليه وسلم اولى بذلك واحرى "

یعنی : خبردار ! د عاشورا په ورځ د روافضو (شیعه) په بدعتونو کی مبتلا نشئ لکه مرثیه خواني ، ژړا و فریاد او غم کول ځکه چی دا خرافات د مسلمانانو له شـان سـره مناسـب ندي که داسی کول جائز وای نو د دوی زیات حقدار د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات ورځ ده (صواعق محرقه ص ۱۰۹ ، او شرح سفر السعادت ص ۵۴۳) .

او علامه شیخ رومي رحمه الله فرمـايي : " واما اتخاذه ماتما لاجل قتل الحسين بن على رضى الله عنهما كما يفعله الروافض فهو من عمل الذين ضل سعيهم فى الحيـواة

الدنيا وهم يحسبون انهم يحسنون صنعا اذ لم يامر الله ولارسوله باتخاذ ايام مصائب الانبياء وموتهم ماتما فكيف بما دونهم ؟ "

يعني : پدی ورځ د حضرت حسين بن علی رضی الله عنهما د شهادت په سبب ماتم کول لکه شيعه ګان چی کوي دا د هغو خلکو کار دی چی کوشش يی دنيا کی ضائع شوی او دوی ګمان کوي چی مونږ ډیر ښه کار کوو ، ځکه چی الله تعالی او د ده رسول صلی الله عليه وسلم د انبياء کرامو عليهم السلام د مصيبت او د دوی د وفات کيدو ورځو لره د ماتم کولو حکم ندی کړی نو د دوی څخه د ادنی خلکو به څه تپوس کوی ؟

(مجالس الابرار ص ۲۳۹)

محدث علامه محمد طاهر رحمه الله ليکي : " فانه يشبه تجديد الماتم وقد نصوا على كراهية كل عام فى سيدنا الحسين مع انه ليس له اصل فى امهات البلاد الاسلامية "

يعني : هر کال د سيدنا حسين رضی الله عنه ماتم کول علماؤ مکروه تحريمي ګرځولي او د اسلامي ملکونو څخه يوځای کی هم دا طريقه رائج نه ده (مجمع البحار ۵۵۰/۳).

حضرت شاه سيد احمد بريلوي رحمه الله فرمايي : " وسوائی آن هر احداد حرام و ګناه است ګو بر پيغمبر باشد يا برصديق يا بر شهيد ، ايام موت و قتل و شهادت باشد يا غير آن، تخصيص هيچ کس درين حکم نيست الخ " (صراط مستقيم ص ٦٠) .

يواځی د محرم لسم روژې نيول څنګه دي ؟

(۱۷ سوال) چی د لسم محرم روژه ونيسي او د نهم ورسره ونه نيسي څه پروا لري ؟

ځواب : د لسم محرم سره د نهم محرم هم روژه کول پکار دي او که نه نهم محرم ونه نيولي شي نو بيا دی ورسره يولسم ونيسي که نه يواځی د لسم روژه مکروه کيږي :

"وتنزيها كعاشوراء وهذه (درمختار) اى منفردا عن التاسع او عن الحادى عشر (امداد) لانه تشبه باليهود (شامی ج ۲۷۰ ص ۱۱٤ مراقی الفلاح ص ۱۲٤)

فقط.

د عاشور د روژی څه فضیلت دی ؟

(۱۸ سوال) د عاشورا د روژی متعلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې زه د الله تعالی نه امید لرم چې د تیر شوي یو کال د ګناهونو کفاره یې وګرځي ، ایا پدی سره کبیره ګناه هم معاف کیږي یا یواځې صغیره ؟
ځواب : دا ارشاد ګرامي خو د صغیره ګناهونو په باره کې اطمئنان او یقین ورکوي پاتی د کبیره ګناه په باره کې هم د الله تعالی نه د معاف کیدو امید ساتل پکار دي مګر د دی حدیثو دا مطلب ندی چې پدی باندی بهروسه او ډاډ من شي او ګناه وکړي بلکی خپلو ګناهونو باندی خفه او نادم کیدل لازم دي او د ګناه نه د ځان ساتلو کوشش باید وشي نو دا شیان به مدد ګار وګرځي .

د تعزیه سازي‌نه جائز کیدو دلیل څه دی ؟

(۱۹ سوال) تعزیه جوړول جائز ندي د دی واضح دلیل څه دی ؟
ځواب : د تعزیه سازي ناجائز کیدل او د دین او ایمان خلاف کیدل اظهر من الشمس دی ، ادنی درجی مسلمان لپاره هم د دلیل وړاندی کولو ضرورت نشته ، په قرآن مجید کی دي : " اتعبدون ماتنحتون " ایا د داسی څیزونو عبادت کوئ چې پخپله مو تراش کړي او جوړ کړی دي ؟ ظاهره ده چې تعزیه انسان پخپل لاس د بانس نه جوړوي او بیا ورته نذرونه مني او خپل مرادونه ترینه غواړي او د ده په وړاندی د اولاد و صحت دعاګانی کولی شي ، سجده ورته کولی شي ، د ده زیارت د حضرت حسین رضی الله عنه زیارت ګڼلی شي ، ایا دا ټولی خبری د اســـلام د روح او د اسلامي تعلیماتو نه خلاف ندي ؟
علامه حیات سندهي ثم المدني رحمه الله (المتوفي ۱۱٦۳ھ) فرمایي : د شیعه د بدیو څخه یوه بدي دا ده چې دوی د حضرت حسین رضی الله عنه د قبر تصویر جوړوي او نه یې ښایسته کوي او لارو کوڅو کی یې ګرځوي او یاحسین یا حسین آوازونه کوي او فضول خرڅونه کوي دا ټولی خبری بدعت او ناجائز دي (الرقضه فی ظهر الرفضه) .
حضرت شاه سید احمد صاحب بریلوي رحمه الله فرمایي : " از جمله بدعات رفضه که درد یار هندوستان اشتهار تمام یافته ماتم داري وتعزیه سازي ست درماه محرم بزعم محبت حضرت حسین بن علی رضی الله عنهما ...... این بدعات چند چیز ست اول

ساختن نقل قبور ومقبره و علم و سدر غیرها واین معنی بالبداهت از قبیـل بـت سـازي و ت پرستي " .
(صراط مستقیم ص ۵۹)

و په فتاوي غرر الدر کی دي ، جدا قبر جوړول او دهغه زیارت او اکرام کول لکـه چـی د عاشورا په ورځ شیعه ګـان کـوي حـرام دي او داسـی کـونکی ګنهګـار ذی او حـلال ګڼونکی کافر دی ، د بدعتیانو پیشوا مولوي احمد رضاخان بریلوي صـاحب فتـوی هـم همدا ده وکوری .

(۱) علَم (بیرغ) تعزیه ، نکریزی کوم قسم چی رائج دی بدعت دی او په بدعت سـره د اسلام شوکت نه کیږي ، تعزیه لره حاجت روا ګڼل جهالت د پاسـه جهالـت دی او دیتـه نذرونه منل حماقت او نه کول یی باعث د نقصان ګڼل د ښځو وهم دی مسـلمانانو تـه د داسی حرکتونو څخه ځان ساتل پکار دي (رساله محرم و تعزیه داري (۵۹) صفحه) .
(۲) په محرم شریف کی ماتم کول حرام دي (عرفان شریعت ۷/۱) .
(۳) تعزیه چی روان ووینی نو اعراض او مخ ترینه واړوئ دیته کتل هم ندي پکار .
(عرفان شریعت ۱۵/۱)
(۴) محرم شریف کی په مرثیه خوانی شرکت کول ناجائز دي (عرفان شریعت ۱٦/۱) .
(۵) تعزیه داري د هغه ناکاره طریقی نوم دی کوم چـی قطعاً بـدعت و ناجـائز او حـرام دی (رساله تعزیه داري دویم حصه) .

د مولوي محمد مصطفی رضاخانی بریلوي نوري برکاتي صاحب فتوی :
تعزیه جوړول بدعت دی پدی سره د اسلام شوکت او دبدبه نشي کیدی ، د مال ضـائع کول دي ، دی لپاره سخت وعید راغلی دی (رساله محرم و تعزیه داري (٦۰) صفحه) .

د مولوي محمد عرفان رضوي صاحب فتوی :
تعزیه جوړول او پدی باندی ګلان اچول وغیره دا ټول کارونه ناجائز او حرام دي .
(عرفان هدایت (۹) صفحه)

د غیر ذی روح تعزیه جوړول جائز دي یا نه ؟

(۲۰ سوال) د غیر ذی روح تعزیه تصویر او نقشه ده لکه د کعبې شریفې نقشه ، مدینه منوره ، روضه اطهر ، بیت المقدس وغیره نقشه ، نو بیا د ناجائز کیدو څه وجه ده ؟

ځواب د غیر ذی روح تصویر د نقشې جائز کیدو شرط دا دی چې د دې عبادت او خلاف شریعت تعظیم نه کیږي ، په درمختار کې دي : " او لغیر ذی روح لا یکره لانها لاتعبد (قوله لانها لا تعبد) ای هذه المذکورات وحینئذ فلا یحصل التشبه فان عبد الشمس والقمر والکواکب والشجرة الخضراء قلنا عبد عینه لا تمثاله " درمختار مع الشامی ص ٦٤٩ مکروهات الصلاة .

یعنی د کعبې شریفې وغیره نقشو عبادت نه کیږي ، طواف يې نشي کولی ، نذر و نیاز ورته نشي کولی او د اصل کعبې پشان د نقشې تعظیم نه کیږي ، مګر تعزیه داري او تعزیه سازي د اعتقادي او اصل خرابیو څخه پاکه نده ، تعزیه ته سجده کولی شي ، طواف ترینه کولی شي ، نذرونه ورته منلی شي ، د ده په خوا کې مرادونه غوښتل کیږي ، او درخواستونه پرې ځوړندولی شي ، نو پدې وجه د دې جوړول او په کور کې ځوړندول ناجائز دي ، که چیرته د کعبې شریفې وغیره تصویرونو سره هم مذکوره حرکتونه وکړی شي نو هغه هم ناجائز ګرځي ، علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمایي : " فان کان ما اعظم بالباطل من مکان او زمان او حجر او شجر او بنیة یجب قصد اهانته کما اهانة الاوثان المعبودة " (فتاوی ابن تیمیه ۷٦/۲) .

یعنی : داسې هر یو څیز چې په باطل طور باندې تعظیم يې وکړی شي که هغه مکان وي یا زمان او که کاڼی وي یا بوټی نو د باطلو معبودانو پشان د دې هم د تحقیر او تذلیل قصد لازم دی ، فقط .

نوټ : د بزرګانو د تصویرونو والا کړو سوال په متفرقاتو کې راغلی دی .

د مولود شرعي حکم څه دی ؟

(۲۱ سوال) د مولود شریف کولو متعلق شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ولادت شریف ذکر او د ده صلی الله علیه وسلم ویښته مبارک ، لباس ، نعلین (پڼې) او د ده صلی الله علیه وسلم ناسته ولاړه ،

خوراک څښکاک ، خوب او ويښه وغيره حال بيانول او اوريدل مستحب او د رحمت و برکت نازليدو موجب دي بلکې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ذات کرامي سره چې د کوم څيز لږ ډير مناسبت وي لکه د ده صلی الله علیه وسلم پنو خاورې او د ده صلی الله علیه وسلم بول و براز بلکې د ده صلی الله علیه وسلم د سورلي د خر متيازې او خوله ذکر هم د ثواب نه خالي ندي خو چې په صحيح حديثو او معتبرو روايتونو ثابت وي او د ذکر طريقه هم مطابق د سنت وي ، په اشارد الطالبين کې محدث حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي صاحب حديث نقل کړی : "ان القول لايقبل مالم يعمل به وكلاهما لا يقبلان بدون النية والقول والعمل والنية لاتقبل ما لم توافق السنة" سخن مقبول نيست بدون عمل کردن و هر دو مقبول نيستند بدون نيت وهر سه مقبول نيستند که موافق سنت نباشند (۲۸) صفحه) .

يعنى بغير د عمل نه قول صحيح ندی او دا دواړوه (قول و عمل) بغير د صحيح نيت نه مقبول ندي او د قول و عمل و نيت قبليدو لپاره ضروري دي چې د سنتو موافق وي.

او د " ليبلوكم ايكم احسن عملاً " د آيت كريم په تفسير کې دي : " ذكروا في تفسير احسن عملاً وجوهاً (احدها) ان يكون اخلص الاعمال واصوبها لان العمل اذا كان خالصاً غير صواب لم يقبل وكذلك اذا كان صواباً غير خالص فالخالص ان يكون لوجه الله والصواب ان يكون على السنة " .

يعنى د احسن عملاً نه مراد عمل مقبول دی او مقبول عمل هغه دی چې خالص وي او صواب هم وي . که چيرته عمل خالص وي مګر صواب نه وي نو هغه مقبول نه دی او همداشان چې صواب وي مګر خالص نه وي هغه هم مقبول ندی نو عمل خالص هغه دی چې محض د الله رضا لپاره وکړی شي او صواب هغه دی چې د سنت مطابق وي (تفسير كبير ۲۴۳/۸ ، العبوديه (۲۰ ، ۲۱) صفحه) .

او حضرت احمد بن ابى الحواري رحمه الله فرمايي : " من عمل بلا اتباع سنة فباطل عمله " يعنى څوک چې د سنت د اتباع نه بغير عمل وکړي هغه باطل دی .

(الاعتصام ۱۱۴/۱)

د حضرت سفیان ثوري رحمه الله قول دی :

" لایستقیم قول و عمل و نیة الا بموافقة السنة " یعنی هیڅ یو قول و عمل او نیت ز هغی پوری صحیح ندی څو پوری چی د رسول مقبـول صـلی الله علیـه وسـلم د سنتو موافق نه وي .

(تلبیس ابلیس (۹) صفحه

همدا شان د شیخ عبد القادر جیلاني ارشـاد دی : " لایقبل قول بلا عمل ولا عمـل بلا اخلاص واصابة السنة " (فتح الربانی ۱/ ۱٤) .

یعنی هیڅ یو قول بغیر د عمل نه مقبول ندی او هیڅ یو عمـل تـر هغـی پـوری مقبـول ندی څو پوری چی هغه کی اخلاص نه وي او د سنت موافق نه وي .

د ولادت شریفه ذکر هم یو عمل دی، د دی صحیح طریقه دا ده چـی بغیـر د پابنـدی د رواج د میاشت او د ورځ د تعین نه بغیر په کوم یو میاشت او پـه کـوم یـو تـاریخ کـی د وعظ په مجلس کی یا د درس و تدریس په طور او یـا خپلـو مجلسـو کـی او یـا پخپلـه د قرآني ایاتو او صحیح روایتونو سره د رسول الله صلی الله علیه وسـلم ولادت شـریفه او د ده صلی الله علیه وسلم صفات ، کمالات او معجزات وغیره بیان کـړی شـي ، او واعـظ او مقرر هم باعمل او متبع سنت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحیح عاشـق کیـدل پکار دي .

(نن صبا د میلاد رسمي مجلسـونو کـی پـه غونډیـدو سـره د جاهـل شـاعرانو کیسـی او مصنوعي او بی سنده روایتونه د ترنم او نغمی په لحاظ سره لولي او پدی کی فاسقان او بیلمازان هم وي) او دغه مذکوره طریقه ضروري ګڼي ، دا خـلاف سـنت او بـدعت ده، دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعینو او تبع تابعینو کی د چا نه هم ثابت ندي ، په مجالس الابرار کـی دي : " ویستحب التکبیر فی طریق المصلی .... لکن لا علی هیئة الاجتماع والاتفاق فی الصوت ومراعات الانغام فان ذلك کله حرام " .

یعنی د عیدګاه په لاره کی تکبیر ویل مستحب دي لیکن ټول په یوځای کیدو سره او نه په یو آواز د نغمی او د ترنم په رعایت کولو سره څکه چی دا ټول حرام دي .

(م ۳۲ ص ۲۱۳)

وګورئ تکبیر ویل مستحب دي لیکن مذکوره طریقی سره ویل ثابـت نـدي پـدی وجه فقهاء ورته ناجائز واني ، یو روایت کی دي :

" عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه لما اخبر بالجماعة الذین کانوا یجلسون بعد المغرب وفیهم رجل یقول کبرو الله کذا وکذا وسبحوا الله کذا وکذا وحمدو الله کذا وکذا فیفعلون فحضر هم فلما سمع ما یقولون قام فقال انا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه الله الذی لا اله غیره لقد جئتم ببدعة ظلماء او لقد فقتم علی اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم "

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته خبر ورسیده چی یو څو کسان د مابنام لمانځه نه وروسته جومات حلقه جوړوي او پدوی کی یو سړی وائي چی تکبیر ، تسبیح او تحمید دومره دومره ځلی ووائي بیا ټول یو ځای ذکر شروع کړي نو ابن مسعود رضی الله عنه د هغوی خوا ته ورغی او چی د هغوی حالت یی ولید نو په قسم سره یی ورته وفرمایل : تاسو خلک په یو ډیر تیاره بدعت کی مبتلا شوی یئ او یا دا چی تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم مخکی شوی یئ (چی تاسو هغه څه کوئ کوم چی صحابه کرامو رضی الله عنهم ندي کړي) .

(الاعتصام ۱۶۵/۲ ، مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۵)

د تکبیرونو په ویلو کی څه خبره نشته لیکن طریقه د خلاف سنت کیدو په وجه جلیل القدر صحابی ورباندی د بدعت فیصله وکړه ، همداشان دامروجه د میلاد محفلونه هم ګنلي پکار دي ، حضرت علامه ابن الحاج فرمایي : " (الا تری) انهم لما خالفوا السنة المطهرة وفعلوا المولود لم یقتصروا علی فعله بل زادوا علیه ما تقدم ذکره من الاباطیل المتعددة " .

کله چی خلکو (میلاد خوانانو) د سنت مطهره مخالفت وکړ او مروجه مولود یی پیدا کړ نو بیا یی یواځی په ذکر میلاد باندی هم اکتفاء ونه کړه بلکی ډیره هغه باطل او غلطی خبری یی ورزیاتی کړی کومی چی مخکی ذکر شولی (المدخل ۱۵۷/۱) .

او حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله د مذکور میلاد د رواج بندیدو تاکید کړی دی .

(مکتوب ۱۳۰/۳ مکتوب نمبر ۷۲)

خلاف پیمبر کی ره ګزید
که هرګز بمنزل نخواهد رسید

فقط والله اعلم

په میلاد کی قیام (ودریدل)

(۲۲ سوال) د میلاد په مجلس کی د ولادت ذکر کولو په وخت کی خلک ودریږي د دی لږ وضاحت غواړو، مهرباني.

ځواب: دا هم بی اصل او بی دلیل دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د تابعینو او تبع تابعینو له قول او فعل نه ثابت ندي، نو د دی التزام هم بدعت دی.

په سیرت شامي کی دي چی د ځینو خلکو عادت جوړ شوی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ولادت ذکر کولو وخت کی ودریږي لیکن درحقیقت دا بدعت دی او د دی هیڅ ثبوت نشته. حقیقت دا دی چی د مروجه محفل میلاد پشان قیام (ودریدل) هم بی اصل دي، که چیرته د قیام مقصد د ذکر ولادت تعظیم وي نو دخطبو او تقریرونو په مجلسو کی یا د تفسیر قرآن او حدیثو د درس و تدریس په وخت کی تر ساعتو ساعتو پوری د ولادت تذکره کیږي هغه وخت کی ولی قیام نه کوي؟ که چیرته د قیام کونکو عقیده دا وی چی د میلاد مجلس ته رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړي یا د تشریف راوړو احتمال دی پدی وجه قیام کوو نو پورته مذکوره موقعو کی ځنګه تشریف نه راوړي؟ که تشریف یی راوړلی او یا د دی احتمال وای نو دلته ولی قیام نه کوي؟ په هر حال د ذکر میلاد په وخت کی د قیام التزام بدعت دی او لدینه ځان ساتل ضروروي دي.

په حدیث کی دي: " عن ابن عبد الله بن مغفل رضي الله عنهما قال سمعنی ابي وانا في الصلواة اقول بسم الله الرحمن الرحيم قال لي اي بني محدث اياك والحدث قال ولم ارا احداً من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ابغض اليه الحدث في الاسلام يعني منه "

د حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه ځوی په لمانځه کی د سورت فاتحی په شروع کی بسم الله په زوره ووایه نو حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه وویل ای ځویه! دا بدعت دی لدینه ځان ساته. په صحابه کرامو کی ما بل څوک لدی نه زیات د بدعت سره بغض لرونکی ندی لیدلی.

(ترمذی ۳۳/۱ باب ما جاء في ترك الجهر بسم الله الرحمن الرحيم)

وګورئ ! بسم الله په ورو ویلو په خای په زوره ویل صحابي بد وګڼل او بدعت یی ورته وویل او استدلال یی وکړ چی : " وقد صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم ومع ابی بکر و عمر و مع عثمان فلم اسمع احدا منهم یقولها فلا تقلها اذا انت صلیت فقل الحمد لله رب العالمین الخ " .

یعنی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ابوبکر ، عمر او عثمان رضی الله عنهم هر یو پسی لمونځ کړی خو د چا نه هم بسم الله په زوره ندی اوریدلی .

او بل روایت کی دي :

" عن نافع ان رجلاً عطس الیٰ جنب ابن عمر رضی الله عنهما فقال الحمد لله والسلام علی رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام علی رسول الله ولیس هکذا علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم علمنا ان نقول الحمد لله علی کال حال " .

حضرت نافع فرمایي چی د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما خوا ته یو سړي پرنجی وکړ نو هغه الحمد لله والسلام علی رسول الله وویل ، حضرت ابن عمر رضی الله عنهما والسلام علی رسول الله زیاتول بد وګڼل او وی فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی موقع مونږ ته یواځی د " الحمد لله علی کل حال " ویلو تعلیم راکړی دی او بس.

(ترمذی شریف ص ۹۸ باب ما یقول العاطس اذا عطس)

کوم صحابه کرام رضی الله عنهم چی دومره قدری زیاتی نشو برداشت کولی ایا دوی به قیام اضافه خوښ کړي ؟ هرګز نه ! خاص کر پداسی حالت کی " لم یقوموا لما یعلمون من کراهیة لذلك " یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په راتګ به صحابه کرام رضی الله عنهم د ادب لپاره ودریدل رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تکلیف د دوی خوښ نه کړلهذا صحابه کرام رضی الله عنهم بیا کله ونه دریدل .

(شمائل ترمذي وغیره)

خلاف پیمبر کی ره ګزید
که هرګز بمنزل نخواهد رسید

مپنداری سعدی کــه راه صفــا
توان یــافت جــز درپــی مصطفی

فقط والله اعلم

یولسم لمانځل څه حکم لري ؟

(۲۳ سوال) هر کال د ربیع الثاني په میاشت کې د شیخ عبد القادر جیلانـي رحمـه الله د وفات ورځ یولسمی په نوم سره ډیر په جوش او خروش لمانځي د دی څه حکم دی؟

ځواب : یقیناً چې شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله (المتـوفي ۵٦۱هـ) یـو لـوی بـزرگ دی د ده عظمت و محبت د ایمان علامه ده او بی ادبي او گستاخي کـول د گمراهـی دلیل دی .

د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې په ټول مخلـوق کـې د انبیـاء کرامـو رتبـه او درجه ډیره لویه ده او په انبیاؤ کی د ټولو نه افضل د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم ذات گرامي دی ، بیا د ده صلی الله علیه وسلم لومړی خلیفه ابـوبکر صـدیق رضـی الله عنه ، بیا عمر فاروق رضی الله عنه ، بیا حضرت عثمان رضی الله عنه او بیـا حضـرت علـی کرم الله وجهه رتبه ده او بیا وروسته د عشر مبشرهٔ (چاته چې رسول الله صـلی الله علیـه وسلم د جنت خوشخبري ورکړی) او بیا د بـدریانو او د احـد لـه شـریکانو مهـاجرینو او انصارو وغیره صحابه کرامو رضی الله عنهم نمبـروار درجـه ده او لـه دوی نـه وروسـته د تابعینو او بیا د تبع تابعینو رحمهم الله ده ، کوم اولیـاء کـرام او د دیـن بزرگـان چـې د صحبت په شرف مشرف شوي ندي هغوی نه د صحابه کرامو نه افضل دي او نـه د کـوم صحابي سره برابر دي ، د حضرت عبدالله بن مبارک (تابعي المتوفي ۱۸۱ھ) نـه تپـوس وشو چې حضرت (صحابي) او حضرت عمر بـن عبـد العزیـز (تـابعي المتـوفي ۱۰۱هـ) څخه کوم بهتر دی ؟ ابن مبارک ځواب ورکړ په الله قسم ! کومه خاوره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کې د حضرت معاویه رضی الله عنه د آس پوزی ته داخل شوی هغه د حضرت عمر بن عبد العزیز پشان سلو بزرګانو نـه بهتـر دی : " سـئل ایمـا افضل ؟ معاویه او عمر بن عبد العزیز فقال والله لغبار الذی دخل انـف فـرس معاویة مع رسول الله صلی الله علیه وسلـــم خیر من مــأة مثـل ابــن عبـد العزیز " (فتاوی حدیثیة ص ۲٦۱) .

دغه مذکوره حقیقت باندی ښه غور وکړئ چی د انبیاؤ او صحابه کرامو پشان مقدسو شخصیتونو د یوم وفات لمانځلو شریعت هیڅ کوم تاکید ندی کړی نو د حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله د یوم وفات لمانځلو څه مطلب ؟ او هر یو لپاره د ورځی لمانځل ممکن ندي ، ځکه چی د مراتبو او درجاتو په لحاظ حضرات انبیاء کرام علیهم السلام او صحابه کرام رضی الله عنهم د زرګونو په شمیره کی دي او د کال ټولي ورځي (۳۵۴ یا ۳٦۰) دي نو د ټولو د یوم وفات لمانځلو لپاره نوری ورځي د کوم ځای نه پیدا کړو ؟ او د انبیاؤ علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم په پریښودو سره د دوی نه کم او لاندی درجو والا بزرګانو ورځي لمانځل دا د انبیاؤ علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم په مراتبو او درجاتو کی خلل او نقصاني راوستل دي چی دا مرحوم حالي هم ناخوښ ګرځولي : ع

نبی کـو جـو چاهے خـدا کـر دکھـائین
امـامون کـا درجـه نبی سے بـڑھائین

یعنی که څوک وغواړي نو د پیغمبر علیه السلام نه خدای جوړ کړي او د امامانو درجه له نبی نه اوچت کړي .

په حدیث شریف کی دي : چی هر چاسره د هغه د مرتبی مطابق معامله کوئ .

لنډه دا : د کوم رواج متعلق چی سوال شوی دا د عقل او نقل دواړو نه خلاف دی او د دی په بدعت کیدو ذره برابر هم د شک ګنجائش نشته ، صحیح او قابل د تقلید طریقه دا ده چی بغیر د دعوت او بغیر د کوم پابندی نه خپلو عامو مجلسونو کی د انبیاؤ علیهم السلام او صحابه کرامو رضی الله عنهم او همداشان د دین د بزرګانو شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله وغیره اولیاؤ ذکر وکړی شي .

لدینه علاوه حقیقت دا دی چی د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله د وفات په تاریخ کی ډیر زیات اختلاف دی ، په " تفریح الخاطر فی مناقب شیخ عبد القادر " کی اته اقوال بیان کړي دي (۷ ، ۸ ، ۹ ، ۱۱ ، ۱۳ ، ۱۷) او بیا وروسته لیکلي دي چی صحیح لسم ربیع الاول دی .

(بستان المناظر (۱۱۳) صفحه)

لدینه معلوم شو چی د حضرت شیخ خلیفه ګانو ، مریدانو او پیروانو د ده د تاریخ وفات د میاشتی او د ورځی تعین سره کلیزه او د یوم وفات لمانځلو اهتمام ندی کړی او که نه نو په تاریخ وفات کی به دومره اختلاف نه راتلو ، پاتی شو ایصال ثواب ، نو په جائز

طریقه سره بغیر د تعین د میاشتی او د ورځی نه چی کله غواړي کولی شي ، همیشه لپاره د یو تاریخ متعین کول چی هیڅکله هم ترینه خلاف ورزي ونشي نو دا د خپل خان نه زیادت او ایجاد فی الدین دی .

افسوس ! چی فرائضو او واجبات مو له نظره غورځولي دي او په بدعاتو او غیر ضروریاتو کی مبتلا یو او دا د نجات ذریعه گنو ، حضرت شیخ عبد القادر فرمایي :

" المحروم رضا مولاه من لم یعمل بما امرو اشتغل بما لم یؤمر به هذا هو ا لحرمان بعینه والموت بعینه والطرد بعینه " .

یعنی د مولا د رضا کولو نه هغه سړی محروم دی چی د کوم شي ورته امر شوی په هغه خو عمل نه کوي او دکوم شي چی مولا حکم ندی کړی په هغه کی مشغول شي ، همدا اصل محرومیت همدا اصل مرگ او همدا اصل مردودیت دی .

(الفتح الرباني م ٦٠٠ ص ۴۴۰) فقط

د یولسمی رڼا او چراغان کول څنګه دي ؟

(۲۴ سوال) د ربیع الآخر په یولسمه باندی رڼائي او چراغان کولی شي ، په جوماتو کی هم رڼائي کیږي د دی شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : په مذکوره شپه کی رڼائي او د تیلو ډیوي او شمعی بلول او په دیوالو او طاقچو کی اینبودل چی کوم رسم دی دا بالکل ناجائز او بدعت دی او د دیوالي مکمل نقل دی او په جوماتو کی هم د ضرورت زیات رسماً او رواجاً رڼائي کول اسراف او حرام دي که چیرته متولي د جومات له چندی نه کوي نو هغه به د دی تاوان ورکوي ، د شب برات وغیره شپو هم همدا حکم دی " ان سراج السرج الکثیرة لیلة البراءة فی السکك والاسواق بدعة وکذا فی ا لمساجد ویضمن القیم بل لو ذکره الواقف وشرطه لایعتبر ذالك الشرط شرعاً وان لم یکن من مال الوقف بل تبرع به یکون ذلك تبذیراً واضاعة المال والتبذیر حرام بنص القرآن " .

یعنی د برات په شپه کی لارو او کوڅو او بازارو کی ډیوی او بجلیانې رڼا کول بدعت دی او همداشان جوماتونو کی هم ، او متولي به تاوان ورکوي ، بلکی که چیرته وقف کونکی د دی ذکر وکړي او شرط مقرر کړي نو د دی شرط اعتبار نشته دی او که چیرته

دا چراغان د وقف مال څخه نه وي بلکی متولي د خپله ځانه وکړي نو بیا هم دا اسراف او د مال ضائع کول دي او اسراف د قرآن د نص له مخی حرام دی.
(مجالس الابرار م ۲۴ ص ۱٦۵)
" وصرح ائمتنا الأعلام رحمهم الله بانه لایجوز ان یزاد علی سراج المسجد سواء کان فی شهر رمضان او غیره لان فیه اسرافا کما فی الذخیرة " (فتاوی حامدیه ۳۷۸/۲) مسائل وفوائد شتی من الحظر والاباحة وغیر ذلك ومطالبة ، فقط والله اعلم بالصواب .

د مړي د زیارت څه حکم دی ؟

(۲۵ سوال) دلته په زیاتو ځایو کی دا رواج دی چی د وفات نه وروسته د مړي خپلوان د مړي کور ته راځي ځینی دویم او دریم ورځ زیارت کولو سره ځي ځینی پیغلی جینکی هم جل و بل لباس اغستلو سره ورځي او د زیارت خوراک وخوري ، د واده پشان خوراکونه ، پان ، سیګریټ وغیره هم راغوښتل غواړي او که نه د خلکو د طعنو او د خبرو ویره وي او بدعتي ، وهابي او دینکلي او فلانی وائي ، دا رواج جائز دی یا نه ؟
ځواب : مذکور رواج بدعت او ناجائز دی ، البته د تاریخ د ورځی تعین او دریمی کلیزی د پابندی نه بغیر ایصال ثواب لپاره غریبانو او فقیرانو ته د خپل حیثیت مطابق طعام او خوراک ورکول منع ندي جائز دي ، پدی سلسله کی دلائل او فقهي عبارتونو لیکلو په ځای وهابي وغیره القاب ورکونکو لوی رئیس د مولوي احمد رضا خان فتوی پیش کول زیات مناسب دي ، وګورئ !
" الجواب سبحان الله ! مسلمان دا تپوس کوي چی جائز دی او که څنګه ؟ دا تپوس باید وکړي چی دا ناپاک رسم څومره قبیح او سخته ګناه او لویو نقصانونو باندی مشتمل دی ، اول دا دعوت پخپله ناجائز قبیح او شنیع بدعت دی ، امام احمد پخپل مسند او ابن ماجه په سنن کی په صحیح سند سره د حضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت کړی : " کنا نعد الاجتماع الی اهل بیت ومنعهم الطعام من النیاحة " یعنی مونږ (صحابه کرام رضی الله عنهم) د مړي په کور کی جمع کیدل او دوی لره خوراک تیارول د مړي نیاحت (ویر) موګڼلو چی د دی په حرمت باندی متواتر حدیثونه وارد شوي .

امام محقق علی الاطلاق په فتح القدیر کی فرمایي : " یکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور لا فی الشرور وهی بدعة مستقبحة " یعنی د مړي د کور والاو له طرفه ضیافت او میلمستیا تیارول منع دي ځکه چی شریعت ضیافت او میلمستیا په خوشحالي کی مقرر کړی نه په غم کی او دا ډیر سخت شنیع بدعت دی ، همدا شان شرنبلالي په مراقی الفلاح کی فرمایلي دي :

" ویکره الضیافة من اهل المیت لانها شرعت فی السرور لا فی الشرور هی بدعة مستقبحة "

او په فتاوی خلاصه (۲) فتاوی سراجیه (۳) فتاوی ظهیریه (۴) فتاوی تاتار خانیه (٦) او ظهیریه نه په خزنة المفتین کتاب الکراهیه او له تاتار خانیه نه فتاوی هندیه کی قریب قریب الفاظ راغلي دي .

" واللفظ للسراجیة لایباح اتخاذ الضیافة عند ثلاثة ایام فی المصیبة زاد فی الخلاصة لان الضیافة تتخذ عند السرورا "

یعنی په غم کی دا د دریمی ورځی دعوت جائز ندی ځکه چی دعوت خو په خوشحالی کی وي .

او فتاوی قاضي خان کتاب الحظر والاباحه کی دي : " یکره اتخاذ الضیافة فی ایام المصیبة لانها ایام تأسف فلایلیق بها ما یکون للسرور " .

یعنی په غم کی ضیافت ممنوع دی پدی چی دا د غم او خفګانِ ورځ ده نو څه چی په خوشحالی کی کیږي هغه پدی حال کی لائق ندی ، په تبین الحقائق د امام زیلعي کی دي : " لابأس بالجلوس للمصیبة الی ثلاث من غیر ارتکاب محظور من فرش البسط والاطعمة من اهل المیت " .

یعنی مصیبت لپاره دری ورځی کیناستو کی څه پروا نشته تر څو د کوم ممنوع امر ارتکاب ونکړی شي لکه اعلی فرش غوړول او د مړي والا له طرفه خوراک برابرول .

امام بزازي په وجیز کی فرمایي : " یکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع " یعنی مړي لپاره اول او دریم یا یوه هفته وروسته چی کوم خوراک تیارولی

شي هغه مکروه او ممنوع دی . علامه شامي په رد المختار کی فرمايي : " اطال ذلك فی المعراج وقال هذه الافعال کلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لانما يريدون بها وجه الله تعالی " (شامی ۸٤۲/۱ جنائز مطلب فی کراهة الضيافة من اهل الميت) يعنی صاحب د معراج الدرايه (شرح هدايه) پدی مسئله کی اوږد بحث کړی او فرمايلي دي چی دا ټول کارونه د نوم او ښودنی لپاره دي لدينه احتراز او بچ کيدل پکار دي .

په جامع الرموز آخر الکراهه کی دي : " يکره الجلوس للمصيبة ثلثة ايام او اقل فی المسجد ويکره اتخاذ الضيافة فی هذه الايام وکذا اکلها کما فی الذخيرة الفتاوی "

يعنی دری ورځی يا کم د تعزيت لپاره جومات کی کيناستل منع دي او پدی ورځو کی ضيافت هم ممنوع دی او د دی خوراک هم منع دی لکه چی په دخيرة الفتاوی کی تصريح کړی دی .

په فتاوی القروي کی دي : " يکره اتخاذ الضيافة ثلاثة ايام واکلها لانها مشروعة للسرور " دری ورځی ميلمستيا او د دی خوراک مکروه دی ځکه چی دعوت خو په خوشحالی کی وي ، په کشف الغطاء کی دي : ضيافت نمودن اهل ميت اهل تعزيت راوپختن طعام برای آنها مکروه است باتفاق روايات چه ايشان راسبب اشتغال بمصيبت استعداد وتهيئه آن دشوار ست ! او په همدی کی ليکي :

پس آنچه متعارف شده ازپختن اهل مصيبت طعام رادر سوم وقسمت نمودن آن ميان اهل تعزيت واقران غير مباح ونا مشروع ست وتصريح کرده بدان درخزانه چه شريعت ضيافت نزد سرور ست نه نزد شرور وهو المشهور عند الجمهور !

او دويم غالباً په ورثه کی کوم يتيم يا نابالغ ماشوم وي يا ځينی ورثه موجود نه وي ، او نه يی اجازه کړی وي ، الله عز وجل فرمايي : " ان الذين يأکلون اموال اليتمی ظلماً انما ياکلون فی بطونهم ناراً وسيصلون سعيراً " يعنی بيشکه کوم خلک چی د يتيمانانو مال په ناحق طور سره خوري دوی په خپلو خيټو کی اور اچوي او زر به جهنم ته داخل شي ، " لاتأکلوا اموالکم بينکم بالباطل " تاسو خپل مالونه خپل منځ کی

باطل طریقی سره مه خورئ ، په خانیه ، بزازیه ، تاتار خانیه او هندیه کی دي : " واللفظ لهاتین ان اتخذ طعاماً للفقراء کان حسناً اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ان اتخذولی المیت طعاماً للفقراء کان حسناً الا ان یکون فی الورثة صغیر فلا یتخذ من الترکة "

دریم : دا ښځی چی راغوندېږي نو ناروا کارونه کوي مثلاً په چیغو چیغو ژړا او خان وهل او ظاهري طور مخ پټول او داسی نور دا ټول نیاحت او ویر دی او نیاحت حرام دی .

داسی مجلس لپاره د مړي عزیزانو او دوستانو ته هم جائز ندي چی خوراک ولیږي ځکه چی دا په گناه کی امداد کول دي ، قال الله تعالی : " ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان " او د مړي والاؤ د طعام او خوراک اهتمام کول خو بالکل ناجائز دي ، د دی مجلس په باره کی په کشف الغطاء کی دي : " ساختن طعام در روز ثاني وثالث برای اهل میت اگر نوحه گران جمع باشند مکروه ست زیرا که اعانت ست ایشان را بر گناه " .

څلورم : اکثر خلک ددی قبیح رسم په وجه دخپل طاقت نه زیات تکلیف کولو ته مجبورېږي تر دی پوری چی مړي والا د خپل غم په هیرولو سره پدی آفت کی مبتلا کیږي چی دی میلی لپاره خوراک ، پان ، سگریټ وغیره د کوم ځای نه پیدا کړو او بار بار د قرض کولو ضرورت پیدا کیږي داسی تکلف شریعت د یو مباح کار لپاره هم نه خوښوي نو د یو ممنوع کار لپاره خو څه کوی ؟ او بیا پدی سبب چی کوم مشکلات پیدا کیږي هغه ښکاره دي او که بیا سودي قرض پکی یوځای شو نو خالص حرام گرځي او نعوذ بالله د الهي لعنت نه پوره حصه ملاو شوه ، بغیر د ضرورت شرعیه نه سود ورکول هم د سود اخستو پشان د لعنت باعث دی ، لکه چی صحیح حدیث کی راغلي ، غرض دا چی د دی رسم په شناعت او ممناعت کی شک نشته ، الله تعالی دی مسلمانانو ته توفیق ورکړي چی داسی شنیع رسمونه چی د دوی د دین و دنیا ته نقصان وي ترک کړي او د بی ځایه طعنو پروا ونکړي ، والله الهادی الی سواء السبیل .

تنبیه :
اګر که یواځی یوه ورځ یعنی اول ورځ عزیزانو او ګاوندیانو تـه سـنت دي چـی د مـړي کور والاو ته دومره خوراک ولیږي چی دوه وخته ورتـه پـوره شـي او پـه زوره دی پـری وخوري مګر خوراک یواځی مړي والاو لپاره سنت دی ، میلـی تـه د لیـږلو هرګـز حکـم نشته او مړي والاو ته هم صرف اول ورځ لپاره حکم دی نور نه ، پـه کشـف الغطـاء کـی دي : " مستحب ست خویشان وهمسایهای میت راکه اطعام کنند طعام را برای اهـل وی که سیر کند ایشان رایک شبانه روز والحاح کنند تا بخورند ودر خـوردن غـیر اهـل میـت این رامشهور آنست که مکروه است اه ملخصاً ، په عالمګیري کـی دي : " حمل الطعـــام الی صاحب المصیبة والاکل معهم فی الیوم الاول جائز لشغلهم بالجهاز وبعده یکره کذا فی التاتار خانیة " (احکام شــریعت صـــفحه ٦١ ، ٦٢، ٦٣ ، ٦٤ ج ٣ مولفه مولوي احمد رضا خان صاحب) .

د فتاوی رشیدیه د یو عبارت متعلق :

(٢٦ سوال) ایا فتاوی رشیدیه کی دا عبارت شته ؟ په محرم کی د شهادت صـحیح نقـل کول ، سبیل جوړول ، شریني یا پی څنبکل ، سبیل یا شربت لپـاره چنـده ورکـول تـول ناجائز او حرام دي ، رضا خانیان پدی عبارت باندی لوی اعتراض کـوي ،لهـذا تفصیل سره ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : د فتاوی رشیدیه د عبارت په نقـل کولـو کـی لـوی خیانـت شـوی دی ، اصـل عبارت دا دی چی " د شیعه ګانو سره د مشابهت په وجه حـرام دي " الفـاظ دادي چـی پدی باندی د مسئلی مدار دی او د دی په لری کولو سره پـیش کـول د دینـداری پـه خلاف دي .

په سوال کی دمحرم په لسو ورځـو کـی د شـهادت د بیـان متعلـق تپـوس شـوی دی او حضرت ګنګوهي رحمه الله د روافضو (شیعه ګانو) سره د مشابهت په بناء ناجـائز لیکلـي دي ، په حدیث شریف کی دي : چا چی د کوم قـوم سـره مشـابهت اختیـار کـړ هغـه د هماغو نه دی او فرمایلي دي ، څوک چی د نورو طریقی اختیار کړي هغه له مونږ څخـه ندی (کنز العمال ٥٦/١) .

لمونځ ځومره بهترين عبادت دی مګر د لمر پرستو سره د مشابهت په وجه د لمر ختو، پريوتو په وخت کی د لمونځ کولو نه سخته منع شوی ځکه چی پدی وخت کی لمر پرست سجده کوي اګر که ځمونږه نيت او مقصد لمر ته سجده او يا لمر پرستو سره مشابهت ندی بيا هم د ظاهري مشابهت په وجه هميشه لپاره منع شوی دی، پدی وجه د دين بزرګان او مشران د شهادت وغيره بيان کولو نه منع کوي چی پدی کی د شيعه ګانو سره مشابهت راځي.

(۱) د حضرت امام صفار نه سوال وشو چی د عاشورا په ورځ د حضرت حسين رضی الله عنه د شهادت بيان جائز دی يا نه؟ ځواب يې ورکړ چی ناجائز دی ځکه چی دا د شيعه ګانو علامه ده.

(۲) حضرت ابن حجر مکي په "صواعق محرقه" کی ليکي: "قال الغزالی وغيره يحرم علی الواعظ وغيره رواية مقتل الحسن والحسين رضی الله عنهما وحكايته"

يعنی امام غزالي وغيره فرمايي: واعظ وغيره مقرر ته د حسن او حسين رضی الله عنهما د شهادت قصه بيانول حرام دي.

(۳) حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي: "ومنها قصصهم قصة كربلا والوفاة وغيره ذالك وخطبهم فيها"

پدی زمانه کی چی ځمونږ په واعظينو کی کومه خرابي پيدا شوی پدی کی يو د کربلا واقعه ذکر کول دي (القول الجميل مع شرح شفاء العليل (۱۴۷) صفحه).

(۴) حضرت عبيد احمد بريلوي رحمه الله فرمايي: "وآن ذکر قصهٔ شهادت است بشرح وبسط عقد مجلس کرده باين قصد که مردم آن رابشنوندوتا سفها نمايندو حسرتها فراهم آرندو گريه وزاري کنند، هر چند در نظر ظاهر خللے نميشود اما فی الحقيقت اين هم مذموم ومکروه است، چراکه در وقت حدوث صدمه يا تذکره آن استرجاع صبر مامور به است نه اظهار تأسف و حسرت و تکلف در پيدا کردن آن ا

يعنی د شهادت واقعه پدی مقصد بيانوي چی خلک راغونډيدو سره واوري او د افسوس و حسرت اظهار وکړي، په ظاهره کی پدی کی څه خرابي نه معلوميږي مګر په حقيقت کی دا بد او مکروه دي، ځکه چی د کومی صدمی رسيدو يا د صدمی ذکر کولو وخت کی د انا لله وانا اليه راجعون ويلو او د صبر کولو حکم کړی شوی دی، د افسوس و غم ظاهرولو او يا غم و خفګان نه وي نو د غم و خفګان صورت جوړولو حکم نشته دی،

کوم خلک چې داسې کوي او داسې طرز ته د انمو سره د محبت ثبوت ګڼي دا واضح او ښکاره دروغ دي (مجموعه ملفوظات عرف صراط مستقیم فارسي (٦١) صفحه) ایا دا ټول وهابیان وو ؟

د رضاخانی جماعت لوی پیشوا مولوي احمد رضا خان صاحب لیکي : " عوام مجلس کونکي اګر که بالفرض یواځې صحیح روایتونه ولولي خو بیا هم څوک چې د دوی له حال نه خبردار وي هغوی ښه پوهیږي چې دشهادت د واقعی بیانولو نه د دوی مطلب همدا د تکلف او د دروغو ژړا او د نورو ژړولو صورت جوړول دي د دی په شناعت کې څه شک دی ؟

(رساله تعزیه داري ، ۵ صفحه)

د عاشورا په ورځ د شربت څښکلو د رواج پابندي دی ، د شیعه ګانو سره مشابهت هم دی او خاص طور د شربت څښولو وجه (ګرمي وي او که یخني) دا ده چې د کربلا شهیدان تږي شهیدان شوي او شربت تنده ختموي ، دا خلک به دا ګڼي چې بعینه شربت رسیږي پدی کی عقیدوي خرابي هم شته لهذا ناجائز دي ، والله اعلم بالصواب .

درود تاج ویل بدعت دی ؟

(۲۷ سوال) د درود تاج ویلو څه حکم دی ؟ پدی درود کی " دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم " الفاظ دي (یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی ټولو څیزونو لری کونکی ګڼل شوی دی)اوس فی الحال یو اشتهار راوتی چی " وهابي دیوبندي والاؤ ګنده عقیدی " عنوان دی پدی کی ځینی عقیدی لیکل شوی چی یوه پکی دا ده :

د درود تاج وظیفه کول بدعت او ګمراهي ده ، پدی درود شریف کی د شرک الفاظ دي ، درود تاج زده کول زهر قاتل دي او د شرک په عقیده کی مبتلا کوي (فتاوی رشیدیه ۳۰/۳) ایا دا خبره صحیح ده ؟ تفصیل سره ځواب راکړئ .

ځواب : د درود تاج الفاظ په قرآن او حدیث کی نشته او د صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعینو او تبع تابعینو نه د درود تاج ویل ثابت کدي ، درود تاج سوونه کاله وروسته ایجاد شوی ، د کوم درود شریف الفاظ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته ښودلي دي (لکه درود ابراهیمي وغیره) کوم بل درود چې الفاظ یې له خانه جوړ شوي وي د دی د مقابله نشي کولی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژبی مبارکی

نه راوتلي الفاظ او د كوم امتي ايجاد كړي الفاظو په بركت كى د ځمكى او د آسمان فرق دى ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم ايجاد كرده او تعليم وركړى شوى الفاظو كى چى كوم بركت او تاثير دى دا په نورو كلماتو كى نشته دى او كه چيرته هغه نور الفاظ خلاف سنت هم وي نو بيا خو هيڅ قسم نسبت نه پاتى كيږي نو بيا د دى مثال خو دتيارى او د رڼا كيږي .

په حديث شريف كى دي چى رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي ته دعاء وښوده چى پدى كى " آمنت بكتابك الذى انزلت ونبيك الذى ارسلت " الفاظ وو هغه صحابي تعظيماً د نبي په ځاى رسول لفظ وويل يعنى د نبيك الذى ارسلت په ځاى باندى رسولك الذى ارسلت وويل ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم فوراً هغه تنبيه كړ او په سينه باندى وهلو سره وفرمايل چى " نبيك الذى ارسلت " ووايه يعنى د نبي لفظ ويلو حكم يى ورته وكړ كوم چى د ژبى مباركى نه وتلى وُ : " قال البراء فقلت وبرسولك الذى ارسلت قال فطعن بيده فى صدرى ثم قال ونبيك الذى ارسلت " (ترمذى ۱۷۵/۲) .

مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي :

فضيلت منوط بمتابعت سنت او ست ومزيت مربوط باتيان شريعت او عليه وعلى آله الصلواة والسلام والتحية مثلاً خواب نيمروزى كه ازروئى اين متابعت واقع شوداز كرور كرور ا حيائى ليالى كه نه از متابعت است اولى وافضل ست وهچينين افطار يوم فطر كه شريعت مصطفوي بآن امر فرموده است از صيام ابدالاباد كه نه ماخوذ از شريعت اند بهتر ست ، اعطاء چتيلى بامر شارع از انفاق كوه زر كه ازنزد خود باشد فاضل ترست .

يعنى فضيلت د سنتو په تابعدارى او د اجر و ثواب زياتوالي په شريعت باندى عمل كولو پورى موقوف دى ، مثلاً قيلوله (د غرمى خوب) چى د سنت مطابق او متابعت كى وُي دا د كرورونو شب بيداريو څخه افضل و اولى ده كوم چى د سنت موافق نه وي ، همداشان د عيد الفطر (وړوكي اختر) په ورځ افطار يعنى روژه نه نيول چى شريعت د دى حكم كړى دى د شريعت خلاف د ټول عمر روژو نه بهتر دي د شارع عليه السلام په

حکم یوه څلور انیز ورکول د خپلی خوښی د سرو زرو غر خرچ کولو نه بهتر او زیات دی (۱۳۵/۱ مکتوب نمبر ۱۱۴) .

" مثلاً یک دام در ادائی زکوات که شریعت به آن امر فرموده است در تخریب نفس سودمند تراست از آنکه هزار دینار از پیش خود صرف کند و طعام خوردن در عید فطر بحکم شریعت نافعتر ست در رفع هوا از آنکه از نزد خود سالها صائم باشدو دو رکعت نماز بامداد بجماعت ادا کردن که سنتی از سنن بجا آورد نست بمراتب بهتر است از آنکه تمام شب بصلوات نافله قیام نماید و نماز بامداد رابی جماعت ادا کند الخ "

یعنی : مثلاً د زکوات په طور چی شریعت ددی امر کړیدی یو درم مصرفول د نفس وژلو لپاره د هغو زرګونو د نیارونو خرچ کولو نه بهتر دی کوم چی د خپلی خواهش مطابق خرچ شوي وي ، او د شریعت د حکم مطابق د وروکي اختر په ورځ د خواهش دفع کولو لپاره خوراک کول د خپلی خوښی مطابق د کلونو کلونو روژو نیولو نه بهتر دی او دسحر دوه رکعته لمونځ جماعت سره ادا کول چی دا د سنتو څخه یو سنت دی د هغی ټولی شپی نفلي لمونځونو څخه بهتر دی چی د سحر لمونځ یکی بغیر د جماعت نه ادا کړي (٦٩/١ مکتوب نمبر ٥٢) .

" ولو كان محمد بن اسلم لا يأكل البطيخ لانه لم ينقل اليه اكل رسول الله صلى الله عليه وسلم فيه " .

یعنی حضرت شیخ محمد بن اسلم رحمه الله ټول عمر پدی خیال خربوزه نده خوړلی چی ده ته داسی کوم روایت نه ؤ معلوم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خربوزه په کومه طریقه خوړلی وه .

(اربعین غزالي ص (۳۸) الاصل العاشر فی اتباع السنه)

لنډه دا چی حتی الامکان باید هغه درود وویل شي کوم چی حدیث شریف سره ثابت دي د کوم درود الفاظ چی حدیث سره ثابت نه دي.هغه مسنون ونه ګڼي او چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه تعلیم ندی ورکړی نو د هغه فضائل هم مه بیانوئ ،اوس که یو سړی د دی فضائل صحیح روایتونو څخه ثابت نه ګڼي او پدی بناء دا ونه وائي نو هغه ته بدرد ویل او طعن کول صحیح ندي ، د درود تاج هم دا حکم دی ، پدی شرط چی د " دافع البلاء والوباء والقحط والمرض والالم " الفاظ پریدي او یا دافع (لری کونکی) په حقیقت کی الله تعالی وګڼي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د وباء .

بلاء ، قحط وغیره د لری کیدو ذریعه وګڼي نو بیا جائز دي ، مګر عوام پدی فرق نه پوهیږي لهذا محققین علماء د دی الفاظو د ویلو اجازه نه ورکوي ، د مشکلاتو حل کونکی صرف الله تبارک و تعالی دی ، په مخلوق کی هیڅ لره هم حقیقتاً دافع البلاء وغیره منل د اهل سنت د عقیدی نه خلاف ده .

حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمایي :

" دع عنك الشرك بالخلق ووحد الحق عز وجل هو خالق الاشياء جميعها وبيده الاشياء جميعها ياطالب الاشياء من غيره ما انت عاقل هل شيء ليس هو فى خزائن الله عزوجل ! قال الله عزوجل وان من شيئى الا عندنا خزائنه "

یعنی دالله تعالی سره د مخلوق شریک پریدئ او حق تعالی عزوجل ایکي یواځی وګڼئ دی د ټولو شیانو پیدا کونکی دی ، ټول شیان د ده په قبضه قدرت کی دي ، ای د غیر الله نه د څه شي غوښتونکیه ! ته بیوقوف یی د عقل و دانش نه محروم یی ایا داسی کوم شی شته چی د الله تعالی په خزانو کی نه وي ؟ الله تعالی فرمایي : مونږ سره دهر یو شي خزانې دي (فتح الرباني م ۱ ص ۵) .

" الخلق عجزة لايضرونك ولا ينفعونك " ټول مخلوق عاجز دی نه درته څه ضرر رسولی شي او نه فائده (فتح الربانی م ۱۳ ص ۸۹) .

" عن ابن عباس رضى الله عنهما انه قال بينا انا رديف رسول الله صلى الله عليه وسلم اذ قال لى يا غلام احفظ الله يحفظك الله احفظ الله تجده امامك فاذا سألت فاسئل الله واذا استعنت فاستعن الله جف القلم بما هو كائن ولو جهد العباد ان ينفعوك بشيئ لم يقضه الله عليك لم يقدروا فينبغى لكل مومن ان يجعل هذا الحديث مراة لقلبه وشعاره ووثاره وحديثه فيعمل به فى جميع حركاته سكناته حتى يسلم فى الدنيا والاخرة ويجد العزة فيهما برحمة الله " .

ترجمه : حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سور وم رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل ای هلکه ! الله تعالی ته نظر وکړه هغه به ستا حفاظت کوي ، الله تعالی ته نظر کوه هغه خپل په وړاندی بیا مومی ، او کله چی سوال کوی نو د الله تعالی نه یی کوه او کله چی مدد غواړی نو د الله

تعالی نه غواړه ، کوم چې کیدونکی دی د هغه په لیکلو سره قلم وچ شوی دی ، که چیرته خلک درته نفع رسول غواړي کوم چې الله تعالی درته ندی مقرر کړی او یا درته نقصان رسول وغواړي کوم چې الله تعالی درته نه وي مقرر کړی نو هغوی هیځکله هم قدرت نشي پیدا کولی ، نو هر مؤمن ته پکار دي چې دغه حدیث د خپل زړه آینه وګرځوي او خپل لاندی باندی استر ګرځولو سره دری خبری وکړي او خپل ټولو حرکتونو کی پدی باندی عمل وکړي تر څو په دنیا او آخرت کی سلامت پاتی شي او د الله تعالی په رحمت سره په دواړو جهانو کی عزت حاصل کړي .

(فتوح الغیب م ۴۲ (۱۱۵ ، ۱۱٦) صفحی)

" فلا تذهبن همتك الى احد من خلقه فى معافاتك فذاك اشراك منك به لا يملك معه فى ملكه احد شيئاً لاضار ولا نافع ولا رافع ولا جالب ولا مسقم ولا مبلى ولا معافى ولامبرى غيره "

ترجمه : د بلاء دفع کولو لپاره خپل همت او خپل توجه کوم مخلوق خوا ته مه اړوه چې دا د الله تعالی سره شریک جوړول دي ، هیڅو الله تعالی سره د ده په ملک کی د هیڅ څیز مالک نه دی ، نه نفع و نقصان رسونکی ، نه لری کونکی ، نه بیمار او مبتلاء کونکی نه صحت او نجات ورکونکی د الله نه علاوه څوک شته ؟

(فتوح الغیب م ۵۹ ص ۱۵۰)

سید احمد کبیر رفاعي رحمه الله فرمايي :

(۱) د الله نه سوا د نورو تاثیر منل لږ وي یا ډیر پوره وي یا ناقص د شرک یو جزء دی (روح تصوف) .

(۲) عقلمند د الله تعالی نه علاوه نورو سره زړه لګولو سره څه شی بیا مومی ؟ د الله تعالی نه سوا د نورو تاثیر منل لږ وي یا ډیر کامل وي یا ناقص د شرک جزء دی (البیان المشید) .

(۳) دالله تعالی نه علاوه د بل نه چې څوک عزت غواړي نو ذلیل ګرځي (روح تصوف) .

دا د اهل السنت والجماعت عقائد دي دا بار بار ولولئ او غور وکړئ ، د مولانا ګنګوهي فتوی فارسي ګی دی په اشتهار کی چې کوم ترجمه شوی ده دا ناقص او ګمراه کن ده .

د فتوی خلاصه دا ده چې د درود تاج فضائل کوم چې جاهلانو کی مشهور دي هغه بی اصل او بی بنیاد دي ، د حدیث شریف نه ثابت ندي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیان نه بغیر د فضایلو او د ثواب مقدار معلومول محال دي ، درود تاج خو سوونو کاله وروسته ایجاد شوی نو د دی د لوستلو فضیلت او د ثواب مقدار چا او کله ښودلی ؟ د کوم درود شریف الفاظ چې حدیث شریف کی ثابت دي د دی په پرېښودو سره د غیر مسنون الفاظو باندی دلوی لوی ثوابونو عقیده ساتلو سره د دی وظیفی ضروري او لازمي گڼل بدعت دی ، او بل پدیکی د دافع البلای وغیره الفاظو کی د نسبت په فرق باندی عوام نه پوهیږي لهذا د دی د ویلو حکم کولو سره عوام په شرک کی مبتلا کولو سره برابر دي د درود تاج ویل فرض ، واجب یا مسنون ندي نو بیا دمسنون درود پرېښودو سره د ده اخستل او بیا دا د ایمان او کفر علامه جوړول د کوم ځای انصاف دی ؟

فقهاء کرامو فرمایلي دي چې کله مستحب د خپلی درجې نه پورته کړی شي نو هغه مکروه گرځي .

" واستنبط منه ان المندوب ینقلب مکروهاً اذا خیف ان یرفع عن مرتبته " (مجمع البحار ج ۲ ص ٢٤٤) .

" حتی افتی بعض الفقهاء حین شاع صوم ایام البیض فی زمانه بکراهیة لئلا یؤدی الی اعتقاد الواجب مع ان صوم ایام البیض مستحب و رد فیه اخبار کثیرة فما ظنك بالمباح وماظنك بالمکروه " .

یعنی تر دی چې خینی فقهاؤ کله چې خپله زمانه کی د ایام بیض د روژو رواج جوړ شو نو دوی د مکروه والي فتوی ورکړه نړ څو د واجب عقیده ونه ساتي باوجود د دی چې د ایام بیض روژی مستحب دی او پدی باره کی ډیر حدیثونه راغلي دي ، نو بیا ته د مباح او د مکروه په باره کی څه خیال کوی ؟ (مجالس الابرار م ٥٠ ص ٢٩٩) .

یو عربي شاعر وایي :

قـد نقـر النـاس حتی احدثوا بدعة
فی الـدین بالـردی لم تبعث بـه الرسل

يعنى خلكو په ګرولو سره د خپل راى مطابق په دين كى داسى خبرې پيدا كړى چې هغه پيغمبرانو نه وى راوړى .

حتى تخفقوا بدين الله اكثرهم

وفى الذى حملوا من دينه شغل

يعنى آخر دين د خلكو په نظرو كى د ټوقو خيز وګرځيد ، او حال دا چې په دين چې كوم په صحيح طريقه د كولو شيان وو هغه متروک العمل وګرځيدل ، فقط والله اعلم بالصواب .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارک نوم اوريدو په وخت د ګوتو ښكلول

(۲۸ سوال) چې كله هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک نوم ياد كړى شي نو مونږ د زړه نه درود شريف وايو ليكن ګوتې نه ښكلوو پدى وجه ډير ورونه راته وهابيان وائي او يو دوست راته د " هدية الحرمين " په نوم كتابچه راكړه پدى كى ذكر دي چې كله د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک نوم ياد شي نو د ګوتو ښكلول پكار دي او د دى كتاب حوالى دا دي :

(۱) مسند الفردوس كى د حضرت ابوبكر صديق رضى الله عنه نه حديث دى چې په اذان كى كله اشهد ان محمدا رسول الله واوريدل نو مونږ د شهادت دواړه ګوتې ښكل كړى او په سترګو باندى مو ولګولى .

(۲) او په " معارج النبوه " او " فتاوى جواهر " كتاب كى هم ليكلي چې حضرت آدم عليه السلام ښكل كړى .

(۳) د حضرت حسن رضى الله عنه روايت دى چې كوم سړى په اذان كى د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک نوم واوري او دواړه غټى ګوتې ښكل كړي او په سترګو باندى كيدي نو هغه به ړوند نشي او نه به يې كله سترګى درد وكړي (نور العينين) .

علاوه لدينه د كتابونو نورى حوالى ليكلى وى مګر تاسو به واقف يئ لهذا حوالى مو ونه ليكلى ، خلاصه خواب راكړئ .

خواب : تاسو ښه كوئ سنت طريقه همدا ده ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نوم مبارک په اوريدو يا يادولو سره د درود شريف لوستلو فضيلت او تاكيد په صحيح حديثونو

کی راغلی دی ، په مشکواة کی دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : " البخیل من ذکرت عنده فلم یصل علی " یعنی بخیل هغه څوک دی چی د هغه په وړاندی زما ذکر وشي او هغه ما باندی درود ونه وائي ، او فرمائي : " رغم انف رجل ذکرت عنده فلم یصل علی " هغه سړی دی هلاک شي چی د هغه په وړاندی زما تذکره وشي او هغه ما باندی درود ونه وائي .

ص ٨٦ باب الصلواة علی النبی صلی الله علیه وسلم وفضلها)

نوټ : په یو مجلس کی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم مبارک یاد او یا واوریدل شي نو پدی باره کی فتوی دا ده چی یو ځل درود شریف ویل واجب دي او وروسته بیا مستحب دي (شامی مطلب فی وجوب الصلواة کلما ذکر علیه الصلواة والسلام ٥١٦/١) مګر د ګوتو ښکلولو هیڅ ثبوت نشته ، دا د بدعتیانو ایجاد دی لدینه ځان ساتل ضروري دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : " من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد " څوک چی داسی یو کار وکړي چی د هغه متعلق زمونږ فرمان نه وي نو هغه مردود دی (مسلم ٧٧/٢ باب نقض الاحکام الباطله ورد محدثات الامور) .

" عن نافع ان رجلاً عطس الی جنب ابن عمر رضی الله عنهما فقال الحمد لله والسلام علی رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام علی رسول الله ولیس هکذا علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم علمنا ان نقول الحمد لله علی کال حال " (ترمذی شریف ج ٢ ص ٩٨ باب ما یقول العاطس اذا عطس) .

یعنی د ابن عمر رضی الله عنه په خوا کی یو سړي پرنجي وکړ او هغه الحمد الله سره "والسلام علی رسول الله" نو ابن عمر رضی الله عنه دغه زیادت ناخوښ کړ او وی فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته دا تعلیم ندی راکړی مونږ ته خو یی د پرنجي په وخت کی یواځی الحمد لله علی کل حال ویلو حکم کړی دی (٩٨/٢) .

صرف د آذان په وخت کله چې مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله دویم ځل ووائي نو د دواړو لاسونو د ګوتو نوکان په سترګو باندی د اینودو متعلق خینی عالمانو لیکلي دي مګر اول خو د داسی روایتونو په باره کی لیکلي چې ضعیف دي او استدلال وربانـدی صحیح ندی. او لدینه علاوه دا د عبادت په طور ندي بلکی دا یی د سترګو د بیماری یو علاج بیان کړی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاص تعظیم په طور نه دي.
(مقاصد حسنه)

اوس خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاص تعظیم او دین و سنت مقصوده ګڼلو سره کوي او نه کونکو ته وهابي طعني ورکوي لهذا دا هم مکروه او منع دي ، په اعتصام کی دي :

" ثم اقتحمت الصحابة ترك سنة حذراً من ان يصنع الناس الامر على غير وجهه فيعتقدونها فريضة (الى) (والرابع) من باب الذرائع وهى كم العمل فى اصله معروفا الا انه يتبدل الاعتقاد فيه مع طول العهد بالذكرى "

خلاصه دا چې بعض عمل فی نفسه جائز بلکی مستحب وي مګر د دی حیثیت بدلیدو او یا د بدلیدو خطری په وجه قابل د ترک ګرځي (۹۲/۲) .

وګورئ د خیر کارونه د نبي طرف نه شروع کول مستحب دي مګر کله چې حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه خپل زمانه کی ددی کافي اهتمام ولید نو د واجب ګڼلو له ویری د مکروه والي حکم وکړ .

" قال ابن المنير ان المندوبات قد تنقلب مكروهات اذا رفعت عن رتبتها لان التيا من مستحب فى كل شئ من امور العبادة لكن لما خشى ابن مسعود رضى الله عنه ان يعتقدوا وجوبه اشار الى كراهته " (فتح الباري شرح البخاري ج ۲ ص ۲۸۱).

" وكلّ مباح ادى الى هذا فهو مكروه حتى افتى بعض الفقهاء حين شاع صوم ايام البيض فى زمانه بكراهته لئلا يؤدى الى اعتقاد الواجب مع ان صوم ايام البيض مستحب " او هر هغه مباح چې دی حد ته ورسي چې خلک یی ضروري او واجب ګڼل شروع کړي او په نه کونکو باندی طعن کوي نو هغه مکروه ګرځي تر دی چې خینی فقهاو کله چې پخپله زمانه کی د ایام بیض د روژو زیات اهتمام ولید نو دوی د

مکروه والي فتوی ورکړه تر څو خلک واجب ونه ګڼي باوجود د دی چی د ایام البیض روژی مستحب دي (مجالس الابرار م ۵۰ ص ۲۹۹) .
د فقه متفقه او منلی شوی قانون دی چی کله مستحب د خپلی مرتبی نه پورته کړی شي نو مکروه ګرځي " واستنبط منه ان المندوب ينقلب مكروهاً اذا خيف ان يرفع عن رتبته ". (مجمع البحار ج ۲ ص ۲٤٤) .
که چیرته د چا نیت او عقیده غلطه نه وي نو بیا هم د نورو د عقیده د خرابیدو له ویری او بدعتیانو سره د مشابهت په وجه منع کولی شي ځکه چی دا خو د بدعتیانو یو شعار جوړ شوی دی . حضرت امام غزالي رحمه الله فرمایي : " مهما صارت السنة شعاراً لاهل البدعة قلنا يتركها خوفاً عن التشبه بهم " .
یعنی کله چی کوم یو سنت د بدعتیانو امتیازي شعار وګرځي نو مونږه د دوی سره د مشابهت جوړیدو له ویری د هغه د پریښودو حکم کوو (احیاء العلوم ۲/ ۲۷۰) .
تاسو چی کوم حدیثونه لیکلي دي د دی متعلق د څه ذکر کولو په ځای نه به دا وي چی د مولوي احمد رضا خان بریلوي صاحب تحقیق او خلاصه پیش کړم دا به ستا او ستا دوستانو لپاره زیات اطمئنان بخش وي .

د مولوي احمد رضا خان فتوی

مسئله : (سوال) د الله تعالی د اکثر مخلوق دا طریقه ده چی د فاتحه خوانی او اذان په وخت ګوتي ښکلوي او علماءهم دیته صحیح وائي او د حدیث شریف نه یی ثابتوي ایا دا قول صحیح دی یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
خواب : په اذان کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک نوم اوریدو په وخت کی د ګوتو نوکان ښکلول او په سترګو باندی اینودل په کوم صحیح مرفوع حدیث سره ثابت ندي ، پدی باره کی چی کوم روایتونه شوي هغه د له جرحی نه خالي ندي نو څوک چی دا ثابت ګڼي او یا مسنون و موکد ګڼي او یا نفس ترک یی باعث د زجر و ملامت ګڼي نو بیشکه چی هغه خطاء دی ، البته په ځینی ضعیف او مجروح حدیثونو کی تقبیل (ښکلول) وارد شوي .
" اخرجه الديلمى فى مسند الفردوس و اورده الامام السخاوى فى المقصاد الحسنة والعلامة خير الدين الرملى فى حواشى البحر الرائق وذكره العلامة الجراحى فاطال

وبعد اللتيا والتیّ قال یم یصح فی المرفوع من هذا شیئ کما اثره المحقق الشامی فی رد المختار ..... "

او د فقه څینی کتابونو لکه جامع الرموز ، شرح نقایه او فتاوی صوفیه او کنز العباد او شامي حاشیه در مختار ، پدی کی اکثر سندونه د اسماعیلیه طائفی څخه دي ، او د ګوتو اینودو ته هم مستحب ویلي دي ، فاضل قهستاني په شرح د مختصر وقایه کی لیکي " واعلم انه یستحب ان یقال عند سماع الاولی من الشهادة الثانیة صلی الله علیك یارسول الله وعند سماع الثانیة منها قرة عینی بك یا رسول الله ثم قال اللهم متعنی بالسمع والبصر بعد وضع ظفر الابهامین علی العینین فان صلی الله علیه وسلم یکون قائداله الی الجنة کما فی کنز العباد انتهی ۱۲ "

په رد المختار حاشیه درمختار کی ددی په نقل کولو سره فرمائي " ونحوه فی الفتاوی الصوفیة " نو پدی کی دومره قدری حق دی چی څوک د سترګو د نظر زیاتوالي په امید مثلاً د مشائخو د اعمالو له قبیلی څخه وګني او یا د فضیلت په توقع چی په بعضو کتابو کی ترغیب وارد شوی مدنظر ونیسي بغیر د اعتقاد د سنیت د فعل او شناعت د ترک پری عمل وکړي د نفس فعل په اعتقاد نو حیر پدی کی څه مواخذه نشته پدی چی په یو فعل باندی صحیح حدیث نه موجودیدل د دی فعل نه د نهي او منع لره مستلزم ندي (ابر المقال فی استحسان قبل الاجلال (۱۰ _ ۱۲) ضفحه) .

د مذکوره فتوی خلاصه :

د مولوي احمد رضا خان صاحب په نزد د اذان نه علاوه فاتحه خواني وغیره ځایو کی د ګوتو د ښکلولو ثبوت په کوم کتاب کی نشته لهذا دی مني چی نه ښکلول زیات مناسب دي ، د اذان په وخت کی هم د صحیح حدیث نه ثابت نه مني او ښکلولو ته مسنون او حدیث ته صحیح ګڼونکی او همداشان نه ښکلونکو لره بد رد ویونکی غلط او خطاء ګڼي ، د اذان په وخت کی د ښکلولو حدیثونه ضعیف او مجروح ګڼي او په لاندیني شرطونو سره د ښکلولو اجازت ورکوي .

(۱) د سنیت عقیده به نه ساتي .

(۲) پدی باره کی چی کوم حدیثونه وارد شوي هغه صحیح ونه ګڼي :

(۳) او نه ښکلونکی بد ونه ګڼي .
د مسئلی اصلي حقیقت دا دی کوم چې د سني ، وهابي بلکی د اسلام او کفر علامه او نښه جوړه کړی شوی ، افسوس صدا افسوس .

بهت شـور سنتے تھے پہلو مین دل کـا
جو چیرا تـو اک قـطره خون نه نـکلا

فقط والله اعلم

زیارت ته د ښځو تلل څه حکم لري ؟

(۲۹ سوال) د دیوبند علماء ښځی له زیارت نه ولی منع کوي ؟او سړو ته اجازه ورکوي مګر خاص د عرس موقع ته د تللو نه منع کوي د دی څه وجه ده ؟
ځواب : د ښځو زیارت ته تګ نه منع کول او سړو لره خاص طور عرس ته د نه تلو دهدایت وجه اعتقادي او عملي خرابي ده ددی تفصیل نه لیکم خو د رضاخانی ډلی د یو مشهور عالِم مولوي حشمت علي سني حنفي قادري بریلوي صاحب فتوی د ده له کتاب نه نقل کوم چې پدی سره اطمئنان حاصلیدو سره د دیوبند علماء متعلق چې کوم غلط فهمي او بدګماني وي تر یوه حده پوری ختمیږي ، فتوی دا ده :
(سوال) ښځو لره قبرونو ته تلل او سړو له په سفر کولو سره قبرونو لکه د کلیر او اجمیر پیرانو ته تلل څنګه دي ؟
ځواب : په صحیح قول کی خو د قبرونو زیارت سړو او ښځو دواړو لپاره جائز بلکی مندوب او مستحب دی ، په نور الایضاح کی دي : " ندب زیارتها للرجال والنساء علی الاصح " مګر پدی زمانه کی د ښځو لپاره زیارت ته تګ مکروه بلکی حرام دی " قال بدر العینی فی شرح البخاری وحاصل الکلام انها تکره للنساء بل تحرم فی هذا الزمان لاسیما نساء مصر لان خروجهن علی وجه فیه فساد وفتنة " پاتی شو سړي دوی لپاره په هر حال کی د قبرونو زیارت لپاره سفر کولو سره د اولیاء کرامو او د پلار او نیکه زیارتونه کول مستحب دي ، " کما مر وقال فی الغنیة وتستحب زیارة القبور للرجال " رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : " کنت نهیتکم عن زیارة القبور الا فزوروها " بلکی پخپله د رسول الله صلی الله علیه د فعل نه د قبرونو زیارت کول ثابت دي ، هغه صلی الله علیه وسلم به جنت البقیع ته تشریف وړلو سره دعاء کوله ،

مگر بهتره دا ده چې د کلير او اجمير د پيرانو زيارت ته وروسته د ميلو نه لاړ شي ځکه په ميلو کې اکثر بدعتونه او نامشروع کارونه کيږي او عام خلک لدينه د ځان ساتلو قدرت نه لري ،او د اولياء کرامو په دربار کې د ګناه کول نور هم زيات سخت ګرځي (مجمع المسائل ۱۱۰/۱) .

سيد الشهداء لپاره رسول الله صلى الله عليه وسلم دريم ، لسم او خلويښتې کړې دی ايا دا روايت صحيح دی ؟

(۳۰ سوال) يو روايت دا ليکلې دي چې پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل تره سيد الشهداء حضرت حمزه رضى الله عنه روح ته ايصال ثواب لپاره د ده د شهادت دريم ورځ بيا په لسم ورځ او بيا خلويښتم ورځ او بيا شپږ مياشتنى وروسته او بيا د کال په پوره کيدو باندې داسې کارونه کړي ؤ او صحابه کرامو رضى الله عنهم هم پدې شان ايصال ثواب کولو (مجمع الروايات) ايا دا مذکوره افعال او اعمال صحيح حديث نه ثابت دي ؟

ځواب : مذکوره روايت هم صحيح ندی ، موضوعي او بې اصل دی په رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضى الله عنهم باندې ښکاره بهتان دی ، که چيرته دا روايت صحيح وای نو د ايصال ثواب لپاره دا مذکوره تاريخونه او ورځې مقرر کول ګرځيدل او دغو ورځو ته به پدې وجه فضيلت نصيب کيدو او حال دا چې په فتاوى بزازيه کې دي چې " يكره اتخاذ الطعام في اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع " يعنى د مړي په کور کې خاص کر اول ، دريم ورځ او هفته وروسته د خوراک برابرولو رسم مکروه دی (۸۱/۱ باب االخامس والعشرون فى الجنائز) .

او د امام نووي په شرح منهاج کې دي : " واطعام الطعام في الايام المخصوصات كالثالث والخامس والتاسع والعشرين والأربعين والشهر السادس والسنة بدعة "

ترجمه : په خاصو ورځو کې د خوراک ورکولو رواج مثلاً دريمه ، پنځمه ، لسمه ، شلمه ، خلويښتمه ، شپږمياشتې وروسته او کليزه کې دا ټول بدعت دی .

او شيخ عبد الحق محدث دهلوي په شرح سفر السعادت او مدارج النبوه کې ليکي :
" اما اين اجتماع مخصوص روز سوم و ارتکاب تکلفات ديگر و صرف اموال بى وصيت ازحق يتامى بدعت است و حرام " (ص ۳۷۳) (ج ۱ ص ۱۲۱) .

ترجمه مګر په دریمه ورځ دا خاص اجتماع او نور تکلفات کول او د یتیمانانو له حق نه د مړي د وصیت نه پرته مصرف کول بدعت او حرام دي (د ورځو تخصیص او تکلفاتو ته بدعت او د یتیمانانو حق تلفي ته حرام ویلي دي) .

او قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په " وصیت نامه " کې لیکلي دي : " وبعد مردن من رسوم دنیوي مثل دهم و بستم و چهلم وششماهي وبرسي هیچ نکنند " (مالا بد منه ص ۱٦۰) .

ترجمه : زما د مړینې نه وروسته دنیوي رواجونه لکه لسمه ، شلمه ، څلویښتي او شپږ میاشتنی او کلیزه هیڅ هم ونکړئ .

البته د تاریخ او د ورځې او دریمې ، لسمې ، شلمې ، څلویښتمې د پابندی نه بغیر په کوم تاریخ او ورځ ایصال ثواب کولی شي منع ندي ، کله چې مقصد ایصال ثواب وي نو دویمې او دریمې ورځې ته ولې معطل کولی شي د مړینې په اوله ورځ دی د ایصال ثواب کار شروع کړی شي او خاص طور که د مړي نه روژې او لمونځونه قضاء شوي نو باید چې بالا درنګ د هغه فدیه ورکولو کوشش وکړی شي ، په حدیث شریف کې دي : " په قبر کې د مړي حالت داسې وي لکه په اوبو کې د ډوبیدونکي سړي چې مدد غواړي ، د ثواب انتظار کوي چې د مور پلار ، ورونو او دوستانو له طرفه یو څه ورسي ، کله چې کوم ثواب ورسي نو هغه ورته د دنیا او مافیها نه زیات محبوب وي .

(مشکواة ص ۲۰٦)[1]

لهذا څومره پورې چې کیدی شي زر تر زره خاص د الله لپاره د سنت طریقې مطابق د مالي او بدني عبادتونو ثواب مړي ته ورسوي ، د دریمې ، لسمې ، شلمې ، څلویښتمې ، شپږ میاشتنی او کال ته انتظار ونه کړي ، پدې کې د مړي ښکاره نقصان دی او ده سنت خلاف کارو کې هیڅ خیر نشته ، فقط والله اعلم .

د مړي لپاره د خوراک د تاریخ تعین او ددې مصرف :

(۳۱ سوال) د یو مسلمان په مړ کیدو سره د ده ولي تاریخ معین کولو سره خپلو خپلوانو فقیرانو او غریبانو ته خوراک ورکولی شي یا نه ؟ دا خاص د الله په نامه پوخ شوی دا

---

[1] عن عبد الله ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماالمیت فی القبر الا کالغریق المغوث ینتظر دعوة تلحقه من اب او ام او اخ او صدیق فاذا لحقته کان احب الیه من الدنیا وما فیها الخ بـاب الاستغفار والتوبه .

امیر او غریب تول خوړلی شي یا نه ؟ او یا دواړو لپاره جدا جدا پوخ کړی شي ؟ د تاریخ معین کولو خاص وجه دا ده چې د لرې لرې ځایونو څخه خپل خپلوان نمبر په نمبر راځي او مړي والا به ملازم (نوکري کونکی) او محنت مزدوري باندې گزاره کونکی وي نو پدې کې د دې غریب ډیره زیاته خرچه او مصرف کیږي لهذا بغیر د کوم رواج نه محض د تعزیت لپاره میلمنو ته په خاص ورځ باندې دعوت ورکوي تر څو همیشه لپاره په اطمئنان سره خپل کار او نوکري وکړی شي نو پدې وجه دا تاریخ مقررولی شي او که چاته د مرگ خبر نه ورکوی نو بیا خپلوي او رشته داري قطع کیږي نو د تاریخ په لیکلو کې شرعاً څه حرج شته ؟

ځواب : مړي والا که خاصو خپلوانو او دوستانو ته دمړي خبر ورکولو سره د مغفرت د دعا او د ایصال ثواب درخواست وکړي او هغه خلک په څه لوستلو او یا خیرات کولو سره ایصال ثواب وکړي او د مغفرت دعا وکړي ، همداشان په مکتوب سره او یا پخپله راتلو سره د اهل میت تعزیت وکړي نو دا جائز او مستحب دی ، منع ندی ، مگر قریه په قریه دعوت ورکولو سره د تعزیت لپاره (فاتحه خواني) په یو معین تاریخ باندې جمع کول او دمړي د خوراک ورځ لمانځل او رواج جائز ندی ، منع دی ، دغه رواج د نورو مذهبونو والا خلکو چې کوم دولسم دی د هغه نقل دی ، په حدیث شریف کې دي : " کنا نری الاجتماع الی اهل المیت وصنع الطعام من النیاحة " (فتاوی شامی ۲/۲٤۰) . یعنی مونږه (صحابه کرامو رضی الله عنهم) د مړي په کور کې جمع کیدل او د خوراک انتظام او اهتمام رسم نیاحت او ویر گڼلو او دا معلومه خبره ده چې نوحه (ویر) رسول الله صلی الله علیه وسلم منع او حرام کړی دی پدې وجه فقهاء کرام د غم دعوت ناجائز گڼي .

یو څو اقوال وگورئ :

(۱) فقیه حافظ الدین ابن شهاب کرندي (المتوفي ۸۲۷هـ) فرمائي : " ویکره اتخاذ الضیافة فی ایام المصیبة لانها ایام غم فلا یلیق فیها ما یختص باظهار السرور " (فتاوی بزازیه ج ۳ ص ۳۷۹ مع فتاوی‌هندیه باب الخامس والعشرون فی الجنائز).

یعنی د مصیبت په ورځو کې دعوت کول مکروه دي ځکه چې دا دغم ورځ ده کوم کار چې د خوشحالی لپاره خاص وي هغه پدې ورځو کې مناسب ندی ، همداشان امام

طاهر بخاري (المتوفي ۵۴۲هـ) په خلاصة الفتاوی کی او امام کبیر سلطان الشریعه فخر الدین اوزجندي (المتوفي ۲۹۲هـ) په فتاوی قاضي خان کی او فقیه سراج الدین په فتاوی سراجیه (۷۵) صفحه کی او علامه ابن نجیم مصري (المتوفي ۹۶۹هـ) په بحر الرائق ۱۹۲/۲ کی او فتاوی عالمګیري ۳۴۴/۵ کی لیکلي دي .

(۲) په فتاوی بزازیه کی دي : " ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع " (۱۸/۱) یعنی د مړي په کور کی خاص په اوله ورځ ، دریمه او هفته وروسته د خوراک تیارولو رواج مکروه دی ، همداشان ملا علي قاري رحمه الله (المتوفي۱۰۱۴هـ) په مرقات المفاتیح ۴۹۲/۵ کی ، او فقیه سید احمد (المتوفي ۱۲۴۳هـ) په طحطاوي علی مراقی الفلاح (۳۶۰) صفحه کی ، او علامه سید ابن عابدین (المتوفي ۱۲۵۲هـ) په شامي ۸۴۲/۱هـ کی لیکي .

(۳) او فقیه علامه شرنبلالي (المتوفي ۱۰۶۹هـ) لیکي : " وتکره زیارة من اهل المیت لانها شرعت فی السرور لا فی الشرور وهی بدعة مستقبحة " (مراقی الفلاح ص ۱۲۰) .

(۴) او امام نووي په شرح منهاج کی لیکي : " واطعام الطعام فی الایام المخصوصات کالثالث والخامس والتاسع والعشرین والاربعین والشهر السادس والسنة بدعة " . یعنی په خاصو ورځو کی د خوراک ورکولو رواج لکه دریمه ، پنځمه ، لسمه ، شلمه ، خلوېښتمه ، شپږ میاشتنی او کلیزی باندی دا ټول بدعت دی .

شیخ عبد الحق محدث دهلوي (المتوفي ۱۰۵۲) شرح سفر السعادت (۲۷۳) صفحه کی مذکوره رواج بی اصل ښودلی دی .

فقیه ثناء الله پاني پتي (المتوفي ۱۲۲۵هـ) په وصیت نامه کی لیکي :

" وبعد مردن من رسوم دنیوي مثل دهم و بستم و چهلم وششماهي وبرسي هیچ نکنند " یعنی زما د وفات کیدو نه وروسته دنیوي رواجونه لکه لسمه ، شلمه ، خلویښتمه ، شپږ میاشتنی او کلیزه دی نه لمانځل کیږي (مالا بد منه ص ۱۶۰) .

او بریلوي مولوي ابوالعلی امجد علي په بهار شریعت کی لیکي : که د مړي کور والا په دریمه وغیره ورځ کی دعوت وکړي نو ناجائز او قبیح بدعت دی ځکه چی دعوت خو

د خوشحالی په ورځ شروع دی نه د غم په وخت کی او که فقیرانو باندی وخوروي نو بهتر دی (بهار شریعت ۱۵۹/۴).

د خیرات واقعي او اصلي حقداران غریبانان او فقیران دي نو مالدار په ایصال ثواب کی شریکول د غریبانو حق تلفي او جاهلي رواج مشهورول دي ، بغیر د پابندی د رواج او تعین د تاریخ او ورځ نه غریبانانو او مسکینانو ته خوراک او یا امداد ورکولو سره ایصال ثواب کولی شي ، منع ندي ، د مړینی په اول ورځ دی د خپل حیثیت مطابق خیرات وکړي (که د مړي د ترکی (میراث) نه کوي نو د صغیر وارثانو له حصی نه به نکوي او همدا شان بالغ حاضر وي او که غیر حاضر د هغه له حصی نه هم به بغیر د اجازت نه خیرات کول جائز ندي) ایصال ثواب نه علاوه نهایت ضروري دا دي چی که د مړي نه لمونځونه او روژې قضاء شوي وي نو د هغی فدیه ورکولو کوشش دی زر وکړي ، په حدیث شریف کی راځي :

"ماالمیت فی القبر الا کالغریق المتغوث ینتظر دعوة تلحقه مـن اب او ام او اخ او صدیق فاذا لحقته کان احب الیه من الدنیا وما فیها وان الله تعالی لیدخل علی اهل القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال وان هدیة الاحیاء الی الاموات الاستغفار لهم".

یعنی مړی په قبر کی په مثل د اوبو کی ډوبیدونکي وي چی د مدد خواهش مند او منتظر پشان د دعا او ثواب منتظر وي چی ده ته د مور پلار یا ورور دوست له خوانه ورسي (که د ایصال ثواب شکل کی وي یا د تلاوت قرآن ، تسبیح او درود ویلو سره د ثواب بښلو په صورت کی وي) کله چی دعاء ورته ورسي نو هغه ورته د دنیا او ما فیها نه زیات محبوب وي ، او الله تعالی د ژوندیو خلکو د دعاء په سبب مړو ته د غرونو برابر اجر و ثواب ورکوي او مړو ته د ژوندیو تحفه دوی لپاره د مغفرت دعا کول دي .

(مشکواة شریف باب الاستغفار والتوبة)

لهذا خومره پوری چی کیدی شي خاص د الله تعالی لپاره د سنت طریقی مطابق ایصال ثواب وکړی شي ، کوم کار چی د ریاء او نمود یا د خلکو د طعن او خبرو نه د بچ کیدو لپاره یا د پلار نیکه د رسم و رواج باقي ساتلو لپاره کولی شي د دی نه کوم ثواب وي او نه مړي ته څه رسي ، دلته یاد ساتل پکار دي چی د یو عمل د مقبولیت لپاره دوه شرطونه دي (۱) چی خاص الله تعالی لپاره وي (۲) چی د سنت مطابق وي ، که د دی

دواړو شرطونو نه يو هم نه وي نو هغه عمل نـه قبليږي ، د "ليبلوكم ايكـم احسـن عملاً" ايت په تفسير كـې دي : " العمل اذا كان خالصاً غير صواب لم يقبل وكذلك اذا كان صواباً غير خالص فالخالص ان يكون لوجه الله والصواب ان يكون على السنة "

(تفسير كبير ۲۳۳/۸)

يعنى كوم عمل چې خالص وي مګر صواب نه وي نو هغه مقبول ندى او كوم عمل چې صواب وي مګر خالص نه وي هغه هم مقبول ندى ، هغه عمل مقبـول دى چـې خـالص وي او صواب هم وي ، خالص هغه دى چې خاص الله تعالى لپاره شوى وي او صـواب هغه دى چې د سنتو مطابق وي ، په ارشاد الطالبين كى محـدث قاضـي ثنـاء الله پـاني پتي رحمه الله حديث نقل كړى چې : "ان القول لايقبل مالم يعمل بـه وكلاهمـا لا يقبلان بدون النية والقول والعمل والنية لاتقبل ما لم توافق السنة" يعنى وينا د عمل نه بغير مقبول نه ده او دا دواړه بغير د نيت نه مقبـول نـدي او د قـول و عمـل او نيت درى واړو د قبليدو لپاره ضروري دي چې د سنت موافق وي (۲۸) صفحه .

د تاريخ د تعيين چې مصلحتونه بيان شوي دي دا د شرعي حكـم پـه مقابـل كـې قابل توجه ندي او دا مصلحتونه او ضرورتونه د تيمارداري (د مريض د خدمت په وخت كې) هم مخى ته راځي نو د تيمارداري لپاره هم يوه ورځ متعين كولو لپاره خپل خپلـوان او دوستان ته دعوت وركولو سره راغونډتل پكار دي چې د بيـا بيـا تكليـف او مصـيبت نه سرې خلاص شي او په ملازمت او نوكرى كى هم نقصان رانشي ، حقيقـت دا دى كـوم مصيبتونه او پريشانى مخى ته راځي دا ټول د بى بنياد رواجونو پابنـدى پـه وجـه سره كيږي ، د شرعي احكامو او نبوي سنتو په پيروي كى راحت دى ، الله تعالى دى ټولو ته توفيق وركړي چې د نيـوي بـى ځايـه رواجونـه او رسـمونه پريـدي او د سـنت طريقه تابعداري وكړي ، آمين ، فقط والله اعلم .

د اولياؤ په مزارونو باندى د كولو او نه كولو كارونه

(۳۲ سوال) د ديني بزرګانو په مزارونو او خانقاګانو كـى هـر كـال پـه يـو معين تـاريخ باندى يا يوم وفات كى د عرس په نوم كليزه يا ميلاد لمانځل كيږي نـو شـرعاً د دى څه حكم دى ؟ وضاحت وكړئ مهرباني .

خواب : د قبرونو زیارت مسنون دی ، قبرونو ته دعبرت حاصلولو ، د مغفرت دعا کولو ، فاتحه خوانی او تلاوت قرآن وغیره لپاره تلل او خیرات کول دا ټول جائز دي منع ندي ، لیکن رسمي عرس کوم چی یوم وفات متعین کولو او دا یو شرعي حکم او ضروري ګڼلو سره هر کال په اجتماعي صورت سره کولی شي دا ناجائز دي .
د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مبارک دور کی هیڅ مثال نه پیدا کیږي ، دا د اهل کتابو رواج دی ، که دا اسلامي رواج وای نو د ټولو نه مخکی به د رسول الله صلی الله علیه وسلم عرس کیدو او بیا به د نورو انبیاء کرامو علیهم السلام او خلفاء راشدینو کیدو ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " لاتجعلوا قبری عیداً " یعنی زما قبر عید (میله) مه جوړوئ (مشکواة (۸٦) صفحه باب الصلواة علی النبي صلی الله علیه وسلم وفضلها) یعنی لکه څنګه چی خلک په یو تاریخ باندی یوځای کیږي او خوشحالي کوي پدی شان سره زما په قبر باندی مه راغونډیږئ ، په عید (میله) کی دری شیان خاص طور سره وي : (۱) تاریخ متعین کول (۲) اجتماع (راغونډیدل) (۳) خوشحالي کول لهذا د حدیث له مخی په مزارونو باندی په معین تاریخ راغونډیدو او رواجي خوشحالي کولو منع راغلی دی ، د دی حدیث په تشریح کی علامه محمد طاهر فرمائي :
" لاتجتمعوا الزیارة اجتماعکم للعید فانه یوم لهو وسرور وحال الزیـارة بخلافـه وکان داب اهل الکتاب فاورثهم القسوة " (مجمع البحار ج ۲ ص ٤٤٥) .
د حدیث مطلب دا دی چی د قبر زیارت لپاره د اختر او میلی پشان راغونډیدل ندي پکار څکه چی اختر خو د لوبو او خوشحالو دی او د قبر د زیارت شان لدینه جدا دی ، په قبر باندی عرس جوړول د اهل کتابو رواج دی چی پدی وجه د دوی زړونه هم سخت شول ، د قبرونو د زیارت مقصد عبرت حاصلول و هغه فوت شوي) .
پدی وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت ورځ او تاریخ متعین ندی د کال په دوران کی شوقیان په هر یو تاریخ کی ځي او راځي ، کله چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په روضه اطهر باندی عرس او اجتماع نه کیږي نو د نورو دیني بزرګانو په مزارونو باندی څنګه جائز کیدی شي ؟ پدی وجه دیني بزرګانو ، محدثینو او فقهاء کرامو په صریحو الفاظو سره رواجي عرسونه ناجائز ښودلي دي .

د حضرت شاه ولی الله رحمه الله شاګرد او د حضرت مرزا مظهر جان جانان خاص خلیفه د وخت بیهقي قاضي ثناء الله نقشبندي پاني پتي په تفسیر مظهري کی فرمائي:
"لایجوز ما یفعله الجهال بقبر الاولیاء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السروج الیها ومن اجتماع بعد الحول کالعیاد ویسمونه عرساً"
یعنی جاهلان او نادان خلک چی د اولیاؤ او شهداؤ په قبرونو باندی کوم سلوک کوي یعنی قبرونو ته سجده کول، ورنه طواف کول، چراغان او رڼا ګانې بلول او په هر کال د اختر په شان هلته راغونډېدل چی عرس ورته وائي دا ټول کارونه ناجائز دي.
او شاه محمد اسحاق محدث دهلوي فرمائي: "مقرر ساختن روز عرس جائز نیست" یعنی د عرس ورځ مقررول جائز ندي (مسائل اربعین (۴۲) صفحه).
او په مجالس الابرار کی دي: "ونهی عن اتخاذها عیدا وهم یخالفونه ویتخذونها عیداً او یجتمعون لها کما یجتمعون للعید او اکثر" او په قبرونو باندی د اختر او میله جوړولو نه منع کړی ده او حال دا دی چی دوی یی مخالفت کوي او میلی جوړوي او داسی ورباندی راټولیږي لکه اختر لپاره بلکی د دینه هم زیات (م ۱۷ ص ۱۱۸).
دا ټول کتابونه بریلوي علماؤ قابل اعتماد او د دوی مصنفین مذهبي پیشوایان ګڼي او لدینه علاوه حقیقت دا دی چی د اعتقادي خرابی نه غیر د رواجي عرسونو عملي خرابی هم دی حد ته رسیدلي چی بریلوي علماء هم عرس ته د نه تللو فتوی ورکولو باندی مجبور شوي دي. وګوری مولوي حکیم محمد حشمت علي صاحب د عرس په باره کی د یو سوال په ځواب کی لیکي:
"مګر بهتره دا ده چی د کلیر او اجمیر وغیره پیرانو زیارت ته ورسته د میلو نه لاړ شئ ځکه چی په میلو کی اکثر بدعتونه او ناروا کارونه کیږي او عام خلک لدینه خان نشي ساتلی او د اولیاء کرامو په دربار کی غلط کار کول نور هم سخته ګناه ده.
(مجمع المسائل ۱/۱۱۰) والله اعلم

د دیني بزرګانو په قبرو باندی طبله او باجې غږول اوّ نور ناجائز کارونه:

(۳۳ سوال) د واده بنادی په مجالسو کی، خاص کر د دیني بزرګانو په مزارونو باندی طبله باجی سره قوالي کیږي او خلک دا د ثواب کار ګڼي، د دی څه حکم دی؟

خواب : قوالي ، طبله ، باجا وغيره قطعي حرام دي ، په مسند ابن ابى الدنيا كى روايت دى چى رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : په آخره زمانه كى به لدى امت نه يو قوم شادوګان او خنزيران جوړيږي ، صحابه كرام رضى الله عنهم عرض وكړ يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! ايا هغوى به لا اله الا الله محمد رسول الله نه مني ؟ وى فرمايل ولى نه ، صحابه كرامو رضى الله عنهم عرض وكړ بيا د دى سزا وجه څه ده ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هغوى به د ګانو او باجو كاروبار اختيار كړي او بيا يى وفرمايل : " استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ فيها كفر " يعنى د باجو آواز اوريدل ګناه ده ، هلته كيناستل فسق دى او لدينه خوند اخستل كفر دى (نصاب الاحتساب ۱۰۳/۲ ، درمختار مع الشامى ۳۰٦/۵ كتاب الحظر والاباحه) په ابن ماجه كى يو حديث دى :

" انه سمع صفوان بن امية قال كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فجاءه عمر بن قرة فقال يارسول الله صلى الله عليه وسلم ان الله قد كتب على الشقوه فما ارانى ارزق الامن وفى بكفى فاذن لى فى الغناء فى غير فاحشة فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا آذن لك ولاكرامة ولانعمة عين كذبت اى عدو الله لقد رزقك الله طيباً حلالاً فاخترت ما حرم الله عليك من رزقه مكان ما احل الله عزوجل لك من حلاله ولو كنت تقدمت اليك لفعلت بك وفعلت قم عنى وتب الى الله اما انك ان فعلت بعد التقدمة اليك ضربتك ضرباً وجيعاً وحلقت راسك مثلة ونفيتك من اهلك واحللت سلبك نهبة لفتيان اهل المدينة فقام عمرو به من الشرور الخزى ما لا يعلمه الا الله فلما ولى قال النبى صلى الله عليه وسلم هؤلاء العصاة من فات منهم بغير توبة حشره الله عزوجل يوم القيامة كما كان فى الدنيا مخنثاً عرياناً لا يستتر من الناس بهدبة كلما قام سرع "

ترجمه : صفوان بن اميه فرمائي چى مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو عمرو بن قره راغى او عرض يى وكړ يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! زما په قسمت كى بدنصيبي ليكل شوى دى زما خيال دى چى رزق مى پدى كى دى چى پخپل لاس

سره تنبل ووهم اوس تاسو ما ته د دی هم اجازه راکړئ چې داسې ګانې او سندرې ووایم چې فحش خبرې پکې نه وي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : زه تاته د دی اجازه نشم درکولی او نه زما په نظر کې ستا څه عزت شته او نه ماته ستا په ملاقات سره څه خوشحالي حاصلیږي ، د الله دشمنه ته دروغ وایې ، الله تعالی درته حلال رزق درکړی لیکن د حلال په پرینبودو سره دی حرام اختیار کړی دی ، که ما لدینه مخکې لدی څخه منع کړی وای نو اوس به می درته ضرور سزا درکړی وای پاڅه زما د خوا نه لاړ شه ، الله تعالی ته توبه وباسه او دا می واوره که چیرته لدی خبرتیا نه وروسته تا دا کار وکړ نو زه به درته ډیر سخت وهل درکړم او ستا د شکل ورانولو لپاره به ستا سر کل کړم او د خپلی کورنی څخه به دی وباسم او د مدینی ځوانانو ته اجازه ورکړم چې ستا سامان لوټ کړي (پدی خبری) سره عمرو بن قره پاڅیدو او الله تعالی نه پوهیږي چې د ده په زړه کې به څومره بدي او څومره رسوائي او شرمندګي محسوس کړي وي ، کله چې هغه لاړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دا خلک نافرمان دي د الله تعالی له حکم نه سرغړونکي دي په دوی کې چې څوک بغیر د توبی نه مړ شي نو د قیامت په ورځ به یې الله تعالی پداسی حال کې راپورته کوي چې په کوم حال کې دنیا کې و محنث به وي او بربنډ به وي ، په بدن باندی به یې دومره وړوکي غوندی کپړه هم نه وي چې خپل ستر د خلکو له نظرونو څخه پټ کړی شي هر څل چې ودریږي نو راغورځیږي به (ص ۱۹۱) .

د سرود آلی نه بغیر (طبله و باجه وغیره) یواځې د شوق او ذوق لپاره قوالي هم جائز ندی او لدی سره چې څومره د ښځو وغیره موجودګي زیاتیږي همداسې ورسره ګناه ، لعنت او د الله تعالی قهر و غضب هم زیاتیږي (نعوذ بالله) .

په مسند بن ابي الدنیا او طبراني وغیره کې د حضرت امامه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : په هغه ذات می دی قسم چې زه حق دین سره لیږلی یم ، څوک چې د ګانو لپاره خپل آواز اوچت کړي الله تعالی ورباندی دوه شیطانان مقرروي چې دده په اوږو باندی کیني او د ده تر چپ کیدو پوری د ده په سینه باندی لغتی واروي ، او په حدیث کې دي :

" الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء الزرع " یعنی ګانې او سندرې په زړه کې داسې نفاق پیدا کوي لکه اوبه چې فصل رازرغونوي (مشکواة ص ۱۱۴) .

حضرت فضیل بن عیاض فرمايي : " الغناء رقية الزنا " يعنی گانې او موسيقي د زنا منتر دی (تلبیس ابلیس د ابن جوزي ص ۳۳۸) .

" فاقبل سليمان فقال هدر الجمل فضيعت الناقة وهب التيس فسكرت الشاة هدر الحمام فراقت الحمامة وغنى الرجل فطربت المرأة ثم امر به فخصی "

ترجمه : سلیمان بن عبدالملک راغی او وی فرمایل : اوښ بربړ کوي نو اوښه په وجد کی راځي ، خيرلی د شهوت په جوش کی راتلو سره آواز وباسي نو بیزه هم ورپسی ځي کونتر خپل مخصوص آواز وباسي نو کونتری باندی خوشحالي راځي او سړی چی سندری وائي نو په ښځی باندی هم یو کیفیت او شوق راځي ، دا یی وفرمایل او بیا یی حکم وکړ چی د حکم په عملي کولو سره یو سندر غاړی سړی خصي کړی شي .
(تلبیس ابلیس ص ۳۴۴)

د یو بزرگ وینا ده : " اياك والغناء فانه يزيد الشهوة ويهدم المروة " یعنی د گانو او سندرو نه ځان وساته ځکه چی دا شهوت زیاتوي او د مروت (سړیتوب) جنازه وباسي .

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمايي : " فكيف بالشعر والغزل والامور المهيجة لطباع الناس من ذكر صفات العشاق والمعشوقين ودقائق صفات المحبة والميل والصفات المشتهيات التى تشوق النفس الى سماعها فتهيج دواعى السماع وتثير طبعه الى المحارم فلايجوز لاحد : لسماع ذالك وان قال قائل انى اسمعها على امعان اسلم فيها عند الله تعالى كذبناه لان الشرع لم يفرق بين ذلك ولو جاز لاحد جاز للانبياء عليهم السلام "

ترجمه : نغمه او موسيقي سره شعر و غزل ويل او هغه شيان چی د خلکو طبیعت راهځوي او نیزوي لکه د عاشق و معشوق صفت بیانول او د دوستی و محبت او دشوق اظهار چی په خوش آوازی سره د ویلو او اوریدو نه د انسان په زړه کی شوق پیدا کوي او دا شوق بیا حرامو ته ترغیب او میلان پیدا کوي ، پدی بناء هیچا لپاره دا قسم گانې او سندرې ويل او اوریدل جائز ندي که ځوک وائي چی زه د گانو په اوریدو سره د الله تعالی په ذکر کی په شوق او جذبی سره مشغولیږم نو دا ښکاره دروغ دي ولی چی

شريعت په ممنوع كار كى هيڅ قسم راز ندى ايښى كه د چا لپاره د دى اوريدل جائز واى نو پيغمبران عليهم السلام ددى زيات حقدار وو.
(غنية الطالبين ٢٦/١)

" واما مذهب ابى حنيفة رحمه الله فعن ابى الطيب الطبرى قال كان ابوحنيفة يكره الغناء مع اباحة شرب النبيذ ويجعل سماع الغناء من الذنوب "
حضرت امام اعظم رحمه الله د سندرو اوريدل حرام ګرځولي دي.
(تلبيس ابليس ص ٣٣٧)

" واما مذهب الشافعى رحمه الله فحدثنا الحسن بن عبدالعزيز الجروى قال سمعت محمد بن ادريس الشافعى يقول خلفت بالعراق شيئا احدثته الزنادقة يسمونه التغير يشتغلون به الناس من القران "
ترجمه: حسن بن عبد العزيز وائي چې ما د امام شافعي رحمه الله نه دا وينا اوريدلى چې ما په عراق كى داسې يو شى پريښود كوم چې زنديقانو ايجاد كړى دى او د تغير په نوم سره يې يادوي او د دى په ذريعه سره خلك د قرآن نه اړوي او منع كوي (ايضاً .)
حضرت امام مالك رحمه الله فرمائي: " دا د فاسقانو كار دى ".
د دى څلورو مجتهدينو امامانو څخه علاوه د عامو فقهاء كرامو فيصله دا ده:
" وان كان سماع غناء فهو حرام لان التغنى واستماع الغناء حرام اجمع عليه العلماء وبالغوا فيه ومن اباحه من المشائخ الصوفية فلمن تخلى عن الهوى تحلى بالتقى واحتاج الى ذالك احتياج المريض الى الدواء وله شرائط احدها ان لا يكون فيهم امردو الثانى ان لا يكون فيهم الا من جنسهم ليس فيهم فاسق ولا اهل الدنيا ولا امردو الثالث ان تكون نية القوال الاخلاص لاخذ الاجر والطعام والرابع ان لا يجتمعوا لاجل طعام او فتوح والخامس لا يقومون الا مغلوبين والسادس لايظهرون وجداً الا صادقين وقال بعضهم الكذب فى الوجد اشدمن الغيبة كذا وكذا سنة والحاصل انه لا رخصة فى باب السماع فى زماننا لان جنيداً رحمه الله

تعالی تاب عن السماع فی زمانه اه " (فتاوی خیریه کتاب الکراهیة والاستحسان ومطالبه ج : ۲ ص : ۱۷۹ ، شامي ج : ۵ ص : ۳۰۶ کتاب الحظر والاباحة) .

ترجمه : چی د سماع مقصدصرف لذت او خوند وي نو خبردار چی دا حرام دي ، پدی د علماؤ اتفاق دی ، د صوفیه مشائخو څخه چی چا جائز کړي دا یـواځی د هغـو خلکـو لپاره دي چی د نفس خواهشاتو نه پاک وي او تقوی پکی کـاملاً موجـود وي او دخپلـو خاصو کیفیاتو په وجه غناء او موسیقي تـه داسـی محتـاج وي لکـه مـریض چـی دوا تـه محتاج وي چی خطرناک حالت کله چی بله چاره نه وي او یـو طبیـب حـاذق ضروري وګڼي نو بیا مریض لپاره د حرامو استعمال هم جائز ګرځي مګر دی جواز لپـاره هـم یـو څو شرطونه دي : (۱) پدی مجلس کـی بـه امـر د (بـی ګـیری هلـک) نـه وي (۲) پـه حاضرینو کی به ټول د ده هم جنس صفا صوفیان او متقي او پرهیز ګـاران وي نـه پکـی څوک فاسق و بدکار وي او نه دنیا پرست او نه ښځه (۳) قوال به هـم داسـی څـوک وي چی په نیت کی یی اخلاص وي ، د اجرت اخستو یا د خوراک او څښاک مقصد نـه وي (۴) دا اجتماع به هم د خوراک څښاک یا د فتوحاتو او نذرانو وصـولو لپـاره نـه وي (۵) که په حالت د سماع کی ودریږي نو مغلوب وي (یعنی ساختګي نه بلکـی د جـذبی نـه اوچت شوی وی) (٦) په وجد کی به هم تکلف او تصنع (خـود سـاخته) نـه وي یـوه حقیقي جذبه او واقعي کیفیت وي ، د ځینو مشائخو ارشاد دی چی په وجـد کـی دروغ (د دروغو وجد) د کلونو کلونو غیبت نه هم زیات سخت دی ، حاصل د کـلام دا چـی زمونږ پدی زمانه کی د سماع مطلقاً اجـازه نشـته ځکـه چـی حضـرت جنیـد رحمـه الله پخپل مبارک دور کی د سماع نه توبه کړی وه .

په شرح د ملتقي کی دي :

" وما یفعله متصوفة زماننا حرام لایجوز القصد والجلوس الیه ومن قبلهم لم یفعلـه کذالك وما نقل انه علیه السلام سمع الشعر لم یدل علی اباحة الغناء ویجوز حملـه علی الشعر المشتمل علی الحکمة والوعظ " .

یعنی زمونږ د زمانی نقلي صوفیان چی څه کوي هغه حرام دي ؟ هلته تلـل او کیناسـتل جائز ندي ، اسلافو داسی ندي کړي او د رسول الله صلی الله علیه وسـلم شعر اوریـدل او موسیقي اوریدو لپاره دلیل نشي جوړیدلی ځکه چی دا وینـا صـحیح ده چـی د هغـه وخت اشعار د حکمت ، دانش ، پند او نصیحت په متعلق وو .

(الدر المنتقى شرح الملتقى ۵۵۱/۲)

د شریعت له مخې مجذوب او مست خال صوفیاء کرامو په عمل باندی استدلال کول غلط دي .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله تنبيهاً فرمائي چې تاسو خلک د مست حال عاشقانو خبرې منئ او حال دا چې دا خبرې په راغونډولو سره طاقچه کې د اینودو قابلې دي د خورولو او بیانولو قابل ندي : " وتمسكتم بكلام المغلوبين من العشاق وكلام العشاق يطوى ولايروى " (تفهيمات الهيه ج ۱ ص ۲۱۵) .

کوم ځای چې د فقهاؤ او د صوفیانو اختلاف وي نو هلته د فقهاؤ فیصله منل ضروري دي ، د حضرت سید احمد کبیر رفاعي فیصله په سینه باندی د لیکلو قابل ده ، دی فرمائي : محترمو ! تاسو دا څه کوئ ؟ چې حارث دا فرمایلي ، بایزید بسطامي دا فرمایلي ، منصور حلاج دا ویلي دي له داسی وینا نه مخکې داسې ووایئ چې امام شافعي دا فرمایلي ، امام مالک دا فرمایلي ، امام احمد دا فرمایلي او امام اعظم دا فرمایلي دي ، د حارث او بایزید بسطامي خبرې نه تاسو کمولی شي او نه مو زیاتولی شي او د امام شافعي او د امام مالک فرمانونه د نجات لاره او د کامیابی قانون دی .

(البنيان المشيد ص ۸۸)

د رضاخانی ورونو د اطمئنان لپاره د قوالي په سلسله کې د مولوي احمد رضا خان صاحب فتوی وړاندی کوم : (سوال) نن چې زه له تاسو نه کله رخصت شوم او د ماښام لمانځه لپاره جومات ته لاړم نو د لمانځه نه وروسته یو دوست راته وویل راځه یوځای کې عرس دی هلته چې لاړم ګورم چې ډیر زیات خلک راټول شوي او قوالي پدی طریقه سره شروع دی چې یو ډول او دوه سورنی غږیږي او څو قوالان د پیران پیر دستګیر په شان کې اشعار وائي او ډول او سورنی هم غږیږي ، دا باجي په شریعت کې قطعي حرام دي ، ایا پدی کار سره رسول الله صلی الله علیه وسلم او اولیاء الله په خوشحالیږي ؟ او دا حاضر مجلس والا ګنهګار شو یا نه ؟ او داسی قوالي جائز دی یا نه ؟ او که جائز وي نو په کوم قسم ؟

ځواب : داسی قوالي حرام دی او حاضرین ټول ګنهګار دي او د دی ټولو ګناه داسی عرس کونکو او قوالانو باندی ده او د قوالانو ګناه هم دی عرس کونکو باندی ده بغیر د دی چې عرس کونکو ته د قوالانو د ګناه ورتللو نه د قوالانو په ګناه کې څه کمی

راشي او يا په دوى او قوالانو باندى د حاضرينو گناه پريوتو نه د حاضرينو په گناه كى څه كمى راشي . نه بلكى د حاضرينو برابر جدا او پدى عرس كونكو باندى خپله گناه جدا او د قوالانو برابر جدا او د ټولو حاضرينو برابر جدا وي (احكام شريعت ۳۳/۱) .

د خان صاحب دويمه فتوى : عرض _ ايا دا روايت صحيح دى چى حضرت محبوب الهي په قبر شريف كى سرتور سر ودريدو او گانو والا باندى به يى لعنت كولو ؟

ارشاد : دا واقعه د حضرت خواجه قطب الدين بختيار كاكي رحمه الله ده چى د ده په مزار باندى په مجلس سماع كى قوالي كيده نن صبا خو ډير زيات نوي شيان پيدا كړي گډا وغيره هم كيږي حال دا چى هغه وخت كى په مزارونو كى ډول و سورني هم نه وُ ، حضرت سيد ابراهيم اميرجي رحمه الله كوم چى زمونږ د پيرانو په سلسله كى دى د مجلس سماع نه باهر تشريف فرما وُ يو نيك سړى ورته راغى او درخواست يى ورته وكړ چى مجلس ته لاړ شئ حضرت سيد ابراهيم اميرجي رحمه الله وفرمايل تاسو پوهيږئ په مواجه اقدس كى به حاضر شم كه چيرته حضرت راضي وي نو زه اوس څم ، دوى په مزار اقدس كى مراقبه وكړه نو وى ليدل چى حضور په قبرشريف كى ډير پريشان دى او دى قوالانو طرف ته اشاره كولو سره فرمائي : " اين بدبختان وقت مارا پريشان كرده اند " هغه واپس شو او مخكى لدى چى څه عرض كړي وى فرمايلو تاسو وليدل ؟ (ملفوظات ۹۰/۱)

د مړي والا له طرف نه د طعام دعوت او تعيين او د دى اهل :

(۳۴ سوال) ديني علماء او مفتيان صاحبان پدى مسئله كى څه فرمائي چى دلته په رينوئن (Rinyon) كى د هندوستان گجراتي مسلمانان د تجارت په سلسله كى له ډير پخوا نه اوسيږي او اوس خو څو مياشتى كيږي يو نوى رواج شروع شوى دى چى په انډيا يا جنوبي افريقه (S.A) يا ماريش نه د تيليغراف يا د خط په ذريعه كوم خپلوان د وفات خبره ورسي نو دجومات مؤذن ته وائي چى ټول دكانونو ته خبره وركړه چى د ظهر (ماسپښين) لمانځه نه وروسته (زما د فلاني رشته دار د وفات كيدو په وجه) څمونږ كور ته د فاتحه خوانى لپاره تشريف راوړئ ! بالآخره ټول په ټاكلي وخت باندى راجمع كيدو سره هغه ته فاتحه خواني لپاره ورځي ، په تلونكو كى ځينى د دوستى په خيال سره د مغفرت دعا او د تعزيت لپاره يو دوه ټكي دمرحوم خپلوانو ته د تسلي لپاره واني ، او ځينى شرميږي چى لاړ نشم نو بيا خفه كيږي او خبرې به كوي چى فلانى رانغى ، نو اوس د دى كارونو په باره كى شرعي حكم څه دى ؟ ايا د نبى كريم صلى

الله علیه وسلم دور کی دا طریقه وه ؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم پدی عمل کولو ؟ راهنمائي کولو سره مسلم جماعت (ډله) ممنون و مشکور کړئ .
خواب : د مړي والاوْ لپاره تعزیت یعنی دوی ته تسلي ورکول د صبر تلقین او ترغیب ورکوڼ او د مړي لپاره دعا کول سنت دي او د دی ډیر فضیلت ذکر شوی دی .
په حدیث کی دي : " قال من عزی مصاباً فله مثل اجره " یعنی څوک چی د غمجن او پریشان سړي سره تعزیت وکړي نو الله تعالی به ورته دومره اجر و ثواب ورکړي چی څومره مصیبت زده او پریشان حال ته یی (د صبر په بدله کی) ورکوي .
(ترمذی شریف ۱۲۷/۱ باب ما جاء فی اجر من عزی مصاباً)
" قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من عزی ثکلی کسی برداً فی الجنة " (ترمذی کتاب الجنائز باب آخر فی فضل التعزیة) .
یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : څوک چی بوری ښځی سره تعزیت وکړي نو هغه ته به الله تعالی په جنت کی څادر ورآغوندوي (ایضاً) .
په بل حدیث کی دي : " عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال ما من مؤمن یعزی اخاه بمصیبة الا کساه الله سبحانه من حلل الکرامة یوم القیامة " (ابن ماجه (۱٦) صفحه باب ما جاء فی ثواب من عزی مصاباً) .
یعنی څوک چی د خپل دیني ورور په مصیبت کی تعزیت وکړي نو د قیامت په ورځ به الله تعالی ورته د بزرګی او کرامت لباس ورآغوندوي .
" ووقتها من حین یموت الی ثلاثة ایام ویکره بعدها الا ان یکون المعزی او المعزی الیه غائبا فلا باس بها وهی بعد الدفن اولی منها قبله وهذا اذا لم یر منهم جزع شدید فان رأی ذالك قدمت التعزیة ویستحب ان یعم بالتعزیة جمیع اقارب المیت الکبار والصغار والرجال والنساء الا ان یکون امرءة شابة فلا یعزیها الا محارمها "

ترجمه : تعزیت دریو ورځو پوری کول پکار دي لدینه وروسته مکروه دي ، البته چا ته چی خبر نه وي رسیدلی یا تعزیت کونکی او یا مړي والا حاضر نه وي نو بیا د دریو ورځو نه وروسته هم کولی شي ، تعزیت د دفن کولو نه وروسته افضل دی او دفن کولو

نه مخکې دوېره افضل نه دی او دا په هغه صورت کې چې دفن کولو نه وروسته زياته جزع فزع (وير ، ژړا او فرياد صورت) نه وي که چيرته وير ، ژړا او فرياد وي نو بيا دفن کولو نه وړاندې تعزيت پکار دی ، مستحب دا دي چې تعزيت د مړي عام رشته دارانو سره وشي (هر يو ته تسلي او اطمئنان ورکړی شي) هغه خپلوان چې لوی وي يا واړه ، سړي وي او که ښځې لکن که ځوانه ښځه وي (مثلاً د مړي پيغله لور وي) نو هغې ته به يواځې محرم خپلوان تعزيت کوي او تسلي به ورکوي .

(فتاوی عالمگيري ۱/۱٦۷)

د مجبورۍ او يا لرې والي په وجه چې حاضر نه شي نو د خط په ذريعه هم تعزيت کيدی شي " وکتب النبي صلى الله عليه وسلم الى معاذ يعزيه في ابن لـه " يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د ده د ځوی د مړينې تعزيت د خط په ذريعه وکړ (حصن حصين ص ۱۸۰) .

د تعزيت الفاظ او مضمون متعين ندی ، جدا جدا دی ، دصبر او تسلي لپاره چې کوم الفاظ زيات مؤثر وي هغه دی استعمال کړي بهتره دا ده چې دا الفاظ ووائي :

" ان لله ما اخذو له ما اعطى وكل عنده باجل مسمى فلتصبر ولتحتسب " (مشكواة شريف ص ۱۵۰ باب البكاء على الميت) .

يعنې څه يې چې واخستل دا هم د الله تعالی وُ او څه چې يې ورکړل دا هم د الله تعالی ملکيت دی د هر يو شي الله تعالی سره يو وخت مقرر دی (يعنې د مړي ژوند همدومره مقرر وُ) نو بيا صبر کوه او د ثواب اميد ساته .

دا الفاظ هم په يو حديث کې راغلي : " اعظم الله اجرك واحسن عزاءك وغفر لميتك " (كبيری ص ۵٦۵) .

يعنې الله تعالی دی درته اجر عظيم درکړي او ستا د صبر بهترين عوض درکړي او ستا مړي ته دی ښنه وکړي ، که چيرته مړی غير مکلف وي نو بيا دی آخري لفظ نه وائي .

يو مسلمان ته دی د ده د غير مسلم خپلوان په مرگ سره پدی الفاظو تعزيت وکړی شي " اعظم الله اجرك واحسن عزاءك " يعنې الله تعالی دی درته اجر عظيم درکړي او ستا د صبر بهترين عوض درکړي ، او غير مسلم ته د ده د مسلمان خپلوان په مرگ سره پدی الفاظو سره تعزيت وکړي " احسن الله عزاءك وغفر لميتك " الله تعالی دی ستا د

صبر بهترین عوض درکړي او ستا مړي ته دې مغفرت نصیب کړي . او که چیرته دواړه غیر مسلم وي نو دا الفاظ به وائي : " اخلف الله ولا نقص عددك " الله تعالی دې درته بدله درکړي او ستا کسان دې نه کموي (فتاوی عالمگیري ۱۶۷/۱ باب ومما یتصل بذلک مسائل) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثونو او د فقهاء کرامو له ارشاداتو څخه مو ولیدل چې تعزیت محض یو دنیوي رواج ندی (چې د خپل خوښې مطابق کمې زیاتی پکې وشي) بلکې دا خاص اسلامي تعلیم او د فضیلت و ثواب کار دی نو دا هم د خصوصي ثواب او عبادت کارونو پشان د اسلامي تعلیم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت مطابق عملي کول پکار دي او که نه د ثواب په ځای عذاب او د مقبولیت په ځای د مردودیت کارجوړیږي .

د حضرت امام غزالي رحمه الله ارشاد دی : کوم کار چې تاسو د شارع علیه السلام د حکم نه بغیر وکړئ اگر که هغه د عبادت په شکل کې وي نو هغه عبادت نه بلکې گناه ده (مکتوب نمبر ۷) .

حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي :

" لا یستقیم قول الا بعلم ولا یستقیم قول وعمل الا بنیة ولا یستقیم قول و عمل ونیة الا بموافقة السنة " یعنی هیڅ یو قول له عمل نه بغیر صحیح ندی او قول او عمل د نیت نه بغیر صحیح ندی او دا دری واړه (قول ، عمل ، نیت) نشي صحیح کیدی مگر په هغه صورت کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت مطابق وي .

د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله فیصله ده :

"لایقبل قول بلا عمل ولا عمل بلا اخلاص واصابة السنة"(فتح الربانی ۱۴/۱) .

یعنی هیڅ یو قول بغیر د عمل نه قبول ندی او هیڅ یو عمل بغیر د اخلاص او مطابقت د سنت نه قبول ندی .

د تعزیت سنت طریقه دا ده چې د مړي کورته بغیر د دعوت ، اجتماع او د نورو رسمونو د پابندی نه بغیر یواځې ورشي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دصحابه کرامو رضی الله عنهم او سلف صالحینو رحمهم الله همدا طریقه وه لهذا کوم صورت چې په سوال کې ذکر شوی چې د خاص وخت مقررولو سره اجتماع وکړی شي او دعوت ورکړي شي دا بدعت او مکروه دي ، په زاد المعاد کې دي :

" ولم يكن من هديه ان يجتمع للعزاء ويقرأ له القران لا عند قبره ولا غيره وكل هذه بدعة حادثة مكروهة " (زاد المعاد ۱/ ۱۵۰ مصري)
يعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا طریقه نه وه چی د تعزیت لپاره راجمع شي او قرآن خواني وشي نه قبر خوا کی او نه کوم بل ځای کی دا ټولی خبرې بدعت او ایجاد کړی شوی دي او مکروه دي ، په فتاوی جامع الرموز کی دي :
" ويكره اجتماعهم عندالتعزية " (۱۲۸/۱) یعنی تعزیت لپاره د مړي والاؤ په کور کی راغونډیدل مکروه دي .
په مراقی الفلاح (۱۲۰) صفحه ، طحطاوي شرح در المختار ٦١٢/١ ، شامي ٩٤٢/١ او فتاوی بزازیه کی دي : " واتخاذ الدعوة بقرأة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقرأة سورة الانعام او الاخلاص فالحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة القرآن لاجل الاكل يكره " (۸۱/۱ جنائز فصل نوع اخر) یعنی د ایصال ثواب لپاره د صالحانو او متقیانو یا قاریانو د ختم قرآن یا د سورت انعام یا د سورت اخلاص لوستلو لپاره دعوت ورکولو سره راغونډیدل مکروه دي .
او په شرح سفر السعادت کی دي : وعادت نبود که برائی میت درغیر وقت نماز جمع شوند وقرآن خواندوختمات خوانند نه برسرگور ونه این مجموع بدعت است و مکروه .
یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او سلف صالحینو دا عادت نه ؤ چی د مړي لپاره بغیر د جنازی لمونځ نه بل څه لپاره راجمع شي او قرآن ووائي نه په قبر باندی او نه کوم بل ځای کی دا ټول رسمونه او رواجونه بدعت او مکروه دي (شرح سفر السعادت ص ۲۷۳) .
په زیاتره ځایو کی د کور مخی ته عام سړک باندی کرسی یا فرش غوړولو سره تعزیت کونکو لپاره د ناستی انتظام کولی شي ، د دی رسم فقهاؤ په سختو الفاظو کی تردید کړی دی (فتاوی عالمګیري وغیره) .
د اجتماع د قید نه بغیر که کوم وخت کی اتفاقاً خلک یوځای شي او پدی کی یو بزرګ د حاضرینو سره یوځای دعا وکړي نو دا په مذکوره رواجو کی شامل ندی ، او په ریاکاری سره ثواب بربادیږي ، په مجالس الابرار کی دي : " اما موافقة اهل الدنيا

لحاجة عندهم او خوف اللوم او اتباع العادة او نحو ذلك وفساد الكل ظاهر لان كل ذلك رياء والرياء بالعبادة حرام " (ص ۱۹ _ ۱٤۱) .
یعنی د دنیا دارو اتباع او پیروي او د رسم او رواج یا دخلکو د ملامتیا نه بچ کیدو لپاره کوم کار وکړی شي هغه ریاء ده او په عبادت کی ریاء حرام ده .
په شامي کی د معراج الدرایه شرح د هدایه مصنف علامه قیام الدین (المتوفي ۷۴۹هـ) قول نقل کړی دی : " واطال ذلك فى المعراج وقال وهذه الافعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لانهم لايريدون بها وجه الله تعالى " (۸٤۲/۱ شامی مطلب فى كراهية الضيافة من اهل الميت) .
دا ټول د نوم او د شهرت کارونه دي پدی کی للهیت نه وي لدینه اجتناب کول پکار دي .
حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله د نبوت د سنتو په رڼا کی د نورو نه د فاتحه خوانی او ایصال ثواب کار اختو بهترین ، مفید او قابل عمل ترکیب ښودلی دی ، فرمائي : " په کومه طریقه چی نن صبا قرآن پاک لوستلو سره ایصال ثواب کولی شي دا مروجه صورت خو صحیح ندی ، البته خپلو دوستانو ته دی ووائي چی خپل خپل ځای کی د توفیق مطابق تلاوت کولو سره ثواب ورسوي او نور اجتماعي صورت پدی کی مناسب ندی ، که غواړي نو دری ځلی قل هو الله احد لوستلو سره دی ورپسی وبښي چی لدینه دیو قرآن پاک ثواب ملاویږي دا د هغی نه بهتر دي چی اجتماعي صورت سره لس کرته قرآن پاک ختم کړي ، پدی اکثر د مړي ورثه و باندی احسان کول دي ، او الله تعالی خو لږ او ډیر ته نه ګوري بلکی خلوص او نیت ته ګوري لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : زما یو صحابي چی مد (پاو) کجوری خیرات کړي او بل سړی د احد غر برابر سره زر نو دا د صحابي یو مد ته نشي رسیدلی ، دا فرق صرف د خلوص او د عدم خلوص دی څکه کوم خلوص چی د یو صحابي دی دا د بل چا نشي کیدی (انفاس عیسی ج ۲ ص ۲۱۵) .
الله تعالی دی خلوص او د سنت په طریقو باندی عمل کولو توفیق رانصیب کړي آمین .
فقط والله اعلم

د اولیاء کرامو د مزارونو خخه طواف کول او ښکلول څنګه دي ؟

(۳۵ سوال) یو بدعتي ملا وائي چې د اولیاؤ د مزارونو طواف کول او تعظیمي سـجده کول ، قبرونه ښکلول د ثواب کار دی ، منع کونکی وهابي او د اولیـاؤ دښمـن دی . ده ته څه ځواب ورکول پکار دي ؟

ځواب : د داسی خرافاتو او د بکواسونو ځوابونه بار بار تحقیق او تفصیل سـره ورکـړی شوی دي ، دی بدعتي مولـوي لپـاره د ده پیشـوا د احمـد رضـا خـان صـاحب فتـوی وړاندی کولی شي دا ورته وښايئ او تپـوس تـری وکـړئ چـی مولانـا احمـد رضـاخان صاحب هم وهابي او د اولیاؤ دښمن وُ ؟

د مولانا احمد رضا خان صاحب نه چی کوم سوال شوی وُ او هغه کوم ځواب ورکـړی وُ په هغه الفاظو سره لاندی ذکر کیږي :

مسئله : پدی مسئله کی دیني علماء او مفتیان صاحبان څه فرمائـي چـی د اولیـاء کرامـو قبر ښکلول او ورنه طواف کول او تعظیما سجده ورته کول د شریعت له مخـی د حنفـي مذهب موافق جائز دي یا ناجائز ؟

ځواب : بغیر د شک نه د بیت الله شریف نه علاوه د بل څه تعظیمي طـواف ناجـائز دی او غیر الله ته سجده کول زمونږ په شریعت کی حـرام دی ، او د قبـر پـه ښکلولـو کـی د علماؤ اختلاف دی خو احوط منع دی خصوصاً د اولیاء کرامـو د مزارونـو پـه بـاره کـی زمونږ علماؤ تصریح کړی دی چی کم نه کم د څلورو لاسونو په فاصله کی دی ودریږي او ادب همدا دی ، نو بیا ښکلول څنګه متصور کیږي ، دا هغه څـه دي چـی فتـوی یی عوامو ته ورکول کیږي او د تحقیق مقام جـدا دی : " لکل مقام مقال ولکـــل مقـــام رجال ولکل رجال مجال ولکل مجال منال ! نسئل الله حسن المآل وعنده العلـم بحقیقة کل حال " والله تعالی اعلم (احکام شریعت ج ۳ ص ۴۰۳) وګـورئ ! د قبر تعظیمي سجدی ته ناجائز ویل او غیر الله ته سجدی کولو ته حـرام ویـل او د قبـر ښکلولو منع ته یی احوط ویل او په بهار شریعت کی دي :

مسئله : د قبر ښکلولو ته خینی علماء جائز ویلي دي ، مګر صحیح دا دي چـی منـع دی (اشعة اللمعات) او د قبر تعظیمي طواف منع دی او که چیرته برکت حاصـلولو لپـاره د

مزار گیر چاپیر وگرځي نو څه پروا نشته مګر منع کول یې پکار دي . او د عوامو په وړاندې دې نه کیږي څکه چې دوی به بل څه مطلب واخلي .
(بهار شریعت ۱۵۷/۴)

د قبر ښکلول څه حکم لري ؟

(۳٦ سوال) کوم مضمون چې په اولني سوال کې نقل کړی شوی دی د دینه وروسته یو عنوان دی " قبر ښکلول " د دی عنوان لاندی لیکلي دي :
په " کنز العباد " کې د شعبی په حواله لیکلي دي چې د خپل مور پلار قبر ښکلول څه پروا نه لري ، او د شعبی نه یو روایت دا هم دی چې یو صحابي دربار رسالت ته حاضریدو سره عرض وکړ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما قسم کړی چې " باب الجنت " او " حور جنت " به ښکلوم دا خپل قسم څنګه پوره کړم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل که چیرته د خپل مور قدم او د پلار تندی ښکل کړی نو قسم به دی پوره شي . هغه سړي وویل چې مور پلار می نه وي نو بیا څه وکړم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د هغوی قبرونه ښکل کړه ، هغه سړي وویل : که د هغوی قبرونه راته معلوم نه وي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : په خمکه باندی دوه کرښې راوباسه یو د مور قبر وګڼه او بل د پلار او دواړه کرښې ښکل کړه نو قسم به دی پوره شي ، پدی روایت باندی استدلال کولو سره امام طحطاوي لیکلي دي پدی طریقه د استاذ او د مرشد قبر ښکلولو کې څه پروا نشته څکه چې د دوی درجه د مور پلار نه اوچته ده ، په "طوالع الانوار" شرح درمختار کې لیکلي دي : د قرآن پاک نه علاوه د نورو شیانو انبیاء کرامو ، شهیدانو او صالحینو قبرونه د برکت حاصلولو لپاره ښکلولو په باره کې د امت په علماؤ کې سخت اختلاف دی .
ځواب : صحیح دا دی چې د مور پلار قبر ښکلول هم منع دي او د صحیح قول پریښودو سره په ضعیف قول باندی عمل مذموم دي ، د حضرت شاه اسحاق محدث دهلوي فارسي کتاب " مأته مسائل " کې فتوی ده چې :
(۳۷ سوال) بوسه گرفتن قبر والدین چه حکم دارد ؟ جائز یا گناه ؟ کدام گناه ؟
ترجمه : د مور پلار قبر ښکلول څنګه دي ؟ جائز دي یا ګناه ؟ او کوم قسم ګناه ؟
ځواب : بوسه دادن قبر والدین غیر جائز است علی الصحیح وفی مدارج النبوة وبوسه دادن قبر را و سجده کردن آن را ورخسار نهادن حرام وممنوع است ، ودر بوسه دادن

قبر والدین روایت فقهي نقل می کنند وصحیح آنست که لایجوز ؛ انتهی وادنـی لایجـوز گناه صغیره است واصرار برآن گناه کبیره است کما تقدم ؛

ترجمه : صحیح دا دي چی د مور پلار قبر هم ښکلول جائز ندي . په " مدارج النبوة " کی دي : د قبر ښکلول ، سجده کول او تندی لګول حرام او ممنوع دي ، او د مور پلار د قبر په ښکلولو کی یو فقهي روایت نقل کوي خو صحیح دا دي چی ناجائز دی او د ناجائز ادنی مرتبه صغیره ګناه ده او پدی باندی اصرار او همیشه والی کول کبیره ګناه ده (مأته مسائل ص ۷۱) .

د رضاخانی کتاب بهار شریعت کی دي : مسئله : د قبر ښکلول ځینی علماء جائز کړي مګر صحیح دا دي چی منع دي (مشکواة) (بهار شریعت ۱۵۷/۵) .

د مولوي احمد رضاخان بریلوي صاحب فتوی دا ده چی د صحیح مرفوع او محکم حدیثونو په مقابل کی ځینی ضعیف قصی یا محتمل واقعی یا متشابه پیش کول ، د هغوی دومره عقل نشته او یا قصداً بی عقل جوړیږي چی د صحیح مقابل کی ضعیف ، د متعین په وړاندی محتمل ، او محکم مقابل کی متشابه واجب الترک دی .

(احکام شریعت ۳۴/۱)

پدی باره کی چی کوم حدیث بیان کړی شوی د حدیثو په کتابو کی د دی نوم او نشان نشته ، پداسی بی اصل روایت باندی اعتماد کول غلطي ده او دیته حدیث ویل په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د بهتان جوړولو برابر دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی کوم سړی چی قصدا غلطی خبرې ماته منسوب کړي نو هغه دی خپل ځای جهنم کی ولټوي (نعوذ بالله) فقط والله اعلم .

د حضرت حسین تعزیت او ماتم کول

د دی په ځواب کی دا لاندیني ارشادات او فتواګاني مطالعه کړئ او ښه یی یاد کړئ :

(۱) د حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فتوی :

"لوجاز ان یتخذ یوم موته مصیبة لکان یوم الاثنین اولی بذلك اذ قبض الله تعالی نبیه محمداًصلی الله علیه وسلم فیه وذاك ابوبکرالصدیق رضی الله عنه قبض فیه" .

(غنیة الطالبین مصري ۳۸/۲ مع زبدة السالکین ص ٤٨٣)

یعنی که چیرته د حضرت حسین رضی الله عنه د شهادت ورځ د مصیبت ورځ ګرځول جائز وای نو د دوشنبې ورځ لدینه زیات دغم او مصیبت کولو حقداره ده ځکه چې پدې ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی او په همدې ورځ ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم وفات شوی دی .

(۲) د محدث علامه محمد طاهر فتوی :

" فانه يشبه تجديد الماتم وقد نصوا على كراهية كل عام فى سيدنا الحسين مع انه ليس له اصل فى امهات البلاد الاسلامية " (مجمع البحار ۳/۵۵۰) .

یعنی فقهاء کرامو تصریح کړی ده چې هر کال د حضرت حسین رضی الله عنه تعزیت کول مکروه تحریمي دي ، د اسلام په مرکزي ښارونو کی د دی هیڅ اصل نشته دی .

(۳) حضرت حافظ علامه ابن حجر مکی رحمه الله فرمائي :

" واياه ثم اياه ان يشغله ببدع الرافضة ونحوهم من الندب والنياحة والحزن اذ ليس ذلك من اخلاق المؤمنين و الا لكان يوم وفاته صلى الله عليه وسلم اولى بذلك واحرى " (صواعق محرقه ص ۱۱۲) .

خبردار ! خبردار ! د عاشورا په ورځ د شیعه ګانو په بدعتونو کی مشغول نشئ لکه مرثیه خواني ، ژړا ، فریاد او ماتم کول دا ټول د مسلمانانو کارونه ندي او که چیرته د اسلام سره دوی لږ غوندی تعلق هم وای نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات په ورځ به بیا دوی ماتم لپاره زیات مستحق وای .

(۴) د علامه حیات سندهي ثم المدني رحمه الله فتوی :

د شیعه د بدیو څخه یوه بدي دا ده چې دوی د حضرت حسین رضی الله عنه د قبر تصویر جوړوي او بیا یې ښایسته کوي او لارو کوڅو کې یې ګرځوي او یاحسین یا حسین آوازونه کوي او فضول خرڅونه کوي دا ټولی خبری بدعت او ناجائزی دي (الرقضه فی مهر الرفضه) .

(۵) د محدث علامه شاه عبدالحق دهلوي فتوی :

" در صواعق گفته که طریقه اهل سنت آنست که درین روز هم از مبتدعات فرقه رافضیه مثل ندبه و نوحه و عزا و امثال آن اجتناب کنند که نه از داب مومنان است والا روز وفات حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولی واحری میبود " .

(شرح سفر السعادت ص ۵۴۳)

یعنی د اهل سنت طریقه دا ده چی د عاشورا په ورځ د شیعه ګانو له بدعتونو لکه ماتم ، ژړا وغیره نه جدا پاتی شي چی دا د مؤمنانو کار ندی او که نه د دی غم تولو نه زیات حقدار د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات ورځ ده .

(٦) د حضرت شاه سید احمد بریلوي رحمه الله ارشاد : " از جمله بدعات رفضه که درد یار هندوستان اشتهار تمام یافته ماتم وتعزیه سازي ست درماه محرم بزعم محبت حضرت حسین بن علی رضی الله عنهما ...... این بدعات چند چیز ست اول ساختن نقل قبور ومقبره و علم و سدره غیرها واین معنی بالبداهت از قبیل بت سازي و بت پرستي است " یعنی د محرم په میاشت کی له حضرت حسین رضی الله عنه سره د محبت په ګمان تعزیت او تعزیه سازي هم د شیعه ګانو له هغه بدعتونو څخه دي چی په هندوستان کی مشهور او رواج شوي ، د دی بدعتونو څو قسمونه دي د ټولو نه ړومبی د قبر او مقبری نقل ، شکل ، علم وسدره وغیره چی دا په ښکاره د بت سازي او د بت پرستي قسمونه دي .

(مجموعه ملفوظات عرف صراط مستقیم فارسي ص ۵۹)

تعزیه داري او بریلوي علماء : د جناب مولوي احمد رضاخان صاحب فتوی :

(۱) علم ، تعزیه ، بیرغ ، نکریزی کوم شان سره چی رواج لري بدعت دی او په بدعت سره د اسلام شان وشوکت نه کیږي ، تعزیه ته حاجت روا ویل یعنی د حاجت روائي ذریعه ګڼل جهالت دی او دیته نذرونه منل بل حماقت دی او نه کول یی باعث د نقصان ګڼل د ښځو وهم دی ، مسلمانانو ته له داسی حرکتونو څخه بچ کیدل پکار دي.

(رساله محرم وتعزیه داري ص ۵۹)

(سوال) " تعزیه جوړول سنت دي " د چا چی دا عقیده وي یا دقرآن شریف د کوم آیت او یا حدیث نه دلیل نیسي داسی سړی د اهل سنت والجماعت د علماؤ په نزد د اسلام نه خارج خو نه ګڼل کیږي ؟ پدی د کفر اطلاق جائز دی یا نه ؟ او د کوم وخت نه شروع شوی ؟ او که مخی ته راشي نو د تعظیم په نظر به ورته کتل کیږي او یا د تحقیر په نظر ؟

ځواب : هغه جاهل ، خطاء کار او مجرم دی مګر کافر ورته نه وایو ، د تعزیه په لیدو سره اعراض او مخ اړول پکار دي دیته کتل هم ندي پکار ، داسی ویل کیږي چی ددی ابتداء او شروع د دهلي بادشاه امیر تیمور د وخت نه شوی دی .

(عرفان شریعت ۱۶/۱)

(سوال) په محرم شریف کی په مرثیه خوانی کی شرکت کول جائز دي یا نه ؟

ځواب : (۱) ناجائز دي ځکه چې په مناهي (منع شوي شیان) او منکرات (خلاف شریعت کارونه) ځخه ډک دي (عرفان شریعت ۱٦/۱).

(۲) اوس چې تعزیه داري د ناخوښو او غلطو طریقو نوم دی دا قطعاً بدعت ، ناجائز او حرام دی (رساله تعزیه داري ص ۳).

(۳) په محرم کی توری او شنی کپړی د ماتم علامه ده او ماتم حرام دی (احکام شریعت ۹۰/۱).

د مولوي محمد مصطفی رضا خان بریلوي نوري برکاتي صاحب فتوی :

تعزیه جوړول بدعت دی پدی سره د اسلام دبدبه نشي کیدی ، د مال ضائع کول هم دي او دی لپاره سخت وعید راغلی دی (رساله محرم و تعزیه داري ص ٦۰).

د مولوي ابوالعلی امجد علي اعظمی سني حنفي قادري رضوي فتوی :

علم او تعزیه جوړول ، قاصد جوړیدل او په محرم کی د ماشومانو فقیر جوړول او هار ورته په غاړه کول او تعزیه مجلس کولو او تعزیه ؤ باندی نذرونه ورکول وغیره خرافات کوم چې شیعه ګان او تعزیه داران خلک کوي ، ددی نذر منل سخت جهالت دی .

(بهار شریعت ۳۵/۹)

د مولوي محمد عرفان رضاخاني صاحب فتوی :

تعزیه جوړول او د ګلونو هارونه پری اچول وغیره وغیره دا ټول کارونه ناجائز او حرام دي (عرفان هدایت ص ۹).

د مولوي حکیم محمد حشمت علي سني حنفي قادري بریلوي صاجب فتوی :

ځواب : تعزیه داري چې په کوم شکل رواج لري د ګنو معاصیو (نافرمانیو) او منکراتو (د شریعت خلاف خبرو) مجموعه ګناه ناجائز او شنیع بدعت او د الهي عذاب باعث او د شیعه ګانو طریقه ده ، دیته خوک جائز نه وائي مګر هغه بی علم او د شرعي احکامو نه بی خبر خلک ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : " کل بدعة ضلالة وکل ضلالة فی النار " او بل حدیث کی دي : " شر الامور محدثاتها وکل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة " (کذا فی المشکواة) نو د تعزیه جوړونکی ، ساتونکی او پدی کی هر قسم مدد کونکي او پدی باندی میوه او شیرني اچونکي ، فاتحه کونکي ټول

گنهګار دي او د جهنم د اور مستحق او دا تولی خبری بدعت او اعانت علی المعصیت دی او دا حرام دي او د سخت عذاب مستحق دي ، الله تعالی فرمائي " ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان " مسلمانانو ته پکار دي چی لدی شنیع بدعت نه د " ایاکم و محدثات الامور " حدیث له مخی ځان وساتي او په هیڅ شان سره پدی کی شرکت ونه کړي .

(مجمع المسائل ۱۹۹/۱)

ګرانو ورونو او خویندو ! دا علماء خو دیو بندیان ندي ، اوس خو د اسلام له بدنامولو نه منع شئ ، د شریعت خلاف کارونه چی کوئ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفاعت حقدار به څنګه وګرځي ، د شفیع المذنبین آقاء دوجهان صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " من ترك سنتی لم ینل شفاعتی " یعنی څوک چی زما سنت او طریقه پریدي هغه به زما له شفاعت نه محروم وي ، حوض کوثر ته به یوه ډله راشي چی زه به یی پیژنم چی دا خو زما امت دی ، وبه ویل شي ، تا ته څه پته ده ؟ له تا صلی الله علیه وسلم نه وروسته دوی څنګه څنګه بدعتونه ایجاد کړي وو ، زه به ورته ووایم چی لری شئ ، چا چی ما نه وروسته زما د طریقو خلاف کارونه ایجاد کړي : " لیردن علی اقوام اعرفهم ویعرفتنی ثم یحال بینی وبینهم فاقول انهم منی فیقال انك لاتدری ما احدثوا بعدك فاقول سحقاً سحقاً لمن غیر بعدی " (مشکواة ص ٤٨٧) .

الله تعالی دی مونږ ټولو ته د شریعت د پیروی توفیق او د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم شفاعت رانصیب کړي آمین وصلی الله تعالی علی النبی الکریم واله واصحابه اجمعین ، فقط .

یارسول الله ویل څنګه دي ؟

(۳۷ سوال) یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویل جائز دي یا ناجائز ؟

ځواب : د یارسول الله په ویلو کی لوی تفصیل دی ، ځینی طریقی جائز او ځینی یی ناجائز دي . بیشکه رحمة اللعالمین صلی الله علیه وسلم حیات دی ؛ د قبر مبارک خوا ته چی درود او سلام ویل کیږي نو دی صلی الله علیه وسلم پخپله آوري او که د کوم لری علاقی نه درود و سلام ولیږل شي نو ملائکی د ده صلی الله علیه وسلم په خدمت کی

بالاسماء ، د ليږونکي د نوم سره) پيش کوي او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه خواب ورکوي ، په حديث شريف کې دي : " من صلى على عند قبرى سمعته ومن صلى نائيا ابلغته " يعني څوک چې زما د قبر په خوا کې درود ليږي هغه زه پخپله اورم او کوم څوک چې د لرې نه ما باندې درود ليږي هغه ماته رسول کيږي .
(مشكواة شريف باب الصلواة على النبى صلى الله عليه وسلم وفضلها ص ۸٦)

او په بل حديث کې دي : " ان لله ملائكة سياحين فى الارض يبلغون من امتى السلام " (مشكواة شريف باب الصلواة على النبى صلى الله عليه وسلم وفضلها ص ۸٦) .
يعني الله تعالى د ملائکو يوه ډله مقرر کړې ده چې په ځمکه باندې ګرځي او زما د امت درود و سلام ما ته رسوي ، مطلب دا چې لرې وي يا نزدې د صحيح عقيدې سره صلواة و سلام ويلو په وخت کې يارسول الله وواِيي نو دا جائز دي ، مګر دا عقيده ساتل پکار دي چې د لرې نه درود و سلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ملائکو په ذريعه رسول کيږي د الله تعالى پشان پخپله براه راست د اوريدو عقيده ونه ساتي .
همدا شان په " التحيات " کې " السلام عليك ايها النبى " ويلو سره سلام ليږلى شي پدې کې شک و شبه نشته ، او همدراز د قرآن پاک ويلو په وخت کې چې " يا ايها المزمل " دعبادت په طور لوستل کيږي پدې کې څه پروا نشته ، دا د حاضر او ناظر دليل جوړول جهالت دى ، او همدا راز د حاضر و ناظر عقيدې نه بغير فقط په جوش د محبت کې چې يارسول الله وويل شي دا هم جائز دي ، کله د بې انتهاء محبت او يا د شديد غم په حالت کې د حاضر و ناظر تصور نه بغير غائب لپاره د ندا لفظ استعماليږي دا هم جائز دي ، او کله يواځې د تخيل په طريقه شاعرانه او عاشقانه خطاب کولى شي پدې کې هم څه پروا نشته (شاعران خو ديوالونه او کورونه هم مخاطب جوړوي) دا يوه محاوره ده دلته د حاضر و ناظر وغيره هيڅ عقيده نه وي ، البته بغير د صلواة و سلام نه حاضر و ناظر ګڼلو سره حاجت روائي لپاره په کيناستو او پاڅيدو کې يارسول الله ، ياعلى ، ياغوث وغيره ويل بلا شک و شبه ناجائز او ممنوع دي .

د حق تعالی ارشاد دي : " ادعوني استجب لكم " (سورت مؤمن) یعنی تاسو ما رابلئ زما عبادت کوئ ، زه له تاسو نه غائب نه یم ، زه ستاسو وینا او بلنه آورم او ستاسو درخواست او عبادت قبلوم (تفسیر حقاني ج ٦ ص ١٩١).

او په حدیث شریف کی هم دي : " قال رجل یارسول الله ای الذنب اکبر عند الله قال ان تدعوا لله نداً وهو خلقك " یعنی یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه تپوس وکړ کومه ګناه د الله په نزد باندی ډیره لویه ده ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی الله تعالی سره بل چا لره په عبادت کی شریک ګرځول او حال دا چي الله تعالي ته پیدا کړی یی ، لدینه ثابتیږي چی لکه څنګه حاجت روائي لپاره یا الله ویلو سره آواز کوو پدی شان سره بل چا ته آواز کول لویه ګناه ده .

(مشکواة شریف ، مظاهر حق ۱/۱ ٤)

لهذا په ناسته او ولاړه کی او د مصیبت په وخت کی د یا الله په ویلو سره خپل خالق و مالک او رازق ته (چی شان " علی کل شیئ قدیر " او " بکل شیئ علیم " دی) آواز کول او مدد غوښتل پکار دي او ټول حاجتونه د همدی په بارګاه کی پیش کول پکار دي نه دا چی یارسول الله ، یاعلي ، یاغوث ویلو سره مستقل حاجت او مشکل کشا منلو سره ورته آواز وکړی شي او د دوی په خدمت کی خپل حاجتونه پیش کړي دا د اسلامي تعلیماتو نه خلاف دي ، حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي :

ای مخاطبه ! تا زه د مخلوق خوا ته وینم نه د الله تعالی خوا ته ، ته د نفس او د مخلوق د دواړو حق ادا کوی او د الله تعالی حق غورځوی ، دا نعمتونه کوم چی ته پکی ډوب یی تا ته چا درکړي ؟ ایا د الله تعالی نه علاوه کوم بل چا درکړي دي ؟

(الفتح الرباني م ۴۳ ص ۲۸۵)

او همدا راز فرمائي : " فلا تذهبن همتك الی احد من خلقه فی معافاتك فذاك اشراك منك به لا یملك معه فی ملکه احد شیئاً لاضار ولا نافع ولا رافع ولا جالب ولا مسقم ولا مبلی ولا معافی ولامبری غیره " .

ترجمه : د بلاء دفع کولو لپاره خپل همت او خپل توجه کوم مخلوق خوا ته مه اړوه چی دا د الله تعالی سره شریک جوړول دي ، هیڅو الله تعالی سره د ده په ملک کی د

هيڅ څيز مالک نه دی ، نه نفع و نقصان رسونکی ، نه لری کونکی ، نه بيمار او مبتلاء کونکی نه صحت او نجات ورکونکی د الله نه علاوه څوک شته ؟

(فتوح الغيب مقاله نمبر ۵۹ ص ۱۵۰)

او فرمائي : " فليکن لك مسئول واحد ومعطى واحد وهمة واحدة وهو ربك عزوجل الذى نواصى الملوك بيده وقلوب الخلق بيده التى هى امراء الاجساد "

(مکتوب نمبر ۷۸ ج ۱ ص ۱۰۰)

يعنى : يکار دي چی ستا مسئول (د چا نه چی غواړی) يو وي ، ورکونکی ذات يو وي ، همت او توجه يو طرف ته وي (پراګنده نه وي) او هغه ستا رب دی هغه رب چی د ټولو د بادشاهانو د تندي ويښتان د ده په قبضه کی دي د ټولو مخلوقاتو زړونه کوم چی په جسمونو باندی حاکم وي د ده په قبضه کی دي .

(فتوح الغيب مقاله نمبر ۵۸)

لنډه دا چی د الله تعالی نه علاوه بل چا لپاره که هغه نبي وي يا ولي د حاضر و ناظر او حاجت روا ګڼلو عقيده بالکل غلط او باطل ده او د اسلامي تعليم نه خلاف ده ، حاضر و ناظر ذات يواځی الله تعالیدی ، مجدد الف ثاني فرمائي : " حق سبحانه وتعالی بر احوال جزوي و کلي او مطلع است و حاضر و ناظر ! شرم بايد کرد " يعنی الله تبارک و تعالی د بندګانو ټولو جزوي او کلي کارونو باندی خبردار او حاضر و ناظر دی ، لدينه علاوه د بل چا ذ تصور نه موږ ته شرم کول يکار دي (مکتوب نمبر ۷۸ ۱/۱۰۰) .

" على کل شئ قدير " او " بکل شئ محيط " او " حاضر و ناظر " وغيره يواځی د الله تعالی صفتونه دي پديکی بل هيڅوک شريک نشته ، حضرت شاه هدايت الله نقشبندي جی پوري رحمه الله فرمائي : " الله تعالی پخپل ذات و صفات او افعالو کی يواځی دی ، دی سره په ذات و صفات او افعالو کی هيڅوک هيڅ قسم شرکت نه لري .

(معيار السلوک ص ۷)

پدی وجه د حضرت خواجه بختيار کاکي استاذ سلطان العارفين حضرت قاضي حميد الدين ناګوري په " توشيح " کی ليکي : ځينی کسان هغه دي چی د خپل حاجتونو او مصيبتونو په وخت انبياؤ او اولياؤ ته آوازونه کوي د دوی عقيده دا ده چی د دوی روحونه موجود دي او زموږه آوازونه آوري او ځموږ ضروريات ورته معلوم دي دا لوی شرک او ښکاره جهالت دی " او ملا حسين خباح په " مفتاح القلوب " کی ليکي :

" واز کلمات کفر ست نداء کردن اموات غائبانه بگمان آن که حاضرٌ اند مثل یارسول الله ویا عبد القادر و مانند آن ! یعنی کوم بزرگان چی وفات شوي دوی په هر خای کی حاضر او ناظر گنل او غائبانه آوازونه ورته کول لکه یارسول الله او یا عبدالقادر جیلانی وغیره دا کفري کلمات دي . او په فتاوی بزازیه کی دي : " من قال ارواح المشائخ حاضرة یکفر " یعنی څوک چی دا وینا کوي چی د بزرگانو روحونه هر خای کی حاضر و ناظر دي هغه کافر دی (۳۲٦/۳ مع فتاوی عالمگیري) .

او شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله باطله عقائد په باره کی لیکي : انبیاء مرسلین را لوازم از علم غیب وشنیدن فریاد هر کس و هر جا قدرت بر جمع مقدورات ثابت کنند " (تفسیر فتح العزیز سورت بقره ص ۵۲) .

یعنی انبیاء او رسولانو علیهم السلام لپاره د الوهیت (خدایتوب) لوازم ثابتول لکه علم غیب ، د هر خای نه د هر چا فریاد اوریدل او په ټولو مقدوراتو باندی قدرت لرل ، دا باطله عقیده ده .

د بریلوي خیالاتو یو لوی عالِم هم د پورته ذکر شوی عقیدی په باره کی په واضح الفاظو سره فرمائي : " مونږ دا خبره منو چی هر خای کی حاضر و ناظر د الله رب العزت نه علاوه بل هیڅوک نشته " (انوار البهیة فی الاستعانة من خیر البریة ص ۱۲٤) .

غرض دا چی یارسول الله ، یاغوث وغیره پدی عقیده ویل چی د الله تعالی پشان دغه حضرات هم هر خای کی حاضر و ناظر دي ، یا زمونږ هر فریاد او آواز آوري ، او حاجت روا دی ، جائز ندی ، که خپله عقیده یی دا نه وي خو د نورو عقیده خرابیدو ویره وي بیا هم جائز ندی چی د هغوی په وړاندی داسی کلمات ووائي .

والله اعلم وعلمه اتم واحکم

" اللهم ان هذا الکتاب وسیلتی الیك وفی مغفرتك الوسعة حیلتی لدیك لا اله الا الله انت سبحانك لبیك وسعدیك فاغفر اللهم ارحم امة محمد صلى الله علیه وسلم رحمة عامة ایاك نعبد وایاك نستعین ونتوکل علیك ربنا علیك توکلنا والیك انبنا والیك المصیر وما علینا الا البلاغ المبین بلاغ فهل یهلك الا القوم الفاسقون ،

حم الامر وجاء النصر فعلینا لا ینصرون وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین "

ترجمه یا الله تعالی دا کتاب تاته د رسیدو وسیله گرخوم او ستا د وسیع مغفرت او بخښنې لپاره بهانه . هم ته زما معبود یې او ستا ذات پاک دی ، ستا عبادت لپاره زه هر وخت حاضر یم ، یا الله په امت محمدي صلی الله علیه وسلم باندی مهرباني او ټول امت باندی خپل عام رحمت نازل کړی ، مونږه ستا عبادت کوو او خاص تا نه مدد غواړو ، ای زمونږ ربه مونږ یواځی ستا په ذات باندی توکل کوو او تاته رجوع کوو ، زمونږ په ذمه دا دي چې واضح طور سره ستا پیغام ورسوو ، د پیغام رسولو نه وروسته هغه خوک تباه کیږي چې فاسق او بدعمل وي او پیغام ته توجه ونکړي ، حم الامر وجاء النصر فعلینا لا ینصرون ، الله تعالی دی په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندی کوم چې ټول مخلوق کې افضل دی رحمتونه نازل کړي او د ده صلی الله علیه وسلم په ټول آل او اصحابو باندی هم .

د اختر لمانځه نه وروسته مصافحه او معانقه :

(۳۸ سوال) د اختر لمانځه نه وروسته معانقه او مصافحه (یو بل سره ملاویدل) مسنون او جائز دي یا نه ؟

ځواب : د اختر لمانځه نه وروسته ملاویدل او معانقه و مصافحه کول کوم مسنون کار ندی دا د خلکو اختراعات او بدعات دي ، په احادیثو کې خومره پوری چې معلومات دي د دی هیڅ ثبوت نشته ، د غائب کیدو نه وروسته مصافحه (لاس ملاوول) او ډیری مودی غیابت نه وروسته معانقه (غاړه ملاوول) ثابت دي مګر د اختر لمانځه نه وروسته د دی ثبوت نشته ، دلته خو دا حال دی چې کوم ملګری لمانځه کې شریک وي بلکې یو صف کې ولاړ وي د سلام او خطبې نه وروسته غاړه په غاړه کیږي او دا یو دیني کار ګڼي پدی وجه دا غلط کار دی (مکتوبات شیخ الاسلام ۳۰۷/۱ ، ۳۰۸ ، م ۹٦) .

د میلاد رسمي مجلس او عرس کې شرکت :

(۳۹ سوال) دلته یو صاحب باندی عرس او د میلاد رسمي مجلس کیږي ، خینی خلاف شریعت کارونه کیږي نو ماته څه کول پکار دي شرکت پکې وکړم یا نه ؟

خواب کوم صاحب باندی چی عرس او میلاد کیږي او چونکی د شریعت خلاف وي پدی وجه اول د دی اصلاح کول پکار دي که دا نشي کیدی نو بیا ورسره شرکت ونه کړی . البته که غالب گمان وي چی پدی وجه تا ته څه تکلیف رسول غواړي . او یا په تعصب کی راتلو سره لدینه زیات گناه کی مبتلا کیږی او یا مسلمانانو کی د افتراق او اختلاف زهریله بازار گرمیږي نو بیا شریک کیدل جائز دي .

(مکتوبات شیخ الاسلام ۸۱/۱ م ۲۹)

د عاشورا په ورځ مسلمانان څه وکړي ؟

(۴۰ سوال) د عاشورا د ورځی متعلق شریعت څه حکم کړی ؟ مسلمانانو ته پدی ورځ څه کول پکار دي ؟

خواب : د دی ورځی متعلق شریعت خاص دوه شیان ښودلي دي (۱) روژه نیول (۲) په اهل و عیال باندی په رزق او خرچه کی وسعت او فراخي کول په حدیث شریف کی دي چا چی د عاشورا په ورځ خپل اهل و عیال باندی په رزق (خوراک څښاک) کی فراخي وکړ نو الله تعالی به د ټول کال په رزق کی اضافه او زیاتوالی کوي ، د مصیبت او صدمی وخت کی د استرجاع " انا لله وانا الیه راجعون " ویل حکم دی او پدی تاریخ باندی یو دردونکي واقعه د حضرت سیدنا حسین رضی الله عنه د شهادت واقعه شوی ده د دی له یادولو نه درد ضرور کیږي نو د شریعت د پورته ذکر شوي حکم مطابق " انا لله وانا الیه راجعون " ووائي ، لدینه علاوه د دی ورځی متعلق بل کوم حکم ندی راغلی ، فقط والله اعلم بالصواب .

یواځی د محرم لسم روژه نیول څنګه دي ؟

(۴۱ سوال) که د لسم روژه ونیسي خو ورسره د نهم روژه ونشي نیولی نو څه پرواه شته؟

خواب : د لسم محرم سره د نهم روژه نیول هم پکار دي که د نهم روژه ونه نیولی شي نو بیا دی یولسم ورسره ونیسي او که نه یواځی د لسم روژه نیول مکروه کیږي ،

"وتنزیها کعاشوراء وهذه (درمختار) ای منفردا عن التاسع او عن الحادی عشر (امداد) لانه تشبه بالیهود (شامی ج ۲۷۰ ص ۱۱٤ مراقی الفلاح ص ۱۲٤)

فقط .

د عاشورا روژه څه فضیلت لري ؟

(۴۱/۱ سوال) د لسم محرم یعنی عاشورا د روژی متعلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چی زه د الله تعالی نه امید لرم چی مخکني د یو کال ګناهونو لپاره کفاره وګرځي نو پدی سره کبیره ګناه هم معاف کیږي یا یواځی صغیره ؟

ځواب : دا ارشاد ګرامي د صغیره ګناهونو په باره کی خو یقین او اطمئنان ورکوي او باقي د الله تعالی نه د کبیره ګناه د معاف کیدو هم امید ساتل پکار دي مګر د دی احادیثو دا مطلب ندی چی پدی بروسه او اعتماد باندی ګناه وکړی شي ، باید خپلو ګناهونو باندی شرمنده او پښیمانه وي او د پاک صاف جوړیدو کوشش وکړي نو دا شیان به مدد ګار وي .

د ذیقعدی میاشت منحوس ګڼل څنګه دي ؟

(۴۲ سوال) د ذیقعدی میاشت ته خالي میاشت ویل کیږي او د دی په منحوس ګڼلو سره خلک نکاح نه کوي ، نو پدی قسم منحوس ګڼل څنګه دي ؟

ځواب : د ذیقعدی میاشت ډیر مبارک میاشت دی دا میاشت د " اشهر حرم " د حرمت او د عدل یو مشهور میاشت دی په قرآن شریف کی د دی بیان دی " منها اربعةٌ حرم " یعنی پدی (۱۲) میاشتو کی څلور د عدل و عزت میاشتی دي (سورت توبه) او همدارازدا میاشت په " اشهر حج " د حج په میاشتو کی شامل دی ، الله تعالی فرمائي : " الحج اشهر معلومات " (سورت بقره) یعنی د حج دری میاشتی دي ، شوال ، ذوالقعده . او ذو الحجه ، په حدیث شریف کی دي : " عن انس رضی الله عنه اعتمر رسول الله صلی الله علیه وسلم اربع کلهن فی ذی القعده الخ " (مشکواة شریف کتاب المناسك ص ۲۲۱) حضرت انس رضی الله عنه فرماني چی رسول الله صلی الله علیه وسلم څلور عمری کړی دي او دا ټولی په ذیقعده میاشت کی کړي دي غیر د هغی نه چی د حج سره یی یوځای کړی وه .

کوم میاشت چی د قرآن کریم په نظر د عدل و عزت میاشت وي او د حج د مبارکو میاشتو څخه وي او په کوم کی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دری عمری کړی وي نو داسی میاشت څنګه منحوس کیدی شي ؟ دی لره منحوس ګڼل او پدی کی د نکاح او خطبی وغیره د خوشحالي کارونه نامبارک ګڼل جهالت او مشرکانه ذهنیت دی

او خپل طرف ته د یو نوي شریعت جوړول دي ، له داسی ناپاکو خیالاتو او غیر اسلامي عقیدو نه توبه کول ضروري دي ، دا میاشت نامبارک او له برکت نه خالي گڼل او ورته خالي ویل هم ناجائز دي ، دیته ذیقعده ویل پکار دي نه خالي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه ماسخوتن لمانځه ته د عشاء په ځای عتمه ویلو نه منع راغلی دی .
(مرقات ۳۹۹/۱)
همداشان د دی غلط نوم د استعمالولو نه هم احتیاط کول پکار دي ، فقط .

فرائض ، واجبات ، مسنونات او مستحاب څه ته ویل کیږي ؟

(۴۳ سوال) د فرض ، واجب ، سنت ، مستحب ، مکروه ، مباح ، حرام د دی معنی او مطلب څه دی ؟
ځواب :
(۱) **فرض** : هغه دی چی په دلیل قطعي سره ثابت وي یعنی د دی په ثبوت کی څه شک و شبه نه وي لکه مثلاً په قرآن شریف سره ثابت وي ، بغیر دعذر نه د دی پریښودونکی فاسق او د عذاب مستحق دی او د فرضیت نه منکر کافر دی ، او فرض دوه قسمه دي :
(أ) فرض عین : هغه دی چی ادا کول یی په ټولو باندی ضروري دي لکه پنځه وخته لمونځ وغیره .
(ب) فرض کفائي : هغه دی چی ادا کول یی په ټولو باندی ضروري نه دي ، بلکی دیو څو کسانو په ادا کولو سره د نورو غاړه هم خلاصیږي او که هیڅوک هم ادا نه کړي نو بیا ټول گنهگاریږي لکه د جنازی لمونځ وغیره[1] (درمختار مع الشامي) .
(۲) **واجب** : هغه دی چی په دلیل ظنی سره ثابت وي د دی پریښودونکی د عذاب مستحق او منکر یی فاسق دی نه کافر .

---

[1] _ هی فرض عین علی کل مکلف بالاجماع قال فی الشامیة تحت قوله علی کل مکلف ای بعینه ولذاسمی فرض عین بخلاف فرض کفایة فانه یجب علی جملة المکلفین کفایة بمعنی انه لو قام به بعضهم کفی عن الباقین والاأثموا کلهم (درمختار مع الشامی ج ۱ ص ۳۵۲ کتاب الصلواة) .

(۳) سنت : هغه كار چى رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو رضى الله عنهم كرى وى او د دى تاكيد شوى وي ، د دى دوه قسمونه دي :

(۱) سنت مؤكد (۲) سنت غير مؤكد .

(۱) سنت مؤكد : هغه دى چى هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو رضى الله عنهم همېشه كړى وي او يا د كولو تاكيد كړى وي او بغير د عذر نه كله نه وي پرېښى . د دى حكم هم عملاً د واجب پشان دى يعنى بغير د عذر نه پرېښودونكى ګنهګار او د پرېښودو عادتي سخت ګنهګار او فاسق دى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د شفاعت نه محروم ګرځي[1] (درمختار) او دا هم دوه قسمونه لري !

(۱) سنت عين (۲) سنت كفائي .

(أ) سنت عيني : هغه دى چى ادا كول په هر مكلف باندى سنت دي لكه د تراويحو لمونځ وغيره .

(ب) سنت كفائي : هغه دى چى ادا كول يى په ټولو باندى ضروري نه وي يعنى د څينو په ادا كولو سره ادا كيږي او كه هيڅوک يى ادا نه كړي نو ټول ګنهګاريږي لكه د محلى په جوماتونو كى د تراويحو جماعت وغيره .

" السنة تكون كفاية (قوله سنة عين) اى يسن لكل واحد من المكلفين بعينه وفيه اشارة الى ان السنة قد تكون سنة عين وسنة كفاية مثاله ما قالوا فى صلواة التراويح انها سنة عين وصلاتها بجماعة فى كل محلة سنة كفاية " (شامى ج ۱ ص ۵۰۲)

(ب) سنت غيرمؤكد : هغه دى چى نبى اكرم صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو رضى الله عنهم اكثر وخت كړى وي مګر كله نا كله بغير د عذر نه ترک كړى وي ، د دى په كولو كى زيات ثواب دى او په پرېښودو كى ګناه نشته ديته سنت زوائد او سنت عاديه هم ويل كيږي (شامي ج ۱ ص ۹۵) .

[1] كنسبة الواجب الى الفرض فيثبت به الواجب يعنى بظنى الثبوت ويأثم بارتكابه كما يأثم بترك الواجب ومثاله السنة المؤكدة (درمختار مع هامش شامى ج ۵ ص ۳۳۷ كتاب الحظر والاباحة) .

(۴) **مستحب** : هغه کار دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم کله کړی وي او سلف صالحینو خوښ کړی وي (شامي ۱۱۵/۱) د دی په کولو کی ثواب دی او په نه کولو کی گناه هم نشته دیته نفل ، مندوب او تطوع هم وبل کیږي : "والنفل ومنه المندوب يثاب فاعله ولا يسيئ تاركه "(شامی ۹۵/۱)

(۵) **حرام** : هغه دی چی منع یی په دلیل قطعي سره ثابت وي ، د دی منکر کافر دی او بغیر د عذر نه کونکی فاسق او مستحق د عذاب دی .

(٦) **مکروه تحریمي** : هغه دی چی منع یی په دلیل ظني سره ثابت وي بغیر د عذر نه د دی مرتکب گنهگار ، د عذاب مستحق او منکر یی فاسق دی (شامي ۲۹۵/۵).

(۷) **مکروه تنزیهي** : هغه دی چی پریښودل یی ثواب او په کولو کی عذاب نشته مگر یو قسم قباحت (عیب) دی .

(۸) **مباح** : هغه دی چی په کولو کی یی ثواب نشته او په نه کولو کی یی گناه او عذاب هم نشته[1] (شامي ۲۹۴/۵) فقط .

د محرم په میاشت کی واده وکړي یا نه ؟

(۴۴ سوال) دلته څمونږ په علاقه کی د محرم په میاشت کی واده کول ناجائز گڼي او دیته د ماتم او غم میاشت وائي ایا دا خبره صحیح ده ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د محرم میاشت د ماتم او د غم میاشت گرځول ناجائز او حرام دي ، په حدیث کی دي چی ښځو ته د خپلوانو په مرگ باندی دری ورځی د ماتم او غم کولو اجازت

---

[1] ــ کل مکروه ای کراهة تحریم حرام ای کالحرام فی العقوبة بالنار عند محمد واما المکروه کراهة تنزیه فالی الحل اقرب اتفاقا وعندهما وهو الصحیح المختار الی الحرام اقرب فالمکروه تحریما نسبة الی الحرام کنسبة الواجب الی الفرض فیثبت به الواجب یعنی بظنی الثبوت یأثم بارتکابه کما یأثم بترك الواجب قال فی الشامیة تحت قوله نسبه ای من حیث الثبوت ..... بیان ذلك ان الادلة السمعیة اربعة . الاول قطعی الثبوت والدلالة کنصوص القرآن المفسرة والمحکمة والسنة المتواتره التی مفهومها قطعی ، الثانی قطعی الثبوت ظنی الدلالة کالآیات المؤولة . الثالث عکسه کأخبارالاحاد التی مفهومها قطی الرابع ظنیهما کاخبار التی مفهومها ظنی ، فبالاول یثبت الافتراض والتحریم وبالثانی والثالث الا یجاب وکراهة التحریم وبالرابع یثبت السنة ولاستحباب . درمختار مع الشامی حظر والاباحة ج : ٦ ص : ۳۳۷ .

دی او دخپل خاوند په مرګ باندی خلور میاشتی او لس ورځی ماتم او غم کول پکار دي او د بل چا په مرګ باندی دری ورځو نه زيات ماتم او غم کول ناجائز او حرام دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : " لایحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تحد علی میت فوق ثلث ليالٍ الا علی زوج اربعة اشهر وعشراً " (بخاري باب تحد المتوفی عنها اربعة اشهر وعشرا ۸۰۳/۲ ، مسلم باب وجوب الاحداد فی عدة الوفات ٤٩٦/١ ،مشکواة باب العدة الفصل الاول ص ۲۸۸) .

ترجمه : کومه ښځه چی په الله تعالی او قیامت ورځ باندی ایمان لري هغی ته جائز ندي چی د چا په مرګ له دری ورځو نه زيات ماتم وکړي مګر یواځی په خاوند باندی چی پدی خلور میاشتی او لس ورځی غم او ماتم کوي .

د محرم په مبارک میاشت کی واده وغیره کول نامبارک او ناجائز ګڼل سخته ګناه او د اهل سنت والجماعت له عقیدی نه خلاف دی ، اسلام چی کوم شیان حلال کړي دي اعتقاداً یا عملاً هغه حرام او ناجائز ګڼلو کی د ایمان خطره ده ، مسلمانانو ته پکار دي چی د شیعه ګانو سره پوره احتیاط وکړي او د دوی په رسوماتو کی له شرکت نه ځان وساتي ځکه چی پدی کی شرکت کول حرام دي .

په " ما لا بد منه " کی دي : " مسلم را تشبه به کفار و فساق حرام است " یعنی مسلمانانو لپاره د کافرانو او فاسقانو سره مشابهت غوره کول حرام دي (ص ۱۳۱) .

پدی مبارک میاشت کی واده کولو متعلق د دیوبندي او بریلوي تر منځ کوم اختلاف هم نشته ، د مولانا احمد رضا خان بریلوي صاحب فتوی ولولئ :

(۱ سوال) ځینی سنیان د محرم په لسو ورځو کی نه تموله ورځ روټی پخوي او نه جارو وهي او وائي چی د تعزیه دفن کولو نه وروسته به روټی پخول کیږي (۲) پدی ورځ کپړی هم نه بدلوي (۳) د محرم په میاشت کی ځوک واده نه کوي ، د دی څه حکم دی ؟

خواب : دا دری واړه خبرې ماتم دي او ماتم حرام دی (احکام شریعت ۹۰/۱) .

د مولانا احمد رضا خان بریلوي صاحب تصنیف ، فقط والله اعلم .

د ایصال په خوراک باندی فاتحه خواني :

(۴۵ سوال) زمونږ پدی ځای کی د ایصال ثواب خوراک غریبانو او فقیرانو پـه وړانـدی اینږودو سره یو ځل سورت فاتحه او دری ځلی سـورت اخـلاص لوسـتلو سـره ثـواب یی مړي ته بخښي او بیا وروسته خوراک کوي نو په شریعت کی د دی ثبوت شته ؟

ځواب : د ایصال ثواب په خوراک باندی د فاتحه خوانی دغه طریقـه بـی اصـل او بـی دلیل دی او بدعت دی ، د دی په ثبوت کی چی کوم حدیث وړاندی کولی شـي هغـه موضوعي دی . په فتاوی سمرقندي کی دي : " قرأة الفاتحة والاخلاص والكـافرون على الطعام بدعة " فقط والله اعلم .

په عرس کی قوالي د ثواب باعث ګڼل څنګه دي ؟

(٤٦ سوال) د بزرګانو په مزارونو باندی د عرس په وخت قوالي کیږي دا د ثواب باعـث ګڼي د دی څه اصل شته ؟

ځواب : په مزارونو باندی قوالي یـوه تماشـه او ناجـائز حرکـت دی پـدی سـره دینـي بزرګانو ته تکلیف رسیږي ، د رضاخانی ډلی پیشوا مولانا احمد رضا خان بریلوي لیکي :

" د حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکي په مزار باندی مجلـس سـماع کـی قـوالي شروع وه (حال دا چی هغه وخت کی په مزارونو باندی موسیقي هـم نـه وه) حضـرت سید ابراهیم امیرجي د مجلس سماع نه باهر تشریف درلود یـو نیـک صـالح سـړی ورتـه راغی او درخواست یی وکړ چی مجلس کی شریک شي ، حضرت سید ابراهیم امیرجـي ورته وفرمایل : ته پوهیږی ، مواجه اقـدس کـی حاضـر شـي ...... کـه چیرتـه حضـرت راضي وي نو زه همدا اوس ځم ، هغوی په مزار اقدس باندی مراقبه وکړه نو وی لیـدل چی حضور قبر شریف کی پریشان دی او دغو قوالانو ته اشاره کولو سـره فرمـائي " ایـن بدبختان وقت مارا پریشان کـرده انـد " یعنـی دی بـدبختو زه پریشـان کـړی یم ، د الله تعالی د ذکر په مشغولیت کی فرق راغی او نقصان وشـو) هغـه واپـس راغـی او مخکـی لدی چی عرض وکړي وی فرمایل تا ولیدل ؟ (ملفوظات ۹۰/۱) .

د مولانا احمد رضا خان بریلوي تصنیف

د مړي په کور کی ختم قرآن لپاره اجتماع او شيريني :

(۴۷ سوال) زمونږ د ګجرات په زياتره برخو کی رواج دی چی مړی وشي نو په متعينو ورځو کی د قرآن مجيد ختم کيږي مثلاً دری ورځی وروسته يا څلويښت ورځـی وروسته او يا کومه ورځ چی هغوی متعين کړه او د ختم نه وروسته لوستونکو ته يو څه شيريني يا څه پيسی ورکولی شي نو سوال دا دی چی د قرآن خواني دا رواج څنګـه دی ؟ د دی څه ثبوت شته ؟ او دختم نه وروسته چی کوم شيان ورکولی شي د دی اخستل هم جـائز دي ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : په خير القرون کی د ايصال ثواب دا طريقه نه وه چی په خاصو ورځو او متعين تاريخو کی د مړي په کور کی قرآن شريف ولولي او دختم قرآن لپاره حافظان او قاريان را دعوت کړي او بيا څه پيسی يا شيريني تقسيم کړي " ومن المحال ان يكون شيئ منها مشروعاً وعملاً صالحاً ويصرف عنه القرون الثلثة التى شهد فيهم النبى صـلى الله عليه وسلم بالصدق والعدل ويظفر به الخلف الذين شهد فيهم النبى صلى الله عليه وسلم بالكذب والفسق " .

يعنی دا خبره محال ده چی يو جائز او مشروع او نيک عمل وي او په قـرون ثلاثـه کـی دی نه وي شوی د چا په باره کی چی رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم د صـداقت و عدالت ګواهي ورکړی او وروستني خلک دی پری عمل وکړي د چا په بـاره کـی چـی رسول الله صلی الله عليه وسلم د کذب او فسق ګواهي ورکړی دی .

(مجالس الابرار ص ۱۱۹)

نو دا مروجه طريقه بدعت او مکـروه ده : " ويكره اتخاذ الدعوة بقرأة القرآن وجمـع الصلحاء والقراء للختم او لقرأة سورة الانعام او الاخلاص " .

ترجمه : او قرآن خواني لپاره دعوت ورکول او د نيکانو او قاريانو ختم قرآن ، يـا سـورت انعام او د اخلاص لوستلو لپاره جمع کول مکروه دي (فتاوی بزازيه مـع الهنديـه ۸۱/۱ ، الخامس والعشرون فی الجنائز) او په شرح سفر السـعادت کـی دي : " وعـادت نبـود کـه برای ميت درغير وقت نماز جمع شوند وقرآن خوانندوختمات خوانند نـه برسـرګور ونـه اين مجموع بدعت است و مکروه " .

ترجمه : په خیر القرون کی دا رواج نه ؤ چی مړي لپاره د جنازی لمانځه نه علاوه بل وخت کی جمع شي او قرآن کریم ولولي نه د قبر خوا کي او نه بل خای کی او دا ټول بدعت او مکروه دي (ص ۲۷۳) .

علاوه لدینه لوستونکي هم د الله تعالی لپاره نه لولي (د طمع یا د مهتمم له ویری خی که دا خبره نه وي نو هر گز نه خي) او نه د ختم والاو نیت صحیح وي د نوم او شهرت او د طعن او خبرو نه د بچ کیدو په غرض کوي او یا د رواج پابندي مقصود وي ، پدی وجه هم لدی رسم نه خان ساتل پکار دي : " وقال هذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم یریدون بها وجه الله تعالی " (شامی ۸٤۲/۱ جنائز مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت) .

او د قرآن پاک په لوستلو باندی نقدي اخستل او ورکول او شیرینی وغیره ورکولو التزام او عادت هم منع او مکروه دی او د " المعروف کالمشروط " په قاعده د اجرت مثال لري . " ثم انه یأخذ علی قرأته اجراً من اولیاء المیت کانه اجیر لهم لان المعتاد کالمعقود وانه بدعة اخری ظلمات بعضها فوق بعض " (نصاب الاحتساب قلمی ص ۳۸) او په شامي کی دي : "الحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة القرآن لاجل الاکل یکره" (ص ۸٤۲ ج ۱) فقط .

د جنازی اوچتولو په وخت او د قبرستان نه باهر همداشان د مړي کور ته راتلو سره فاتحه خواني څه حکم لري ؟

(۴۸ سوال) د جنازی اوچتولو وخت کی فاتحه خواني (دعاکول) د کور نه وتو په وخت او په قبرستان کی د جنازی لمونځ نه وروسته دفن کولو نه بعد د قبرستان نه باهر او دمړي کور ته واپس کیدو سره فاتحه خواني صحیح دی یا نه ؟ مهرباني وکړئ دمړي لپاره د فاتحه خوانی شرعي طریقه واضحه کړئ .

خواب : د جنازی اوچتولو او د جنازی لپاره د خلکو جمع کیدو وخت کی د فاتحه خوانی دستور مکروه او قابل د ترک دی ، " کره ان یقوم رجل بعد ما اجتمع القوم للصلواة ویدعوا للمیت ویرفع صوته " (فتاوی عالمگیری ۳۱۹/۵ کتاب

الكراهية الباب الرابع فى الصلواة والتسبيح والقرأة) او همداشان لمانځه نه وروسته متصل بالاجتماع د فاتحه خوانی دستور هم غلط او مکروه دی ، د جنازی لمونځ پخپله دعاء ده ، له دینه فوراً وروسته دعا کول اولنـی ناکـافي ګرځـول دي ، پـدی وجـه (۱۱) سوه کاله مخکی (یعنی کله نه چی داسی خبرې شـوی) فقهـاء کرامـو دیتـه مکـروه او ممنوع فرمایلي دي لکه چی د دریمی هجری صدی فقیه امام ابوبکر بن حامـد فرمـائي : " ان الدعاء بعد صلواة الجنازة مكروه " (فتاوى برجنـــدى ۱/۱۸۰) او امـام طاهر بن احمد بخاري سرخسـي (المتوفي ۵۴۲ھ) فرمـائي : " لا يقوم بالدعاء فى قرأة القرآن لاجل الميت بعد صلواة الجنازة وقبلها " (خلاصة الفتاوى ۱/۲۲۵) .

همداشان د قبرستان نه باهر او کورته تللو سره د فاتحه خوانی دستور د سنت نه خـلاف دی " ويكره الاجتماع عند صاحب الميت ويكره له الجلوس فى بيته حتى يأتى اليه من يعزى بل اذا فرغ ورجع الناس من الدفن فليتفرقوا وليشتغل الناس بـــامورهم وصاحب الميت بامره " (كتاب الجنائز مـــع رد المختــــار ج ۱ ص ۸۴۱ ، ۸۴۲ مطلب فى كراهة الضيافة من اهل الميت) .

البته د مړي دفن کولو نه وروسته قبر باندی څه وخته پوری دعاء کـول او تـلاوت کولـو سره بنیل ثابت دي او مسنون دي .

" وعن عمرو بن العاص قال لابنه هو فى سياق الموت اذا انامت فلاتصحبنى نائحةً ولا نارا فاذا دفنتمونى فشنوا على التراب شناً ثم اقيموا حول قبرى قدر ما ينحـــر جزور ويقسم لحمها حتى استانس بكم واعلم ماذا اراجع بـــه رســـل ربى " رواه مسلم (مشـــــكواة شـــــريف باب دفن الميت ص ۱۴۹ و كتاب الاذكار امام نووى رحمه الله ص ۲۱۱) .

ترجمه : حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه باندی د مرګ اثار ښکـاره شـوی وُ پـدی حالت کی دوی رضی الله عنه خپل ځوی ته وصیت وکړ چی زه کله مړ شم نو مـا پـسـی دی نه کومه ویر کونکی ښځه وي او نه اور او بیا کلـه چـی مـا دفـن کـړئ نـو خـاوری راباندی واچوئ (یعنی ورو ورو خاوری راباندی واچوئ او قبر برابر کړئ) نـو زمـا قبـر

باندی دومره وخت ایسار شئ څومره وخت چې اوبن حلال کړی شي او غوښه يې تقسیم کړی شي (تقریباً یو ساعت) تر څو ما ته ستاسو په ذریعه انس حاصل شي او زه پوه شم چې د الله تعالی لیږلو ملائکو ته څه ځواب ورکوم ، فقط والله اعلم

د عاشورا په ورځ جومات کی راغونډیدو سره نفلونه کول

(۴۹ سوال) زمونږ پدی علاقه کی (ملاوي ، سنټرل افریقه) د ډیری مودی نه دا رواج روان دی چې محرم الحرام لسم نه یوه ورځ مخکی دا اعلان کولی شي چې صبا اته بجی نفلي لمونځ کولی شي ، نو هغه وي چې د عاشورا په ورځ د ښار خلک په زیات شمیر کی رایوځای کیږي او ځان ځانله لمونځ کوي او د جومات امام اعلان کوي چې دوه رکعته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایصال ثواب لپاره او دوه رکعته د بي بي فاطمی رضی الله عنها د ایصال ثواب لپاره پدی شان سره څلور واړه خلیفه ګان او د حضرت حسین رضی الله عنه د ایصال ثواب په نیت نفلونه کوي ، ایا دا قسم لمونځ کول جائز دی ؟ د دې څه ثبوت شته ؟ د دلائلو سره ځواب ولیکئ مهرباني .

ځواب : د محرم په لسم (عاشورا په ورځ) اعلان او مظاهرې سره په جومات کی د نفلونو کولو اهتمام او التزام (لکه څنګه چې په سوال کی ذکر دی) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمل او فرمان یا د صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعینو او تبع تابعینو ، دیني امامانو رحمهم الله نه ثابت ندي ، دا طریقه ممنوع او لائق د ترک ده ، نوی ایجاد شوی او د سنت خلاف ده . ع

در زهد و ورع کوش و صدق و صفا
و لیکن میفزائی بر مصطفی

یعنی پرهیزګاري . عبادت . صدق و صفائي کی کوشش کوه لیکن د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طریقی څخه د مخکی کیدو کوشش مه کوه .

مطلب دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څومره څه کړي او څنګه کړي وي باید هغومره او همغسی وشي د خپل خان نه زیات ونشي ، زیارت کول په شریعت کی د زیارت او اصلاح کولو مثال لري او دا ډیر بد او بدعت دی او شرک في النبوت دی ، د نفلونو په کولو کی اختلاف او اعتراض نشته مګر د لوستلو طریقه او په جومات کی د اجتماع اهتمام او التزام کول قابل د اعتراض دي .

د څاښت لمونځ د احادیثو نه ثابت دی لیکن کله چې عبد الله بن عمر رضی الله عنه ولیدل چې دی لپاره خلک په جماعت کی د یوځای کیدو اهتمام کوي نو وی فرمایل

دا طریقه بدعت ده ، په بخاري شریف کې دي . " عن مجاهد قال دخلت انا و عروة ابن الزبیر المسجد فاذا عبد الله ابن عمر رضی الله عنه جالس الی حجرة عائشة رضی الله عنها واذا اناس یصلون فی المسجد صلواة الضحی قال فسألناه عن صلواتهم فقال بدعة " (بخاری ج ۱ ص ۲۳۸ فی اول ابواب العمرة ، زاد المعاد ۱/۹۵) .

علامه نووي رحمه الله فرمائي : " واما ماصح عن ابن عمر رضی الله عنه قال فی الضحی هی بدعة فمحمول عی ان صلوتها فی المسجد والتظاهر بها کما کانوا یفعلونه بدعة لان اصلها فی البیوت " (نووی شرح مسلم باب استحباب صلواة الضحی اقلها رکعتان ج ۱ ص ۲۴۹) (مرقاة شرح مشکواة ج ۳ ص ۲۰۵) .

او پدی باره کی عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي : " ان کان ولا بد ففی بیوتکم " (فتح الباری ۴۳/۳) یعنی که چیرته تاسو د ثابت لمونځ کولو شوق لرئ نو خپل کور کی کوئ .

وګورئ ! جلیل القدر صحابي په راغونډیدو سره نفلونو کولو ته بدعت وائي پدی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک دور کی دا طریقه نه وه ، همداشان د عاشورا په ورځ چی ستاسو په ځای کی په یوځای کیدو سره د نفلونو کولو کوم دستور جوړ کړی دی د دی صحیح ثبوت نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه زمانه کی پیدا کیږي او نه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او نه د تابعینو او د تبع تابعینو رحمهم الله او نه د دیني بزرګانو په زمانه کی ، پدی وجه په پرینبودو کی کوم شک او شبه نشته لهذا پدی کی شرکت ونه کړئ .

په همدی وجوهاتو سره فقهاء کرامو تصریح کړی ده چی د برائت شپه ، د اخترونو د رمضان المبارک آخري لسو شپو کی او د ذی الحجه اولنی لس شپی او د شعبان د پنځلسمی شپه کی د عبادت لپاره ویښیدل مستحب دي مګر دی لپاره په جوماتو کی راغونډیدل مکروه دي ، په بحر الرائق کی دي : .

" ومن المندوبات احياء ليالى العشر من رمضان وليلتى العيدين وليالى عشر ذى الحجة وليلة النصف من شعبان كما وردت به الاحاديث . الى قوله . ولكن يكره الاجتماع على احياء ليلة من هذه الليالى فى المساجد " .

(البحر الرائق ج ۲ ص ۵۲ باب الوتر والنوافل)

همدا شان د عاشورا په ورځ یا شپه کی خپل خپل کور کی عبادات او نوافل وغیره ذکر و اذکار کی مشغول وسئ ، په جوماتو کی د اعلان او ظاهر بيني سره د نوافلو اهتمام او التزام ممنوع او مکروه دی ، فقط والله اعلم .

د جنازی سره په اوچت آواز ذکر کول

(۵۰ سوال) کله چی جنازه قبرستان طرف ته روان کړی وي نو وړاندی سر کی خو کسان اوچت آواز سره کلمه طيبه او نور دعائي کلمات مثلاً اغفرلی یا غفور لولي تر خو قبرستان ته ورسي پدی شان اوچت آواز سره ويل جائز دي یا نه ؟ او همداشان د جنازی لمانځه نه وروسته فاتحه لوستل او دفن کولو نه وروسته او بيا ځو قدمه تللو سره او د مړي کور ته واپس رسیدو سره فاتحه لوستل د شریعت په رڼا کی جائز دي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د جنازی سره د ورو ذکر اجازه شته خو په زوره ذکر کولو اجازه نشته مکروه دي لهذا د جنازی نه وړاندی د ځو کسانو په زوره یوځای لوستلو طريقه د سنت خلاف او مکروه تحریمي ده : " عن قيس بن عبادة قال كان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يكرهون الصوت عند ثلاث الجنائز والقتال والذكر " (البحر الرائق ۷٦/۵ كتاب السير) .

په فتاوی سراجیه کی دي : " وفى منزل الميت رفع الصوت بالذكر وقرأة القرآن و قولهم كل حى لايموت ونحو ذلك خلف الجنازة بدعة " (فتاوى سراجيه ص ۲۳ ، هكذا فى مراقى الفلاح ص ۱۱۸ ، طحطاوى على مراقى الفلاح ص ۳۵۳) .

په فتاوی عالمگیري کـی دي " وعلى متبعى الجنازة الصمت ويكـره لهـم رفـع الصوت بالذكر و قرانة القرآن كذا فى شرح الطحـاوى وان اراد ان يـذكر الله يذكره فى نفسه كذا فى فتاوى قاضى خان " (ج ۱ ص ۱۰٤ عالمگیری جنائز الفصل الرابع فى حمل الجنازة) .

او په البحر الرائق کـی دي : " ويكره رفع الصوت بالذكر وقرأة القران وغيرهما فى الجنازة والكراهة فيهما كراهة تحريم . الى قوله . وفى الظهيرية فان اراد ان يـذكر الله يذكره فى نفسه لقوله تعالى ان لا يحب المعتدين اى الجاهرين بالـدعاء وعـن ابراهيم انه كان يكره ان يقول الرجل هو يمشى معها استغفر الله غفر لهم الله " (البحر الرائق ج ۲ ص ۱۹۲ كتاب الجنائز) .

پورتني ذکر شوو حوالونه صراحتاً دا ثابتيږي چې جنازی سره به په زړه کی د الله تعالی ذکر کولی شي خو په زوره (اوچت آواز سره) ذکر کول مکروه دي او د بحر الرائق په عبارت کی تصریح دی چی د کراهت نه مراد کراهت تحریمي دی .

د جنازی لمونځ پخپله اعلی درجه دعاء ده لدینه بعد دویمه اجتماعي دعاء ثابت نده او په روانه کی ځانله ځانله دعاء کولو کی څه پروا نشته خو د جنازی په ودرولو سره اجتماعي سره اجتماعي دعاء کول خلاف سنت او مکروه ده " لايقوم بالدعاء فى قرأة القرآن لاجل الميت بعد صلواة الجنازة وقبلها " يعنى د جنازی لمانځه نه وروسته او مخکی د قرآن کریم په لوستلو سره سري لپاره په ولاړه دعاء کول پکار نه دي (خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۵) .

او مزید تفصیل لپاره کتاب الجنائز وګورئ .

د دفن څخه فارغیدو نه وروسته لږ ساعت پوری د مغفرت دعاء کول او قرآن پـاک وغیره لوستلو سره بخښل مسنون او مستحب دي د رسول الله صلى الله عليـه وسـلم د قـول او عمل نه ثابت دي . په سنن ابی داؤد کی دي : " كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا فرغ من دفن الميت وقف على قبره وقال استغفرو الاخيكم واسئلو الله له التثبت

فانه الآن يسئل وكان ابن عمر يستحب ان يقرأ على القبر بعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها وروى ان عمرو بن العاص قال وهو فى سياق الموت اذا انامت فلاتصحبنى نائحة ولا نارا فاذا دفنتمونى فشنوا على التراب شنا ثم اقيموا حول قبرى قدر ما ينحر جزور ويقسم لحمها حتى استانس بكم وانظر ماذا راجع به رسل ربى " جوهرة (شامى ج ۱ ص ۸۳۸ مطلب فى دفن الميت).

او تدفين نه وروسته خو قدمه وړاندی تللو سره د دعا كولو رواج او د مړي كور كى دعاء لپاره د جمع كيدو دستور د سنت نه خلاف دي ، په شامي كى دي : " بل اذا فرغ ورجع الناس من الدفن فليتفرقوا ويشتغل الناس بامورهم وصاحب الميت بأمره " (شامى ج ۱ ص ۸٤۲) فقط والله اعلم.

حول قبر لمونځ :

(۵۱ سوال) خمونږه په محله كى پرون يو سړى وفات شو او د ورځى دفن كړى شو د مابنام نه وروسته د هغه خپلوان راغلل او امام ته يى وويل چى د مرحوم لپاره د " حول قبر لمونځ " وكړه ! امام وويل " حول قبر لمونځ " څهٔ شى وي ؟ زه يى نه پيژنم ، ما كله هم دا لمونځ ندى كړى او نه مى چيرته د " حول قبر لمونځ " نوم اوريدلى دى نو وى ويل : دا دى چى دوه ركعته نيت وكړى اول ركعت كى يولس ځلى الهكم التكاثر او دويم ركعت كى يولس ځلى قل هو الله احد ووائى او د سلام ګرځولو نه وروسته مړي ته د دى ثواب وبخښى ، اوس سوال دا دى چى ايا په شريعت كى د دى لمونځ څه ثبوت شته ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم يا صحابه كرامو رضى الله عنهم دا لمونځ كړى دى ؟

ځواب : په جماعت سره د حول قبر لمونځ د رسول الله صلى الله عليه وسلم ، د صحابه كرامو رضى الله عنهم ، خلفاء راشدينو ، مجتهدينو او فقهاء كرامو نه نقل ندى ، دا مسنون ګڼل او شرعي حكم ښودل دخپل طرف نه په شريعت كى د اضافه كولو سره برابر دي ، هغه عمل قابل د قبول دى او مړي لپاره مفيد او باعث د ثواب دى چى د سنت موافق وي ، په حديث شريف كى دي : "والقول والعمل لاتقبل مالم توافق

السنة" (تلبیس ابلیس ص ۹) یعنی قول و عمل او نیت هغه وخت کی قابل د قبول گرځي چی د سنت موافق وکړی شي .
ولي کامل حضرت احمد بن الواري رحمه الله فرمائي : " من عمل عملاً بلا اتباع سنة فباطل عمله " یعنی کوم عمل چی د سنت سطابق ونکړی شي هغه باطل دی (یعنی د الله تعالی په نزد هیڅ قیمت نلري) (کتاب الاعتصام ج ۱ ص ٦٨) .
شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : " لایقبل قول بلاعمل ولا عمل بلا اخلاص و اصابة السنة " (فتح الربانی ص ١٤ مجلس نمبر ۲) .
یعنی کوم یو قول بغیر د عمل نه او هیڅ یو عمل بغیر د اخلاص او اتباع د سنت نه د قبولیت قابل نشي گرځیدلی ، فقط .

مرشد سره رمضان تیرول

(۵۲ سوال) په رمضان المبارک کی حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله خپل خلیفه گان او خاص خاص مریدان په سهارنپور کی رایو ځای کوي او ټول رمضان په اعتکاف کی تیروي په ذکر او مراقبه کی مشغول وي ایا دا بدعت ندی ؟ په یو اردو مجله کی دی باندی سخت تنقید شوی دی ، ددی وضاحت وکړئ ، مهرباني .
ځواب : مرشد چی خپل مریدان ځانته راغواړي او ایساروي د دی مقصد تعلیم و تربیت او دنفس اصلاح وي چی مریدان د مرشد په خدمت کی پاتی کیدو سره فیض حاصل کړي په زړه کی صفائي او نور پیدا شي او یقین مضبوط کړي او خپل نفس د رزائلو نه پاک کړي او مرشد پری نگراني او خصوصي توجه وکړي دا د مریدانو د تعلیم و تربیت خاص طریقه ده .
د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله هم دا معمول پاتی شوی ، دی فرمائي : " در آن هنگام بزرگان بسیار اولیاء بسیار از یاران والد ماجد معتکف بودند " یعنی په هغه زمانه کی ډیر بزرگان او ډیر اولیاء د والد گرامي ملگري به په جومات کی معتکف وو (سلفوظات) او حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي خپل ځینی مریدان په رمضان المبارک کی ځانته د راغوښتو کوشش هم کولو لکه چی شاه ابوسعید ته په یو مکتوب کی لیکي : " اگر گرمی هوا بهم رسد اینجا تشریف آورده اینجا رمضان گذارند " یعنی که چیرته زړه مو غواړي او شوق وي نو رمضان مونږ سره تیر کړئ .

(الامام شاه ولی الله ص ۱۸۳ مطبوعه کانپور)
حاصل دا چې د حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمه الله عمل بدعت ندی ، تعلیم لپاره چې کومه طریقه د استاذ او مرشد په تجربه کې فایده من وي د شرعي حدودو کې دننه هغه اختیارولی شي لهذا پدی طریقه باندی تنقیدکول مناسب ندي بی ځایه دي . فقط
والله اعلم ۲۱/ رمضان المبارک ۱۳۹۷ھ

په قبر باندی اذان کول بدعت دی

(۵۳ سوال) رضاخانیان د تدفین نه وروسته په قبر باندی اذان کوي او وائي چې د اذان په اوریدو سره شیطان تښتي او مړی د ده له شرارت نه محفوظ پاتی کیږي د دی څه حکم دی ؟ د قرآن و حدیث په رڼا کی مفصل ځواب ورکړئ ، مهرباني .
ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! په قبر باندی اذان کول بی اصل دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده صلی الله علیه وسلم جانشین خلفاء راشدین ، صحابه کرام رضی الله عنهم ، تابعین ، تبع تابعین ، ائمه مجتهدین د امام ابوحنیفه ، امام شافعي ، امام احمد ابن حنبل ، امام مالک ، امام بخاري ، امام مسلم ، امام ترمذي ، امام نسائي ، امام ابوداوٗد وغیره رحمهم الله نه ثابت ندي ، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم دمبارکو سنتو برابر ندي ، بلکی بدعت مخترعه او واجب الترک دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کی په زرګونو او سوونو تعداد کی صحابه کرام رضی الله عنهم او تابعین وفات شوي دي دغو حضراتو به پخپلو مبارکو لاسو سره خپل مړي دفن کول د عذاب قبر او شیطاني شرارتونو نه خبردار وو مګر چیرته دا ثبوت نشته چې د دوی په قبر باندی چیرته اذان ویل شوی وي ایا دوی د خپلو مړو خیر خواه نه وو ؟ کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم په قبر باندی اذان ندی کړی نو اوس هیچا لپاره جائز ندي چې په قبر باندی اذان وکړي او دیته شرعي حکم ووائي ، دا نوی طریقه جاري کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم مبارکه طریقه ناقص ګڼل دي .
د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان باندی ځان پوهول واجب دي : " من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد " یعنی کوم سړی چې خمونږ پدی دین کی داسی

کومه نوی خبره راپیدا کړي چې له دین څخه نه وي هغه مردود ده (بخاري شريف باب اذا اصطلحوا على صح جور فهو مردود ج ۱ ص ۳۷۱ ، صحيح مسلم باب نقض الاحكام الباطلة ، ورد محدثات الامور ج ۲ ص ۷۷)

په مسلم شریف کې یو بل حدیث دی : " من عمل عملاً ليس عليه امرنا فهو رد " (مسلم ج ۲ ص ۷۷) کوم سړی چې داسې کار وکړي چې هغه لپاره مونږ حکم نه وي کړی هغه رد او باطل دی .

په ابوداؤد شریف کې دي " من صنع امرا على غير امرنا فهو رد " چا چې زمونږ د عمل نه خلاف څه کار وکړ هغه مردود دی (ابوداؤد ۲۸۷/۲ باب لزوم السنة) .

یو بل حدیث کې دي " عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجد واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة " ترجمه : تاسو زما طریقه او زما دهدایت یافته خلفاؤ راشدینو طریقه اختیار کړئ او محکم یې ونیسئ او د نوی نوی خبرو پیدا کولو نه ځان وساتئ ځکه چې په دین کې هره نوی خبره بدعت ده او هر بدعت ګمراهي ده (مشكواة ص ۳۰ باب الاعتصام بالكتاب والسنة ، ابوداؤد شريف باب لزوم السنة ج ۲ ص ۲۸۷، ترمذی شريف باب الأخذ بالسنة واجتناب البدعة ج۲ص ۹۲،ابن ماجه ص ۵) .

د جليل القدر صحابي حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمان دي : " اتبعوا آثارنا ولا تبتدعوا فقد كفيتم " (كتاب الاعتصام ج ۱ ص ۵٤) .

یعنی تاسو زمونږ په نقش قدم روان شئ او بدعتونه مه پیدا کوئ نو زمونږه پیروي درته کافي دی .

د مشهور او معروف صحابي حضرت حذیفه رضى الله عنه بن يمان فرمان دی : " كل عبادة لم يتعبدها اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فلا تعبدوها " (كتاب الاعتصام ج ۳ ص ۳۱۰) .

هر هغه عبادت چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم نه وي کړی هغه تاسو هم مه کوئ .
په همدی بناء حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي : " واما اهل السنة والجماعة فيقولون كل فعل وقول لم يثبت عن الصحابة فهو بدعة لانه لو كان خيراً لسبقونا اليه لانهم لم يتركوا خصلةً من خصال الخير الا وقد بادرو اليها "
(په حواله د المنهاج الواضح ص ٦٦)
يعني : اهل سنت والجماعت وائي : کوم قول او فعل چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت نه وي هغه بدعت دی ځکه چې پدی کار کی څه خير وای نو دا به صحابه کرامو رضی الله عنهم مونږ نه وړاندی ضرور کړی وای ځکه چې دوی هيڅ يو د خير کار بغير د عمل کولو نه ندی پاتی کړی .
حضرت امام مالک رحمه الله فرمائي : چا چې په دين کی نوی شی پيدا کړ او هغه يې نيک ګڼلو نو هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم د الهي احکامو په تبليغ کی (نعوذ بالله) خائن او کوتاهي کونکی وګرځولو ، ځکه د الله تعالی ارشاد دی : " اليوم اكملت لكم دينكم " يعنی نن ورځ ما ستاسو دين مکمل کړ ، لهذا کوم کار چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کی په دين کی شامل نه ؤ هغه نن هم په دين کی نشي شامليدی (الاعتصام ج ۱ ص ۴۵) .
پدی وجه اختر لمونځ او خطبی وخت کی اذان او اقامت نشي ويل کيدی ولی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک دور کی د اختر اذان او اقامت په دين کی نه وو ، همداشان په قبر باندی اذان کول هم په دين کی شامل ندی قطعاً بدعت دی ځکه چې د حديث نه ثابت ندی او هيڅ داسی کوم ثبوت نشته چې د کوم صحابي په قبر باندی اذان ويل شوی وي .
د مړي د مغفرت لپاره د جنازی لمونځ دی او په قبر کی د کيښودو په وخت کی بسم الله و على ملة رسول الله ويل دي او کوم خلک چې د مړي په تدفين کی حاضر وي هغوی لره دری موټي خاوره اچول مستحب دي اول ځل سره " منها خلقناكم " او دويم ځل سره " فيها نعيدكم " او دريم ځل سره " ومنها نخرجكم تارةً اخرى " ويل

دي او د تدفین نه وروسته د مړي سر طرف ته د سورت بقره ابتدائي آیتونه د الم نه مفلحون پورې او پښو طرف ته د سورت بقره آخري دوه آیتونه د " امن الرسـول ــ آخره پورې " لوستل دي او مړي لپاره د مغفرت ، ثابت قدمي ، د نکیر منکر په سوال ځواب کې اساني او دعذاب قبر نه نجات لپاره دعاء کول دي او د مړي چې کوم نږدې خپلوان او متعلقین دي دوی لره مستحب دا دي چې د دفن څخه فارغیدو نه وروسته قبر خوا کې دومره وخت ایسار شي څومره وخت چې د اوښ په حلالولو او د ده د غوښې په تقسیمولو کې لګي چې د دوی په پاتې کیدو سره مړي ته انس حاصل شي او د منکر نکیر په ځواب ورکولو کې څه وحشت او ګبراویدل نه وي او هلته پاتې کیدو سره دی قرآن پاک لولي او مړي لپاره دعاء او استغفار وکړي ، دا ټولې خبرې څو د حدیثونو نه ثابت او مامور به دي (مګر په قبر باندې اذان چیرته هم ذکر او ثابت ندی) .

وګورئ ! په کتاب الاذکار کې دي : " باب ما يقول بعد الدفن . السنة لمن كان على القبر يحثى ثلاث حثيات بيديه جميعا من قبل رأسه قال جماعة من اصحابنا يستحب ان يقول فى الحثية الاولى منها خلقناكم وفى الثانية وفيها نعيدكم وفى الثالثة ومنها نخرجكم تارةً اخرى " .

یعنی د تدفین نه وروسته دی څه ووائي ؟ .... کوم سړي چې د تدفین په وخت کې موجود وي نو هغه لپاره سنت دي چې د مړي سر طرف ته درې موټې خاورې واچوي څمونږ د فقهاؤ یو جماعت ویلي دي چې مستحب دا دي چې اول موټي سره "منها خلقناكم" او دویم سره " وفيها نعيدكم " او په دریم موټي سره " ومنها نخرجكم تارةً ا خرى " ووائي .

(کتاب الاذکار ص ۹۲ صفحه امام نووي)

په مشکواة شریف کې دي : " عن عبد الله بن عمر قال سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول اذا مات احدكم فلاتحبسوه واسرعوا به الى قبره وليقرأ عند رأسه فاتحة البقرة وعند رجليه بخاتمة البقرة " (مشکواة ص ۱٤۹ باب دفن الميت) .

ترجمه عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرماني چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي چې فرمایل یې : کله چې په تاسو کې یو څوک مړ شي نو هغه مه ایساروئ د ده په تجهیز او تدفین کې تلوار او جلتي وکړئ او د دې سر طرف ته د سورت بقره ابتدائي آیتونه او پښو طرف ته یې د سورت بقره آخري آیتونه ولوستل شي .

د تدفین نه وروسته انفرادي او اجتماعي طور باندې مړي لپاره د مغفرت او د منکر نکیر په سوال ځواب کې ثابت قدمي لپاره د دعا کولو ترغیب راغلی په ابو داؤد شریف کې دي : رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تدفین څخه فراغت نه وروسته قبر ته نږدې ودریدو سره فرمایل : "استغفروا لاخیکم واسئالوا له التثبت "(ابوداؤد ۲/۲۰۳) .

یعنې تاسو خپل ورور لپاره د مغفرت او الله تعالی نه ده لپاره (په سوال و ځواب او په توحید باندې) د ثابت قدمۍ پاتې کیدو دعا وغواړئ .

همداشان تدفین نه وروسته څه وخت پورې ایسارول او قرآن شریف لوستل او د الله تعالی نه د مړي لپاره د مغفرت دعا کولو ثبوت او ترغیب راغلی ، د حدیثو په کتابو کې دي : حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص د وفات په وخت کې وصیت وکړ چې کله زه مړ شم نو زما د جنازې پسې دې ویرکونکې ښځې او اور نه وي (لکه چې د جاهلیت زمانه کې دستور ؤ) او کله چې ما دفن کړئ نو خاورې راباندې واچوئ او بیا زما د قبر نه ګیر چاپیره (په ذکر او دعاء کول مشغول پاتې شئ) او دومره وخت ایسار شي څومره وخت کې چې اوښ حلال کړی شي او غوښه تقسیم کړی شي چې ما ته ستاسو په وجه انس و همت وشي او دخپل رب د ملائکو ځواب بغیر د وحشت نه ورکړی شم (حضرت عمرو بن العاص دا وصیت نه ؤ کړی چې زما په قبر باندې اذان وکړي :

" وعن عمرو بن العاص قال لابنه هو فی سیاق الموت اذا انامت فلاتصحبنی نائحةً ولا نارا فاذا دفنتمونی فشنوا علی التراب شناً ثم اقیموا جول قبری قدر ما ینحر جزور ویقسم لحمها حتی استانس بکم واعلم ماذا اراجع بـه رسل ربی " رواه مسلم (مشکواة شریف باب دفن المیت ص ۱٤۹) .

او په کتاب الاذکار کې دي : " ویستحب ان یقعد عنده بعد الفراغ ساعة قدر ما ینحر جزور ویقسم لحمها ویشتغل القاعدون بتلاوة القران والدعاء للمتیت " (کتاب الاذکار ص ۹۲) .

وكورى ! پورتنى ذكر شوو حوالو كي د تدفين نه مخكى او وروسته چې كومې خبري مسنون دي هغه تفصيل سره بيان شوي دي مګر په هيڅ يو ځاى كى د اذان څيرته ذكر قدرى نشته كه پدى وخت كى اذان كول مسنون واى او يا ورته ضرورت واى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به ضرور د دى حكم كولو او د ده صلى الله عليه وسلم جانثار صحابه كرامو رضى الله عنهم به ضرور وربانديى عمل كولو او دخپل وفات نه وروسته قبر باندى د اذان كولو هدايت او وصيت كولو مګر څيرته هم د دى ثبوت نشته لهذا په قبر باندى اذان كول او مسنون او مستحب ګڼل په دين كى زيادت كول دي او دا كار د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د صحابه كرامو رضى الله عنهم طريقه ناقص او قابل اصلاح ګرځولو مترادف او برابر دي (نعوذ بالله) ځكه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هيڅ يو د خير او فايدى كار ندى پريښى ۔

په مجالس الابرار كى دي :

" واما ما كان المقتضى لفعله فى عهده عليه السلام موجودا من غير وجود المانع منه ومع ذلك لم يفعله عليه السلام فاحداثه تغيير لدين الله تعالى اذ لو كان فيه مصلحة لفعله عليه السلام او حث عليه ولما لم يفعله عليه السلام ولم يحث عليه علم انه ليس فيه مصلحة بل هو بدعة قبيحة سية مثاله الاذان فى العيدين فانه لما احدثه بعض السلاطين انكره العلماء وحكموا بكراهته فلو لم يكن كونه بدعة دليلاً على كراهة لقيل هذا ذكر الله تعالى ودعاء الخلق الى عبادة الله تعالى فيقاس على اذان الجمعة او يدخل فى العمومات التى من جملتها قوله تعالى واذكروا الله ذكراً كثيراً وقوله تعالى ومن احسن قولاً ممن دعا الى الله لكن لم يقولوا ذلك بل قالوا كما ان فعل مافعله عليه السلام كان سنة كذلك ترك ما تركه عليه السلام مع وجود المقتضى وعدم المانع منه كان سنة ايضاً فانه عليه السلام لما امر بالاذان فى الجمعة دون العيدين كان ترك الاذان فيها سنة وليس لاحد ان يزيده ويقول هذا زيادة العمل الصالح لايضر زيادته اذ يقال له هكذا تغيرت اديان الرسل وتبدلت شرائعهم فان الزيادة فى الدين لو جازت لجاز ان يصلى الفجر اربع

ركعات والظهر ست ركعات ويقال هذا زيادة عمل صالح لا يضر زيادته لكن ليس لاحدنا يقول ذلك لان ما يبديه المبتدع من المصلحة والفضيلة ان كان ثابتاً في عصره عليه السلام ومع هذا لم يفعله عليه السلام فيكون ترك مثل الفعل سنة متقدمة على كل عموم وقياس الخ " (مجالس الابرار ص ۱۲۷، ۱۲۸ مجلس نمبر ۱۸ في اقسام البدع واحكامها) .

ترجمه : د كوم فعل سبب چې نبوي صلى الله عليه وسلم دور كې موجود وي (او د هغه د كولو نه كوم مانع هم موجود نه وي) بيا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه كار ونه كړي (مثلاً په قبر باندې اذن) نو د دې كار جاري كول د دين بدلول دي ځكه كه پدې كار كې څه مصلحت واى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به ضرور كړې واى اويا به ورته ترغيب وركړى واى او چې نه يې پخپله كړې او نه يې بل چا ته د دې ترغيب وركړى نو معلومه شوه چې پديكې هيڅ فايده او خير نشته بلكې هغه ډير قبيح بدعت دى د دې مثال په اخترونو كې اذان كول كله چې ځينو بادشاهانو د دې ايجاد وكړ نو علماؤ منع وكړه او ناجائز يې ورته وويل كه چيرته د دې بدعت كيدل د دې د كراهت دليل نه واى نو دا به ويل كيدل چې دا خو د الله تعالى ذكر او دالله تعالى عبادت ته د خلكو رابلل دي (او د شيطان شړل دي) لهذا د جمعې په اذان دې دا قياس كړى شي او يا دعامو احكامو لاندې داخل ومنل شي چې پدې كې د الله تعالى دا فرمان هم شامل دى چې : " واذكروا الله ذكراً كثيراً " يعنې الله تعالى ډير ډير يادوئ . او دا رنګه دا ارشاد : " ومن احسن قولاً ممن دعا الى الله " د هغه چانه بهتر څوك دى چې الله طرف ته خلك رابلي . (ليكن پدې دواړو كارو كې يو باندې هم قياس كولو سره) داسې چا نه دي ويلي چې د اختر اذان سنت دى ، بلكې ټولو علماو همدا ويلي دي چې كوم كار محمد صلى الله عليه وسلم كړى وي د هغه په داسې كول سنت دي همدا راز د هغه پريښودل هم سنت دي كوم چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اقتضاء باوجود بغير د مانع نه كړى نه وي . بلكې كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې د اذان حكم وكړ او په اخترونو كې ونه كړ نو په اخترونو د اذان نه كول هم سنت شو او هيڅوك حق نلري چې پدې باندې زيادت وكړي او دا ووائي چې دا د نيك كار زياتول دي او دا قسم زيادت ضرر ندى ، ځكه

چې د دی په خواب دا ویل کیږي چې پدی شکل د پیغمبرانو علیهم السلام دین متغیر شوی دی او شریعتونه بدل شوي دي ځکه که چیرته په دین کی زیادت وای نو دا به هم جائز وای چې د سحر لمونځ خلور رکعته او د ماسپښین شپږ رکعتونه کړی وای او دا به ویل کیده چې دا خو د نیک کار زیادت دی پدی کی څه پروا نشته لیکن دا خبره هیڅوک نشي کولی ځکه بدعتي چې کوم مصلحت او فضیلت بیانوي که چیرته دا مصلحت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کی موجود وٙ او باوجود د دی رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ونه کړ نو د دی کار پرېښودل هم داسی سنت دي چې په هر عموم او قیاس باندی مقدم دي .

او همداحال په قبر باندی د آذان دی کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سبب موجودیدو باوجود ندی کړی نو نن هم هیڅوک دا حق نلري چې وکړي په همدی بناء علامه حافظ ابن همام رحمه الله فرمائي : " ویکره عند القبر کلما لم یعهد من السنة والمعهود منها لیس الا زیارتها والدعاء عندها قائماً کما کان یفعل رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخروج الی البقیع "

یعنی قبر خوا ته هر هغه کار کول چې سنت نه ثابت ندی مکروه دی او ثابت دا دی چې د قبر زیات وکړی شي او په ولاړه ولاړه دعاء وکړی شي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په جنت البقیع کی کولو (بحر الرائق ج ۲ ص ۱۹٦ باب الجنائز ، عالمگیري ج ۱ ص ۱۰۷ الفصل السادس کتاب الجنائز ، فتح القدیر فصل فی الدفن ج ۲ ص ۱۰۲) .

علامه شامي رحمه الله فرمائي : " لایسن الاذان عند ادخال المیت فی قبره کما هو المعتاد الآن وقد شرح ابن حجر فی فتاواه بانه بدعة .... ومن ظن انه سنة قیاساً علی ندبهما للمولود الحاقاً لخاتمة الامر بابتدائه فلم یصب " یعنی د مړی قبر ته داخلولو وخت کی اذان کول مسنون ندي او علامه ابن حجر خپل فتاوی کی واضح طور سره فرمایلي دي چې قبر باندی اذان کول بدعت دي او څوک چې د ماشوم په غوږ کی د آذان مندوب کیدو باندی قیاس وکړي او خاتمی لره ابتداء سره ملحق کولو سره قبر باندی آذان کولو ته سنت وائي نو هغه خطاء شوی دی (او د هغه

دا قياس صحيح ندى) (شامي ج ١ ص ٨٣٧ باب الاذان فى مطلب فى الموضع التى يندب لها الاذان فى غير الصلواة) .

شاه محمد اسحاق دهلوي فرمائي :

الجواب : " أذان دادن بر قبر بعد دفن مكروه است كه معهود از سنت نيست " .

(مأته مسائل ص ٥٥)

ترجمه : په قبر باندى اذان كول مكروه دي ځكه چې د سنت نه ثابت ندي .

په درر البحار كې دي : " من البدع التى شاعت فى الهند الاذان على القبر بعد الدفن " د بدعاتو له جملى نه يو بدعت كوم چې هندوستان كې عام شوى دى دفن نه وروسته قبر باندى آذان كول دي (په حواله د المنهاج الواضح ص ٢١٢) .

لهذا قبر باندى آذان مسنون ګڼل او د دى جاري كول صحيح ندي ، څمونږه نجات او كاميابي پدى كې پټه ده چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت او د صحابه كرامو رضى الله عنهم طريقه باندى روان شو ، پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل امت ته دا هدايت فرمايلى دى : ستاسو نجات او كاميابي زما او زما د صحابه كرامو رضى الله عنهم په طريقو باندى عمل كولو كى دى ، صفا ارشاد دى : " ما انا عليه واصحابى " (مشكواة ص ٣٠ ، باب الاعتصام بالكتاب والسنة) .

او دا هم په حديث شريف كې دي : يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم نهايت عجيب و غريب او بليغ او مؤثر انداز كى خو كلمى وفرمايلى چې د حاضرينو له ستركو نه اوښكي روانى شوى او زړونه يې وويريدل يو صحابي عرض وكړ يارسول الله (صلى الله عليه وسلم) ! دا وعظ خو داسې دى لكه څوك چې رخصت كولو وخت كې ضروري نصيحتونه كوي ، مونږ ته لږ نور نصيحت هم وكړئ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم لږ نور نصيحتونه هم وكړل چې يو اهم نصيحت پكى دا وُ ، له ما نه وروسته چې څوك ژوندى وي هغه به ډير اختلافات ويني پدى حالت كې په تاسو باندى لازم او ضروري دي چې په هغه طريقه باندى كلك او محكم پاتى شئ كوم چې زما او زما د خلفاء راشدينو طريقه ده پدى طريقه باندى كلك پاتى شئ او محكم يې ونيسئ او دنوى خبرو نه پوره پوره پرهيز وكړئ ځكه چې په دين كې هره نوى خبره بدعت ده او هر بدعت ګمراهي ده ، د حديث الفاظ دا دي :

" عن العرباض بن سارية قال صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم ثم اقبل علينا بوجهه فوعظنا موعظة بليغة ذرفت منها العيون ووجلت منها القلـــوب فقال رجل يارسول الله كان هذه موعظة مودع فاوصـــنا فقـــال (وفی نســـخة اوصيكم) بتقوى الله والسمع والطاعة وان كان عبداً حبشياً فانه من يعش منكم بعدی فسیری اختلافاً كثيراً فعليكم بسنتى وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعـــة وكـــل بدعة ضلالة " رواه احمد و ابوداؤد والترمذی وابن ماجه الا انها لم يذكر الصلواة (مشکواة شریف ص ۲۹ ، ۳۰) (باب الاعتصام بالكتاب والسنة) .

د هر یو عمل د قبلیدو لپاره دوه شرطونه دي یو دا چی په اخلاص وي او دويم دا چی هغه عمل د سنت مطابق وي ، د الله تعالی ارشاد دی " ومن احسن دينا ممن اســـلم وجهه لله وهو محسن " یعنی د هغه سړي نه بهتره طريقه د هیچا نشـي كيـدی چـی په هغه کی دوه خبرې موجودی وي یو " اســلم وجهــه لله " چـی خپـل ذات الله تـه وسپاري یعنی رياكاري او دنیاسازي لپاره نه بلکی په اخـلاص سـره د الله تعـالی راضـي کولو لپاره عمل وکړي ، او دويم " وهو محسن " یعنی هغه عمل هم په صـحيح طريقـی سره وکړي ، امام ابن کثیر خپل تفسیر کی فرمائي : په صحیح طريقه باندی د عمل کولو مطلب دا دی چی د دی عمل محض خود ساخته طرز نه وي بلکـی د شـریعت مطهـره ښودلی شوی طريقه بانـدی وي د الله او د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم د تعظـيم مطابق وي .

(په حواله د معارف القرآن د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع ۲/ ۵۵۵ سورت نساء)

او د " ليبلوكم ايكم احسن عملاً " آیت کریمه پـه تفسـير كـی امـام رازی رحمـه الله فرمـائي : " ذكروا فی تفسير احسن عملاً وجوهاً (احدها) ان يكـــون اخلـــص الاعمال واصوبها لان العمل اذا كان خالصاً غير صواب لم يقبل وكذلك اذا كان صواباً غير خالص فالخالص ان يكون لوجه الله والصواب ان يكون على السنة " .

یعنی " احسن عملا " نه مراد مقبول عمل دی او مقبول عمل هغه دی چی خالص وي او هم صواب وي ، که چیرته یو عمل خالص وي مګر صواب نه وي هغه مقبول ندی او همدا شان که صواب وي مګر خالص نه وي هغه هم مقبول ندی ، عمل خالص هغه دی چی صرف د الله تعالی لپاره وکړی شي او صواب هغه دی چی د سنت مطابق وي (تفسیر کبیر ج ۸ ص ۲۴۳ سورت ملک) (رساله العبودیه لابن تیمیه (۲۰ ، ۲۱) صفحی) .

په ارشاد الطالبین کی محدث قاضی ثناء الله پانی پتي حدیث نقل کړی : " ان القول لایقبل مالم یعمل به وکلاهما لا یقبلان بدون النیة والقول والعمل والنیة لاتقبل ما لم توافق السنة " .

سخن مقبول نیست بدون عمل کردن و هر دو مقبول نیستند بدون نیت وهر سه مقبول نیستند که موافق سنت نباشند .

یعنی بغیر د عمل نه قول صحیح ندی او دا دواړوه (قول و عمل) بغیر د صحیح نیت نه مقبول ندي او د قول و عمل و نیت قبلیدو لپاره ضروري دي چی د سنتو موافق وي (۲۸) صفحه) .

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : " لایقبل قول بلاعمل ولا عمل بلا اخلاص و اصابة السنة " .

یعنی هیڅ یو قول بغیر د عمل نه مقبول ندی او هیڅ یو عمل تر هغی پوری نه قبلیږي خو پوری چی اخلاص پکی نه وي او د سنت سره موافق نه وي .

(فتح الرباني ۱۴/۱ مجلس نمبر ۲)

حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي : " لایستقیم قول وعمل ونیة الا بموافقة السنة " یعنی تر هغی پوری هیڅ قول ، عمل او نیت نه صحیح کیږي خو پوری د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت موافق نه وي (تلبیس ابلیس ص ۹) .

حضرت احمد بن ابی الحواري رحمه الله فرمائي : " من عمل بلا اتباع سنة فباطل عمله " یعنی کوم یو عمل چی بغیر د اتباع د سنت نه وکړی شي هغه باطل دی .

(الاعتصام ج ۱ ص ۱۱۴)

حضرت ابوالعالیه تابعي رحمه الله فرمائي : یعنـي په تاسـو بانـدی لازم دي چـی هغـه اولنی طریقه اختیار کړئ چی هغه باندی مسلمانان مختلف کیدو نه وړاندی متفق وو .
(تلبیس ابلیس ص ۸)

حضرت امام اوزاعي رحمه الله فرمـائي : " اصبر نفسك على السنة وقف حيث وقف القوم وقل بما قالوا وكف عما كفوا عنه واسلك سبيل سلفك الصـــالحين فانـــه سعيك ما وسعهم " یعنی په سنت طریقه باندی ټینګ اوسه په کـوم ځـای چـی قـوم (صحابه کرام رضی الله عنهم) ولاړ وو هلته تـه هـم ودریـږه ، او کومـه خبـره چـی دغـو بزرګانو کړی ده هغه خبره ته هم کوه او کومه خبره چی دوی نده کړی هغه ته هـم مـه کوه (خپل عقل مه چلوه) او د خپلو سلف صالحینو په طریقه باندی روان شه .
(تلبیس ابلیس ص ۹)

حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله خپل یو خصوصي شاګرد ته لیکي : " لنډه دا چی ته باید پوه شی چی طاعت او عبادت څه شی دی ؟ واوره ! د جناب شارع علیـه السـلام د پیروي او فرمانبرداري نوم عبادت دی په قول او عمل دواړو کـی ، پـه امـر کـی هـم او نهي کی هم ، که چیرته د شارع علیه السلام د حکم نه بغیر کـوم کـار وکـړی اګـر کـه د عبادت په شکل کی وي هغه عبادت ندی بلکی ګناه دی ، وګوره لمونځ څومره اوچـت عبادت دی مګر په مکروه وختونو کی او یا غصب شوی ځمکـه بانـدی کـول ګنـاه دی همداشان روژه پخپل ذات کی بهترین عبادت دی مګر د اخترونـو او تشریق پـه ورځـو کی د دی ساتل ګناه ده ځکه چی د شارع علیه السـلام د حکـم نـه خـلاف دی او لهـو لعب ښه کار ندی مګر خپلې ښځی سره کول باعث د اجر دی ځکه چـی د شـارع علیـه السلام په حکم دی نو معلومه شوه چی دعبـادت حقیقـت فرمـانبرداري دی نـه محـض لمونځ ، روژه ځکه لمونځ او روژه هم هغه وخت عبادت ګڼلـی شـي چـی دشـارع علیـه السلام د حکم مطابق وي نو بچیه ښتا احوال او اقوال د شریعت مطابق کیدل پکار دي ځکه چی هر یو علم و عمل د شارع علیه السلام د اجازی نه بغیـر سراسـر ګمراهـي او د الله تعالی نه د لری والي سبب دی " .

(د شاګرد په نوم د امام غزالي خط صفحه ۸۰۷ مترجم)

جضرت خواجه معصوم سرهندي رحمه الله یو مکتوب کی لیکي :

" د دواړو جهانو سعادت د سرور کونین صلی الله علیه وسلم په تابعداری باندی موقوف دی ، همداشان د الله تعالی رضامندي د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم پیروي سره تړلې دی ، توبه ، زهد ، تقوی ، توکل ، او تبتل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقی نه بغیر مقبول ندي ، او ذکر و فکر ، ذوق و شوق د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د تعلق نه بغیر ناقابل اعتبار دي ، صلوات الله علیه وسلامه .

(مکتوب نمبر۱ د خواجه دینار په نوم)

بل یو مکتوب کی لیکي : " د نبوي (صلی الله علیه وسلم) سنت د رڼا نه بغیر صراط مستقیم باندی تګ سخت دی ، او د نبوي (صلی الله علیه وسلم) لاری اختیارلو نه بغیر نجات حاصلول تش خیال دی .

(مکتوب نمبر ۲۲ د محمد حنیف په نوم)

قامع البدعات حضرت علامه ابن الحاج رحمه الله خپل کتاب " المدخل " کی فرمائي : " نحن متبعون لا مبتدعون فحیث وقف سلفنا وقفنا ". یعنی مونږ د خپلو سلفو (صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعینو ، تبع تابعینو رحمهم الله) پیروي کونکي یو بدعتیان نه یو کوم ځای چی دغه حضرات ودریدلي هلته مونږ هم ودریږو (د خپل ځانه څه زیادت نه کوو) (په حواله د طحطاوي علی مراقی الفلاح ص ۳۵۴) .

امام شافعي رحمه الله فرمائي : " ماته په خوب کی ارشاد وشو : "تمنّ علیّ ابن ادریس" یعنی ای د ادریس خویه ماته څه وغواړه ! نو ما وویل " امتنی علی الإسلام " یعنی ما ته په اسلام باندی مرګ نصیب کړی ، ارشاد وشو : " قل وعلی السنة " یعنی د اسلام سره سنت باندی هم د مړ کیدو آرزو وکړه (الله تعالی دی مونږ ټولو ته په اسلام او سنتو باندی خاتمه نصیب کړي ، آمین ثم آمین) .

د بدعت نه د سلف صالحینو د بیزاری نمونه :

" حکی ابن وضاح قال ثوّب المؤذن بالمدینة فی زمان مالك فقال : ماهذا الفعل الذی تفعل ؟ فقال اردت ان یعرف الناس طلوع الفجر فیقوموا فقال له مالك لاتفعل . لا تحدث فی بلدنا شیئاً لم یکن فیه قد کان رسول الله صلی الله علیه

وسلم بهذا البلد عشر سنين وابوبكر و عمر وعثمان فلم يفعلوا هذا فلا تحدث فى بلدنا ما لم يكن فيه فكف المؤذن عن ذلك واقام زماناً ثم انه تنحنح فى المنارة عند طلوع الفجر فقال له ، الم انهك ان لاتحدث عندنا مالم يكن فقال انما نهيتنى عن التثويب فقال له لا تفعل فكف زماناً ثم جعل يضرب الابواب ، فارسل اليه مالك فقال : ما هذا الذى تفعل ؟ فقال : اردت ان يعرف الناس طلوع الفجر فقال له مالك لا تفعل لاتحدث فى بلدنا ما لم يكن فيه "

ترجمه : د حضرت ابن وضاح بیان دی چی د مدینی منوری مؤذن د امام مالک رحمه الله په زمانه کی د صبح صادق په وخت کی خلکو ته آوازونه کول ، امام مالک صاحب هغه راوغوښت او تپوس یی ورنه وکړ چی دا څه کوی ؟ ځواب یی ورکړ خلکو ته د صبح صادق خبر ورکولو لپاره دا کار کوم تر څو خلک راپاڅي ، امام مالک ورته وفرمایل : داسی مه کوه څمونږ پدی ښار کي داسی خبره مه پیدا کوه چی پدی کی نشته ، رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی ښار کی لس کاله پاتی شوی او حضرت ابوبکر ، عمر او عثمان رض الله عنهم هم (دلته پاتی شوي دي) دوی دا کار ندی کړی نو ته هم داسی څیز مه پیدا کوه چی تر اوسه پوری دلته ندی شوی نو هغه مؤذن منع شو بیا څو ورځی وروسته مؤذن صبح صادق وخت کی مناره باندی غاړه تازه کول او ټوخي شروع کړ نو امام مالک ورته وفرمایل : ایا ما ته د نوي شي پیدا کولو نه منع کړی نه وی ؟ (بیا دی ولی دا نوی کار شروع کړ) هغه ځواب ورکړ تا خو د تثویب (یعنی د اذان نه وروسته خلکو ته د لمانځه لپاره آواز کولو) نه منع کړی وم ، امام مالک رحمه الله ورته وفرمایل : دا کار هم مه کوه بیا څه وخت لپاره هغه بند شو او بیا وروسته یی د خلکو د دروازو ډبول شروع کړل نو امام مالک ورپسی یو سړی ولیږلو او تپوس یی ورنه وکړ چی دا بیا دی څه شروع کړي؟ نو هغه ځواب ورکړ (زه خو نه تثویب کوم او نه ټوخي او غاړه تازه کوم د کوم څخه چی تا منع کړی وم اوس خو زه) خلکوته د صبح صادق خبر ورکولو لپاره دروازې ډبوم ، او هغه یی لدینه هم منع کړ او وی فرمایل : کوم کار چی پدی ښار کی ندی شوی نو هغه پکی مه جاري کوه .

(الاعتصام د امام شاطبي ۲۲۲/۲ ، ۲۲۳)

لږ غور وکړئ ، مؤذن خلک لمانځه طرف ته د بللو په نیت تثویب (آواز) کوي ، غاړه تازه کوي ، او دروازی ډبوي لیکن امام مالک رحمه الله صرف پدی وجه چی دا نوی کار ؤ ، ثابت شوی نه ؤ نو منع یی وکړ او مؤذن یی بند کړ نو په قبر باندی اذان کول چی ثبوت نه لري څنګه برداشت کولی شي ؟

پدی وجه فقهاء کرام لیکي : د ورځی په یو تحریمه سره د څلور رکعتو نه زیات نفل کول منع او مکروه دي پدی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي ، په اول هدایه کی د کراهت دا دلیل بیانوي : " ودلیل الکراهة انه علیه السلام لم یزد علی ذلك " (هدایه ۱۲۷/۱ باب النوافل) .

په صلواة کسوف کی خطبه مسنون نده او د مسنون نه کیدو دلیل دا لیکلی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه منقول نه دی : " ولیس فی الکسوف خطبة لانه لم ینقل " (هدایه اولین ۱۵۳/۱ باب صلواة الکسوف) او لیکي : د اختر لمانځه نه مخکی نفل لمونځ منع او مکروه دی څکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه باندی د زیات حرص باوجود ندی کړی : " ولا یتنفل فی المصلی قبل صلواة العید لان النبی صلی الله علیه وسلم لم یفعل ذلك مع حرصه علی الصلوة " (باب العیدین هدایه اولین ج ۱ ص ۱۵۳) او لیکي : د استسقاء لمانځه لپاره دی دری ورځی باهر ووځي او لدینه زیات به نه وځي څکه چی له دری ورځو نه زیات وتل نقل ندي : " ویخرجون ثلاثة ایام لانه لم ینقل اکثر منها " (در المختار مع الشامی ۷۹۲/۱ باب الاستسقاء) .

لږ فکر وکړئ ! نفل لمونځ عبادت دی او په شریعت کی د نفلو لپاره ډیر زیات سهولت او آساني ده لیکن د ورځی په یوه تکبیر تحریمه باندی د څلورو او د شپی له اتو رکعتو نه زیات کول مکروه دي څکه چی ثابت او منقول ندي ، همداشان په قبر باندی اذان هم ممنوع او مکروه دی دا هم ثابت ندي ، خطبه عبادت دی پدی کی د الله تعالی حمد او په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم درود او سلام وي مګر په کسوف کی د دی اجازه نشته ، ولی چی منقول ندي همداشان په قبر باندی اذان هم منع او مکروه دی ولی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم نه منقول

ندی . د صبح صادق نه وروسته وخت بی انتهاء نوراني او برکتي دی مګر نفل لمونځ . تحية الوضوء او تحية المسجد وغيره کولو اجازه نشته ولی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ثابت ندی ، د اختر لمانځه نه مخکی په جومات یا عید ګاه کی او یا کور کی اشراق او نور نفلي لمونځ کول ممنوع او مکروه دی چې د رسول الله صلى الله عليه ولسم نه ثابت ندی ، استسقاء (باران غوښتل) لپاره میدان ته تللو سره لمونځ کول دي د الله رب العزت په دربار کی په ژړا او زاري وعاجزي سره دعا کول دي بیا باران وشي او یا ونه شي دری ورځو نه وروسته دا سلسله بندول پکار دي صرف پدی وجه چې لدینه زیات ثابت ندي ، همداشان د قبر اذان هم ندی ثابت نو ممنوع او مکروه دی .

صحيح او کامله پیروي دا ده چې کوم کار د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په کومه طريقه ثابت وي په هماغه طريقه پری عمل وکړی شي او دخپل طرف نه پکی هیڅ قسم کمی او زیاتی ونکړی شي مثلاً :

(۱) د عيدالاضحى په ورځ عیدګاه ته تللو او راتللو وخت کی اوچت آواز سره تکبیر ویل کيږي او وړوکي اختر کی په ورو آواز سره ځکه چې پدی طریقه ثابت دي[1] .

(۲) د کسوف (لمر تندر نیولو) لمونځ جماعت سره ادا کیږي او د خسوف (سپوږمی تندر نیولو) لمونځ انفرادي طور سره کیږي جماعت سره منع او مکروه دی چې ثابت ندي[2] .

(۳) د استسقاء لمانځه کی خطبه شته او د کسوف په لمانځه کی نشته ولی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ثابت ندی[3]

(۴) په رمضان المبارک کی د وتر لمونځ جماعت سره ادا کیږي او په نورو وختونو کی جماعت سره ادا کول ممنوع او مکروه دي ولی چې ثابت ندي[1] .

---

[1]_ ويكره فى الطريق فى الاضحى جهراً ويقطعه اذ انتهى الى المصلى وهو الماخوذ به وفى الفطر المختار من مذهبه انه لايجهر وهو الماخوذ به كذا فى الغياثية فتاوى عالمگيرى باب العيدين ج ۱ ص ۱۵۰ .

[2]_ واجمعوا انها تؤدى بجماعة .... يصلون ركعتين فى خسوف القمر وحدانا هكذا فى محيط السرخسى ، الباب الثامن عشر فى صلواة الكسوف فتاوى عالمگيرى ج ۱ ص ۱۵۳ .

[3]_ وليس فى هذه الصلواة خطبة وهذا مذهبنا كذا فى محيط ، صلاة الكسوف .... ونخطب خطبتين بعد الصلواة ويستقبل الناس الخ الباب التاسع عشر فى الاستسقاء فتاوى عالمگيرى ص ۱۵۳ .

(۵) د جمعی لمونځ لپاره دوه اذانونه (یو مناره او بل منبر ته مخامخ) کولی شي او لمانځه نه مخکی اقامت ویل کیږي مګر په دواړو اخترونو کی نه د مناری اذان شته او نه د خطبی اذان او نه اقامت شته وجه یی بواځی دا ده چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي[2]

(٦) د اشراق لمونځ همیشه کولی شي او پدی سره د مقبول حج او عمری ثواب ملاویږي مګر د اخترونو په ورځو کی منع دی ولی چی ثابت ندي[3]

---

[1]_ ولایصلی الوتر ولاالتطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذلك . محبث صلاة تراویح . درمختار مع الشامی ج ۲ ص ٤٣ .

[2]_ واختلفوا فی المراد بالاذان الاول فقیل الاول باعتبار المشروعیة وهو الذی بین یدی المنبر لأنه الذی کان اولاً فی زمنه علیه الصلواة والسلام وزمن ابی بکر وعمر حتی احدث عثمان الاذان الثانی والاصح انه الاول باعتبار الوقت وهو الذی یکون علی المنارة بعد الزوال (شامی ج ۲ ص ١٦١) .

[3]_ ولایکبر فی طریقها ولایتنفل قبلها مطلقا . درمختار مع الشامی ج ۲ ص.١٦٩ باب العیدین .

صحابه کرامو به غیر مسنون طریقو څخه د اجتناب کولو زیات اهتمام کاوٙ د دی څو مثالونه وګوری :

(۱) حضرت عماره بن رویبه رضی الله عنه چی بشر بن مروان یی خطبه کی لاس اوچت کړی ولید نو وی فرمایل : " قبح الله هاتین الیدین القصیرتین لقد رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم ومایزید علی ان یقول هکذا واشار مسلم بالسبابه "(ترمذی باب ما جاء فی کراهیة رفع الایدی علی المنبر ۶۸/۱) .

یعنی الله تعالی دی دا دواړوه واړه لاسونه خراب کړي ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسی کولو ندی لیدلی .

وګوری ! په خطبه کی لاسونه اوچتول ثابت ندي پدی وجه صحابي وربانـدی سخت رد او بددعاء ورته کوي . همداشان قبر بـاندی اذان کـونکی هم د بـددعائی ستحق دی .

(۲) د حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه خوی په لمانځه کی د سورت فاتحی په شروع کی په زورد بسم الله ولوست نو حضرت عبد الله ورته فوراً تنبیه وکړ چی څویه دا بدعت دی او د بدعت نه ځان وساته ، " عن ابن عبد الله بن مغفل رضی الله عنهما قال سمعنی ابی وانا فی الصلواة اقول بسم الله الرحمن الرحیم قال لی ای بنی محدث ایاك والحدث " (ترمذي شـریف : باب ما جاء فی ترك الجهر بسم الله الرحمن الرحیم ج ۱ ص ۳۳)

وګوری : بسم الله د ورو ویلو په ځای په زوره ویلو ته صحابي خفه کیږي او پدی بانـدی د بدعت حکم لګوي او دلیل دا وړاندی کوي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ابوبکر صدیق ، حضرت عمر فاروق ، حضرت عثمان غني رضی الله عنهم څخه یو چا هم بسم الله په زوره ندی ویلی ، او همداشان د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ابوبکر صدیق . حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عنهم په زمانه کی پـه قبر بانـدی اذان ویل ندي ثابت پدی و به د دی په بدعت کیدو کی شک نشته "فمن ادعـی فعلیـه البیان" یعنی کوم سړی چی ثابت کړي نو هغه دی دلیل پیش کړي .

(۳) حضرت ابومالک الاشجعي فرمائي : ما د خپل پلار " طارق رضی الله عنه " نه تپوس وکړ چې تا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صدیق اکبر ، عمر فاروق ،عثمان غني او حضرت علي رضی الله عنهم پسې لمونځ کړی دی ایا دوی د سحر لمانځه کې دعاء قنوت ویلو ؟ هغه وفرمایل : ځویه بدعت دی .

" عن ابی مالك اشجعی قال قلت لابی یاابت انك قد صلیت خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکر رضی الله عنه و عمر رضی الله عنه وعثمان رضی الله عنه وعلی بن ابی طالب رضی الله عنه هاهنا بالکوفة نحوا من خمس سنین أکانوا یقنتون قال ای بنی محدث " (ترمذی شریف ج ۱ ص ۵۳ باب ترك القنوت) .

(۴) امام نافع فرمائي چې د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په وړاندې یو سړي پرنجې وکړ او هغه " الحمد لله والسلام علی رسول الله " یعنې " والسلام علی رسول الله " ور زیات کړ دا زیادت د خپل معنی په لحاظ سره بالکل صحیح دی مګر پدې موقع باندې چونکې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ویلو تعلیم ندی ورکړی پدې وجه حضرت ابن عمر رضی الله عنه دغه زیادت ناخوښ کړ او وی فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی تعلیم ندی ورکړی پدی موقع باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیم دا دی چې " الحمد لله علی کل حال " ووائي .

" عن نافع ان رجلاً عطس الی جنب ابن عمر رضی الله عنهما فقال الحمد لله والسلام علی رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام علی رسول الله ولیس هکذا علمنا رسول الله صلی الله علیه وسلم علمنا ان نقول الحمد لله علی کال حال " (مشکواة شریف ص ٤٠٦ باب العطاس والتثاؤب) .

وګورئ ! د پرنجي په وخت کې الحمد لله سره والسلام علی رسول الله ویل د نه ثابتیدو په وجه سره صحابي ورباندې خفه کیږي ، همداشان په قبر باندی اذان کول د نه ثابتیدو په وجه مکروه او قابل ترک دي .

افسوس دی کوم ځای چې د مچ ننوتو ګنجائش نه وي بدعتیان پکې هاتی دننه کول غواړي .

(۵) د څاښت لمونځ حدیث نه ثابت دی (مګر په کور یا جوماتـ کـی څانلـه څانلـه) او ددی برخلاف کله چی حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه دی لپاره دخلکو جومات کی خلک رایوځای کیدل ولیدل چـی پـه اهتمـام سـره یی کـوي نـو دا یی نـاخوښ وګرځول او بدعت یی ورته وویل :

" عن مجاهد قال دخلت انا و عروة ابن الزبير المسجد فاذا عبد الله ابن عمر رضى الله عنه جالس الى حجرة عائشة رضى الله عنها واذا اناس يصـــلون فى المســـجد صلواة الضحى قال فسألناه عن صلواقم فقال بدعة " (بخارى ج ۱ ص۲۳۸) .

او په نووي شرح مسلم کی دي :

" واما ماصح عن ابن عمر رضى الله عنه قال فى الضحى هى بدعة فمحمول على ان صلوتها فى المسجد والتظاهر بها كما كانوا يفعلونه بدعة " (نووى شرح مسلم باب استحباب صلواة الضحى اقلها ركعتان ج ۱ ص ۲٤۹) (مـــــرقاة شـــرح مشكواة ج ۳ ص ۲۰۵) .

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم دا صورت ناخوښ ګڼلی او فرمایلي دي :

" ان كان ولابد ففى بيوتكم " یعنی که چیرته تاسو دڅاښت لمونځ خامخـا کـوئ نـو پخپلو کورونو کی وکړئ .

(٦) د سحر لمانځه کی خلکو په اجتماعي طور سره سل ځلی الله اکبر ، سل ځلی لا اله اله الله او سل ځلی سبحان الله ویلو . حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنه عبـد الله ابن مسعود رضی الله عنه ته د دی خبر ورکړ نو ابن مسعود رضی الله عنه هلتـه ورغـی او د هغو خلکو نه یی تپوس وکړ چی دا تاسو څه کوئ ؟ هغوی ځواب ورکـړ ای ابـو عبد الرحمن ! مونږ پدی ګیټو سره تکبیر او تحلیل او تسبیح شمارو هغـه وفرمایـل : د دی پـه ځای تاسو خپل ګناهونه وشمارئ او بیا یی وفرمایل :

" ويحكم يامة محمد صلى الله عليه وسلم ما اسرع هلكتكم هؤلاء صحابة نبيكم صلى الله عليه وسلم متوافرون وهذا ثيابه لم تبل وانيته لم تكسر والذى نفسى بيده انكم لعلى ملة هى اهدى من ملة محمد صلى الله عليه وسلم اومفتتح باب ضلالة " .

یعنی ای د محمد صلی الله علیه وسلم امته ! افسوس ستاسو هلاکت څومره په تلوار راغی ، همدا اوس د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضی الله عنهم ستاسو په منځ کی په کثرت سره موجود دي او ستاسو دنبي صلی الله علیه وسلم کپړی (جامی) زړی شوی نه دي او لوښي یی لا مات شوي ندي (او تاسو له اوس نه بدعتونه شروع کړل) په هغه ذات می دی قسم وي چې د هغه په قبضه کی زما ساه ده یا خو تاسو په بو داسی دین باندی یئ چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له دین نه (نعوذ بالله) زیات صحیح او درست دی او یا تاسو د ګمراهی دروازې ته رسیدلی یئ کوم چې عنقریب بیرته کیدونکی دی ، هغوی ځواب ورکړ : " والله یا ابا عبد الرحمن ما اردنا الا الخیر " یعنی ای ابوعبدالرحمن مونږ قسم خورو چې لدی کار نه څمونږه اراده صرف نیکي ده ، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : " وکم من مرید للخیر لن یصیبه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم حدثنا ان قوماً یقرئون القرآن لایجاوز تراقیهم وایم الله ما ادری لعل اکثرهم منکم ثم تولی عنهم "

یعنی ډیر د نیکی اراده کونکي داسی دي چې نیکی ورته نه حاصلیږي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته فرمایلي دي : ډیر خلک به قرآن پاک لولي مګر قرآن به د هغوی له مریو نه ښکته نه ځي ، په الله قسم زه نه پوهیږم ، کیدی شي د دوی زیات کسان له تاسو څخه وي ، دا وینا یی ورته وکړه او لاړو ترینه ، عمرو بن سلمه وائي (د دی بدعت په پیدا کولو سره د دی خلکو انجام) مونږه دا ولید چې د نهروان په جنګ کی د خوارجو سره ملګري شول او مونږ سره جنګیدل .

(ازالة الخفاء ص ۲۷۹ ، ۲۸۰ جلد اول ، مقصد اول ، پنځم فصل ملخص)

(۷) په مجالس الابرار کی دي : یوه ډله خلک به د ماښام لمانځه نه وروسته کیناستل یو سړي به ویکی ویل چې دومره ځلی الله اکبر او دومره ځلی سبحان الله او دومره ځلی الحمد لله ووایئ نو خلکو به ویل حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته د دی پته ولګیده نو د هغوی خوا ته ورغی او کله چې یی پخپله واوریدل نو ودرید او وبی فرمایل : " انا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه الله الذی لا اله غیره لقد جئتم ببدعة ظلماء او لقد فقتم علی اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم علماً یعنی ان

ما جئتم به اما ان يكون بدعة ظلماء او انكم تداركتم على الصحابة ما فاتهم لعدم تنبههم له او لتكاسلهم عنه فغلبتموهم،من حيث العلم بطريق العبادة والثانی منتف فتعين الاول وهو كونه بدعة ظلماء " .

یعنی زه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یم په هغه الله مـی قسـم دی چـی د هغـه نـه علاوه بل معبود برحق نشته یقیناً یا خو تاسو ډیر تورتم بدعت کی اخته شوی یئ او یا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په علم کـی زیـات شوي يئ دويمه خبره (يعنی په علم کی اوچتيدل) خو نامممکنه ده نو پـدی وجـه اولـه خبره متعينه ده يعنی په ډير تورتم بدعت کی اخته شوي يئ .

(مجالس الابرار ص ۱۲۵ مجلس نمبر ۱۸ فی احکام البدعه)

لړ غور وکړئ د تسبيحاتو په ويلو باندی څوک اعتراض کولی شي مګر د ويلو طريقـه او د دی التزام خلاف سنت کيدو پـه وجـه جليـل القـدر صحابي وربـاندی د بـدعت کيـدو فتوی وکړه .

(۸) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه یو سړی په دعاء کی د سینی نه پورته لاسـونه اوچت کړی ولید نو د بدعت فتوی یی ورکړه او په دلیل کی یی وفرمایـل چـی رسـول الله صلی الله علیه وسلم نه د دعا په وخت (کوم خاص موقع نه غیر) د سینی نـه پورتـه لاسونه اوچت کړي ندی لیدل شوي .

" عن ابن عمر رضى الله عنهما ان يقول ان رفعكم ايديكم بدعة مازاد رسول الله صلى الله عليه وسلم على هذا يعنى الى الصدر " (رواه احمـــد) (مشـــكواة ص ۱۹۶ كتاب الدعوات الفصل الثالث) .

د استسقاء نه غیر بل کوم ځای کی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعا کی لاسـونه د سینی نه پورته نه اوچتول پدی وجه د بدعت فتوی ورکړه ، همداشان (رسول الله صلی الله علیه وسلم) نه قبر باندی اذان کړی او نه یی بل ځاته د کولو حکم کړیلهذا دا هم بدعت دی .

(۹) حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه یو سړی د سلام ګرځولو نه مخکی په دعا کی لاسونه اوچت کړی ولید نو وی فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم څو پوری چی به د لمانځه نه فارغ شوی نه و نو په دعا کی به لاسونه نه اوچتول .

(۱۰) امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه د اختر په ورځ عید ګاه کې د اختر لمانځه نه مخکې یو سړی په نفل کولو ولید نو منع یې کړ هغه وویل : امیر المؤمنین زما امید دی چې الله تعالی به راته په لمونځ کولو باندی عذاب نه راکوي ، حضرت علي کرم الله وجهه وفرمایل : زما هم دا یقین دی چې کوم کار رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی نه دی او یا دکولو ترغیب نه وي ورکړی نو هغه کار عبث دی او عبث کار بې فائدی او بیکاره وي نو ویره ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقی مخالف کیدو سره الله تعالی درته عذاب درکړي : " وقال صاحب مجمع البحرين في شرحه ان رجلاً يوم العيد في الجبانة اراد ان يصلى قبل صلواة العيد فنهاه على رضى الله عنه فقال الرجل ياامير المؤمنين انى اعلم ان الله تعالى لايعذب على الصلواة فقال على رضى الله عنه وانى اعلم ان الله تعالى لايثيب على فعل حتى يفعله رسول الله صلى الله عليه وسلم او يحث عليه فيكون صلوتك عبثا والعبث حرام فلعله تعالى يعذبك به بمخالفتك لنبيه (صلى الله عليه وسلم) "

(مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۹)

(۱۱) یو سړي به د مازیګر لمانځه نه وروسته دوه رکعته نفل کول چې کله لدی کار نه منع کړی شو نو هغه د حضرت سعید ابن المسیب رحمه الله نه تپوس وکړ : یا ابا محمد ایعذبنی الله على الصلواة ؟ ای ابومحمده ! ایا الله تعالی ماته په لمانځه باندی عذاب راکوي ؟ هغه وفرمایل : " لكن يعذبك لخلاف السنة " (عبادت د سزا او عتاب موجب ندی) لیکن الله تعالی به درته د سنتو په مخالفت باندی عذاب درکوي .

(مسند دارمي)

لږ فکر وکړئ ! لمونځ عبادت دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو یخوالی دی ، د الله تعالی د قرب او نزدیکت ذریعه ده مګر د اختر لمانځه نه مخکې او د مازیګر لمانځه نه وروسته کول چونکې د سنت خلاف دي پدی وجه موجب د عقاب (سزا) دي همداشان په قبر باندی آذان هم چونکې د سنت نه خلاف دی نو پدی وجه موجب د عذاب دی .

(۱۲) حضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت معاویه رضی الله عنه دخانه کعبی طواف کولو نو حضرت معاویه رضی الله عنه دخانه کعبی ټول کنجونه ښکل کړل ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم به د حجر اسود او رکن یماني نه علاوه کوم بل کنج نه ښکلولو حضرت امیر معاویه رضی الله عنه وفرمایل : د دی مقدس کور هیڅ یو ځای داسی نشته چی پریښودل شي حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : " لقد كان لكم فى رسول الله اسوةٌ حسنةٌ " (تاسو لپاره د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ذات بهترینه نمونه ده) بیشکه د خانه کعبی هر یو شی باعظمت او متبرک دی مګر مونږ ته هغه کار کول پکار دي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی ، حضرت امیر معاویه وفرمایل: ستاسو خبره صحیح ده .
(مسند امام احمد)

(۱۳) حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه خلیفه مروان بن حکم د اختر لمانځه نه مخکی په خطبه ویلو ولید نو منع یی کړ او وی فرمایل : دا د سنت خلاف دي .
(اقامة الحجة ص ٥)

(۱۴) حضرت کعب بن عجره رضی الله عنه عبد الرحمن ابن ام حکم د سنت خلاف په ناسته باندی په خطبه ویلو ولید نو په قهریدو سره یی وفرمایل : وګورئ ! دا خبیث په ناسته خطبه وائي ، " عن ابى عبيدة عن كعب بن عجرة قال دخل المسجد وعبد الرحمن بن ام حكم يخطب قاعداً فقال انظروا الى هذا الخبيث يخطب قاعداً "
(مسلم ص ١٨٤ كتاب الجمعة) .

وګورئ دا ذکر شوي کارونه چونکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي پدی وجه د رسول الله علیه وسلم صحابي نشي برداشت کولی او حاکم وخت باندی بی پروائي سره رد وکړ . نو د قبر آذان چی بالکل ثابت نه دی څنګه برداشت کیدی شي ، د الله لپاره د سنتو قدر وپیژنئ او د بدعت د تیارو نه بچ شئ .

(۱۵) په مکه معظمه کی مؤذن د سحر آذان نه وروسته تثویب یعنی د خلکو د رابللو لپاره " الصلواة جامعة " (جماعت تیار دی) آواز وکړ نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ډیر په غصه دا وفرمایل : " اليس فى اذانك مايكفينا ؟ " ایا ستا په آذان کی " حی على الصلواة " مونږ ته کافي ندی ؟ (کفایه ۲۱۵/۱ باب الآذان) .

(۱٦) حضرت علي رضی الله عنه د ماسخوتن وخت کی مؤذن په تثویب کولو ولید نو یـد خفګان سره وفرمایل : دا بدعتي له جومات نه وباسئ " ان علیاً رأی مؤذنا یثوب للعشاء فقال اخرجوا هذا المبتدع من المسجد " (بحر الرائق ج ۱ ص ۲٦۱ ، اقامة الحجة ص ۷)

(۱۷) حضرت ابن عمر رضی الله عنه د ماسپښین اذان نه وروسته مؤذن په تثویب کولو ولید نو بی حده غصه شو او خپل ملګری حضرت مجاهد رحمه الله ته وفرمایل : لدی بدعتي څخه مونږه وباسه (چونکی په آخر عمر کی د سترګو نظر ختم شوی ؤ) نو جومات یی پریښود او لمونځ یی پکی ونه کړ : " وروی عن مجاهد قال دخلت مع عبد الله بن عمر مسجداً وقد اذن فیه ونحن نرید ان نصلی فیه فثوّب المؤذن فخرج عبد الله بن عمر وقال اخرج بنا من عند هذا المبتدع ولم یصلی فیه "

(ابوداؤد ج ۱ ص ۸٦ باب فی التثویب ، ترمذی باب ماجاء فی التثویب فی الفجر ج ۱ ص ۲۸ ، الاعتصام ج ۱ ص ۳۳٤) .

غور وکړئ کوم حضرات چی د اذان نه وروسته یو لفظ (آواز) نشي برداشت کولی ایا دوی په قبر باندی اذان برداشت کولی شي ؟

(۱۸) له حضرت حسن رضی الله عنه نه روایت دی چی حضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ته چا د ختنی (سنت ګیري) دعوت ورکړ خو ده قبول نه کړ او وی فرمایل چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک دور کی مونږ خلک د سنت ګیری په پروګرام کی نه تللو او نه د دی دعوت ورکول کیدو .

(مسند امام احمد ۲۱۷/۴)

حاصل د خبری دا چی صحابه کرام رضی الله عنهم د بدعت او خلاف سنت کار څخه دومره سخت بیزاره وو چی دامت هیڅ یوه طبقه او فرد ددي مثال نشي پیش کولی ، د صحابه کرامو د یو فرد حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه ګواهي او شهادت دی : " لم اری احداً من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم کان ابغض الیه الحدث فی الاسلام یعنی منه " ما په صحابه کرامو کی څوک داسی ندي لیدلي چی هغه د بدعت نه زیات کوم بل شي سره بغض وساتي .

(ترمذي شريف ۳۳/۱ باب ما جاء في ترك الجهر بسم الله آه)

همدا مضمون شیخ رحمه الله په اشعارو کی بیان کړی دی : ع

یــه زهــد و ورع کــوش و صدق و صفا
و لیکـــــن میفــــزائی بــــر مصطفی

یعنی : په پرهیزگاری ، زهد و صداقت او صفائی کی کوشش وکړه لیکن د رسـول الله صلی الله علیه وسلم نه مه وړاندی کیږه مطلب دا چی خومره او څنګه یی کړی دی همغه شان وکړه د خپل طرف نه زیادت مه کوه .

خــــلاف پیــمبر کی ره گــــــزید
کـــه هـــرگز بمنزل نخواهد رسیـد

یعنی څوک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خلاف لاره اختیار کړي هغه چیری هم منزل مقصود ته نه رسي .

مپنـــدار سعــــدی کـــه راه صفا
توان یـــا فت جـــز بر پئ مصطفی

سعدیه ! داسی گمان چیری ونه کړی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیروي نه بغیر صراط مستقیم به ومومی .

تــرسم نـــه رسی بـه کعبه ای اعرابی
کین ره که تو می روی بترکستان است

ای باندچیه ! زه ویریږم چی کعبی ته به ونه رسی ، څکه په کومه لاره چی روان یی د ترکستان ده .

د بدعت نحوست

په کوم قوم کی چی بدعت پیدا شي نو د دی له نحوست نه هغه قوم د سنت له برکـت نه محرومیږي ، په حدیث شریف کی دي : " قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مـا احدث قوم بدعةً الا رفع مثلها من السنة فتمسك بسنة خير من احداث بدعـــة " رواه احمد (مشكواة شريف ص ۳۱) .

یعنی کوم قوم چی بدعت پیدا کړي (د دی په نحوست سره) ددی په مثل سنت پورته کولی شي لهذا سنت محکم نیول د بدعت پیدا کولو نه زیات بهتر دي .

حضرت حسان بن عطیه رحمه الله واني چې هغه سنت دوباره هغه قوم ته تر قیامته پوری نشي ورکولی یعنی هغه قوم ندی سنت نه همیشه لپاره محرومیږي .
" عن حسان قال ما ابتدع قوم بدعة فى دينهم الا نزل الله من سنتهم مثلها ثم لا يعيدها الله (تلك الحسنة) اليهم الى يوم القيامة " رواه الدارمى ايضاً (مشكواة شريف ص ۳۱) (دارمی ج ۱ ص ٤٥)
په احياء العلوم کی دي : " ان لله ملكاً ينادى كل يوم من خالف سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم لم تنله شفاعته ومثال الجانى على الدين بابداع ما يخالف السنة بالنسبة الى من يذنب ذنباً مثال من عصى الملك فى قلب دولته بالنسبة الى من خالف أمره فى خدمة معينة و ذلك قد يغفر له فاما قلب الدولة فلا "
ترجمه : د الله تعالیٰ یوه فرشته هره ورځ دا آواز کوي څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنت نه مخالفت وکړي هغه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت نه حاصلیږي ، او کوم سړی چې په دین کی دسنت په خلاف بدعت پیدا کولو سره غلطي وکړي د ده د بل ګنهګار سره داسی نسبت دی لکه د کوم بادشاه تخته چپه کونکی ، که چیرته کوم سړی د بادشاه د یو حکم نه خلاف ورزي وکړي نو بادشاه کله دا خطاء معاف کوي مګر د سلطنت چپه کونکي ته کله هم معافي نه کوي او همدا حال د بدعت کونکي دی (چې دا د سنت نه باغي او د سنت محوه کونکی دی او د دی په ځای د بدعت جاري کونکی دی کوم چې د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم دښمن دی) (احیاء العلوم ج ۱ ص ۸۷) .
رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : " اما بعد فان خير الحديث كتاب الله وخير الهدى هدى محمد صلى الله عليه وسلم وشر الامور محدثاتها وكل بدعة ضلالة " رواه مسلم . یعنی بهترین فرمان د الله کتاب دی او بهترین سیرت او نمونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی او بدترین کارونه بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده (اګر که په ظاهر کی ښه معلوم شي) .
(مشكواة شريف ص ۲۷ الاعتصام بالكتاب والسنة)

او ارشاد فرمايي : " عليكم بسنتى وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة "

يعنى په تاسو باندى لازم او ضروري دي چې زما سنت (زما طريقه) او د خلفاء راشدينو طريقه (كوم چې د الله له طرفه هدايت يافته دي) مضبوط او محكم ونيسئ يعنى عمل پرى وكړئ او د هر نوى خبرو نه ځان وساتئ ځکه چې هر نوي ايجاد شوى شى بدعت دى او هر بدعت ګمراهي ده .

(مشكواة ص ۳۰ باب الاعتصام بالكتاب والسنة)

او ارشاد فرمائي : " من احدث او اوى محدثاً فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين لايقبل منه صرف ولا عدل " يعنى چاچې (په دين كى) نوى خبره پيدا كړه يا يى كوم بدعتي ته پنا وركړه نو هغه باندى د الله تعالى د ملائكو او دټولو خلكو لعنت دى نه دهغه فرض عبادت مقبول دى او نفلي عبادت .

(مشكواة ص ۲۳۸ باب حرم المدينة)

او ارشاد فرمائي : " من وقر صاحب بدعة فقد اعان على هدم الاسلام " يعنى چا چې د بدعتي عزت وكړ هغه داسلام په نړولو كى مدد وكړ .

(مشكواة شريف صفحه ۳۱)

د حضرت عبد الله ابن عباس رضى الله عنه ارشاد دى : "ابغض الامور الى الله البدعة" يعنى د الله تعالى په نزد مبغوض ترين څيز بدعت دى (بيهقي) .

او فرمائي : " لايقبل الله لصاحب بدعة صوماً ولاصلواة ولاصدقةً ولا حجاً ولاعمرةً ولا جهاداً ولا صرفاً ولا عدلاً يخرج من الاسلام كما تخرج الشعر من العجين " .

يعنى الله تعالى د بدعتي نه روژه قبلوي نه لمونځ ، نه صدقه ، نه حج ، نه عمره ، نه جهاد ، نه كوم فرض عبادت او نه نفلي عبادت ، بدعتي له اسلام نه داسى باهر كيږي لكه څنګه چې د اغړلى شوي اوړو نه ويښته وځي .

(ابن ماجه ص ٦ باب اجتناب البدع والجدل)

کله چې یو قوم بدعت باندی د عمل کولو عادت شي نو ورو ورو بدعت په هغه قوم کی داسی ننوځي چې دهغوی په هر عمل کی بدعت شامل وي ، په یو حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي : " انه سیخرج فی امتی اقوام تتجاری بهم تلك الاهواء كما يتجاری الکلب بصاحبه لايبقی منه عرق ولا مفصل الا دخله " یعنی نزدی ده چې زما په امت کی به داسی خلک پیدا شي چې په هغوی کی به بدعات او خواهشات داسی ننوځي لکه د لیوني سپي زهر چې سړي کی ننوځي او په رګ رګ کی داخلیږي (مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .

حضر شیخ پیر عبد القادر جیلانی رحمه الله د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه یو وړاندوینه نقل کوي :

" عن عكرمة عن ابن عباس رضی الله عنه قال لايأتی علی الناس زمان الا اماتوا فيه سنةً واحيوا بدعة " . یعنی په خلکو باندی به داسی زمانه راشي چې سنت به محوه کوي او بدعت به ژوندی کوي .

(غنية الطالبين ص ۵۸ الفصل الثانی فی بيان الفرق الضالة)

دا هماغه زمانه ده قسماقسم بدعتونه پیدا کړی شوي دي مثلاً په قبر باندی آذان ، د قبر طواف ، قبر ته سجده ، د بزرګانو په مزارونو باندی صندل ، عرس ، قوال د ګلونو څادرې ، د ناریل شاخونه درول . د دوی په نوم نذر و نیاز ، مزارونو ته د ښځو بی پردی راتلل او ناوړه کارونه تر سره کول ، مزارونو باندی ډول او سورنی غږول ، همداشان د غم او ښادی په سوونو بدعتونه ، الله تعالی دی مسلمانانو ته د بدعتونو څخه د بچ کیدو توفیق ورکړي ، نن د دې ضروزت وُ چې مسلمانان لدی بدعتونه څخه وساتل شي مګر د دی په ځای دغه ناوړه اعمال ، اسلامي اعمال ښودل کیږي ، د رضاخانی ډلی کتاب " تجانب اهل السنته " کی دي : لمونځ ، روژه ، میلاد ، یولسمه شریفه ، دریمه ، څلویښتي او عرس وغیره اسلامي اعمالو کی نهایت خاموشی سره مشغول دي (تجانب اهل السنه ص ۹۱) تاسو ولیدل د رضاخانی ډلی په نزد لمونځ او روژی نه وروسته میلاد ، یولسمه شریفه ، دریمه ، څلویښتي او عرس وغیره یعنی صندل ، مزارونو ته سجدی ، طواف او قوالي په اسلامي اعمالو کی شمیري .

اذا كـــان الغـــراب دليل قـــوم

سيهـــديهم طـــريق الهـــالكين

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " وترويج بدعت موجب تخريب دين است وتعظيم مبتدع باعث هدم اسلام الی قوله ـ بدعت را در رنگ کلنگ می داند که هدم بنیاد اسلام می نماید و سنت را در رنگ کوکب درخشان می نماید که درشب جور ضلالت هدایت می فرماید " (مکتوبات امام رباني ۳۸/۲ فارسي) .

ترجمه : د بدعت جاري کول د دين د بربادی سبب دی او د بدعتي تعظيم کول د اسلام د نړولو باعث دي ـ الی قوله ـ زه بدعت د يو کلنک (کوداله) پشان گنړم کوم چې د اسلام بنياد نړوي او سنت راته د پړقيدونکو ستورو غوندې ښکاري کوم چې دګمراهی توره شپه کی هدايت او لارښونه کوي .

(ترجمه مکتوبات امام رباني ۶۳/۲ مکتوب نمبر ۲۳)

او دا هم ليکي : " وعمل بدعت از ديار آن ظلمت می نمايد وتقليل نور سنت می سازد وعمل سنت باعث تقليل آن ظلمت است و تکثير آن نور : " فمن شاء فليكثر ظلمة البدعة ومن شاء فليكثر نور السنة ومن شاء فليكثر حزب الشيطان ومن شاء فليكثر حزب الله الا ان حزب الشيطان هم الخاسرون الا ان حزب الله هم المفلحون "

(مکتوبات امام رباني ۴۹/۲ مکتوب نمبر ۲۳ فارسي)

ترجمه : په بدعت باندی عمل کول تياره نور هم زياتوي ، او د سنت رڼا کموي او په سنت باندی عمل کول تياره کموي او رڼا زياتوي ، اوس اختيار دی که خوک د بدعت تياره زياتوي او که د سنت رڼا زياتوي او که خوک د شيطان ډله ډيروي او که د الله والا ډله زياتوي خو خبردار د شيطان ډله ناکامه ده او د الله تعالی ډله کامیابه ده .

(مکتوبات امام رباني ۶۴/۲ مکتوب نمبر ۲۴)

او يو مکتوب کی ليکي : " النصيحة هي الدين ومتابعة سيدالمرسلين عليه وعليهم الصلواة والسلام واتيان السنة السنية والاجتناب عن البدعة اللامرضية وان كانت البدعة ترى مثل فلق الصبح لانه في الحقيقة لانور فيها ولا ضياء ولا للعليل منها

شفاء ولا للداء منها دواء كيف والبدعة اما رافعة للسنة او ساكتة عنها والساكتة اما لا بد وان تكون زائدة على السنة فتكون ناسخة لها في الحقيقة ايضا لان الزيادة على النص نسخ له، فالبدعة كيف كانت تكون رافعة للسنة نقيضة لها فلا خير فيها ولاحسن فيها "

(مكتوبات امام رباني ج ۲ ص ۳۱ مكتوب نمبر ۱۹ فارسي)

ترجمه : د ټولو نه اوچت نصيحت دا دی چی د سيدالمرسلين دين او متابعت اختيار کړي او مبارک سنت عملي کړي او د ناوړه بدعت نه پرهيز وکړي ، اګرکه هغه بدعت دسحر د سپين والي پشان ظاهر کی رڼا او واضح معلوم شي ليکن په حقيقت کی هيڅ نور او رڼا پکی نشته او نه پکی د کوم بيمار دواء ده او نه پکی د کوم مرض شفاء شته ځکه چی بدعت له دوه حالتونو څخه خالي ندی يا خو به سنت منسوخ کونکی وي او يا به لدينه ساکت وي او د ساکت کيدو په صورت کی به په سنت باندی زائد ضرور وي او دا هم په حقيقت کی د سنت منسوخ کونکی دی ځکه چی په نص باندی زيادت د نص ناسخ دی نو معلومه شوه چی بدعت که هر قسم وي د سنت ناسخ او ضد دی او هيڅ قسم خير او حسن پکی نشته .

(مكتوبات امام رباني ترجمه ج ۲ ص ۵۲ ، ۵۳ مكتوب نمبر ۱۹)

او هدايت فرمائي : " از حضرت حق سبحانه وتعالى بتضرع وزاری والتجا افتقار و ذل و انکسار در سر و جهار مسالت في نمايد که هر چه در دين محدث شده است ومبدعه گشته که درزمانه خير البشر و خلفاء راشدين او نبوده عليه وعليهم الصلوات والتسليمات اگر چه آن چيز در روشنی مثل فلق صبح بوداين ضعيف راجمع که باو مستند اند گرفتار عمل محدث مگر دانا و مفتون حسن آن مبتدع مکند بحرمت سيد المختار وآله الابرار عليه وعليهم الصلوات والتسليمات گفته اند که بدعت برد و نوع است حسنه و سيئه ، حسنه آن عمل نيک راگويند که بعداز زمان آنحضور عليه السلام وخلفاء راشدين رضی الله عنهم اتمها و من التحيات اکملها پيدا شده باشد ورفع سنت نه نمايد و سيئه آن که رافع سنت باشد اين فقير در هيچ بدعتی ازين بدعتها حسن و نورانيت مشاهده نمی کند و جز ظلمت و کدورت احساس نمی نمايد اگر فرضا عمل مبتدع را امروز بواسطه ضعف بصارت بطرادت ونضارت ببيند فردا که حديد البصر کردن دانند که جز خسارت وندامت نتيجه نداشت ".(مكتوبات امام رباني ج ۱ ص ۱۸٦ مكتوب نمبر ۱۸٦)

ترجمه په عاجزي او زاري . التجاء و محتاجی او ذلت و خواری سره پـه بنکـاره او پـه پټه د الله تعالی په دربار کی سوال کوي چی پدی دین کی کوم محدث او مبتدع پیدا شوی کوم چی د خیر البشر صلی الله علیه وسلم او د ده صلی الله علیـه وسـلم د خلفاء راشدینو په زمانه کی نه وو اگر کـه پـه رنـاني کـی د سـحر د سـپین والي پشـان دي دا ضعیف او ناتوان د دغو خلکو د بدعت عمل کـی گرفتـار نـه کـړی او د دی مبتـدع پـه حسـن باندی دوکه نه کړي بحرمت سید المختار وآله الابرار علیهم الصلوات والتسـلیمات ځینی علماؤ ویلي دي چی بدعت په دوه قسمه دی : حسنه او سـیئه ، حسـنه هغـه نیـک عمل ته ویل کیږي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو نه وروسـته پیدا شوی وي خو هغه سنت نه ختموي او سیئه هغه بدعت ته ویل کیـږي چـی سـنت ختموي ،دا فقیر لدی بدعتونو څخه هیڅ یو بدعت کی حسن او نورانیت نـه وینـي او د ظلمت او کدورت نه سیوا هیڅ شی نه محسوسوي ، اگر که اوس د مبتدع عمل د ضـعف بصارت په وجه تر و تازه ووینی لیکن صبا چی کله بصارت او بینائي تیز وي نو وبه گـوري چی د دی نتیجه دخسران او ندامت نه غیر بل هیڅ نه ؤ .

(ترجمه مکتوبات امام رباني ۳۰۸/۱ ، ۳۰۹ مکتوب نمبر ۱۸٦)

د الله لپاره د سنت قـدر وپیژنـئ ! د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم نـوراني سـنتونه راژوندي کړئ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمـائي : " من تمسك بسنتی عند فساد امتی فله اجر مائة شهید " یعنی څوک چی د فساد (د بدعت د غلبی) پـه وخـت کـی زما په یو سنت باندی عمل وکړي نو هغه لپاره د سلو شهیدانو ثواب دی .

(مشکواة شریف ص ۳۰)

او همدا راز فرمـائي : " ومن احب سنتی فقد احبنی ومن احبنی کان معی فی الجنة " یعنی چا چی زما سنتو سره محبت وکړ (یعنی عمل پری وکړ) نو هغه ما سره محبت وکړ او څوک چی ماسره محبت کوي هغه به جنت کی ماسره وي .

(مشکواة شریف ص ۳۰)

او دا هم فرماني : " من حفظ سنتی اکرمه الله باربع خصال المحبة فی قلوب الـبررة والهیبة فی قلوب الفجرة والسعة فی الرزق والثقة فی الدین " یعنـی چـا چـی زمـا د سنت حفاظت وکړ (یعنی په صداقت سره وربانـدی محکم وسـي او عمـل وکـړي) نـو

الله تعالی به په څلورو خبرو سره د هغه اکرام او عزت کوي (۱) د نیکانو خلکو زړونو کی د ده محبت پیدا کړي (۲) فاسقانو او بدکارانو په زړونو کی به د ده هیبت واچوي (۳) رزق به ورته فراخه کړي (۴) په دین کی به ورته پوخ والی نصیب کړي

(شرح شرعة الاسلام لسید علی زاده ص ۸)

د امام مالک رحمه الله ارشاد دي : " ان السنة مثل سفینة نوح من رکبها نجی ومن تخلف عنها غرق " یعنی د سنت مثال د نوح علیه السلام د کشتی دی څوک چی پدیکی سور شي (د ګمراهی) نه بچ شو او څوک چی پکی سور نشو (یعنی سنت پریدي) نو هغه غرق شو (یعنی د ګمراهی په کنده کی پریوت) .

د الله تعالی اعلان دی "قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم " یعنی ای محمد صلی الله علیه وسلم ته دوی ته ووایه که چیرته ستاسو الله تعالی سره مینه وي نو د دی عملي صورت دا دی چی زما پیروي وکړئ او زما په نقش قدم باندی روان شی نو الله تعالی به درسره محبت کوي او ګناهونه به مو معاف کړي.

د دی ایت نه دا خبره ثابتیږي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت او د ده صلی الله علیه وسلم په مبارکو طریقو باندی عمل کولو سره انسان د الله تعالی محبوب جوړیږي او الله تعالی د هغه ګناه معاف کوي لدینه اوچت نعمت به څه وي ؟لهذا سعادتمندي په همدی کی ده چی له بدعت نه کاملاً اجتناب وکړی شي بلکی د کوم فعل متعلق چی د سنت او بدعت کیدو کی شک او تردد وي نو هغه فعل دی پریښودلی شي ، د اصول فقه قاعده ده " وما تردد بین البدعة والسنة یترك لان ترك البدعة لازم " یعنی د کوم کار په سنت او بدعت کیدو کی چی شک وي نو هغه دی پریښودلی شي ځکه چی د بدعت پریښودل لازم او ضروري دي .

(فتح القدیر ج ۱ ص ۴۵۵ باب سجود السهو)

په مجالس الابرار کی دي : " وقد صرح العلماء بان ما لم یعلم صحته لایصح اتباعه وان لم یعلم بطلانه فضلاً عما علم بطلانه " یعنی علماؤ او فقهاؤ تصریح کړی ده چی د کوم څیز صحت یقیني طور سره معلوم نه وي هغه باندی عمل کول جائز ندي اګر که دهغه باطل کیدل هم معلوم نه وي هغه خو لا څه کوی چی باطل والی یی معلوم وي

(يعنى كله چى د شي باطل والى معلوم شي نو بيا خو په طريقه اولى سره هغه باندى عمل كول جائز ندي .

(مجالس الابرار صفحه ۱۲۵ مجلس نمبر ۱۹)

په بحر الرائق كى دي " ان الحكم اذا تردد بين سنة وبدعة كان ترك البدعة راجحا على فعل السنة "(بحر الرائق ۲/ ۲۰ باب ما يفسد الصلواة ومايكره فيها) .

يعنى كله چى كوم حكم د سنت او بدعت كيدو كى متردد او شكي وي نو په سنت باندى د عمل كولو په نسبت د بدعت پريښودل بهتر او راجح دي .

په فتاوى عالمګيري كى دي : " وما تردد بين البدعة والسنة يترك " يعنى كوم شى چى د بدعت او سنت تر منځ متردد وي هغه دى پرېښودل شي (۱۷۹/۱ مصري) .

په شامي كى دي : " اذا تردد الحكم بين السنة والبدعة كان ترك السنة راجحا على فعل البدعة " يعنى كله چى يو حكم د سنت او بدعت تر منځ متردد وي نو هغه بدعت باندى عمل كولو نه د سنت پرېښودل غوره دي (شامي ۱/ ۶۰۰) .

بلكي تر دى پورى هدايت دى چى كه كومه خبره زړه كى وګرځي چى ده ته ښه ښكاري نو هغه باندى فوراً عمل كول ندي ښكار تر څو چى د سنت سره د هغه موافق كيدل معلوم نشي ، حضرت سليمان داراني رحمه الله فرمائي : " لاينبغى لمن لهم شيئاً من الخير ان يعمل به حتى يسمع به فى الاثر فيحمد الله تعالى اذا وافق ما فى نفسه وانما قال هذا لان ما قد ابدع من الآراء قد قرع الاسماع وعلق بالقلوب وربما يشوش صفاء القلب فيتخيل بسببه الباطل حقاً فيحتاط فيه بالاستظهار " (احياء العلوم ج ۱ ص ۸۶) .

ترجمه : د چا په زړه كى چى كوم د خير كار الهام كړى شي نو هغه ته ښكار دي چى زرورباندى عمل ونكړي تر څو چى د هغه د اثارو سره موافق كيدل معلوم نشي ، كه په اثارو كى دهغه د كار وجود وموندل شي نو د الله تعالى شكريه دى ادا كړي چى كومه خبره د ده په زړه كى راغله هغه د اثارو سره موافق هم وه . او دا خبره سليمان دارانى پدى وجه وكړه چى اوس كوم ډير نوى نوى خبرى پيدا شوي د دى په اوريدو سره كله د سړي زړه كى ځاى نيسي او پدى سره خيني وختو كى د زړه په صفائى كى فرق

راخي او د دی په وجه هغه باطل کار ورته حق ښکاري پدی وجه احتیاط ضروري دی
چی کومه خبره زړه ته راشي نو د هغه تائید دی له اثارو نه حاصل کړي.
(مذاق العارفین ج ۱ ص ۹۳)
بدعتیان په قبر باندی د اذان په باره کی وائي چی شیطان قبر ته ننوتلو سره مړی بی
لاری کوي او په اذان سره شیطان تښتي لهذا اذان کول پکار دي تر څو مړی د ده له
شرارت نه محفوظ پاتی شي.
د دی متعلق دا عرض دی چی پدی خبره باندی کوم یو صحیح او صریح حدیث او د
رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل وړاندی کول
پکار دي مګر بدعتیان د دی دعوی په ثبوت باندی کوم صحیح او صریح حدیث نه
پیش کوي ، کله چی په صحیح طریقه د دی ثبوت نشته او رسول الله صلی الله علیه
وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم پری عمل ندی کړی نو دا څنګه مسنون ګڼل
کیږي ؟ لدینه خو دا نتیجه راوځي چی (نعوذ بالله او نعوذ بالله) رسول الله صلی الله
علیه وسلم ته د دی علم نه ؤ او که علم ؤ نو ده امت ته د اذان هدایت نه کولو سره د
مړي خیر خواهي کی کوتاهي کړی (نعوذ بالله) او دا کمی اوس بدعتیان پوره کوي.

برین عقل و دانش بباید گریست
گر همین مکتب و همین ملان
کار طفلان تمام خواهد شد

او دا هم ضروري نه ده چی کوم ځای شیطان شرارت کوي هلته دی اذان وکړی شي
، په حدیث شریف کی دي : " ان الشیطان یجری من الانسان مجری الدم " (متفق
علیه) یعنی شیطان د انسان په بدن کی د وینی پشان ګرځي (او انسان ګمراه کوي)
(مشکواة شریف ص ۱۸ باب فی الوسوسة) بدعتیان دی وښائي چی پدی وخت
کی هم اذان کول مسنون دي ؟
همداشان په حدیث کی دي : کله چی ښځه او خاوند صحبت کوي نو شیطان شرارت
کوي او د شاملیدو کوشش کوي پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته تعلیم
ورکړی چی دصحبت نه مخکی دا دعا وکړي : " بسم الله اللهم جنبنا الشیطٰن
وجنب الشیطان ما رزقتنا " یعنی یاالله موږ د شیطان نه لری وساتی او کوم اولاد چی
موږ ته راکوی هغه هم د شیطان اثر نه محفوظ ولری ، او د انزال په وخت په زړه کی

دا دعاء ولولي : " اللهم لاتجعل للشیطان فیما رزقتني نصیباً " یاالله کوم څه چې مونږ ته راکوی په هغه کی د شیطان برخه مه ګرځوی .
(حصن حصین صفحه ۱۲۰)

ایا بدعتیان د صحبت په وخت کی اذان کوي ؟ که نه یې کوي نو څه وجه ده ؟ همداشان په حدیث کی دي چې بیت الخلاء کی نر او ښځې خبیث جنات (پیریان) اوسي او د انسان له شرمګاه سره لوبې کوي او شرارت کوي پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته هدایت کړی چې بیت الخلاء ته د تللو په وخت کی دا دعاء وکړي : " اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث " ایا بدعتیان بیت الخلاء ته د تللو په وخت کی اذان کوي ؟ که یې نه کوي نو څه وجه ده ؟ اهل سنت والجماعت وائي پدی ځایو کی اذان کول ثابت ندي پدی وجه اذان نه کوو ، همداشان قبر باندی اذان کول ثابت ندي نو پدی وجه اذان نه کوو او نه ورته مسنون وایو .

الله تعالی دی امت ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو او د صحابه کرامو رضی الله عنهم په طریقو باندی د عمل کولو او بدعاتو څخه د بچ کیدو توفیق ورکړي ، آمین وصلی الله تعالی خیر آه .

د مړي کور ته د اختر په ورځ خوراک لیږل څنګه دي ؟

(۵۴ سوال) څمونږ پدی ځای کی کله چې څوک مړ شي نو دا رواج دی چې د اختر په ورځ مختلف دوستان د خوراکونو سره مړي کور ته حاضریږي ، پدی سره ګویا د کور والا سره تعزیت و همدردي او احسان کول مقصود وي نو دا دستور څنګه دی ؟ مهرباني .

خواب : د اختر په ورځ د مړي کور ته خوراک لیږلو رسم غلط او قابل ترک دی ، تعزیت دری ورځو پوری وي او یوځل تعزیت کولو نه وروسته په دویم ځل تعزیت کول نشته او د مړي کور ته خوراک لیږل اول ورځ مسنون دي له هغه نه وروسته خصوصاً د اختر په

ورخ د خوراک لیږلو رواج څنګه صحیح کیدی شي ؟ دا اسلامي طریقه نه ده د پردیو رواج کیدی شي[۱] ، فقط والله اعلم .

د چلی (۴۰ ورځی) اصلیت

(۵۵ سوال) تبلیغ والا د چلی لپاره وتلو ته ډیر زور ورکوي ایا چله کوم اصل لري چې د هغه په بناء خلک د چلی لګولو دعوت کوي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
خواب : د چلی یعنی څلویښت ورځی مسلسل عمل کولو ډیر برکت او تاثیر دی تر څلویښتو ورځو پوری عمل کولو سره روح او باطن باندی ښه اثر مرتب کیږي ، حضرت موسی علیه السلام کوه طور کی څلویښت ورځی اعتکاف وکړ لدی وروسته ورته تورات ملاو شو د صوفیانوّ کرامو سره هم د چلی اهتمام دی‌لهذا دا بالکل بی اصل ندی ، په یو حدیث کی دي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : " من صلی لله اربعین یوماً فی جماعة یدرك التكبیرة الاولی كتب له براءتان براءة من النار وبراءة من النفاق " یعنی کوم سړي چې خاص د الله لپاره څلویښت ورځی پوری تکبیر اولی سره لمونځ وکړي نو هغه لپاره دوه پروانی (انعامونه) لیکل کیږي یوه پروانه دجهنم نه د نجات او بله پروانه د منافقت نه دنجات او بري کیدو (ترمذي شریف ج۱ ص ۳۳) (مشکواة شریف ص ۱۰۲ باب ما علی المأموم من المتابعة وحکم المسبوق ، الفصل الثانی) لدینه معلوم شو چې د حالاتو په بدلیدو کی چله خاص اثر لري ، وګورئ کله چې نطفه د مور په رحم کی قرار نیسي نو په اوله چله کی هغه نطفه علقه (د وینی ټوکړه) جوړیږي او په دویمه چله کی هغه علقه مضغه (د غوښی ټوکړه) جوړیږي او په دریمه چله کی د دی مضغه ځینی اجزاونه هډوکي جوړیږي او په هغه هډوکو باندی غوښه شنه کیږي او بیا لدینه وروسته (دری چلو نه وروسته چې څلور میاشتی جوړیږي) پکی روح اچول کیږي (بیان القرآن) .
د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کی یو سړی یوی ښځی باندی عاشق شو او دهغه په مینه کی لیونی شو هغه ښځه ډیره پاکدامنه ، حیاداره او هوښیاره وه هغی هغه

---

[۱] ویستحب لجیر ان اهل المیت والاقرباء الاباعد تهیئة طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلتهم لقوله صلی الله علیه وسلم اصنعوا لآل جعفر طعاماً فقد جاءهم مایشبعهم ، شامی جنائز مطلب فی الثواب علی المصیبة ج ۲ ص ۲٤۰ .

سري ته پیغام ورکړ چې څلوېښتو ورځو پورې عمر فاروق رضی الله عنه پسې تکبیر اولی سره لمونځ وکړه د هغه نه وروسته به فیصله کیږي هغه تر څلوېښت ورځو پورې همداشان لمونځ وکړ نو د هغه حالت بدل شو او مجازي عشق یې په حقیقي عشق باندې بدل شو تر اوسه پورې چې د هغې ښځې عاشق وُ اوس د الله تعالی عاشق وګرځید او عشق هم داسې چې د الله تعالی محبت یې په رګ رګ کې ننوت . حضرت عمر رضی الله عنه ته د دې واقعې اطلاع شوه نو وې فرمايل : " صدق الله ورسوله ان الصلواة تنهی عن الفحشاء والمنکر " یعنی بیشکه الله تعالی او د ده رسول صلی الله علیه وسلم رشتیا فرمایلي دي چې یقیناً لمونځ د بې حیائی او غلطو خبرونه سړی منع کوي ، فقط والله اعلم .

د برات د شپې شپږ رکعتونه :

(۵٦ سوال) ځمونږ په جومات کې د برات په شپه د ماښام لمانځه نه وروسته خلک شپږ رکعته ډیر په اهتمام سره کوي اولني دوه رکعتونه د عمر د اوږد والي لپاره او دوه رکعته د بلاء دفع کولو په نیت او دوه رکعته د چا د نه محتاج کیدو په نیت سره او هر دوه رکعتو نه وروسته سورت یسین هم لولي او د دې ډیر زیات اهتمام کیږي نو ایا دا شپږ رکعته مسنون دي ؟ مونږه یې وکړو یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني (له سورت نه) .

ځواب : د شعبان پنځلسم نه وروسته د ماښام لمانځه پسې شپږ رکعته چې په کوم مقصد او نیت سره ادا کولی شي د دې هیڅ ثبوت نشته لهذا دی ته مسنون ویل غلط دي پدې شپه کې نفل لمونځ چې څومره غواړي کولی شي او د عمر د اوږد والي ، د رزق فراخي او بلاګانو نه د حفاظت وغیره دعاګاني هم کولی شي ، والله اعلم .

یو غیر مقلد حضرت شاه ولی محدث دهلوي متعلق لیکي چې هغه څلورو مذهبو ته بدعت وائي ایا دا خبره صحیح ده او که هغه باندې الزام دی ؟

(۵۷ سوال) د " مذهبی فرقه پرستی اور اسلام " په نوم د مختار احمد ندوي ترجمه او تلخیص یوه رساله می تر سترګو شوه پدې رساله کې د څلورو امامانو په تقلید باندې نکته چیني شوی او (۳۹) صفحه باندې یو عنوان دی " شاه ولی الله دهلوي رحمه الله تحقیق چې دا مذهب بدعت دی " او بیا وروسته د " الانصاف " په حواله لیکلي دي :

"شاه ولی الله دهلوي صاحب رحمه الله خپل رساله " الانصاف " کی لیکلي دي : "خلک اول او دویمی هجري صدي کی د کوم یو مذهب له تقلید نه واقف نه وو او نه پدی وخت کی په مسلمانانو کی د یو خاص مذهب رواج وُ . سلف صالحین د مذهب له تصور نه واقف نه وو پدی وخت کی خلکو یواځی د محمدي (صلی الله علیه وسلم) شریعت پیروي کولو او په ټولو اعمالو کی یواځی د محمد رسو الله صلی الله علیه وسلم په قول او عمل پیروي کولو او د ټولو صحابه کرامو ، تابعینو او تبع تابعینو پدی باندی اجماع وه چی د اتباع او د تقلید لائق یواځی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات دی ، دی ټولو خلکو له دی خبری نه منع کولو چی کوم مسلمان دی د کوم یو سړي په قول او فتوی باندی عمل وکړي" .

اوس سوال دا دی چی ایا شاه ولی الله صاحب د امامانو له تقلید نه منکر دی ؟ او دی مروجه څلورو مذهبونو تقلید ته بدعت وائي ؟ امید دی چی دحضرت شاه صاحب د کتابونو په حوالو سره ځواب راکړئ او زمونږ لار ښوونه وکړئ ، والسلام مهرباني .

خواب : بسم الله الرحمن الرحیم : حامداً ومصلیاً ومسلماً !

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله ته د دی خبری نسبت بالکل غلط دی او شاه ولی الله صاحب باندی سخت بهتان دی ، مونږ وروسته د حضرت شاه صاحب اقوال نقل کوو چی د دی خبری تردید کوي او دا ثابتوي چی حضرت شاه صاحب د تقلید منکر ندی او د خپل ځان متعلق ارشاد فرمایي : ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د څلورو مذهبونو په دائره کی د اوسیدو وصیت فرمایلی دی او حنفي مذهب د سنت مطابق دی ، د دی شهادت پخپله رسو الله صلی الله علیه وسلم ورکړی دی . د الانصاف په څلورم باب کی د څلورمی صدی نه وړاندی خلکو حال بیانوي ټول باب په ژور نظر سره وګورئ ، د حضرت شاه صاحب مقصد او منشاء هرګز د تقلید مذمت او دیته بدعت ویل ندي ، حضرت شاه صاحب د اولی او دویمی صدی خلکو حالت بیانولو سره د قوة القلوب نه د ابوطالب مکی مقوله نقل کړی ، تاسو چی د الأنصاف په حواله کوم عبارت نقل کړی دی دا د ابوطالب مکي د عبارت ترجمه ده ، علمي دیانت تقاضا دا ده چی دا عبارت د ابوطالب مکی په حواله پیش کړی وای ، دی عبارت نسبت حضرت شاه صاحب ته کول علمي خیانت دی او همداشان الانصا عبارت د ترجمی سره لاندی ذکر کیږي :

" واعلم ان الناس كانوا فی المائة الاول والثانية غير مجتمعين على التقليد لمذهب واحد بعينه قال ابوطالب المكی فی قوت القلوب ان الكتب والمجموعات محدثة والقول بمقالات الناس والفتيا بمذهب الواحد من الناس واتخاذ قوله والحكاية فی كل شئٍ والثقة على مذهبه لم يكن الناس قديماً على ذلك فی القرنين الاول والثانی ، انتهی " (الانصاف مع ترجمه كشاف ص ۵۷) .

ترجمه : پوهيدل پكار دي چی اول او دويمی صدی كی خلک د يو معين مذهب په تقليد باندی متفق نه وو لكه چی ابوطالب مكی په قوت القلوب كی ويلي دي چی كتابونه او مجموعی ټول نوي راوتلي دي او دخلكو اقوال بيانول او د يو سړي په مذهب باندی فتوی وركول او دهغه قول غوره كول او په هر شي كی د هغه نقل كول او پدی مذهب باندی اعتماد كول په اول او دويم قرن خلكو كی دستور نه وُ ، د ابوطالب خبره ختمه شوه .

اصل عربي عبارت مخی ته كيښودو سره د ده وړاندی شوی ترجمه وګورئ ، كومه خبره چی دی كول او ثابتول غواړي دا د اصل عربي عبارت او د دی صحيح ترجمی نه ثابتيږي ؟ دا دوكه وركول او بهتان تراشي ندی نور څه دي ؟ " غير مجتمعين لمذهب واحد بعينه " چی كومه ترجمه ده كړی ده چی : "كوم يو مذهب د تقليد نه واقف نه وُ" دا ترجمه هم د كتو قابل ده لدينه يا خود دوی د علمي صلاحيت اندازه لګول كيږي او يا د دوكی وركولو فيصله كولی شي ، د ابوطالب مكی له عبارت نه يواځی دومره ثابتيږي چی اول او دويمی صدی كی د تقليد شخصي عام رواج نه وُ ، مګر په تدريج دا رواج شو لكه چی پدی خبره كی وړاندی تللو سره حضرت شاه صاحب ليكلي دي : " بعد المأتين ظهر فيهم التمذهب للمجتهدين باعيانهم وقل من كان لايعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان هذا هو الواجب فی ذلك الزمان " (انصاف ترجمه كشاف ص ۵۹).

او د دويمی صدی (پيړی) نه وروسته خلكو كی د معين مجتهدينو مذهب اختيارول شروع شو او ډير كم كسان داسی وو چی د متعين مجتهد باندی به يی اعتماد نه لرلو او پدی وخت د معين مذهب پابندی واجب شو .

دا بحث کافي اورد دی چې دصحابه کرامو ، تابعینو او تبع تابعینو په زمانه کې د نفس تقلید او شخصي تقلید رواج ؤ یا نه ؟ او همداشان د تقلید شرعي حیثیت څه دی ؟ د قرآن او حدیث نه د دی ثبوت شته یا نه ؟ په تقلید شخصي باندی د امت اجماع شوی پدی کی څه مصلحت دی ؟ او د تقلید متعلق نورو بحثونو باندی په تفصیل سره مونږه خپل یوه رساله " تقلید شرعی کی ضرورت " کی کلام کړی دغه رساله ضرور مطالعه کړئ انشاء الله د زړه اطمئنان به درته حاصل شي او د تقلید متعلق چې څومره شکونه او شبهې وراندی کیږي ټول به ختم شي ، اوس مونږ د شاه صاحب اقوال وراندی کوو ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله لیکي :

"باب تأكيد الأخذ بمذاهب الأربعة والتشديد فى تركها والخروج عنها : اعلم ان فى الأخذ بهذه المذاهب الأربعة مصلحة عظيمة وفى الاعرض عنها كلها مفسدة كبيرة".

(عقد الجيد مع سلک مروارید ص ۳۱)

ترجمه : دریم باب د دی څلورو مذهبونو د اختیارولو د تاکید او د دوی د پریښودو او ورنه باهر وتلو نه د سخت ممانعت په بیان کي دی ، پوه شه چې پدی څلورو مذهبونو اختیارولو کې لوی مصلحت دی او لدی ټولو نه په اعراض او مخ اړولو کی فساد دی .

او په همدی کتاب کی لیکي :

" وثانيا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتبعوا السواد الأعظم ، ولما اندرست المذاهب الحقة الاهذه الاربعة كان اتباعها اتباعا للسواد الأعظم "

(عقد الجيد مع سلک مروارید ص ۳۳)

ترجمه : او د مذهب د پابندی دویمه وجه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : د سواد اعظم یعی د لوی ډلی او جماعت پیروي وکړئ ، او څرنګه لدی څلورو مذاهبو نه علاوه نور حق مذهبونه پاتی نشول نو د دوی پیروي کول د لوی جماعت پیروي کول دي او له دوی نه باهر وتل د لوی جماعت څخه باهر وتل دي .

وګورئ ! حضرت شاه صاحب رحمه الله د څلورو مذهبونو مقلدین سواد اعظم ګنې لهذا کوم خلک چې د څلورو امامانو څخه د کوم امام تقلید نه کوي نو هغه بې مهاره اوبن پشان او په حقیقت کی هغه د خپلو نفسي خواهشاتو پیروي کوي .

او همداشان شاه صاحب د امام بغوي رحمه الله قول د تائید په طور نقل کوي

" ويجب على من لم يجمع هذا الشرائط تقليده فيما يعن له من الحوادث " ترجمه : او هغه سړي باندی چی ددی شرائطو (یعنی د اجتهاد شرائطو) جامع نه وي په ده باندی د کوم مجتهد تقلید واجب دی په هغوی حوادثو (مسائلو) کی چی ورته پیش شي ، (عقد الجید ص ۹) .

او فرمائي : "وفی ذلك (ای التقليد) من المصالح مالا يخفى لاسيماً فى هذه الايام التى قصرت فيها الهمم جداً واشربت النفوس الهوى واعجب كل ذى رأى برأيه "

ترجمه : او پدی کی (یعنی مذاهب اربعه کی د یو چا تقلید کولو کی) ډیر زیات مصلحتونه دي چی پټ ندي خاص طور پدی زمانه کی چی همتونه ډیر زیات سست شویدي او نفسونو ته نفساني خواهشات ننوتی دي او هر د رأیی خاوند خپلی رأیی باندی ناز کوي (حجة الله البالغة مترجم ۱\۲٦۱ الفرق بین اهل الحدیث واصحب الرأی) .

او فرمائي : " وبعد المأتين ظهرت فيهم التمذهب للمجتهدين باعيانهم وقل من كان لايعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان هذا هو الواجب فى ذلك الزمان " .

(انصاف مع ترجمه کشاف ص ۵۹)

او د دویمی پیړی نه وروسته خلکو کی د متعین مجتهد پیروي (یعنی تقلید شخصي) رواج شروع شو او ډیرکم خلک داسی وو چی دکوم خاص مجتهد مذهب باندی به یی اعتماد نه لرلو (یعنی عام طور تقلید شخصي رواج شو) او همدا طریقه هغه وخت کی واجب وَ .

او فرمائي : " وهذه المذاهب الأربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الأمة او من يعتدبها منها على جواز تقليدها الى يومنا هذا " او دا مذهب اربعه کوم چی مدون او مرتب شو پدی ټول امت او یا د امت معتمد حضرالو د دی څلورو مشهورو مذاهبو دتقلید په جواز باندی اجماع کړیده (او دا اجماع) تر ننه پوری باقي ده ، د دی مخالفت جائز ندی بلکی موجب د ګمراهۍ دی ،(حجة الله البالغة ۱\۳٦۱) .

" وبالجملة فالمذهب للمجتهدين سر الهمه الله تعالى العلماء وجمعهم عليه من حيث يشعرون او لايشعرون " ترجمه حاصل دا چې د دغو مجتهدينو (امام ابو حنيفه، امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل) دمذهب پابندي (يعنې تقليد شخصي) يو راز دی چې الله تعالى د علماؤ په زړه کې الهام کړی دی او پدی باندی يې دوی متفق کړيدی. دوی ته معلوم وی او يا نه وي. (انصاف عربي ص ۳۷، انصاف مع کشاف ص ٦٣).

" انسان جاهل في بلاد الهند وبلاد ماوراء النهر وليس هناك عالم شافعي ولامالكي ولاحنبلي ولاكتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابي حنيفة ويحرم عليه ان يخرج من مذهبه لأنه حينئذ يخلع من عنقه ربقة الشريعة ويبقى سدى مهملا " ترجمه : د هندوستان او ما وراء النهر په ښارو کې يو جاهل انسان وي (چې پدی ځايو کې زياتره په حنفي مذهب باندی عمل کوي) او دلته هيڅ مالکي، شافعي او حنبلي عالم نه وي او نه د دی مذهبونو کوم کتاب وي نو پدی وخت کې پدی سړي باندی واجب دي چې يواځې د امام ابو حنيفه د مذهب پيروي وکړي (تقليد وکړي) او د حنفي مذهب پرينول ورباندی حرام دي ځکه چې په دی صورت کې د شريعت پړي د ځپل غاړی نه ويستل دي او مهمل او بيکاره جوړيدل دي (انصاف عربي ص ۵۳ مع ترجمه کشاف ص ۷۰، ۷۱)

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله د خپل دور د اوچتی پوړی محدث، بی مثال فقيه. جامع المعقول والمنقول او مجتهد و. د غير مقلدينو پيشوا مولانا صديق حسين خان صاحب د شاه صاحب متعلق ليکي : " اگر وجود او در صدر اول در زمانه ماضی بود امام الائمه وتاج المجتهدين شمرده می شود " يعنی که چيرته د شاه صاحب وجود (د متقدمينو په زمانه کی) وای نو د امامانو امام او د مجتهدينو سردار به شماريدلو، دا دی د شاه صاحب علمي مقام او محدثانه شان د دی اوچت شان باوجود د رسول الله صلى الله عليه وسلم له طرفه دی په تقليد باندی مامور کړی شوی او د تقليد له دائرې نه د وتلو ځخه منع شوی دی لکه چې حضرت شاه صاحب په " فيوض الحرمين " کی ليکي : " واستفدت منه صلى الله عليه وسلم ثلثة أمور خلاف ماكان عندی وما كانت طبعی تميل اليه أشد ميل فصارت هذا الاستفادة من براهين الحق

تعالی علیّ .... الی قوله ...... وثانیهما الوصاة بالتقلید بهذه المذاهب الأربعة لا اخرج منها الخ "

(فیوض الحرمین ص ۶۴ ، ص ۶۵ مطبوعه رحیمیه دیوبند)

ترجمه : د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه داسی دری خبری راته حاصلی شوي چی زما خیال ورسره اول کی موافق نه وُ او نه می ورته قلبي میلان وُ ، دا استفاده رابانذی د حق برهان شو او له هغوی دریو خبرو نه دویمه خبره دا ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وصیت وفرمایلو چی زه د دی خلورو مذهبونو تقلید وکړم او له دوی نه باهر نشم .

دا ذکر شوی عبارت د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله دی که چاته شک وي نو فیوض الحرمین کی دی وګوري ، پدی عبارت کی د خلورو اماانو مقلدینو لپاره بشارت عظمی او غیر مقلدینو لپاره لوی عبرت دی ایا لدینه وروسته هم حضرت شاه صاحب ته د دی خبری نسبت صحیح کیدی شي چی د تقلید نه منکر وُ او خلورو مذهبونو ته د بدعت قائل وُ ، او دی په فیوض الحرمین کی دا هم لیکي :

" وعرفنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان فی المذاهب الحنفی طریقة انیقةً اوفق الطرق بالسنة المعروفة التی جمعت وقحت فی زمان البخاری واصحابه "

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وښودل چی په حنفي مذهب کی هغه بهتره طریقه ده چی د نورو طریقو په نسبت هغه مشهور سنت سره زیاته موافقه ده د کومی تدوین او تنقیح چی د امام بخاري رحمه الله او د ده د ملګرو په زمانه کی شویدی (فیوض الحرمین ص ۴۸) .

د حضرت شاه صاحب رحمه الله د دغو عالي فرموداتو خلاصه دا ده :

(۱) د صحابه وُ او تابعینو په مبارکو زمانو کی د نفس تقلید رواج او دستور بلاخلاف جاري او ساري وُ .

(۲) د مذاهب اربعه وُ (حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي) تابعداري د سواد اعظم تابعداري دی (کوم چی د حدیث له مخی واجب دی) او د مذاهب اربعه و له دایری نه وتل د سواد اعظم نه وتل دي (کوم چی ګمراه کونکی دی) .

(۳) د دویمی پیړی نه وروسته شخصي تقلید (د خلورو مذهبونو څخه یواخی د یو مذهب تقلید) شروع شویدی .

(۴) د څلورو مذهبونو څخه د یو مذهب تقلید یعنی تقلید شخصي د الله تعالی له طرفه یو الهامي راز دی .
(۵) د څلورو مذهبونو په تقلید باندی د امت اجماع ده .
(٦) په غیر مجتهد باندی تقلید واجب دی .
(۷) په شخصي تقلید کی دیني مصلحتونه او فایدی دي .
(۸) ماته د مذاهب اربعه و په دایره کی د اوسیدو وصیت رسول الله صلی الله علیه وسلم کړیدی .
(۹) حنفي مذهب د سنت موافق دی د دی ګواهي پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی دی .
(۱۰) عوام (یعنی غیر مجتهد) لپاره د تقلید پریښودل حرام دي بلکی د اسلام له دایری نه د وتلو مقدم ده (چی د دی اعتراف پخپله د دوی د جماعت پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي کړی دی کوم چی وړاندی ذکر شو " تلك عشرة كاملة ") .
د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمودات بار بار ولولئ او فیصله وکړئ د کومی خبری نسبت چی حضرت شاه صاحب ته کولی شي هغه څومره غلطه ده ؟
حضرت شاه صاحب رحمه الله چی د فرقی متعلق کومه خبره کړی ده هغه هم د کتلو قابله ده . له هغی نه هغو خلکو ته عبرت اخستل پکار دي چی فقهاء کرامو باندی طعن او تشنیع او د دوی په شان کی ګستاخي او بدزباني نه منع شي ، وګوري :
" فاما هذه الطبقة الذين هم اهل الحديث والأثر فان الاكثرين منهم انما كدهم الروايات و جمع الطرق وطلب الغريب والشاذ من الحديث الذى اكثره موضوع او مقلوب لا يراعون المتون ولا يتفهمون المعانى ولايستنبطون سرها ولا يستخرجون ركازها وفقهها وربما عابوا الفقهاء وتناولوهم بالطعن وادعوا عليهم مخالفة السنن ولايعلمون انهم عن مبلغ ما اوتوه من العلم قاصرون وبسوء القول فيهم الآثمون " .
ترجمه : د اهل حدیث او اثر دا حال دی چی ددوی د زیاترو کوشش یواځی د روایتونو بیانول او د سندونو جمع کول او پدی احادیثو کی د غریب او د شاذ تلاش کول دي چی د دی زیاتره حصه یی موضوعي او یا مقلوب دی دا خلک نه د حدیث د

الفاظ تخاند کوي او نه یي په معانیو باندی پوهیږي او نه د مسائلو استنباط کوي او نـه د دی خواص او فقه راویستلی شي . او اکثر وخت په فقهاو بانـدی عیـب لګـوي او طعن وربانـدی کوي او په دوی باندی د حدیثو او سـنو د مخالفت دعـوی کـوي (او الـزام نکوي او حال دا چی دوی پدی نه پوهیـږي چـی خـوموه علـم الله تعـالی فقهـاوٌ تـه ورکړی دی دوی پخپله دوی له حصول نه پاتی او قاصر دي . او فقهاو ته په بـدرد ویلـو سره ګنهګاریږي انصاف مع ترجمه کشاف ص ۵۳

غیر مقلدین حان نیاره د تقلید پرینـودل فخر کـي لکه څنګه چی پخپله آزاد دي نورو ته هم د آزاد اوسیدو تلقین کوي مګر د تقلید لـه پریـښودو نـه چـی کـوم دینـي نقصـانات ظاهریږي او دکلونو تجربی نه وروسته چی د دوی مشرانو دغی آزادی متعلق څه لیکلي دي هغه نه ګوري . حق دا دي که چیرته دوی ضد او تعصب پریـدي او دیانتـداری او سنجیدګی سره غور وکړي نو هیڅ کومه وجه نشته چی د عدم تقلیـد پـه عقیـده بانـدی ټینګ پاتی شي . د غیر مقلدینو پیشوا مولانا نواب صدیق حسن خان بهوپـالی صـاحب د خپل جماعت اهل حدیثو په باره کی لیکي :

" فقد نبت فی هذا الزمان فرقة ذات سمعة ورياء تدعی انفسـها اهـل الحـديث والقرآن والعمل والعرفان . الی قوله . فيا للعجب اين يسمعون أنفسهم الموحدين المخلصين وغيرهم بالمشركين وهم أشد الناس تعصباً وغلواً فی الدين . الی قولـه . فما هذا دين الافتنة فی الأرض وفساد كبير " (الحطة فی ذكر صحاح الستة ص ٦٧ . ٦٨ بحواله تقليد ائمه ص ١٧ ، ١٨)

ترجمه : پدی زمانه کی یوه شهرت پسنده او ریاکاره ډله راپیدا شوی ده چی د هر قسم خامي باوجود خانته د قرآن و حدیث باندی د علـم و عمـل دعـوی کـوي (او حـال دا چی د علم و عمل او معرفت سره د لری نه هم تعلق نه لري) ډیـره د تعجـب خبـره ده چی غیر مقلدین په کوم بنیاد سره خانته موحد وائي او مقلدینو تـه د تقلیـد پـه وجـه) مشرک او بدعتي وائي او حال دا چی غیر مقلدین پخپله د ټولو خلکو نه سخت متعصب او غلو کونکي دي ، د دی مضمون په آخر کی لیکي : فما هذا.......... دا طریقه (کوم چی د غیر مقلدینو ده) هیڅ دین ندی دا خو په ځمکه کی فتنه او عظیم فسـاد دی ، د دوی بل پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي لیکي :

" د (۲۵) کلو له تجربی نه موږ ته دا خبره معلومه شویده : کوم خلک چی بی علمی سره د مجتهد مطلق او د تقلید تارکین جوړیږي هغه بالاخره اسلام سره خدای پامانی کوي پدوی کی ځینی عیسایان کیږي او ځینی لامذهب چی د کوم دین او مذهب پابند نه پاتی کیږي . او د شریعت له احکامو نه فسق او خروج خو د دی آزادی (غیر مقلدیت) یوه ادنی کرشمه ده . لدی فاسقانو څخه ځینی خو په ښکاره جمعه ، جماعت او لمونځ روژه پریدي ، د سود او شراب نه پرهیز نه کوي ، او ځینی چی د کوم دنیاوي مصلحت په وجه ظاهري فسق ته ځان وساتي هغه په پټ فسق کی اخته وي ، په ناجائز طور سره ښځی په نکاح کی کیږوي ، د کفر ، ارتداد او د فسق اسباب په دنیا کی نور هم زیات دي . مګر د دیندارو د بی دینه کیدو ډیر لوی سبب دا هم دی چی هغه د کم علمی باوجود تقلید پریدي " (اشاعة السنة جلد ۱۱ ، عدد ۱۱ ، ص ۵۳ په حواله د سبیل الرشاد ص ۱۰ ، او کلمة الفصل ص ۱۰ ، او تقلید ائمه ص ۱٦ ، ۱۷ د مولانا اسمعیل سنبهلی) فقط والله اعلم .

د تقلید په باره کی غلط فهمي او د هغه ازاله :

(۵۸ سوال) نن صبا په سورت تش په نوم اهل حدیث (غیر مقلدین) له خوا نه یوه رساله تقسیمولی شي چی پدی کی تقلید په باره کی داسی خبری لیکل شوی دي چی ددی په وجه ځینی خلکو ته غلط فهمي پیدا کیږي مثلاً د دی رسالی په (٦) صفحه کی لیکلي دي : " اهل حدیثو نه علاوه نور هم ډیر مذهبونه د قرآن او حدیث دعوی کوي مګر د دغو فرقو او اهل حدیثو په طرز عمل کی د ځمکی او د آسمان فرق دی ، د تقلیدي مذهبونو اولنی بنیاد د امامانو اقوال ګرځول شوي او بیا قرآن مجید او حدیثونه ...... الخ " ایا د دوی دا دعوی صحیح ده ؟ او همدا شان د حضرت غوث پاک رحمه الله قول هم پیش کړی چی پدی سره دوی دا یقین ورکول غواړي چی حضرت غوث پاک رحمه الله هم د تقلید مخالف و او " اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله " آیت او د حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه حدیث هم وړاندی کوي چی لدینه په ظاهر کی دا ثابتول غواړي چی لکه څنګه یهودو او نصاراو خپل مذهبي رهبران او پیشوایانو ته د الله درجه ورکړی وه او د شیانو د حلت او حرمت اختیار یی ورته ورکړی و همدا حال د مقلدینو خپلو امامانو سره دی ، ایا دا خبره صحیح دی ؟

امید دی چی خواب راکړئ او د دی خبرو متعلق هم مختصر وضاحت وکړئ تر څو غلط فهمي لری شي ، مهرباني (له سورت نه) .

خواب : د تقلید متعلق چی غیر مقلدین (په نوم اهل حدیثو) څه لیکلي دي هغه ټول غلط او بهتان دی ، دا د دوی دوکه بازي ، دروغ او د ساده مسلمانانو گمراه کول دي ، څمونږه بزرگانو لیکلي دي : د دین اصل دعوت دا دی چی یواځی د الله تعالی اطاعت وشي صرف د الله رب العزت وحده لاشریك لــه ذات اقدس مستقل مطاع بالذات دی او د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم پخپلو اقوالـو او اعمالو سره د ا لهی احکامو ترجماني کړی ده او الله تعالی د ده صلی الله علیه وسلم د اطاعت حکم کړی دی پدی وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروي هم لازمي او ضروري دي.او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي اصل کی د الله تعالی تابعداري ده "من یطع الرسول فقد اطاع الله" .

په قرآن او حدیث کی ځینی احکام داسی دي چی د قرآن آیتونو او صحیح حدیثونو څخه په صراحت او قطعي طور سره ثابت دي داسی مسایلو ته منصوصي ویل کیږي لکه لمونځ ، روژه ، زکات او د حج فرضیت وغیره وغیره پدی منصوصي مسایلو کی د چا تقلید ته ضرورت نشته لیکن ځینی احکام داسی دي چی هغه کی یو څه قدری ابهام او اجمال دی او ځینی احکام دي چی په ظاهره کی تعارض پکی معلومیږي وغیره د داسی مسائلو د حکم معلومولو لپاره د قرآن و حدیث ډیر ژور علم او مجتهد کیدل او د استنباط له طریقو نه واقف کیدل ضروري دي ، او ظاهره ده چی داسی ژور علم مونږ ته حاصل ندی چی مونږ پخپله یو حکم معلوم کړی شو ، څمونږه مشرانو کومو تـه چی الله تعالی د قرآن و حدیث ډیر وسیع او ژور علم ورکړی وُ او کوم چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم زمانی ته له مونږ نه زیات نزدی وو او د تقوی او دیانت اوچت مقام تـه رسیدلي وو ، دغو محترمو مشرانو خپل خدا داد صلاحیت سره د قرآن و حدیث ، د صحابه کرامو رضی الله عنهم اقوال ، د امت اجماع او قیاس شرعي پـه رڼا کـی د دغـو مسائلو او احکامو چی کوم حکم بیان کړی مناسب بلکی ضروري ده چی مونـږ د دوی په فهم و بصیرت باندی اعتماد کولو سره د دوی خبره ومنو او د دی مجتهدینو امامانو څخه د کوم یو قول باندی عمل وکړو دی عمل کولو تـه پـه اصطلاح کـی " تقلید " (اتباع) ویل کیږي .

د امام ابوحنیفه رحمه الله او د ده د پیروانو اصول دا دی چې دوی د هری یوی مسئلی حکم د ټولو نه وړاندی په کتاب الله یعنی قرآن مجید کی ولټوي او بیا نبوي (صلی الله علیه وسلم) سنت کی بیا اجماع د امت کی او بیا چې د کومی مسئلی حکم پدی دری واړو حجتونو کی پیدا نشي نو بیا د قرآن و حدیث او اجماع د امت په رنړا کی اجتهاد او استنباط کوي او دیته قیاس شرعي ویل کیږي.

د اصول فقه مشهور کتاب " حسامي " کی دي :

" ان اصول الشرع ثلاثة الكتاب والسنة واجماع الامة والاصل الرابع القياس المستنبط من هذه الاصول " (حسامی ص ۲).

یعنی د شریعت اصول دری دي ، کتاب (قرآن) سنت او اجماع د امت او څلورم اصل هغه قیاس دی چې د قرآن و حدیث او د امت اجماع نه مستنبط وي .

او په نور الانوار کی دي : " اعلم ان اصول الشرع ثلثة الكتاب والسنة واجماع الأمة .... والاصل الرابع القياس " (ص ٦ ، ٧) .

په اصول الشاشي کی دي : " ان اصول الفقه اربعة كتاب الله تعالى وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم واجماع الأمة والقياس " (ص ٥) .

د احقر کشر ورور مولوي سید عبد الاحد قادري کوثر څه ښه ویلي دي : ع

لفظ " فقه " کے معنی کسی شی کا جاننا
احکام شرع جو بھی ھین ان کو پھچاننا
اب اس کے بعد سنیئے ذرا محترم عزیز
علم فقه کے ماخذ و منبع ھین چار چیز
قرآن اور حدیث ھے اس کے لئے اساس
اجماع اس کے بعد ھے آخر مین ھے قیاس
ھے مجتھد کے واسطے یه صورت جواز
ھر فرد اجتھاد کا ھوتا نھین مجاز

یعنی فقه پوهی او د شرعي احکامو پیژندلو ته ویل کیږي ، او ګرانه پدی خبره هم پوه شه چې د فقه اصل او بنیاد څلور څیزونه دي ، قرآن و حدیث یی بنیاد دی او بل د امت اجماع او آخرنی یی قیاس دی ، خو قیاس د مجتهد کار دی نه دهر چا .

د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د پيروانو چې كومه طريقه او اصول دي هغه د دې لاندې حديث نه اخستل شوي دي

((عن معاذ بن جبل رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لما بعثه الى اليمن قال كيف تقضي اذا عرض لك قضا قال اقضى بكتاب الله قال فان لم تجد في كتاب الله قال بسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم قال فان لم تجد في سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اجتهد برائي ولا آلو فضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم على صدره وقال الحمد لله الذى وفق رسول رسول الله صلى الله عليه وسلم لما يرضى به رسول الله (صلى الله عليه وسلم))).

(باب العمل في القضاء والخوف منه مشكواة شريف ص ٣٢٤) (باب اجتهاد الرأى في القضاء ابوداؤد شريف ص ١٤٩).

يعنى د حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه نه روايت دى : كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم زه يمن ته د قاضي په حيثيت ليږلم نو تپوس يې رانه وکړو چې كه كوم مسئله درته وړاندې شي نو څه ډول فيصله به كوى ؟ ما عرض وكړ د الله په كتاب به فيصله كوم . وى فرمايل : كه هغه مسئله په كتاب الله كې نه وي ؟ عرض مې وكړ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په سنت به فيصله كوم ، وى فرمايل : كه هغه مسئله پدې كې هم پيدا نه كړې ؟ عرض مې وكړ بيا به اجتهاد او استنباط كولو سره پخپله رأيه باندې فيصله كوم او د دې مسئلې د حكم په لټه كې به هيڅ قسم كمى نه كوم ، حضرت معاذ رضى الله عنه فرمايي رسول الله صلى الله عليه وسلم زما پدې خواب باندې (له ډيرى خوشحالى نه) خپل مبارك لاس زما په سينه باندې ووهلو او وى فرمايل د الله تعالى شكر دى چې د خپل رسول (صلى الله عليه وسلم) قاصد ته د دې خبرې توفيق وركړ چې په هغه باندې د الله رسول (صلى الله عليه وسلم) راضي او خوشحاله شي

پورتني بيان نه واضح كيږي چې غير مقلد كومه خبره ليكلى ده هغه سراسر غلطه ده حمونږ هرګز دا عمل ندى . حمونږ په نزد د تقليد حيثيت يواخې دا دې چې مقلد د خپل امام تقليد پدې خيال سره كوي چې درحقيقت هغه په قرآن و حديث باندې عمل كوي او د صاحب شريعت پيروي كوي او ګويا دا تصور كوي چې " امام " د ده او د

صاحب شریعت تر منځ واسطه دی لکه په یو لوی جماعت کی تکبیر ویونکی مقررولی شي وروستي صفونو والا د تکبیر ویونکي په تکبیر سره رکوع و سجده وغیره ارکان ادا کوي مګر د ټولو تصور دا وي چې مونږ د امام اقتداء کوو تکبیر ویونکی خمونږ او د امام تر منځ واسطه دی او پخپله د تکبیر ویونکي هم همدا تصور وي چې زه پخپله امام نه یم زما او د ټول جماعت امام یواځې یو کس دی مونږ ټول د ده په اقتداء کی لمونځ کوو ، بالکل همدا تصور په تقلید کی هم وي .

که غور وکړی شي نو تقلید یو فطري امر دی او انسان سره د سوري پشان لګیدلی دی پخپله غیر مقلدین هم لدی څخه بی نیازه ندي شپه او ورځ تقلیدکوي ، دوی پخپله د قرآن او حدیث ماهران ندي د نورو نه په تپوس سره عمل کوي ، د دوی د کورونو ښځي محدثاني ، عالماني او فاضلاني نه وي خو د سړو نه په تپوس تپوس به عمل کوي او د دوی د کورونو کشران د مشرانو په لیدو سره عمل کوي دا تقلید ندی نو څه دي ؟ او د دنیا د خلکو طریقه دا ده چې کوم سړی د یو فن ماهر نه وي نو د دی فن له ماهرانو نه تپوس او د هغوی په راهنمائی سره هغه کار تر سره کوي ، که بیمار وي نو ډاکټر ته ورځي او که کور جوړوي نو د یو ماهر انجینئر پسی ګرځي او داسی نور کارونه نو کله چې دنیاوي معاملو کی د فن د ماهرانو راهنمائي ته ضرورت دی نو په دیني معاملو کی به ولی نه وي ؟ بلکی د هغه په نسبت زیات ضروری دی هلته خو به یواځې دنیا بربادیږي او دلته د دین او دنیا دواړو تاوان دی " خسر الدنیا والآخرة " مصداق ګرځي .

که غور وکړی شي نو امت باندی د مجتهدینو او فقهاوو ډیر لوی احسان دی (الله تعالی دی خمونږ او د ټول امت له طرفه دوی ته جزاء خیر ورکړي آمین) دغو حضراتو د قرآن و حدیث ، دصحابه کرامو رضی الله عنهم له اثارو او شرعي قیاس په رڼا کی . طهارت ، لمونځ ، زکات ، روژه او حج وغیره هر قسم مسائل جدا جدا کولو سره یوځای راټول کړي چې د دی په وجه امت لپاره په قرآن و حدیث باندی عمل کول نهایت آسان شوي ، که د فقهاء کرامو دغه عظیم کارنامه نه وای نو معلومه نده چې نن به د امت څه حال وو ، ایا د امت په هر فرد کی دا صلاحیت شته چې د درپیش مسائلو حکم براه راست قرآن او حدیث نه معلوم کړی شي ؟ نن صبا خو دا حال دی چې په صحیح طریقی او تجوید سره قرآن مجید لوستو باندی نه پوهیږي ، د عربي ابجد نه واقف

ندي نو ایا دا خلک به براه راست د قرآن او حدیث نه احکام معلوم کړی شي ، بس لږ خان سره فکر او سوچ وکړئ ! غیر مقلدین چې د دوی د علم انتهاء د څو حدیثونو اردو ترجمه ده ، د دوی وینا دا ده چې که ته بالکل جاهل هم یې مګر د محترمو سلفو [1] او د څلورو امامانو څخه د کوم یو پیروی ونه کړې براه راست قرآن او حدیث باندی عمل کوه ، د الله تعالی بندګانو کله چې علم نشته نو په قرآن او حدیث باندی به څه عمل کوي خپلو نفسي خواهشاتو باندی به عمل کوي ، د دوی برعکس د امت د جمهورو علماؤ وینا دا ده چې انسان دی خپل ناقص فهم باندی ناز نه کوي او د امت لوی لوی علماء محدثین او اولیاء کرام چې په کومه طریقه باندی عمل کړی دی په هماغه طریقه باندې عمل وکړئ بس همدا تقلید دی ، نو وښایئ پدی کی څه خرابي ده ؟ که دیته بدعت او شرک وویل شي نو نعوذ بالله نعوذ بالله د دی مطلب به دا وي چې علماء ، محدثین او اولیاء کرام په بدعت او شرک کی مبتلا وو ، او کله چې د دوی د ګمان مطابق د سلفو دا حال وي نو دخپل ایمان او حال دی الله تعالی حفاظت وکړي .

لهذا که څمونږ غیر مقلدین ورونو ته د خپل ایمان د سلامتي فکر وي نو اول دی د غیر مقلدیت نه توبه وکړي او جمهور امت چې په کومه طریقه عمل کوي پدغه طریقه باندی عمل شروع کړي او علمي بحثونه دی علماؤ ته پریدي ، د څو حدیثونو ترجمو په لیدو سره انسان عالِم نه جوړیږي لکه چې د طب کتابونو په مطالعی سره انسان طبیب او ډاکټر نه جوړیږي او همدا حال د نورو فنونو هم دی ، همداشان د څو حدیثونو د ترجمی په یادولو او دبخاري او مسلم نوم اخستو سره ځانته لوی محدث ویل او بحث و مباحثه کول ډیر نازیبا حرکت دی ، بغیر د علم نه علمي بحثونه کول ډیر خطرناک دي .

حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله لیکي :

" وانما حق العوام ان یؤمنوا ویسلموا ویشتغلوا بعبادتهم ویترکوا العلم للعلماء فالعامی لو یزنی ویسرق کان خیراً له من ان یتکلم فی العلم فان من تکلم فی الله

---

[1] ـ او بیا ځانته سلفي والي پداسی حال کی چې د سلفو سره لری تعلق هم نلريً بلکی د دوی په شان کی ګستاخي او بی ادبي کوي .

وفی دینه من غیر اتقان العلم وقع فی الکفر من حیث لایدری کمن یرکب لجة البحر وهو لایعرف السباحة " (احیاء العلوم ص ۳۵ جلد نمبر ۳) .

ترجمه : په عوامو فرض دي چی ایمان او اسلام راوړلو سره خپلو عبادتونو کی مشغول ووسي په علمي خبرو کی مداخلت ونکړي ، دا کار علماؤ ته پریدي ، عامي سړي ته علمي سلسله کی حجت بازي کول د زنا او غلا نه هم زیات نقصاني او خطرناک دي ، ځکه کوم سړی چی دیني علومو کی بصیرت او پوخوالی ونلري که چیرته د الله تعالی او دیني مسائلو کی بحث کوي نو زیات امکان شته چی هغه داسی رائیه خپله کړي چی کفر وي او هغه ته د دی احساس هم نه وي د دی مثال د هغه سړي دی چی لامبو یی زده نه وي او دریاب ته ورګډ شي .

عامو مسلمانانو ته د شرعي حکم په معلومولو سره هغه باندی عمل کول ضروري دي په باریکیو پسی کیدل نه دي پکار ، په حدیث کی دي : " یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شو او عرض یی وکړ یارسول الله ! ماته علمي باریکۍ وښایه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورنه څو سوالونه وکړل : (۱) تا د الله تعالی معرفت حاصل کړی ؟ (۲) تا د الله تعالی څومره حقوق ادا کړیدي ؟ (۳) تا ته د مرګ علم شته ؟ (۴) تا د مرګ لپاره تیاری کړی دی ؟ (۵) په آخر کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : لاړ شه او ل بنیاد مضبوط کړه او بیا ماته راشه چی علمي باریکۍ درته خبر کړم " (جامع بیان العلم ص ۱۳۳) .

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاند وینه ده : " اتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلوا فافتوا بغیر علم فضلوا واضلوا " " یعنی داسی زمانه به راشي چی خلک جاهلان خپل پیشوایان جوړ کړي او د مسائلو تپوسونه ورنه وکړي او هغوی بغیر د علم نه فتوی ورکړي پدی شان خپله هم ګمراه کیږي او نور خلک به هم ګمراه کوي " .

(کتاب العلم الفصل الاول مشکواة شریف ص ۳۳)

غیر مقلدین د قرآني آیت " اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله " او د حضرت عدي بن حاتم رضی الله عنه حدیث نه نهایت غلط استدلال کولو سره دا آیت او حدیث په مقلدینو باندی ورتپي او نعوذ بالله مقلدین او یهود و نصاری په یو صف کی ودرول غواړي مګر پورتني بیان نه واضح شو چی دا استدلال نهایت غلط دی ، ځکه

یهودو او نصاراو خو خپلو احبارو او پیرانو ته د تحلیل او د تحریم مستقل اختیار ورکړی
و او د مقلدینو چې خپلو امامانو په باره کې کوم تصور او خیال دی هغه پورته واضح
شو ، په هیڅ صورت کی دا آیت او حدیث په مقلدینو باندی نه صادقیږي د دی آیت
تفصیلي ځواب د فتاوی رحیمیه (۴) جلد (۱۹۳ ، ۱۹۴) صفحو کی او د تقلید شرعي
ضرورت عنوان لاندی (۷۵) صفحه کی تیر شوی دی .
جاهل خلک د خپلو پلار او نیکونو تقلید کوي په قرآن مجید کی د دی مذمت راغلی
" قالوا وجدنا علیه آباءنا اولو کان آباءهم لایعقلون شیئا ولایهتدون " غیر مقلدین
دا آیت کریمه هم په مقلدینو ورتپي او خلکو ته دوکه ورکوي . د دی آیت کریمه متعلق
خو د جاهلي رسمونو او رواجونو سره دی نو ایا د قرآن او حدیث په رڼا کی مرتب
شوی فقه (معاذ الله) جاهلي رسمونه دي ؟ څومره الزام تراشي ، دوکه ورکول
او دروغ دي ؟

ببین تفاوت ره از کجا ست تا بکجا

نفس تقلید د قرآن او حدیث نه ثابت دی د اختصار په خاطر یو آیت او یو حدیث
وړاندی کولی شي (تفصیل په " تقلید کی شرعی ضرورت " او فتاوی رحیمیه کی
وګورئ ، په قرآن مجید کی دي " فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون " ترجمه
که چیرته تاسو علم نه لرئ نو علماؤ نه تپوس وکړئ (سورت نحل) یعنی کوم خلک
چې مجتهد نه وي او د قرآن او حدیث نه براه راست د مسائلو د حکم صلاحیت نه لري
نو هغوی ته دعلماؤ نه تپوس کول پکار دي همدا خو تقلید دی ،او په حدیث کی دي :
"عن حذیفة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انی لا ادری
مابقائی فیکم فاقتدوا بالذین من بعدی ابی بکررضی الله عنه وعمررضی الله عنه" .
حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي
زه نه پوهیږم چې څو پوری به ستاسو سره ژوندی یم لهذا له ما نه وروسته د دی دواړو
یعنی د ابوبکر او د عمر رضی الله عنهما پسی اقتداء وکړئ .

(مشکواة ص ۵٦٠ باب مناقب ابی بکر وعمر رضی الله عنهما الفصل الثانی)

د دی دواړو دلیلونو څخه نفس تقلید ثابتیږي . بیا د دی تقلید دوه صورتونه دي یو دا
چې د تقلید لپاره د کوم خاص امام او مجتهد ستعین نه کړی شي کله د یو امام مسلک
اختیار کړي او کله د بل امام په قول باندی عمل وکړي دیته " تقلید مطلق وائي او

دویم صورت دا دی چې د تقلید لپاره یو مجتهد متعین کړی شي په هره مسئله کې د هغه پیروي وکړی شي او دیته " تقلید شخصي " وائي . د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله په زمانه کې د تقلید پدی دواړو صورتونو باندی عمل شوی دی او د دی ثبوت په کثرت سر ملاویږي لکه چې په هغه زمانه کې دا خبره عامه وه چې خوک به پخپله فقیه او مجتهد نه وُ هغه به د فقهاوُ صحابه و تابعینو نه په تپوس کولو سره عمل کولو . حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمائي :

" لان الناس لم يزالوا من زمن الصحابة الى ان ظهرت المذاهب الاربعة يقلدون من اتفق من العلماء من غير نكير من احد يعتبر انكاره . لو كان ذلك باطلا لانكره"

(عقد الجيد مع سلك مرواريد ص ۲۹)

ترجمه : د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د څلورو مذهبونو تر پیدا کیدو پورې د خلکو همدا دستور وُ چې کوم عالم او مجتهد به چې پیدا شو دهغه تقلید به یې کولو پدی باندي هیڅ یو معتبر او مستند شخص انکار ندی کړی که دا تقلید باطل وای نو دغو حضراتو (یعنی صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله) به ضرور ورباندی انکار او رد کړی وُ .

د حضرت شاه صاحب لدی فرمان نه د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله په زمانه کې د " تقلید مطلق " ثبوت واضح طور سره ملاویږي او د تقلید مطلق سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله بلکې د رسالت په دور کې هم د تقلید شخصي مثالونه موندل کیږي .

(۱) د حضرت معاذ رضی الله عنه حدیث مخکې تیر شو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د یمن خلکو لپاره د خپلو فقهاوُ صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه یواځې یو جلیل القدر صحابي حضرت معاذ رضی الله عنه ولیږلو او د دی حاکم ، قاضي او معلم جوړولو سره یمن خلکو باندی لازم کړ چې د ده پیروي وکړي ، دا د اجتهاد ، استنباط او دتقلید شخصي د ثبوت لپاره واضح دلیل دی .

(۲) د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کې حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه به مکه مکرمه کې حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په مدینه منوره کې او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په کوفه کې فتواګانې ورکولې او صحابه کرام رضی

الله عنهم او تابعینو د دوی په فتاواو باندی بغیر د دلیل طلبولو نه عمل کولو ، دا تقلید شخصي ندی نور څه دي ؟

په بخاري ، مسلم او ابوداؤد کی دي : د حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه نه د یوی مسئلی تپوس وشو او بیا هماغه مسئله د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه وپوښتلی شو د دواړو ځوابونه جدا وو کله چی ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته د دی معلومات وشو نو وی فرمایل : " لاتسئلونی مادام هذا الحبر فیکم " یعنی څور پوری چی دا متبحر عالِم په تاسو کی موجود وي نو د مسئلو تپوسونه د ده څخه کوئ له مانه یی مه کوئ ، همدا خوشخصي تقلید دی ؟ (په حواله د مشکواة ص ۲٦۴ باب الفرائض الفصل الثانی) .

په صحیح بخاري کی د حضرت عکرمه رضی الله عنه نه روایت دی : " ان اهل المدینة سألوا ابن عباس عن امرأة طافت ثم حاضت قال لهم تنفر قالوا لانأخذ بقولك وندع قول زید " یعنی مدینی خلکو ابن عباس رضی الله عنه نه د یوی ښځی په باره کی تپوس وکړ چی د هغی فرض طواف (طواف زیارت) نه وروسته حیض راشي نو هغه د (طواف وداع نه بغیر) تللی شي یا نه ؟ ده ځواب وکړ چی تللی شي ، مدینی خلکو وویل چی مونږه ستا په قول (فتوی) باندی عمل کولو سره د زید بن ثابت رضی الله عنه قول (فتوی) نشو پریښودلی .

(بخاری ۱\۲۳۷ کتاب الحج باب اذا حاضت المرأة بعد ما افاضت)

لدی روایت نه معلومیږي چی د مدینی خلکو د زید بن ثابت رضی الله عنه شخصي تقلید کولو او ابن عباس رضی الله عنه د مدینی خلکو په ځواب باندی رد ونکړ چی تاسو د تقلید او اتباع لپاره د یو معین شخص لازمولو سره د کبیره ګناه مرتکب کیږئ که چیرته تقلید ناجائز او حرام وای نو ابن عباس رضی الله عنه به ضرور انکار او رد کړی وُ.

او دا هم مشهور دي چی د تابعینو رحمهم الله په دور کی د فقهاؤ سبعه (اوه فقهاؤ) په فتوو باندی عمل کیده .

حاصل دا چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله په دور کی د تقلید مطلق او د تقلید شخصي دواړو رواج وُ ، مګر هغه د خیر القرون زمانه وه ، خلکو کی تقوی زیاته وه ، خدا ترسي غالب وُ ، د دوی ګنو حضراتو نه تپوس کول یا خو به اتفاقي

نور سره وْ او یا پدی مقصد سره وْ چی د کوم یو په قول کی احتیاط زیات دی پـه هغـه قول باندی عمل وشي ، پدی وجه په تقلید مطلق او تقلید شخصي دواړو باندی عمل کیدلو ، او وروسته چی څومره زمانه تیریده ، همتونه په کمیدو شو ، په دین کـی سستي په زیاتیدو شو نو د امت نبض شناس علماؤ محسوس کړ بلکی کـه د الله تعـالی لـه طرفـه ورته محسوس کړی شو (ځکه چی د ټول امت په کومه یوه خبره باندی متفق کیـدل د الله تعالی د مشیت او القاء نه بغیر ډیر مشکل دی) چی تقلید په " تقلیـد شخصـي " کـی منحصر کړی شي نو هغه وْ چی دی طرف ته رو رو د علماؤ میلان شروع شو او پـه تقلیـد شخصي باندی د امت اجماع وشوه .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله لیکي :

" وبعد المأتين ظهرت فيهم التمذهب للمجتهدين باعيانهم وقل من كان لايعتمـــد على مذهب مجتهد بعينه وكان هذا هو الواجب فى ذلك الزمان "

(انصاف عربي ص ۴۴ مع ترجمه ص ۵۹)

ترجمه : او د دویمی پیړی نه وروسته خلکـو کـی د متعین مجتهـد پـیروي رواج شـو او ډیرکم خلک داسی وو چی دکوم خاص مجتهد مذهب باندی به یی اعتمـاد نـه لـــرلو او همدا طریقه هغه وخت کی واجب وْ ، او فرمائي :

" وبالجملة فالتمذهب للمجتهدين سراً الهمه الله تعالىٰ العلماء جمعهم عليه من حيث يشعرون او لايشعرون " ترجمه : حاصل دا چی د دغـو مجتهـدینو (د ځلـورو امامـانو ځخه د یو مذهب) پابندي (یعنی تقلید شخصي) یو راز دی چی الله تعـالی د علمـاؤ پـه زړه کی الهام کړی دی او پدی بانـدی یی دوی متفـق کړیـدی ، کـه دوی د تقلیـد پـه مصلحت او راز باندی پوه وي او یا نـه وي پوهـ (انصـاف عربـي ص ۳۷ ، انصـاف مـع کشاف ص ٦٣) .

" انسان جاهل فى بلاد الهند وبلاد ماوراء النهر وليس هناك عالم شافعي ولامالكى ولاحنبلى ولاكتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابى حنيفة ويحرم عليه ان يخرج من مذهبه لأنه حينئذٍ يخلع من عنقه ربقة الشـــريعة ويبقـــى سدىً مهملاً " (انصاف عربي ص ۵۳ مع ترجمه کشاف ص ۷۰ ، ۷۱) .

ترجمه : کوم یو جاهل عامي سړی چی هندوستان او ماوراء النهر کـی اوسیږي (چـی دلته عام طور حنفي مذهب باندی عمل کیږي) او دلته کوم مالکي ، شـافعي او حنبلـي عالم نه وي او نه د دی مذهبونو کوم کتاب وي نو پدی وخت کی پـدی سـړي باندی واجب دي چی یواځی د امام ابو حنیفه د مذهب پـیروي وکـړي (تقلیـد وکـړي) او د حنفي مذهب پرینبول وباندی حرام دي ځکه چی په دی صورت کی د شـریعت پـړي د خپل غاړی نه ویستل دي او مهمل او بیکاره جوړیدل دي . او دا هم فرمائي :

" وثانياً قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتبعوا السواد الأعظم ، ولما اندرست المذاهب الحقة الاهذه الأربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الأعظم "

(عقد الجيد مع سلک مروارید ص ۳۳)

ترجمه : او د مذهب د پابندی دویمه وجه دا ده چی رسول الله صلی الله علیـه وسـلم فرمایلي دي : د سواد اعظم یعی د لوی ډلی او جماعت پیروي وکړئ ، او ځرنګه لـدی څلورو مذاهبو نه علاوه نور حق مذهبونه پاتی نشـول نـو د دوی پـیروي کـول د لـوی جماعت پیروي کول دي او له دوی نه باهر وتل د لوی جماعت څخه باهر وتل دي .

په حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم د سوادِ اعظم (لوی ډلی) د پیروي حکـم کوي ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله د تقلید ضـروري کیـدو لپـاره پـه همدی نبوي صلی الله علیه وسلم فرمان باندی استدلال کوي او د سواد اعظم مصـداق د څلورو امامانو مقلدین ګرځوي لهذا کوم خلک چی دڅلورو امامـانو د تقلیـد نـه منکر دي هغه د سواد اعظم نه خارج او باهر دي .

او فرمائي : "باب تأكيد الأخذ بمذاهب الأربعة والتشديد فى تركها والخروج عنها : اعلم ان فى الأخذ بهذه المذاهب الأربعة مصلحة عظيمة وفى الاعرض عنها كلـها مفسدة كبيرة". (عقد الجيد مع سلک مروارید ص ۳۱) .

ترجمه : دریم باب د دی څلورو مذهبونو د اختیـارولو د تاکیـد او د دوی د پرینبـودو او ورنه باهر وتلو نه د سخت ممانعت په بیـان کـی ...... اعلمَ ...... خبـردار ! چـی پـدی څلورو مذهبونو اختیارولو کی لوی مصلحت دی او لدی ټولو نه په اعراض او مخ اړولـو کی فساد دی .

امام الهند حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله (چـی دوی د اوچتـی پـایی محدث او بی مثال عالِم او فقیه کیدو کی د چا کلام نشته پخپلـه غـیر مقلـدین هـم دی

محدث مني) ارشادات بار بار ولولئ . دی په یو عامي سړي (غیر مجتهد) باندی تقلید واجب گرځوي او داسی سړي ته تقلید پریښودل حرام گڼي او فرمائي چی پدی صورت کی د شریعت رسی دخپلی غاړی نه ویستل او غورځول دي .
نو فکر وکړئ په تقلید کی د دین حفاظت دی یا بربادي ؟ او د تقلید د پریښودو نتیجه به څه وي ؟ او دا خبره یواځی شاه صاحب نده لیکلی . بلکه د غیر مقلدینو د کور نه واقف او د دوی مشرانو هم د اوږدی تجربی نه وروسته داسی خبره لیکلی ده لکه چی دغیر مقلدینو پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي په " اشـاعة السـنة " (۱۱) جلد (۱۱) شماره (۵۳) صفحه کی لیکلي دي :
" د (۲۵) کالو له تجربی نه مونږ ته دا خبره معلومه شوه چی کوم خلک بی علمی باوجود مجتهد مطلق او د تقلید تارکین جوړیږي هغه بالاخره اسلام سره هم خدای پاماني کوي او ځینی عیسایان کیږي او ځینی لامذهب چی د هیڅ کوم دین او مذهب پابند نه وي ، او د شریعت له احکامو نه فسق او بغاوت خو د دی آزادی (غیر مقلدیت) یوه ادنی کارنامه ده (سبیل الرشاد ص ۱۰ ، او کلمة الفصل ص ۱۰ ، او تقلید ائمه ص ۱٦ . ۱۷) مزید تفصیل لپاره " تقلید کی شرعی ضرورت " (۳ ، ۴ ، ۵) صفحې او د فتاوی رحیمیه اردو اول جلد (۷۱ ، ۷۲) صفحې وگورئ .
غیر مقلدین د محدثینو تذکره پدی انداز کی کوي گویا چی دوی ټول د دوی هم مشرب ، هم خیال ، د تقلید نه منکر ، دری طلاقو ته یو طلاق ویونکي ، څلورو امامانو پسی بدرد ویونکي . د (۲۰) رکعتو د تراویحو نه منکر او دیته عمري بدعت ویونکي او دجمعی اول اذان ته عثماني بدعت ویونکي (وغیره وغیره) وو ، چیرته دا په نوم اهل حدیث او چیرته هغه د محدثینو مقدس جماعت .

چـه نسبت خـاک را بـا عـالَم پـاک

البته د شیعه گانو سره د دوی تعلق شته ځکه چی په ډیرو مسائلو کی دوی له روافضو او شیعه گانو سره ملگري دي مثلاً :
(۱) شیعه گان د څلورو امامانو له تقلید نه منکر دي او څلورو مذهبونو ته بدعت وائي او همداشان غیر مقلدین هم د دوی په نقش باندی تللو سره تقلیدته بدعت او شرک وائي.
(۲) روافض ، صحابه کرام رضی الله عنهم معیار حق نه مني ، همداشان غیر مقلدین هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم له معیار حق کیدو نه منکر دي .

(۳) شیعه ګان په یو مجلس کی دری طلاقه واقع کیدل نه مني ، همداشان غیر مقلدین هم د دری طلاقو له واقع کیدو نه منکر دي .
(۴) شیعه ګان (۲۰) رکعته تراویحو ته بدعت وائي نو غیر مقلدین هم (۲۰) رکعته تراویحو ته بدعت وائي
(۵) شیعه ګان د جمعی په ورځ اول اذان کوم چی مناره باندی کولی شي بدعت وائي همداشان غیر مقلدین هم دی اذان ته بدعت عثماني وائي .
(۶) حضرت عمر رضی الله عنه خپل دور خلافت کی چی د ښځو آزادي او بی احتیاطي ولید ه نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مشوره ښځی په جومات کی لمونځ کولو نه منع کړلی ، حضرت عائشه رضی الله عنها وفرمایل : که چیرته رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو دا حالت لیدلی وای نو هغه صلی الله علیه وسلم به هم منع کړی وی دغه فیصله روافض او شیعه ګان نه مني ، همداشان غیرمقلدین هم نه مني .
(۷) اوس د محدثینو حال وګورئ ! څومره محدثین چی تیر شویدي باوجود د دی چی د دوی ژوند د حدیثو په درس و تدریس کی تیر شوی د حدیثو غټ غټ کتابونه لیکلي مګر الحمد لله دوی ټول مقلدین وو ، د صحاح سته د مصنفینو حال واورئ ، امام بخاري مقلد او شافعي وُ ، د غیر مقلدینو پیشوا مولانا نواب صدیق حسن خان پخپل کتاب " الحطة فی ذکر صحاح الستة " کی لیکي چی امام ابوعاصم رحمه الله امام بخاري شوافعو جماعت کی ذکر کړیدی ، امام مسلم ، امام ترمذي ، امام ابن ماجه دا ټول مقلدین او شوافع دي او د امام ابوداوُد متعلق ځینی وائي چی حنبلي وُ او ځینی وائي چی شافعي وُ . دا د صحاح سته د مصنفینو حال دی ، اوس وښایئ غیر مقلدین په کومه خوله دا خبره کوي چی محدثین څمونږ پشان وو ، الحمد لله هغه ټول څمونږ دي او یقیناً لکه څنګه چی حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي په قرآن او حدیث باندی عمل کوي او په صحیح معنی اهل قرآن او اهل حدیث دي همداشان د صحاح سته مصنفین هم دي ، او وګورئ د صحاح سته و نه علاوه څومره محدثین چی تیر شوي دي دا هم ټول مقلدین وو ، مثلاً امام دار قطني ، امام بیهقي مقلد او شافعي وو ، امام یحیی بن معین ، محدث یحیی بن سعید قطان ، محدث یحیی بن ابی زائده ، محدث وکیع بن جراح ، امام طحاوي ، امام زیلعي ، عبد الله بن مبارک دا ټول مقلدین وو او حنفي وو ، علامه ذهبي ، ابن تیمیه ، ابن قیم ، ابن جوزي رحمهم الله دا ټول مقلدین وو او حنبلي وو وغیره وغیره .

د شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله د مبارک نوم نه څوک ناواقف دي ؟ د علم او ولایت په اوچت مقام باندی فائز کیدو باوجود مقلد ؤ او حنبلي ؤ او د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مذهب باندی د مړ کیدو او د ده سره یوځای حشر کیدو دعاء او آرزو کوله . د ده په مشهور کتاب " غنیة الطالبین " کی دي : " قال الامام ابوعبدالله احمد بن محمد بن حنبل الشیبانی واماتنا علی مذهبه اصلاً وفرعاً وحشرنا فی زمرته " (غنیة الطالبین ص ۶۰۵ باب فی الصلواة الخمس ، فصل وینبغی للماموم)[1]

د دی بزرګانو نه علاوه د هند د اولیاو سرتاج خواجه معین الدین چشتي ، خواجه قطب الدین بختیار کاکي ، خواجه فرید الدین ګنج شکر ، خواجه نظام الدین اولیاء ، خواجه علاء الدین صابر کلیري ، امام رباني شیخ احمد مجدد الف ثاني ، عارف بالله د وخت بیهقي مرزا مظهر جان جانان ، قاضي ثناء الله پاني پتي رحمهم الله وغیره وغیره زرګونه محدثین ، مفسرین . فقهاء او مشائخ مقلدین تیر شوي دي ، ایا دا ټول نعوذ بالله په باطله لاره وو او د تقلید په کولو سره د ګناه مرتکب شوي ؟؟؟

غیر مقلدین په ډیر صفایي سره امام الهند حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله لره هم خپلی ډلی سره د شاملولو کوشش کوي او د حضرت د منشاء په خلاف د ده د کتابو څخه عبارتونه د خپل غلط مقصد ثابتولو لپاره وړاندی کوي مګر دوی ته معلومیدل پکار دي چی حضرت شاه صاحب پخپله مقلد ؤ او حنفي ؤ ، د ده طبیعت په ابتداء کی تقلید ته تیار نه ؤ مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه دی په تقلید باندی مامور کړی شو ، پخپله شاه صاحب په " فیوض الحرمین " کی لیکي :

" واستفدت منه صلی الله علیه وسلم ثلثة امور خلاف ماکان عندی وما کانت طبعی تمیل الیه أشد میل فصارت هذا الاستفادة من براهین الحق تعالی عليّ .... الی قوله ...... وثانیهما الوصاة بالتقلید بهذه المذاهب الأربعة لا اخرج منها الخ " . (فیوض الحرمین ص ۶۴ ، ص ۶۵ مطبوعه رحیمیه دیوبند)

---

[1] _ حق خو دا ده چی غیر مقلدین د دوی د کوم عبارت پیش کولو حق نلري ځکه چی د خپلی طریقی نه علاوه ټول مقلدین په غلطه لاره ګڼي نو د دوی عبارت د خپل مقصد و منشاء ومسلک په خلاف خپل غلط مقصد ثابتولو لپاره ولی وړاندی کوي ؟ یو خوا د دی بزرګانو اقوال فقط د ښودنی او د خلکو دوکه کولو لپاره وړاندی کوي هم او بل خوا د مقلد کیدو په بنیاد دوی په باطله لاره باندی ګڼي .

ترجمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه داسې درې خبرې راته حاصلې شوې چې زما خیال ورسره اول کې موافق نه و او نه مې ورته قلبي میلان و . دا استفاده رابانذې د حق برهان شو او له هغوی دریو خبرو نه دویمه خبره دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وصیت وفرمایلو چې زه د دې څلورو مذهبونو تقلید وکړم او له دوی نه باهر نشم

او کله چې پابند کړې شو نو ظاهره خبره ده چې حضرت شاه صاحب ته دا مسئله هم ورانذې شوې وي چې لدې څلورو مذهبونو څخه کوم یو منتخب کړي نو دا مسئله هم رسول الله صلی الله علیه وسلم حل کړه ، حضرت شاه صاحب لیکي :

" وعرفني رسول الله صلى الله عليه وسلم ان في المذاهب الحنفي طريقة انيقةً اوفق الطرق بالسنة المعروفة التي جمعت ونقحت في زمان البخاري واصحابه "

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وښودل چې په حنفي مذهب کې یوه بهتره طریقه ده چې د نورو طریقو په نسبت هغه مشهور سنت سره زیاته موافقه ده د کومې تدوین او تنقیح چې د امام بخاري رحمه الله او د ده د ملګرو په زمانه کې شویدی (فیوض الحرمین ص ۴۸ رحیمیه دیوبند) .

د تقلید متعلق زیات وضاحت او په تقلید بانذې د اعتراضاتو ځوابونو لپاره فتاوی رحیمیه اول جلد د (۷۰ _ ۱۴۳) صفحې پورې وګورئ او د احقر د فتاوی رحیمیه مکمل ځواب مستقل رسالې په صورت کې هم د " تقلید شرعي ضرورت " په نوم شائع شوی .

الله تعالی دې تاسو ته د صحیح خبرې پوهیدو توفیق درکړي او د اختلاف او ګمراهي نه مونږ ټول وساتي ، آمین ، فقط والله اعلم بالصواب .

د بخاري شريف د ختم د مجلسونو اهتمام باندې د يو بزرګ تردد او ځواب يې

(۵۹ سوال) مکرم و محترم جناب مفتي سيد عبد الرحيم صاحب، زيده مجده السامي ·

السلام ورحمة الله وبركاته !

پدې وخت کې ستاسو په خدمت کې دوه خبرې عرض کول غواړم . يوه د بخاري شريف د ختم معامله ده . او دويمه خاصو حالاتو يعنې بيماري او مصائب وغيره کې د بخاري شريف د ختم پخپله او نورو ته دکولو اهتمام ، د بخاري شريف په ختم باندې د دعاء قبليدل او مشکلاتو او مصائبو کې د دې ختم په برکت سره سکون ملاويدل د آسانی صورت پيدا کيدل دا يواځې د اکابرو تجربه ده ، البته دقرآن پاک ختم يا دقرآن پاک تلاوت باندې د دعاء قبليدل او پريشانی حالاتو کې د تسلی او اطمئنان صورت پيدا کيدل پدې باندې يواځې دا نه چې تجربې ګواهي کوي بلکې دا د نص نه هم ثابت دي پدې وجه د دې اختيارول اهم او مؤکد دي ، اوس معامله دا ده چې د بخاري شريف ختم لپاره وړاندې نه د تاريخ تعين او پدې سره بيره دا چې ځينې ځايو کې عمومي او خصوصي دعوت نامو په ذريعه پديکی د شرکت دعوت ورکول کيږي او بيا ميلمنو لپاره د طعام انتظام هم کولی شي او بله دا چې په خاصو حالاتو کې د دې ختم اهتمام کول چې يواځې يوه تجربه ده او پديکی نسبتاً مشقت او تکليف هم شته د دې په مقابل کې کوم شی چې منصوص کيدو سره آسان هم دی او سراسر خير و برکت او رحمت هم د دې پريښودل د حد نه تجاوز معلوميږي ، اوس نوبت دې حد ته رسيدلی چې په زياتره ځايو کې چې د بخاري شريف ختم کيږي هلته د قرآن پاک د ختم ذکر قدری نه کيږي او نه پداسی ځايو کې ختم کولی شي ، پداسی معاملو سره په منصوص باندې د غير منصوص ترجيح لازميږي . پدې قسم ختم کې د شرکت نه معذرت غواړم لهذا له تاسو نه تپوس کوم چې د احقر دا تردد او عمل صحيح دی يا نه ؟ که صحيح وي نو تائيد او که نه د اصلاح کولو درخواست دی ، والسلام .

ځواب : حامداً ومصلياً ومسلماً ! جناب عالي دامت برکاتهم چې کومې دوه خبرې ليکلي دي د دې متعلق عرض دی چې دختم قرآن په وخت کې د دعاء قبليدو نه د انکار ګنجائش نشته ، او د بخاري شريف په ختم باندې د دعاء قبليدل د اکابرو تجربه ده د ختم او تکميل بخاري شريف په موقع باندې د دعاء اهتمام کيږي ، پدې باندې

مداومت خو شته مکر اصرار نشته . کوم حضرات چی د قرآن مجید د حفظ د تکمیل په موقع باندی د دعاء اهتمام کوي نو نه هغوی باندی انکار کولی شي او نه د دی د اهمیت نه انکار کولی شي او نه پدی باندی د دی ترجیح ورکول مقصود دي ،لهذا دا هم صحیح دي په هر یو باندی خپل خپل خای کی عمل کیږي . د اعتکاف په حالت کی یو سړی د قرآن مجید تلاوت هم کوي او د بهشتي زیور یا د بل کوم دیني کتاب مطالعه هم کوي نو دا نشي ویل کیدی چی بهشتي زیور ته په قرآن مجید باندی ترجیح ورکړی شو ، دواړه خپل خپل خای کی بالکل صحیح دي د قرآن پاک تلاوت هم کوي او پدی موقع باندی د بهشتي زیور یا د بل کوم دیني کتاب مطالعه هم کوي دا دواړه صحیح دي .

او همداشان دی اړخ ته کتل پکار دي نن صبا چی دنیوي تعلیم ته په دیني تعلیم باندی کوم اهمیت ورکړی شوی دا ټولو ته ښکاره د چا نه هم پټ ندي ، که چیرته کوم سړی د دنیوي تعلیم کوم اعلی ډګري حاصلوي نو د هغه څومره حوصله افزائي او عزت افزائي کولی شي ، د خلورو خواو نه مبارکبادونه پیش کولی شي د دی په اعزاز کی د جلسو او محفلونو انتظام کیږي په هره موقع باندی د ده ډګري واضح انداز کی د فخر په طور ښکاره کولی شي ، د نکاح دعوت نامه وي او یا کومه بله موقع په ډیر اهتمام سره دا لیکل کیږي ، پداسی ماحول کی د دیني تعلیم د اهمیت واضح کولو او د دیني طلباؤ د حوصله افزائی او عزت افزائی هم سخت ضرورت دی چی نورو ته هم خپلو بچو لره د عالم جوړولو جذبه او شوق پیدا شي ، او همداشان پدی بهانه د اسلامي علماؤ ، محدثینو دیني او دحدیث پاک عظیم الشان خدمتونه هم خلکو ته واضح کیږي او د دوی په زړونو کی د دی کتابونو عظمت پیدا کیږي او د دوی د عقیدی د اصلاح سبب هم ګرځي ، پدی مقصد سره د وړاندی نه تاریخ هم متعین کیدی شي چی شرکت کونکو لپاره سهولت وي . که په طعام باندی شرح صدر نه وي نو طعام څخه احتراز وکړي .

د امراضو ، مصائبو او مشکلاتو وخت کی د بخاري شریف ختم د علاج په طور دی یعنی مقصد پکی د مرضونو او مشکلاتو دفع کول وي نه عبادت او نه د شرعي حکم یا سنت ګنلو سره کولی شي . لکه څنګه چی خمونږ د اکابرو ختم خواجه ګان او ختم یسین چی معمول دی دا هم د عبادت په طور ندی ،لهذا د دی ګنجائش کیدل پکار دي .

که پدی بیان کی کوم کمزوري وي نو " رأی العليل عليل " باندی حمل کړی او ساسو په نزد چی کوم محقق وي له هغه څخه سونړه خبر راکړئ تر څو د هغه مطابق عمل وشي ، فقط والله اعلم ، ۴ رمضان المبارک ۱۴۱۷ھ

د جنازی وړلو په وخت اوچت آواز سره کلمه وغیره ویل

(۶۰ سوال) د جنازی وړلو وخت کی په کده اوچت آواز سره کلمه وغیره ویل څه حکم لري ؟

ځواب : جنازی لپاره په خاموشی سره د وړلو حکم دی ، په حدیث شریف کی دي چی د جنازی د وړلو په وخت کی خاموشي کول الله تعالی ته خوښ دي : " ان الله تعالى يحب الصمت عند ثلاث عند تلاوة القرآن وعند الزحف وعند الجنازة " (طب) عن زيد بن ارقم (جامع الصغير للسيوطی ص ۷۵) پدی وجه صحابه کرام رضی الله عنهم جنازی سره په زوره لوستل مکروه گڼل ، " عن قيس بن عبادة قال كان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يكرهون الصوت عند ثلاث الجنائز والقتال والذكر والمراد بالذكر الوعظ " (بحر الرائق ج ۵ ص ۷۶ كتاب السير) پدی وجه احناف فقهاء جنازی سره اوچت آواز سره ذکر کول او قرآن پاک لوستو ته بدعت او مکروه تحریمي وائي : " ويكره النياح والصوت خلف الجنازة وفي منزل الميت رفع الصوت بالذكر وقرائة القرآن وقولهم كل حي يموت ونحو ذلك خلف الجنازة بدعة " (فتاوی سراجیه ص ۲۳) .

" وعلى متبعي الجنازة الصمت ويكره لهم رفع الصوت بالذكر وقرائة القرآن كذا في شرح الطحاوي " (فتاوی عالگیری ج ۱ ص ۱۶۴ كتاب الجنائز الفصل الرابع في حمل الجنازة) " ويكره رفع الصوت بالذكر و قرأة القرآن وغيرهما في الجنازة والكراهة كراهة تحريم "(بحر الرائق ج ۲ ص ۱۹۲ كتاب الجنائز تحت قوله ومشى قدامها) .

او په زړه سره کلمه وغیره ویل ممنوع ندي بلاکراهت جائز دي . په فتاوی قاضي خان کې دي " ویکره رفع الصوت بالذکر فان اراد ان یذکر الله یذکر فی نفسه " یعنی جنازې سره اوچت آواز باندی ذکر کول مکروه دي که چیرته د الله تعالی ذکر کول غواړي نو په زړه کی دی کوي (ج ۱ ص ۹۱ کتاب الجنائز) .

په اسلام کې د سنت عظمت او د بدعت قباحت

۶۱ سوال : د شرک نه وروسته بدعت لویه گناه ده د دی څه وجه ده ؟ د بدعت تعریف څه دی او پدیکی کوم داسی قباحت او خرابی دی چې دیته دومره لویه گناه ویل کیږي ؟ په تفصیلي دلائلو سره د دی وضاحت وکړئ . د مسلمانانو لویه ډله د بدعت له قباحت نه واقف ندي بلکی دا ثواب او دخیر کار گڼي پدی وجه تاسو ته تکلیف درکوو چې پدی باندی رڼا واچوئ او خاص خپل انداز کی د دی مکمل وضاحت وکړئ الله تعالی دی ستاسو خدمت قبول او مثمر وگرځوي او د امت د هدایت ذریعه جوړ کړي چې امت د بدعت له تیارو نه په وتو سره د سنت رڼا کی داخل شي او خپل دنیا او آخرت بنایسته کړي . مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! لکه څنګه چې شرک د توحید ضد دی همداشان بدعت د سنت ضد دی او سنت ته سخت نقصان رسوي او بربادوي او د دی ځای نیسي .

د بدعت تعریف

بدعت هغه ته ویل کیږي چې اصل یې په شریعت کې ثابت نه وي یعنی په قرآن و حدیث کی د هغه ثبوت نه وي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعینو او تبع تابعینو رحمهم الله په مبارکه زمانه کی د هغه وجود نه وي او هغه ددین او ثواب کار په گڼلو سره وکړی شي .

علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله په فتح الباري کی لیکي :

" والبدعة اصلها ما احدث علی غیر مثال سابق وتطلق فی الشرع فی مقابل السنة فتکون مذمومة " (فتح الباری ص ۲۱۹ ج ٤ ، کتاب صلواة التراویح) .

ترجمه : بدعت اصل کی هغه شي ته ویل کیږي چې بغیر د مثال سابق او نمونې نه ایجاد شوی وي او په شریعت کی د بدعت اطلاق د سنت په مقابل کی کیږي نو پدی وجه مذموم دی ، او بل ځای کی لیکي :

" واما البدع فهو جمع بدعة وهی کل شی لیس له مثال تقدم فیشتمل لغة بما یحمد ویذم ویختص فی عرف اهل الشرع بما یذم وان وردت فی المحمود فعلی معناه اللغوی " (فتح الباری ص ۳۳۵ ج ۱۳ ، باب ما یکره من التعمق والتنازع فی العلم والغلو فی الدین والبدع) .

ترجمه : بدعت هر هغه شی دی چی دی لپاره پخوا زمانه کی کوم مثال نه وي د لغوي معنی په اعتبار سره دا لفظ قابل تعریف او قابل مذمت دواړو شیانو ته شامل دی ، او په شرعي اصطلاح کی دا لفظ خاص کړ هغه موقع کی استعمالیږي چی هغه قابل مذمت وي او که کوم خای کی قابل تعریف شي ته بدعت ویل شوی وي نو هغه به د لغوي معنی په اعتبار سره وي (د شرعي اصطلاح په اعتبار سره نه دی) .

شامي کی دي :

" ما احدث علی خلاف الحق المتلقی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من علم او عمل او حال بنوع شبهة واستحسان وجعل دیناً قویماً وصراطا مستقیماً " (شامی ص ۵۲۵ ج ۱ ، باب الامامة) .

ترجمه : بدعت هغه کار دی چی یو قسم شبهی او استحسان سره د هغه حق په خلاف ایجاد کړی شوی وي کوم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مأخوذ دی که هغه د علم له قبیلی نه وي او که عمل او یا حال ، او هغه دین او صراط مستقیم وګرځولی شي.

مفسر قرآن حضرت مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله فرمائي : " بدعت داسی یو کار کولو ته وائي چی دهغه اصل په قرآن و سنت او په خیر القرون کی نه وي موجود او هغه دین او د ثواب کار ګنلو سره وکړی شي " (تفسیر فوائد عثماني ص ۲۷ د سورت حدید (۲۷) آیت ورهبانیة ن ابتدعوها) .

د هند مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد کفایت الله صاحب فرمائي : " بدعت هغو شیانو ته ویل کیږي چی اصل يی په شریعت کی ثابت نه وي یعنی په قرآن مجید او نبوي صلی الله علیه وسلم احادیثو کی ثبوت نه وي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صحابه کرامو رضی الله عنهم ،تابعین او تبع تابعینو رحمهم الله زمانه کی موجود نه وي او هغه د دین کار په ګنلو سره وکړی شي او یا پریښودلی شي " .

(تعلیم الاسلام ص ۲۲ څلورم حصه د بدعت بیان)

په علم الفقه کی دي : " د شریعت په اصطلاح کی بدعت هغه شي ته ویل کیږي چې دیني کار وګڼلی شي او په کوم شرعي دلیل سره ثابت نه وي ، نه کتاب الله سره او نه حدیثونو سره او نه اجماع او نه قیاس سره " .

(علم الفقه ۲۳۱/۱۳ د ایصال ثواب بیان د مولانا عبد الشکور لکهنوي تصنیف)

عمدة الفقه کی دي : بدعت هغه شي ته وائي چې اصل یې شریعت نه ثابت نوي یعنی په قرآن شریف او حدیث شریف کی د هغه ثبوت نه وي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم . صحابه کرام رضی الله عنهم ، تابعین او تبع تابعینو رحمهم الله زمانه کی موجود نه وي او نه د ده مثال پدی دریو زمانو کی پیدا شي او د شریعت د دی څلورو دلیلونو سره یعنی کتاب الله ، سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ، اجماع امت (صحابه ، تابعین او د تبع تابعینو اجماع) او د مجتهدینو قیاس سره ثابت نه وي او هغه د دین کار په ګڼلو سره وکړی شي او یا پرینودلی شي ، د دی موجد هر څوک چې وي .

(عمدة الفقه ۶۷/۱ د حضرت مولانا شاه زوار حسن رحمه الله تصنیف)

په عقائد اسلام کی دي : " په شریعت کی بدعت کمي او زیاتي کولو ته ویل کیږي چې د شارع علیه السلام د اذن بغیر وکړی شي او د شارع علیه السلام د قول یا فعل نه صراحتاً یا اشارةً د هغه صلی الله علیه وسلم اجازت نه وي شوی كذا في الطريقة المحمديه او د دی تفصیل دا دی : کوم شی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کی وي که پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی وي او یا صحابه کرامو رضی الله عنهم د ده صلی الله علیه وسلم په وړاندی کړی وي خو ده صلی الله علیه وسلم پری منع نه وي کړی نو دا بالاتفاق بدعت ندی بلکی سنت دی او کوم شی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور کی نه وي هغه مطلقاً بدعت ندی بلکی د دی تفصیل داسی دی که هغه د عادت له قبیلی نه وي نو هغه هم بالاتفاق بدعت ندی په شرط د دی چې ممنوع نه وي او که د عبادت له قبیلی څخه وي نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کی وي یا د تابعینو یا د تبع تابعینو رحمهم الله یا وروسته د دوی نه نو که د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کی پیدا شوی وي هغه هم بدعت ندی په شرط د دی چې صحابه کرامو رضی الله عنهم دخبریدو نه وروسته منع نه وي کړی لکه د اختر لمانځه نه مخکی خطبه لوستل لکه مروان ولوسته او ابوسعید رضی الله عنه

منع کړ (نو د اختر لمانځه نه مخکی خطبه لوستل بدعت دی) دا روایت بخاري او نورو کړی دی . او که د تابعینو او د تبع تابعینو په دور کی پیدا شوی وي نو هغه هم بدعت ندی . په شرط د دی چی دغو حضراتو خبریدو نه وروسته منع نه وي کړی ، که منع یی کړي وي نو هغه بدعت دی) او د صحابه کرامو رضی الله عنهم . تابعینو او تبع تابعینو د دور شی ځکه بدعت ندی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : " خیر القرون قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم " (رواه الشیخان ، مشکواة باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۳۰) .

یعنی ټولو نه بهتره زما زمانه ده او بیا د هغه چا چی له ما نه وروسته دي او بیا د هغه چا چی د دوی نه وروسته دی یعنی تبع تابعین او د دوی نه وروسته به داسی خلک پیدا شي چی پخپله به ګواهي ورکوي او امانت کی به خیانت کوي ، الحدیث ، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوشخبری په وجه د دی دریو زمانو اعتبار شته او د دوی په دور کی خیر دی او د دوی نه وروسته بیا شر دی او که چیرته د دی دریو زمانو نه وروسته پیدا شوی وي نو هغه به شرعي دلائلو یعنی کتاب الله ، سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم ، اجماع امت او د مجتهدینو قیاس سره مطابق کولی شي نو که د هغه مثال پدی دریو زمانو کی ونه موندل شي او په کوم شرعي دلیل سره ثابت نه شو نو هغه بدعت دی که موجد یی هر څوک وي ، مولوي ، درویش ، مکي ، مدني ، شیخ ، سید (عقائد اسلام (۱۳۳ ، ۱۳۴) صفحې د مولانا ابو محمد عبد الحق مفسر قرآن تصنیف) .

بدعت ډیره سخته ګناه ده د حدیث له مخی بدعت مردود ، ګمراهي او شرالامور دی ، د الله تعالی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ملائکو او د ټولو انسانانو د لعنت سبب دی ، د بدعتي په تعظیم کونکي باندی لعنت کیږي ، د بدعتي روژه نه قبلیږي ، لمونځ یی نه قبلیږي ، حج یی نه قبلیږي ، عمره یی نه قبلیږي ، صدقه یی نه قبلیږي ، جهاد یی نه قبلیږي ، که له بدعتو څخه منع نه شي نو توبه هم ورته نه نصیب کیږي .

بدعت دومره سخته ګناه ده چی د دی په نحوست سره سنت نیست او نابود ګرځي او هغه قوم د سنت له نور نه محرومیږي ، په حدیث کی دي :

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما احدث قوم بدعة الا رفع مثلها من السنة فتمسك بسنة خير من احداث بدعة " رواه احمد (مشكواة شريف ص ۳۱ باب الاعتصام بالكتاب والسنة) .

ترجمه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : كوم يو قوم چې كوم بدعت ايجاد كړي نو د دی په وجه د دی پشان يو سنت دهغه قوم نه اوچتولی شي . لهذا په سنت باندی مضبوط عمل كول د بدعت پيدا كولو نه بهتر دي .

او په بل روايت كی دي : " ثم لايعيده اليهم الى يوم القيامة " يعنی بيا هغه اوچت شوی سنت تر قيامته پوری دوباره هغه قوم ته نشي وركول كيدی . (په بل عبارت هغه قوم د هغه سنت څخه هميشه لپاره محروميږي) (مشكواة ص ۳۱) .

مطلب دا چی په بدعت سره سنت ته ډير لوی نقصان رسيږي . د سنت ځای بدعت نيسي او بالآخره سنت نيست و نابود ګرځي . دا د يو مثال نه زده كړئ . غنم . وريجې او باجره وغيره فصل كی چی وانبه شنه شي نو چی دا څومره غتيږي فصل ته نقصان رسوي . د دی نقصان نه د حفاظت لپاره د فصل مالک هغه وانبه له بيخه وباسي نو بيا د غنمو وغيره بوټي وده كوي او فصل ښه كيږي ، او كه هغه وانبه ونه ويستل شي نو فصل ته د سخت نقصان رسيدو خطره وي ، همداشان بدعت هم سنت وده كولو او خوريدو ته نه پريدي بلكی دباو كی ساتي كه له اول نه بدعت بند كړی شي نو بالاخره بدعت غالبيږي او د سنت ځای په نيولو سره نيست و نابودوي . د رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمان دی :

" لايقبل الله لصاحب بدعة صوماً ولاصلواة ولاصدقةً ولا حجاً ولاعمرةً ولا جهاداً ولا صرفاً ولا عدلاً يخرج من الاسلام كما تخرج الشعر من العجين "

يعنی الله تعالی د بدعتي نه روژه قبلوي نه لمونځ ، نه صدقه ، نه حج ، نه عمره ، نه جهاد . نه كوم فرض عبادت او نه نفلي عبادت ، بدعتي له اسلام نه داسی باهر كيږي لكه څنګه چی د اغږلی شوي اوړو نه وينته وځي .

(ابن ماجه ص ٦ باب اجتناب البدع والجدل)

په همدی بناء حدیثونو کی دبدعت ډیر زیات مذمت او بدي بیان شوی . مسلم شریف کـی دي : " عن جابر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا خطب احمرت عيناه وعلا صوته واشتد غضبه كانه منذر جيش يقول صبحكم ومساكم ويقول بعثت انا والساعة كهاتين ويقرن بين اصبعيه السبابة والوسطى ويقول امـا بعد فان خير الحديث كتاب الله خير الهدى هدى محمد صلى الله عليه وسلم وشر الامور محدثاتها وكل بدعة ضلالة " (مشکواة شریف ص ۲۷ باب الاعتصام)

ترجمه : د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله خطبه ورکولو نو سترګی مبارکی به یی سری شوی ، آواز به یی تیز شو او غصه به یی سخته شوه لکه کوم لښکر چی ویروي او وائي چی تاسو باندی صبا یا مابنام حمله کیدونکی ده او د ځیلی شهادت او منځنی ګوتی یوځای کولو سره ارشاد کوله او وی فرمایل : زما بعثت او قیامت داسی دي لکه دا دواړه ګوتی (یعنی بغیر د فاصلی نه) او بیا یی ارشاد وفرمایل او د ټولو نه ناکاره کارونه بدعتونه دي او هر بدعت ګمراهی ده .

او بل حدیث کـی دي : " عن العرباض بن سارية قال صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم ثم اقبل علينا بوجهه فوعظنا موعظة بليغة ذرفت منها العيون ووجلت منها القلوب فقال رجل يارسول الله كان هذه موعظة مودع فاوصنا فقال (وفي نسخة اوصيكم) بتقوى الله والسمع والطاعة وان كان عبداً حبشياً فانه من يعش منكم بعدى فسيرى اختلافاً كثيراً فعليكم بسنتى وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة " رواه احمد .

ترجمه : حضرت عرباض بن ساریه فرمائي چی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ ورکړو او بیا زمونږ طرف ته متوجه شو او بیا نهایت بلیغ او مؤثر انداز کـی خو خبرې ارشاد کړی چی د حاضرینو له سترګو نه اوښکـی وبهیدلی او زړونه د ویری نه ولړزیدل یو صحابي عرض وکړ ، یارسول الله دا خو لکه د رخصتونکي نصیحت دی مونږ ته نور هم نصیحت وکړه ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه تاسو ته دتقوی

او د کامل تابعداری او د حکم منلو وصیت کوم اګر که ستاسو امیر حبشي غلام وي ، زما نه وروسته چې څوک په تاسو کې ژوندی پاتې شي هغه به ډیر زیات اختلافات ویني نو پداسی حالت کې په تاسو باندې لازم دي چې هغه طریقه باندی کلک پاتې شئ کومه چې زما طریقه ده او زما نه وروسته د هغه خلفاء راشدینو طریقه ده چې هدایت یافته دي دغه طریقه خپله کړئ او د ژامو په غاښو سره مضبوط ونیسئ او د نوي پیدا شوې خبرو نه مکمل طور سره پرهیز وکړئ ځکه چې په دین کې هر نوی پیدا شوی خبره بدعت ده او هر بدعت ګمراهي ده (مشکواة شریف وابوداؤد والترمذی وابن ماجه (مشکواة (۲۹ ، ۳۰) صفحی باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .

او دا هم په حدیث کې دي : " من احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو رد " یعنی کوم سړی چې څموږ په دین کې کوم داسې نوی خبره ایجاد کړي چې په دین کې نه وي هغه مردود ده (صحیح بخاری باب اذ اصطلحوا علی صلح جور فهو مردود ۳۷۱/۱ ، صحیح مسلم ۷۷/۲ باب نقض الاحکام الباطله ومحدثات الامور) .

په مسلم شریف کې یو بل حدیث دی : " من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد " کوم سړی چې داسې کار وکړي چې زموږ حکم پری نه وي هغه رد او باطل دی .
(مسلم شریف ج ۲ ص ۷۷ باب نقض الاحکام الباطله ومحدثات الامور)

په ابوداوٗد شریف کې دي : " من صنع امراً علی غیر امرنا فهو رد " یعنی چا چې زموږ د حکم په خلاف کوم کار وکړ هغه مردود دی (ابوداوٗد شریف ج ۲ ص ۲۸۷ باب لزوم السنه) د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : " فمن احدث فیها او اوی محدثا فعلیه لعنة الله والملائکة والناس اجمعین لایقبل منه صرف ولا عدل " (مشکواة شریف ص ۲۳۸ باب حرم المدینة حرسها الله تعالی).

یعنی چا چې پدی (مدینه منوره) کې کومه نوی خبره ایجاد کړه یاکوم بدعتي ته پناه ورکړه هغه باندی د الله تعالی ، ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دی دهغه فرض عبادت قبلیږي او نه نفلي.

د بدعتي په تعظیم باندی وعید

په حدیث کی دي : " من وقر صاحب بدعة فقد اعان علی هدم الاسلام " یعنی چا چی د بدعتي تعظیم وکړ هغه د اسلام د بنیاد په نړولو کی مدد وکړ (مشکواة ص ۳۱).

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " ما من نبی بعثه الله فی امته قبلی الا کان له فی امته حواریون واصحاب یأخذون بسنة ویقتدون بامره ثم انها تخلف من بعده خلوف یقولون مالا یفعلون ما لا یؤمرون فمن جاهدهم بیده فهو مؤمن ومن جاهدهم بلسانه فهو مؤمن ومن جاهدهم بقلبه فهو مؤمن ولیس وراء ذلك من الایمان حبة خردل " رواه مسلم (مشکواة شریف ص ۲۹ باب الاعتصام) .

ترجمه : الله تعالی له مانه مخکی چی کوم نبی علیه السلام هم د هغه امت طرف ته لیږلی دهغه په امت کی داسی حواریان او ملګري هم وو چی دخپل نبي علیه السلام په سنت باندی عمل کولو او دهغه دحکم پیروي کولو او بیا د هغوی نه وروسته نااهل خلک پیدا شول خلکو ته بی داسی خبرې کولی چی خپله به یی پری عمل نه کولو او هغه کار به یی کولو چی دکوم حکم به ورته نه ؤ شوی نو چا چی دوی سره په لاس جهاد وکړ هغه مؤمن دی او خوک چی ورسره په ژبه جهاد وکړي هغه مؤمن دی او خوک چی ورسره په زړه سره جهاد وکړي هغه مؤمن دی (یعنی هغه کارونه په زړه کی بد وکڼي ، او خوک چی په زړه کی هم بد ونه ګڼي دهغه په زړه کی د وري دانی برابر هم ایمان نشته .

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي : " المحروم رضا مولاه من لم یعمل بما امر واشتغل بما لم یؤمر به هذا هو الحرمان بعینه والموت بعینه والطرد بعینه " (الفتح الربانی ص ۴۴۰ مجلس نمبر ۶۰) .

ترجمه : د خپل آقا د رضا نه هغه سړی محروم دی چی د کوم شي ورته حکم شوی وي په هغه عمل نه کوي او دکوم شي چی آقا ورته حکم ندی کړی هغه کی لګیا وي همدا اصلي محرومیت دی او همدا اصلي مرګ دی او همدا اصلي مردودیت دی .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان دی :

" انه سیخرج فی امتی اقوام تتجاری بهم تلك الاهواء کما یتجاری الکلب بصاحبه لایبقی منه عرق ولا مفصل الا دخله " یعنی عنقریب چی زما په امت به کی داسی خلک پیدا شي چی خواهشات (بدعات)به پکی داسی ننوتي وي لکه د لیوني سپي زهر چی بني آدم ننوځي او د بدن رګ رګ ته رسیږي (مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .

په صحیح بخاري او مسلم شریف کی د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی :

" عن انس رضی الله قال جاء ثلثة رهط الی بیوت ازواج النبی صلی الله علیه وسلم فلما اخبروا کانهم تقالوها فقالوا واین نحن من النبی صلی الله علیه وسلم قد غفرالله له ما تقدم من ذنبه وما تأخر قال احدهم اما انا فانی اصلی اللیل ابداً وقال اخرانا اصوم النهار ولا افطر وقال الاخر انا اعتزل النساء فلا اتزوج ابداً فجاء النبی الله صلی الله علیه وسلم الیهم قال انتم الذین قلتم کذا وکذا انـا والله انی لاخشاکم لله واتقاکم له لکنی اصوم وافطر واصلی وارقدوا تزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی " (مشکواة باب الأعتصام بالکتاب والسنة ص ۲۷)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه فرمائي : دری صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت د حال معلوملو لپاره د ازواج مطهراتو په خدمت کی حاضر شول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعبادت په باره کی یی تپوس کړ . او بیا یی وویل : مونږ چیرته او رسول الله صلی الله علیه وسلم چیرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم خو مخکني او وروستني ټول ګناهونه معاف شوي دي (لهذا ده صلی الله علیه وسلم ته د زیات عبادت ضرورت نشته) د هغو نه یو تن وویل زه به ټوله شپه لمونځ کوم ، دویم وویل زه به همیشه روژه نیسم کله به هم نه پریدم ، دریم وویل زه به بالکل واده نه کوم (یواځی پاتی کیدو سره به بنه عبادت کوم) رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ او وی فرمایل : ایا تاسو دغه خبرې کړي دي ؟ واورئ ! په الله قسم زه له تاسو نه زیات متقي یم او د دی باوجود کله روژه نیسم کله یی نه نیسم ، تهجد

هم کوم او خوب هم کوم او دبنځو سره نکاح هم کوم (دا زما طریقه ده) چا چې زما طریقه پرېښوده هغه زما نه دی .
پدی حدیث شریف کی غور وکړئ یو صحابي د لمانځه په باره کی لوظ کوي چې زه به ټول شپه لمونځ کوم او دویم دا لوظ کوي چې زه به ټول عمر روژه نیسم او دریم یې خپل خان باندی دا لازموي چې زه به د ښځو جدا اوسیدو سره عبادت کی مشغولیږم وښایئ پدی څیزونو کی ظاهراً کوم خرابي او قباحت شته ؟ مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خوښ نه کړل په حقیقت کی پدیکی دا قباحت وُ چې دا د رسول الله علیه وسلم د طریقی او منشاء نه خلاف و نو پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه صحابه کرام رضی الله عنهم ته تنبیه وفرمایل .

بدعتي ته د توبی توفیق نه کیږي

امیر المؤمنین ابوبکر صدیق رضی الله نه روایت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " ان ابلیس قال اهلکتهم بالذنوب فاهلکونی بالاستغفار فلما رأیت ذلك اهلکتهم بالاهواء فهم یحسبون انهم مهتدون فلا یستغفرون "

(الترغیب والترهیب ص ٦٥ ج ١) .

یعنی : ابلیس وائي ما خلک په ګناهونو کی مبتلاء کولو سره تباه او برباد کړل (چې د دی په وجه هغوی د جهنم مستحق وګرځیدل) او خلکو زه په توبی او استغفار سره هلاک کړم (پدی طریقه دوی زما خواري عبث وګرځوله) کله چې ما دا حالت ولید نو ما دوی په نفسي خواهشاتو کی اخته کولو سره هلاک و برباد کړل (یعنی د سنت په خلاف داسی کارونه پیدا کړل چې د دوی دخواهشاتو مطابق وو) نو هغوی به دا ګنل چې مونږ په هدایت یو نو توبه او استغفار به یې هم نه کولو .
حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي :
" روی عن سفیان الثوری انه کان یقول البدعة احب الی ابلیس من کل المعاصی لان المعاصی یتاب عنها والبدعة لایتاب عنها وسبب ذلك ان صاحب المعاصی یعلم بکونه مرتکب المعاصی فیرجی له التوبة والاستغفار واما صاحب البدعة فیعتقد انه فی طاعة وعبادة ولایتوب ولایستغفر وهذا ما حکی عن ابلیس انه قال

قصمت ظهور بنی آدم بالمعاصی والاوزار وقصموا ظهری بالتوبة ولاستغفار فاحدثت لهم ذنوبا لایستغفرون منها ولایتوبون عنها وهی البدع فی صورة العبادة " (مجالس الابرار ص ۱۳۰ مجلس نمبر ۱۸).

ترجمه : د حضرت سفیان ثوري رحمه الله نه روایت دی چی فرمائي : ابلیس ته بدعت د ټولو ګناهونو څخه زیات خوښ دی ځکه چی د نورو ګناهونو څخه خو توبه کیدلی شي او د بدعت نه توبه نه کیږي او د دی سبب دا دی چی ګنهګار خو یقین لري چی زه ګناه کوم لیکن بدعتي دا ګني چی زه طاعت او عبادت کوم نو دی نه توبه وباسي او نه استغفار کوي ، دا مضمون پخپله ابلیس نه نقل دی ، دی وائي : ما د بنی آدم ملا په ګناهونو سره ماته کړه او دوی زما ملا په توبه او استغفار سره ماته کړه نو ما دوی لپاره داسی ګناهونه پیدا کړل چی له هغو څخه نه توبه کوي او نه استغفار او هغه د عبادت په شکل کی بدعتونه دي (مجالس الابرار ص ۱۳۰ مجلس نمبر ۱۸).

د بدعتي سره محبت کونکی د ایمان له نور نه محرومیږي :

حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائي : " عن فضیل بن عیاض یقول من احب صاحب بدعة احبط الله عمله واخرج نور الاسلام من قلبه " یعنی څوک چی د بدعتي سره محبت کوي الله تعالی د هغه نیک عملونه بربادوي او د زړه نه یی داسلام نور وباسي .

فائده : لدی څخه دا فکر وکړئ چی پخپله د بدعتي به څه حالوي .

(تلبیس ابلیس ص ۱۵)

بدعتي د قیامت په ورځ د کوثر اوبو نه محرومیږي

په حدیث کی دي : ".عن سهل بن سعد قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم انی فرطکم علی الحوض من مر علی شرب ومن شرب لم یظمأ ابداً لیردن علی اقوام اعرفهم ویعرفوننی ثم یحال بینی وبینهم فاقول انهم منی فیقال انك لاتدری ما احدثو بعدك فاقول سحقاً سحقاً لمن غیری بعدی " ، متفق علیه (مشکواة شریف ص ۴۸۷ ، ص ۴۸۸ باب الحوض والشفاعة).

ترجمه : د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : زه به حوض کوثر باندی له تاسو نه مخکی موجود یم څوک چی زما خوا ته راځي د دی اوبه به څکي او څوک چی یوځل وڅکي بیا به چیری هم نه تږی کیږي ، څه خلک به زما خوا ته راشي کوم چی زه به یی پیژنم او هغوی ما پیژني مګر زما او د هغوی ترمنځ به حائل او پرده ووهلی شي ، زه به ووایم دا خو زما خلک دي خواب به راکړی شي ، تا ته پته نشته چی دوی له تانه وروسته څه څه کارونه پیدا کړي ، د دی په اوریدو سره به زه وایم ، سحقاً سحقاً هلاکت دی وي هغه چالپاره چی له مانه وروسته یی زما طریقه بدله کړی ده .

لدی حدیث نه معلومیږي کومو خلکو چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت پریښودو سره دین کی نوی نوی بدعتونه پیدا کړي هغوی به د قیامت په ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حوض کوثر نه محرومیږي ، لدینه زیاته محرومي نور څه کیدی شي ؟ (اختلاف امت او صراط مستقیم ص ۱۰۰ ، ۱۰۱) .

لنډه دا : کوم عمل چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په کومه طریقه ثابت وي په هماغه طریقه هغه باندی عمل کول اصل اتباع دی او لدینه خلاف طریقه اختیارول که په ظاهر کی ډیره ښه معلومیږي مګر په شریعت کی هغه مذموم ده ، یو حدیث کی دي : چی رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت براء بن عاذب رضی الله عنه ته یوه دعاء ورښودله چی په هغه کی " آمنت بکتابك الذی انزلت ونبیك الذی ارسلت " الفاظ وو حضرت براء بن عاذب رضی الله عنه د تعظیم په خاطر د نبی (صلی الله علیه وسلم) په ځای د رسول (صلی الله علیه وسلم) لفظ وویل یعنی د " نبیك الذی ارسلت " په ځای " رسولك الذی اُرسلت " وویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم فوراً تنبیه وکړ او په سینه باندی وهلو سره وفرمایل چی " نبیك الذی ارسلت " ووایه کوم لفظ چی د ژبی مبارکی نه وتلی و ، " قال البراء فقلت وبرسولك الذی ارسلت قال فطعن بیده فی صدری ثم قال ونبیك الذی ارسلت " (ترمذی شریف ج ۲ ص ۱۷۵ باب ما جاء فی الدعاء اذا آوی الی فراشه) .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دی : " لايؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعاً لما جئت به " (مشکواة ص ۳۰ باب الاعتصام) يعنى په تاسو کی یو څوک تر هغی پوری مؤمن نشي جوړیدی څو پوری چې دهغه خواهشات زما دهغه دین او شریعت تابع شوي نه وي کوم چې ما راوړي دي .

قاضي ثناء الله پاني پتي په ارشاد الطالبين کی یو حدیث نقل کړی : "ان القول لايقبل مالم يعمل به و كلاهما لا يقبلان بدون النية والقول والعمل والنية لاتقبل ما لم توافق السنة" يعنى بغير د عمل نه قول مقبول ندی او دا دواړو بغير د نيت نه مقبول ندي او دا دری واړه مقبول ندي څو پوری چې د سنت موافق نه وي .

(ارشاد الطالبين ص ۲۸)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم پشان صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم بدعت دهر څه نه زیات مبغوض وُ د دی یو څو نمونی وګورئ :

حضرت صحابه کرام رضی الله عنهم دخپل نبی آخر زمان صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا لپاره منتخب او چاڼ کړي وو او د دی کامل دين محافظين او مبلغين جوړ کړي وو کوم چې تر قیامته پوری باقي پاتی کیدونکی دی ، دوی حضرات د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت باندی دومره زړه بايلونکي او عاشقان وو چې دامت هیڅ یوه طبقه او فرد د دی مثال نه شي وړاندی کولی ، او دخلاف سنت کارونو او عملونو بدعاتو نه دومره سخت بیزار وو چې د دی هم مثال نه پیدا کیږي ، حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه د صحابه کرامو په باره کی فرمائي : " لم ارى احداً من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ابغض اليه الحدث فى الاسلام يعنى منه "

(ترمذي شريف ۳۳/۱ باب ما جاء فى ترك الجهر بسم الله آه)

ما په صحابه کرامو څوک داسی ندي ليدلي چې هغه د بدعت نه زیات کوم بل شي سره بغض وساتي .

د لاندني واقعاتو او مثالونو کی تاسو د صحابه کرامو رضی الله عنهم د دقیق نظر اندازه ولګوئ ، کومی خبری چې مونږ ته معمولي ښکاري د صحابه کرامو رضی الله عنهم په

نظر کی خوشره لوی او سخت معلومیدل او ښکاره یی وربانـدی رد کولـو او د لـوی نـه لوی سړي د شان و شوکت او دبدبی پروا به یی نه کوله :

(۱) " عن ابن عبد الله بن مغفل رضی الله عنهما قال سمعنی ابی وانـا فی الصلـواة اقول بسم الله الرحمن الرحیم قال لی ای بنی محدث ایاك والحدث . الی . وقـال صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم ومع ابی بکر وعمر ومع عثمان فلم اسمع احداً " (ترمذی شریف : باب ما جاء فی ترك الجهر بسم الله الرحمن الرحیم ج ۱ ص ۳۳) .

ترجمه : د حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه ځوی په لمانځه کی د سورت فاتحی د شروع کولو په وخت بسم الله په زوره وویل نو حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه ورته فوراً تنبیه او خبرداری وکړ چی خویه دا بدعت دی او د بدعت نـه ځـان وساته ـ الی قوله ـ او وی فرمایل : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابـوبکر ، عمـر او عثمان رضی الله عنهم سـره لمـونځ کـړی خو ما د یو نـه هـم پـه زوره بسم الله ندی اوریدلي .

سوچ وکړئ د بسم الله ورو ویلو په ځای په زوره ویلو باندی صحابي خفه کیـږي او دیتـه بدعت وائي او دلیل دا وړاندی کوي چی ما رسول الله صلی الله علیه وسـلم ، حضـرت ابو بکر ، حضرت عمر او حضرت عثمان رضی الله عـنهم یـو هـم پـه زوره بـسم الله ویلـو باندی ندی لیدلی .

(۲) " عن ابی مالك الاشجعی قال قلت لابی یاابت إنك قد صلیت خلف رسـول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکر رضی الله عنه و عمر رضی الله عنه وعثمـان رضی الله عنه وعلی بن ابی طالب رضی الله عنه هاهنا بالکوفة نحوا من خمس سنین أکانوا یقنتون قال ای بنی محدث " (ترمذی شریف ج ۱ ص ۵۳ باب فی تـرك القنوت) (نسائی شریف ج ۱ ص ۱۳۲) .

ترجمه : حضرت ابو مالك اشجعي فرمائي : ما د خپل پلار " طـارق رضـی الله عنـه " نـه تپوس وکړ چی تاسو رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صدیق اکبر رضـی الله عنـه ، عمـر فاروق رضی الله عنه ، عثمان غني رضی الله عنه او علي ابن طالب رضـی الله عنـه پسـی

لمونځ کړی دی ایا دغو حضراتو په سحر لمانځه کی (همیشه) قنوت لوستلو ؟ هغه وفرمایل : څویه بدعت دی .

وګورئ ! د سحر په لمانځه کی همیشه دعاء قنوت ویل د رسول الله صلی الله علیه وسلم . صدیق اکبر رضی الله عنه وغیره حضراتو نه ثابت ندي پدی وجه حضرت طارق رضی الله عنه واضح الفاظو کی ددی متعلق د بدعت حکم وکړ .

(۳) د څاښت لمونځ حدیث سره ثابت دی (مګر په کور یا جوما کی څانله څانله) د دی په خلاف حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه کله چی ولیدل چی دلپاره خلک تول جومات ته راټولیږي اجتماعي طور سره یی کوي نو دی دا کار خوښ نه کړ او بدعت ورته وویل " عن مجاهد قال دخلت انا و عروة ابن الزبير المسجد فاذا عبد الله ابن عمر رضی الله عنه جالس الی حجرة عائشة رضی الله عنها واذا اناس يصلون فی المسجد صلواة الضحی قال فسألناه عن صلواتهم فقال بدعة " (بخاری ج ۱ ص۲۳۸) .

په نووی شرح مسلم کی دي :

" واما ماصح عن ابن عمر رضی الله عنه قال فی الضحی هی بدعة فمحمول على ان صلوتها فی المسجد والتظاهر بها كما كانوا يفعلونه بدعة " (نووی شرح مسلم باب استحباب صلواة الضحی اقلها رکعتان ج ۱ ص ۲٤۹) .

حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه هم دا صورت ناخوښ کړی او فرمایلی دي :

" ان كان ولابد ففی بیوتكم " یعنی که چیرته خامخا تاسو دڅاښت لمونځ کوئ نو پخپلو کورونو کی کوئ (فتح الباري ج ۳ ص ۴۳) .

فکر وکړئ ! د څاښت لمونځ په حدیث سره ثابت دی او ډیر فضیلت لري لیکن په اهتمام سره جومات کی یوځای کیدو سره ښکاره ادا کولو التزام د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي نو پدی وجه جلیل القدر صحابي حضرت عبد الله ابن عمر او ابن مسعود رضی الله عنهما پری خفه کیږي او بدعت ورته وائي او هدایت کوي چی په کوروکی یی کوئ .

(۴) د سحر په لمانځه کی خلکو رایوځای کیدو سره په خاصه طریقه (۱۰۰) خلی الله اکبر او (۱۰۰) لا اله الا الله او (۱۰۰) خلی سبحان الله ویل ، حضرت ابو موسی اشعري

رضی الله ابن مسعود رضی الله عنه ته خبر ورکړ او ابن مسعود رضی الله عنه هغوی خوا ته ورغی او تپوس یی ورنه وکړ چی دا تاسو څه کوئ ؟ هغوی خواب ورکړ ای ابو عبد الرحمن مونږ په ګیټکو سره تکبیر ، تهلیل او تسبیحات کوو ، هغه وفرمایل : د دی په تاسو خپل ګناهونه وشمیرئ او بیا یی وفرمایل :

"ویحکم یاامة محمد صلی الله علیه وسلم ما اسرع هلکتکم هؤلاء صحابة نبیکم صلی الله علیه وسلم متوافرون وهذا ثیابه لم تبل وانیته لم تکسر والذی نفسی بیده انکم لعلی ملة هی اهدی من ملة محمد صلی الله علیه وسلم اومفتتح باب ضلالة ".

ترجمه : ای د محمد صلی الله علیه وسلم امته ! افسوس دی په تاسو ستاسو هلاکت څومره زر راورسید د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم صحابه ستاسو په منځ کی کثرت سره موجود دي او ستاسو د نبي صلی الله علیه وسلم کپړی تر اوسه زړی شوي ندي ، او لوښي یی لا ندي مات شوي (او تاسو دومره زر په بدعتو کی مشغول شوئ) قسم دی په هغه ذات چی دهغه په قبضه کی زما ساه ده یا خوتاسی پداسی دین باندی یئ چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دین څخه (نعوذ بالله) زیات صحیح او درست دی او یا تاسو د ګمراهی دروازی ته رسیدلی یئ کوم عنقریب کولاویدونکی دی هغوی خواب ورکړ : " والله یا ابا عبد الرحمن ما اردنا الا الخیر " یعنی ای عبد الرحمن قسم په الله لدی کار نه مونږ یواځی د نیکی اراده لرو ، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : " وکم من مرید للخیر لن یصیبه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم حدثنا ان قوماً یقرئون القرآن لایجاوز تراقیهم وایم الله ما ادری لعل اکثرهم منکم ثم تولی عنهم " یعنی د نیکی ډیر اراده کونکي داسی دي چی نیکی ورته نه حاصلیږي څکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته فرمایلي دي چی ډیر خلک به قرآن لولي مګر قرآن کریم به د هغوی د مری نه لاندی نه څي ، په الله قسم چی زه نه پوهیږم کیدی شي دغه خلک زیاتره د تاسو څخه وي ، او پدی سره ابن مسعود رضی الله عنه ورنه لاړ ، عمرو بن سلمه وائي (د دی بدعت ایجاد کولو نتیجه) مونږه دا ولیده چی د نهروان په جنګ کی دا خلک خوارجو سره ملګري شول او مونږ سره جنګیدل .

(ازالة الخفاء ص ۲۷۹ ، ۲۸۰ جلد اول ، مقصد اول ، پنځم فصل ملخص)

(۵) مجالس الابرار کی دي : یوه ډله به د ماښام لمانځه نه وروسته کیناستله او یو کس به پکی ویل : دومره ځلی الله اکبر ، دومره ځلی سبحان الله او دومره ځلی الحمد لله ووایئ او خلکو به د دی مطابق ویل ، حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ته چی د دی خبر وشو نو د هغوی خوا ته تشریف یووړ او د هغوی ذکر یی واورید نو ودریدو او وی فرمایل : " انا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه الذی لا اله غیره لقد جئتم ببدعة ظلماء او لقد فقتم علی اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم علماً یعنی ان ما جئتم به اما ان یکون بدعة ظلماء او انکم تدرکتم علی الصحابة ما فاتهم لعدم تنبهم له او لتکاسلهم عنه فغلبتموهم من حیث العلم بطریق العبادة والثانی منتف فتعین الاول وهو کونه بدعة ظلماء " (مجالس الابرار ص ۱۲۵ مجلس ۱۸ فی احکام البدعة) .

زه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یم په هغه ذات می دی قسم وي چی د هغه نه علاوه بل معبود برحق نشته بیشکه یا خو تاسو نهایت تورتم بدعت کی اخته شوي یئ او یا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم په علم کی زیات شوي یئ ، یعنی دا کوم څه چی تاسو کوئ یا خو تورتم بدعت دی او یا تاسو هغه خبره معلومه کړی ده کومه چی صحابه کرامو رضی الله عنهم ته معلومه نه وه د بی خبری په وجه او یا د سستی په وجه نو تاسو د عبادت د طریقی په علم کی له اصحابو نه غالب شوئ ، دویم صورت خو امکان نلري نو اولنی صورت یعنی ناکاره بدعت کیدل متعین شو .

لږ غور وکړئ په تسبیحاتو باندی څوک اعتراض کولی شي مګر چونکی د لوستلو طریقه او د دی التزام د سنت سره موافق ندی پدی وجه جلیل القدر صحابي حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د دی د بدعت کیدو فتوی ورکړه .

او په مجالس الابرار کی دي :

(۶) " وقال صاحب مجمع البحرین فی شرحه ان رجلاً یوم العید فی الجبانة اراد ان یصلی قبل صلواة العید فنهاه علی رضی الله عنه فقال الرجل یاامیر المؤمنین انی اعلم ان الله تعالی لایعذب علی الصلواة فقال علی رضی الله عنه وانی اعلم ان الله

تعالی لایثیب علی فعل حتی یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم او یحث علیه فیکون صلوتك عبثا والعبث حرام فلعله تعالی یعذبك به بمخالفتك لنبیه (صلی الله علیه وسلم) "

(مجالس الابرار م ۱۸ ص ۱۲۹)

ترجمه : امیرالمؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه د اختر لمانځه نه مخکی عیدګاه کی یو سړی د نفل لمونځ کولو نه منع کړ هغه وویل ای امیر المؤمنین زما امید دی چی الله تعالی راته په لمونځ کولو عذاب نه راکوي ، حضرت علي رضی الله عنه ورته وفرمایل : زه یقین لرم چی کوم کار رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی کړی او یا د کولو ترغیب ندی ورکړی په هغه باندی الله تعالی ثواب نه ورکوي او په کوم شي چی الله تعالی ثواب نه ورکوي هغه عبث دی او عبث کار بیکار او بی فائدی دی نو ویره ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقی نه مخالف کیدو په وجه درته الله تعالی عذاب درکړي .

(۷) یو سړي به د مازیګر لمانځه نه وروسته دوه رکعته نفل کول چالدینه منع کړ هغه بیا د حضرت سعید ابن المسیب رحمه الله نه تپوس وکړ : یا ابا محمد ایعذبنی الله علی الصلواة ؟ ای ابومحمده ! ایا الله تعالی ماته په لمانځه باندی عذاب راکوي ؟ هغه وفرمایل : " لکن یعذبك لخلاف السنة " (عبادت د سزا و عتاب موجب ندی) لیکن الله تعالی به درته د سنتو په مخالفت باندی عذاب درکوي .

(مسند دارمي)

فکر وکړئ ! لمونځ افضل ترین عبادت دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو مبارکو یخوالی دی د الله تعالی د نزدیکت ذریعه دی مګر د اختر لمانځه نه مخکی او د مازیګر لمانځه نه وروسته لمونځ کول چونکی د سنت خلاف دي پدی وجه موجب د عتاب دي .

(۸) په مکه معظمه کی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته د اذان نه وروسته د مؤذن د لمانځه د تیاری د اعلان خبر ورکړی شو نو هغه یی منع کړ او وی فرمایل : " الیس فی اذانك مایکفینا ؟ " ایا ستا په آذان کی " حی علی الصلواة " مونږ ته کافي ندی ؟

په کفایه شرح هدایه کې دي : " لما روی ان عمر رضی الله عنه اتاه مؤذن مكة يؤذنه بالصلواة فانتهوه وقال اليس فی اذانك ما يكفينا ؟ "
(کفایه ۲۱۵/۱ باب الآذان)

(۹) حضرت علي رضی الله عنه د ماسخوتن اذان نه وروسته مؤذن په تثویب کولو ولید نوخفه کیدو سره وفرمایل : دا بدعتي له جومات نه وباسئ : " ان علياً رأى مؤذناً يثوب للعشاء فقال اخرجوا هذا المبتدع من المسجد " (بحر الرائق ج ۱ ص ۲٦۱ باب الآذان تحت قوله يثوب ، اقامة الحجة ص ۷) .

(۱۰) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه د ماسپښین اذان نه وروسته مؤذن په تثویب کولو ولید نو بې حده غصه شو او خپل شاګرد حضرت مجاهد ته یې وفرمایل :
د دی بدعتي له خوا نه مونږه بوځه (پدې چې دی آخره عمر کې نابینا شوی وُ) او بیا یې جومات نه ووت او هلته یې لمونځ ونه کړ : " وروی عن مجاهد قال دخلت مع عبد الله بن عمر مسجداً وقد اذن فيه ونحن نريد ان نصلی فيه فثوّب المؤذن فخرج عبد الله بن عمر وقال اخرج بنا من عند هذا المبتدع ولم يصلی فيه "
(ابوداؤد ج ۱ ص ۸٦ باب فی التثویب ، ترمذی باب ماجاء فی التثویب فی الفجر ج ۱ ص ۲۸ ، الاعتصام ج ۱ ص ۳۳٤ ، واللفظ ترمذی) .

(۱۱) حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه یو سړی په دعاء کې له سینې پورته لاس اوچتولو کې ولید نو د بدعت فتوی یې پری وکړه او په دلیل کې یې دا وفرمایل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (د کوم خاص موقع نه علاوه) د سینې نه پورته لاس اوچتولو کې ندی لیدل شوی ، " عن ابن عمر رضی الله عنهما انه يقول ان رفعكم ايديكم بدعة مازاد رسول الله صلی الله عليه وسلم علی هذا يعنی الی الصدر "
(رواه احمد) (مشکواة ص ۱۹٦ کتاب الدعوات الفصل الثالث) .

(۱۲) حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه یو سړی د سلام ګرځولو نه مخکې په دعاء کې لاس اوچتولو کې ولید نو وی فرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم به د لمانځه نه فارغیدو څخه مخکې په دعاء کې لاسونه نه اوچتول .

(اعلاء السنن ص ۲۰۲ دریمه حصه).

(۱۳) امام نافع فرمائي چی د عبد الله بن عمر رضی الله عنه په خوا کی یو سړي پرنجـي وکړ هغه " الحمد لله والسلام على رسول الله " یعنـی " والسلام على رسـول الله " یی زیات کړ ، دا اګر که د معنی په لحاظ بالکل صحیح دی مګر پـدی موقـع رسـول الله صلی الله علیه وسلم ددی د ویلو تعلیم ندی ورکړی پدی وجه حضرت ابـن عمـر رضـی الله عنه پدی باندی خفه شو او وی فرمایل چی رسول الله صلی الله علیـه وسـلم د دی تعلیم ندی ورکړی پدی موقع د رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم تعلـیم دا دی چـی " الحمد لله على كل حال " ووائي.

" عن نافع ان رجلاً عطس الى جنب ابن عمر رضى الله عنهما فقـــال الحمـــد لله والسلام على رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام على رسول الله وليس هكذا علمنا رسول الله صلى الله عليه وسلم علمنا ان نقـــول الحمـد لله على كال حال"رواه ترمذى(مشكواة شريف ص ٤٠٦ باب العطاس والتثاؤب) .

(۱۴) حضرت سعد بن مالک رضی الله عنه یو حاجي نه په تلبیـه کـی لبیك ذا المعـــارج واورید نو وی فرمایل : مونږه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک دور کی دا لفظ نـه ویلـو ، " ان سعد بن مالك سمع رجلاً يقول لبيك ذا المعارج فقال ماكنا نقـــول على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم " (تلبيس ابليس ص ۱۷) .

(۱۵) حضر ت عماره بن رویبه رضی الله عنه بشر بن مروان په خطبه کی د دعاء په وخت دواړه لاسونه اوچتولو کی ولید نو وی فرمایـل : " قبح الله هاتين اليدين القصيرتين لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم ومايزيد على ان يقول هكذا واشار مســـلم بالسبابه " (ترمذى باب ما جاء فى كراهية رفع الايدى على المنبر ۶۸/۱) .

یعنی الله تعالی دی دا دواړوه واړه لاسونه خراب (برباد) کړي ما رسـول الله صـلی الله علیه وسلم په خطبه کی دا قسم لاسونه اوچتولو کی ندی لیدلی .

وګورئ ! په دعاء کی لاس اوچتول د دعاء د آدابو څخه دي مګر چونکې په خطبه کـې د دعا په وخت لاس اوچتول د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي پدی وجـه حضرت عماره رضی الله عنه پری سخت رد او انکار وکړ .

(١٦) حضرت کعب بن عجره رضی الله عنه عبد الرحمن بن ام حکم د سنت پـه خـلاف په ناسته باندی خطبه ویلو کی ولید نو پـه غصـه کیـدو سـره یی وفرمایـل : " وګـورئ دا خبیث په ناسته خطبه وائي " ، " عن ابی عبیدة عن کعب بن عجرة قال دخل المسجد وعبد الرحمن بن ام حکم یخطب قاعداً فقال انظروا الی هذا الخبیث یخطب قاعداً " (مسلم ج ١ ص ١٨٤ کتاب الجمعة) .

فکر وکړئ ! په ناسته خطبه ویل د سنت خـلاف ده ، صـحابه کـرام رضـی الله عـنهم پـه سنت باندی دومره مین وو کله به چی د سنت په خلاف کوم کـار ولیـد نـو فـوراً بـه یی ورباندی رد کولو ، حال دا چی دلته دا امکان هم وُ چی د کوم عذر په وجـه پـه ناسـته خطبه کولو .

(١٧) حضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ته چا د سنت ګیري دعـوت ورکـړ خـو ده رضی الله عنه قبول نه کړ او وی فرمایل : د رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم مبـارک دور کی مونږه د سنت ګیري دعوت ته نه تللو او نه به چا د دی دعوت ورکولو .

(مسند امام احمد ج ۴ ص ۲۱۷)

(١٨) حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه او حضرت معاویـه رضـی الله عنـه د خانـه کعبی طواف کولو نو حضرت معاویه رضی الله عنه دخانه کعبی ټول کنجونه ښکـل کـړل ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : رسول الله صلی الله علیه وسلم بـه د حجـر اسود او رکن یماني نه علاوه کوم بل کنج نه ښکلولو حضرت امیر معاویه رضـی الله عنـه وفرمایل : د دی مقدس کور هیڅ یو ځای داسی نشته چی پریښودل شـي (یعنـی ښکـل نه کړی شي) حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایـل : " لقد کان لکم فی رسـول الله اسوةٌ حسنةٌ " (تاسو لپاره د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ذات بهترینـه نمونـه ده) اګرکه د خانه کعبی هره ذره متبرک ده مګر مونږ ته هغه کار کول پکار دي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دی ، حضرت امیر معاویه وفرمایل : ستاسو خبـره صحیح ده .

(مسند امام احمد)

وګورئ ! د بیت الله هر ذره یقیناً متبرک ده ټولو کنجونو ښکلول د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي پدې وجه حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا خوښ نه کړ او فوراً یی تنبیه پری وکړ .

(۱۹) حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه خلیفه مروان بن حکم د اختر لمانځه نه مخکی په خطبه ویلو ولید نو منع یی وکړه او وی فرمایل : دا د سنت نه خلاف دي .
(اقامة الحجة ص ۵)

سلف صالحینو د بدعت نه سخت نفرت کولو د دی نمونه وګورئ

" حکی ابن وضاح قال ثوّب المؤذن بالمدینة فی زمان مالك فقال : ماهذا الفعل الذی تفعل ؟ فقال اردت ان یعرف الناس طلوع الفجر فیقوموا فقال له مالك لاتفعل . لا تحدث فی بلدنا شیئاً لم یکن فیه قد کان رسول الله صلی الله علیه وسلم بهذا البلد عشر سنین وابوبکر و عمر وعثمان فلم یفعلوا هذا فلا تحدث فی بلدنا ما لم یکن فیه فکف المؤذن عن ذلك واقام زماناً ثم انه تنحنح فی المنارة عند طلوع الفجر فقال له ، الم انهك ان لاتحدث عندنا مالم یکن فقال انما نهیتنی عن التثویب فقال له لا تفعل فکف زماناً ثم جعل یضرب الابواب ، فارسل الیه مالك فقال : ما هذا الذی تفعل ؟ فقال : اردت ان یعرف الناس طلوع الفجر فقال له مالك لا تفعل لاتحدث فی بلدنا ما لم یکن فیه " .

ترجمه : د حضرت ابن وضاح بیان دی چی د مدینی منوری مؤذن د امام مالک رحمه الله په زمانه کی د صبح صادق په وخت کی خلکو ته آوازونه کول ، امام مالک صاحب هغه راوغوښت او تپوس یی وزنه وکړ چی دا څه کوی ؟ ځواب یی ورکړ خلکو ته د صبح صادق خبر ورکولو لپاره دا کار کوم تر څو خلک راپاځي ، امام مالک ورته وفرمایل : داسی مه کوه خمونږ پدی ښار کی داسی خبره مه پیدا کوه چی پدی کی نشته ، رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی ښار کی لس کاله پاتی شوی او حضرت ابوبکر ، عمر او عثمان رض الله عنهم هم (دلته پاتی شوي دي) دوی دا کار ندی کړی نو ته

هم داسی څیز مه پیدا کوه چی تر اوسه پوری دلته ندی شوی نو هغه مؤذن منع شو بیا څو ورځی وروسته مؤذن صبح صادق وخت کی مناره باندی غاړه تازه کول او ټوخي شروع کړ نو امام مالک ورته وفرمایل : ایا ما ته د نوي شي له پیدا کولو نه منع کړی نه وی ؟ (بیا دی ولی دا نوی کار شروع کړ) هغه ځواب ورکړ تا خو د تثویب (یعنی د اذان نه وروسته خلکو ته د لمانځه لپاره آواز کولو) نه منع کړی وم ، امام مالک رحمه الله ورته وفرمایل : دا کار هم مه کوه بیا څه وخت لپاره هغه بند شو او بیا وروسته یی د خلکو د دروازو ډبول شروع کړل نو امام مالک ورپسی یو سړی ولیږلو او تپوس یی ورنه وکړ چی دا بیا دی څه شروع کړ ي؟ نو هغه ځواب ورکړ (زه خو نه تثویب کوم او نه ټوخي او غاړه تازه کوم د کوم څخه چی تا منع کړی وم اوس خو زه) خلکوته د صبح صادق خبر ورکولو لپاره دروازې ډبوم ، او هغه یی لدینه هم منع کړ او وی فرمایل: کوم کار چی پدی ښار کی ندی شوی نو هغه پکی مه جاري کوه .
(الاعتصام د امام شاطبي ۲۲۲/۲ ، ۲۲۳)

حضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله خپل مشهور کتاب " غنية الطالبين " کی د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه یو روایت نقل کړی دی :

" عن عكرمة عن ابن عباس رضی الله عنه قال لايأتی على الناس زمان الا اماتوا فيه سنةً واحيوا بدعة " . (غنية الطالبين ص ۵۸ الفصل الثانى فى بيان الفرق الضالة) .

یعنی : خلکو باندی به داسی زمانه راځي چی سنت به ختموي او بدعت به ژوندی کوي .

دا هماغه زمانه ده قسماقسم بدعتونه راپیدا کړی شوي دي مثلاً قبرونو نه طوافونه او سجدې ، د بزرګانو په مزارونو صندل ، عرس ، قوالي ، د ګلونو څادرې او دناریل شاخونه . د دوی په نوم نذر و نیاز ، مزارونو ته د ښځو بی پردی ورتلل ، مزارونو باندی ډول او باجی غږول وغیره وغیره د غم او ښادی سلګونه بدعتونه ، الله تعالی دی مسلمانانو ته لدی بدعتونو څخه د بچ کیدو توفیق ورکړي ، آمین .

جلیل القدر صحابي حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي :

" اتبعوا آثارنا ولا تبتدعوا فقد كفيتم " (كتاب الاعتصام ج ۱ ص ۵۴) .

یعنی تاسو زمونږ په نقش قدم باندی روان شئ او بدعتونه مه پیدا کوئ نــو تاســو لپاره زمــونږه اتباع (پــیروي) کافي دی .

مشهور صحابي حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائي :

" کل عبادة لم یتعبدها اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فلاتعبدوها " .

(کتاب الاعتصام ج ۲ ص ۳۱۰) .

یعنی هغه عبادت چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم نــه وي کړی هغه تاسو هم مه کوئ .

پدی بناء حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکي :

" واما اهل السنة والجماعة فیقولون کل فعل وقول لم یثبت عن الصحابة فهو بدعة لانه لو کان خیراً لسبقونا الیه لانهم لم یترکوا خصلةً من خصال الخــیر الا وقــد بادرو الیها "

(په حواله د المنهاج الواضح ص ٦٦)

یعنی : اهل سنت والجماعت وائي : کوم قول او فعل چی د رسول الله صــلی الله علیــه وسلم له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت نه وي هغه بــدعت دی ځکــه کــه چیرتــه پدی کار کی څه خیر وای نو دا به صحابه کرامو رضی الله عنهم مونږ نه وړانــدی ضــرور کړی وای ځکه چی دوی هیڅ یو د خیر کار بغیر د عمل کولو نه ندی پریښی بلکــی پــه هر کار کی یی وړاندی والی کړی دی .

حضرت ابو العالیه تابعي رحمه الله فرمائي :

" علیکم بالامر الاول الذی کانوا علیه قبل ان یفترقوا قال عاصم فحــدثت بــه الحسن فقال قد نصحك والله وصدقك " (تلبیس ابلیس ص ۸) .

ترجمه : تاسو باندی واجب دي چی هغه اولنی طریقه غوره کړئ په کومــه طریقــه چــی مؤمنان د توپی کیدو نه مخکی متفــق وو ، عاصــم وائــي مــا د ابوالعالیــه دا قــول حســن بصري رحمه الله ته بیان کړ نو وی فرمایل قسم دی چی ابوالعالیه درته ریښتیا ویلــي دي او تا ته یی دخیر خواهی نصیحت کړی دی .

حضرت علامه ابن الحاج رحمه الله فرمايي : " نحن متبعون لامبتدعون فحيث وقف سلفنا وقفنا " يعني مونږ دخپلو سلفو (صحابه رضي الله عنهم ، تابعين او تبع تابعين رحمهم الله) اتباع او پيروي کونکي يو بدعتيان نه يو ، کوم ځای چې دغه حضرات ودريدلي دي هلته مونږ هم ودريږو (د خپل طرف نه هيڅ شی نه زياتوو) .
(طحطاوي على مراقى الفلاح ص ۳۵۴)

حضرت امام اوزاعي رحمه الله فرمائي :
" اصبر نفسك على السنة وقف حيث وقف القوم وقل بما قالوا وكف عما كفوا عنه واسلك سبيل سلفك الصالحين فانه سعيك ماوسعهم "(تلبيس ابليس ص ۹).

ترجمه : د سنت په طريقه باندی ځان کلک کړئ او کوم ځای چې صحابه کرام رضی الله عنهم ودريدلي هلته تاسو هم ودريږئ ، او دوی چې کومه خبره کړی هغه تاسو هم کوئ او د کومی خبری بيانولو نه چې دوی ايسار شوي وي تاسو هم ايسار شئ (خپل عقل مه چلوئ) د خپلو سلفو صالحينو په طريقه روان شئ .

امام غزالي رحمه الله خپل يو خصوصي شاګرد ته ليکي :
" خلاصه دا چې تاته پوهيدل پکار دي چې طاعت او عبادت څه شی دی ؟ واوره ! د جناب شارع عليه السلام د پيروي او فرمانبرداري نوم عبادت دی هم قولاً او هم عملاً ، هم په امر کی او هم په نهي کی ، که چيرته د شارع عليه السلام د حکم نه بغير کوم کار وکړی اګر که د عبادت په شکل کی وي هغه عبادت ندی بلکی ګناه ده ، وګوره لمونځ خومره اوچت عبادت دی مګر په مکروه وختونو کی او يا غصب شوی ځمکه باندی کول ګناه دی همداشان روژه پخپل ذات کی بهترين عبادت دی مګر د اخترونو او تشريق په ورځو کی د دی ساتل ګناه ده ځکه چې د شارع عليه السلام د حکم نه خلاف دی او لهو لعب ښه کار ندی مګر خپلی ښځی سره کول باعث د اجر دی ځکه چې د شارع عليه السلام په حکم دی نو معلومه شوه چې دعبادت حقيقت فرمانبرداري دی نه محض لمونځ ، روژه ځکه لمونځ او روژه هم هغه وخت عبادت ګڼلی شي چې دشارع عليه السلام د حکم مطابق وي نو بچيه ستا احوال او اقوال د شريعت مطابق کيدل پکار دي ځکه چې هر يو علم و عمل د شارع عليه السلام د اجازی نه بغير سراسر ګمراهي او د الله تعالى نه د لری والي سبب دی " .
(د شاګرد په نوم د امام غزالي خط صفحه ۸۰۷ مترجم)

خواجه معصوم سرهندي رحمه الله یو مکتوب کی لیکي
" د دوارو جهانو سعادت د سرور کونین صلی الله علیه وسلم اتباع باندی موقوف دی ، نجات او جنت ته داخلیدل د سید الابرار قدوة الانبیاء صلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروي باندی موقوف دی . همداشان د الله تعالی رضامندي د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم پیروي سره تړل شوي دي ، توبه ، زهد و تقوی ، توکل و تبتل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقو نه بغیر مقبول ندی او ذکر و فکر ، ذوق و شوق د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقو نه بغیر قابل اعتبار ندی " .
(مکتوب نمبر ۱۰ د خواجه دینار په نوم)
او یو بل مکتوب کی لیکي : د نبوي صلی الله علیه وسلم سنت نه رڼا نه بغیر صراط مستقیم مشکل دی او د نبوت لاری اختیارولو نه بغیر نجات تش یو خیال دی .
(۲۲ نمبر مکتوب د محمد حنیف په نوم)
شیخ سعدي رحمه الله همدا مضمون په اشعارو کی بیان کړی :

به زهد و ورع کوش و صدق و صفا
و لیکن میفزائی بر مصطفی

یعنی : په پرهیزګاری ، زهد و صداقت او صفائی کی کوشش وکړه لیکن د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مه وړاندی کیږه یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم چی څنګه او څومره کړی همغه شان ته هم کوه د خپل طرف نه د سر وینښته برابر هم زیادت مه کوه .

خلاف پیمبر کی ره ګزید
که هرګز بمنزل نخواهد رسید

یعنی څوک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خلاف لاره اختیار کړي هغه چیری هم منزل مقصود ته نه رسي .

مپندار سعدی که راه صفا
توان یافت جز بر پئ مصطفی

سعدیه ! داسی ګمان چیری ونه کړی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیروي نه بغیر صراط مستقیم به ومومی .

ترسم نه رسی به کعبه ای اعرابی
کین ره که تو می روی بترکستان است

ای باندچیه ! زه ویریږم چې کعبې ته به ونه رسې ، ځکه په کومه لاره چې روان یې د ترکستان ده

د عمل قبلیدو لپاره دوه شرطونه دي یو دا چې په اخلاص سره وي او دویم دا چې هغه عمل د سنت مطابق وي ، د الله تعالی ارشاد دی :

" ومن احسن دینا ممن اسلم وجهه لله وهو محسن " یعنی د هغه سړي نه بهتره طریقه د هیچا نشي کیدی چې په هغه کې دوه خبرې موجودې وي یو " اسلم وجهه لله " چې خپل ذات الله ته وسپاري یعنی ریاکاري او دنیاسازي لپاره نه بلکې په اخلاص سره د الله تعالی راضي کولو لپاره عمل وکړي ، او دویم " وهو محسن " یعنی هغه عمل هم په صحیح طریقې سره وکړي ، امام ابن کثیر خپل تفسیر کې فرمائي : په صحیح طریقه باندی د عمل کولو مطلب دا دی چې د دی عمل محض خود ساخته طرز نه وي بلکې د شریعت مطهره ښودلې شوې طریقه باندی وي د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعظیم مطابق وي .

(په حواله د معارف القرآن د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع ۲/ ۵۵۵ سورت نساء)

او د " لیبلوکم ایکم احسن عملاً " آیت کریمه په تفسیر کې امام رازي رحمه الله فرمائي : " ذکروا في تفسیر احسن عملاً وجوهاً (احدها) ان یکون اخلص الاعمال واصوبها لان العمل اذا کان خالصاً غیر صواب لم یقبل وکذلك اذا کان صواباً غیر خالص فالخالص ان یکون لوجه الله والصواب ان یکون علی السنة " .

یعنی : " احسن عملاً " نه مراد مقبول عمل دی او مقبول عمل هغه دی چې خالص وي او هم صواب وي ، که چیرته یو عمل خالص وي مګر صواب نه وي هغه مقبول ندی او همداشان که صواب وي مګر خالص نه وي هغه هم مقبول ندی ، عمل خالص هغه دی چې صرف د الله تعالی د خوشحالولو لپاره وکړی شي او صواب هغه دی چې د سنت مطابق وي (تفسیر کبیر ج ۸ ص ۲۴۳ سورت ملک) (رساله العبودیه (۲۰ ، ۲۱) صفحې) .

حضرت سفیان ثوري رحمه الله فرمائي :

"لایستقیم قول و عمل و نیة الا بموافقة السنة " یعنی هیڅ یو قول و عمل او نیت تر هغې پورې مقبول ندی څو پورې چې د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د سنتو موافق نه وي
(تلبیس ابلیس (۹) صفحه)
حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي :
"لایقبل قول بلا عمل ولا عمل بلا اخلاص واصابة السنة " (فتح الربانی ۱٤/۱ مجلس نمبر ۲) .
یعنی هیڅ یو قول بغیر د عمل نه مقبول ندي او هیڅ یو عمل تر هغې پورې مقبول ندی څو پورې چې هغه کی اخلاص نه وي او د سنت موافق نه وي .
حضرت احمد ابی الحواري فرمائي : " من عمل بلا اتباع سنة فباطل عمله " یعنی هر یو عمل چې د سنت د اتباع نه بغیر وکړی شي هغه باطل دی (کتاب الاعتصام ۱۱۲/۱) د الله تعالی ارشاد دی : " قل ان کنتم تحبون الله فاتبعونی یحببکم الله ویغفرلکم ذنوبکم " ترجمه : ته صلی الله علیه وسلم ووایه ! که چیرته ستاسو الله تعالی سره محبت وي نو بیا څما تابعداري وکړئ نو الله تعالی به تاسو سره محبت وکړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي او الله تعالی ډیر لوی بخښونکی او مهربان ذات دی .
(سورت آل عمران)
لدی آیت کریم نه دا ثابتیږي چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سنت او د ده صلی الله علیه وسلم په مبارکو طریقو باندی عمل کولو سره انسان د الله تعالی محبوب جوړیږي او الله تعالی د ده ګناهونه معاف کوي ، لدینه لوی نعمت به څه وي ؟ پدی وجه سعادتمندي همدا ده چې انسان له بدعتونو څخه اجتناب او د سنتو پیروي وکړي.

د سنت او د شریعت د پیروی متعلق د شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله هدایات :

(۱) " اساس الخیر متابعة النبي صلی الله علیه وسلم فی قوله وفعله " یعنی د ټولو نیکیو جرړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي ده هم په قول کی او هم په فعل کی .

(الفتح الرباني ص ۴۳۸ مجلس نمبر ۵۹)

(۲) " اتبعوا ولاتبتدعوا " یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم برحق پیروي وکړئ او په دین کی بدعتونه مه پیدا کوئ (فتوح الغیب ص ۱۰ مقاله ۲) .

(۳) " لاتصح متابعتك للرسول صلی الله علیه وسلم حتی تعمل بما قال " یعنی تر هغی پوری ستا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي صحیح ندی څو پوری چی د ده صلی الله علیه وسلم په شریعت باندی عمل ونکړی د کوم چی تا ته حکم درکړی دی .

(الفتح الرباني ص ۲۲ مجلس ۲)

(۴) " علیکم بالاتباع من غیر ابتداع علیکم بمذهب السلف الصالح ، امشوا فی الجادة المستقیمة لاتشبیه ولا تعطیل ، بل اتباع لسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم من غیر تکلف ولا تصنع ولاتشدد ولا تمشدق ولاتمعقل " (الفتح الربانی ص ۶۰ مجلس نمبر ۱۰) .

یعنی : په ځان اتباع لازم کړئ بغیر د بدعت نه ، او د سلف صالحینو مذهب په ځان لازم کړئ ، او په نیغه لاره روان شئ چی نه پکی تشبیه وي او نه تعطیل بلکی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي بغیر د تکلف او تصنع او تشدد نه او بغیر د لساني او عقلي طن او تشنیع څخه .

(۵) " ما لنا حاجة خارجة عن دائرة الشرع " یعنی کوم څیز چی د شریعت له دائری نه خارج دی موږ ته د هغه ضرورت نشته (الفتح الرباني ص ۷ مجلس نمبر ۱۱) .

(٦) تأمرهم بطاعته ، وتنهاهم عن معصيته ، تنهاهم عن الضلال والابتداع واتباع الهوى وموافقة النفس وتأمرهم باتباع كتاب الله عزوجل وسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم " (الفتح الربانی ص ٧ مجلس نمبر ١١)

ترجمه : يعنى دى خلكو ته د الله تعالى د اطاعت حكم وكړه او د ده له نافرمانى څخه منع كړه او د ګمراهى ، بدعتونو ، نفسي خواهشاتو له پيروى او د نفس له موافقت نه يې هم منع كړه او د الله تعالى د كتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو د پيروى حكم وكړه

(٧) " تادبوا بين يدى الحق عزوجل كما كان يتادب من سبقكم ، انتم مخانيث ونساء بالاضافة اليهم ، شجاعتكم عند ما تأمركم به نفوسكم واهويتكم وطباعكم ، الشجاعة فى الدين تكون فى قضاء حقوق الحق عزوجل " (الفتح الربانی ص ٩٣ مجلس نمبر ١٤) .

ترجمه : يعنى د الله تعالى په وړاندى باادب جوړ شئ لكه څنګه چې ستاسو اسلاف او مشران باادب اوسيدل تاسو د هغوى په مقابل كې ايجړاګان او ښځې يئ ، ستاسو بهادري په هغو خبرو كې دى د كومو حكم چې تاسو ته ستاسو نفس ، ستاسو خواهش او ستاسو طبيعتونه دركوي ، د دين په باره كې شجاعت او بهادري دا دى چې د الله تعالى حقوق ادا كړى شي .

(٨) " اما بقولك انا من امته من غير متابعة لا ينفعك ، اذا اتبعتموه فى اقواله وافعاله كنتم معه فى صحبته فى دار الآخرة اما سمعتم قوله عزوجل وما اتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا امتثلوا ما امركم ، وانتهوا ما نهاكم وقد قربتم من ربكم عزوجل فى الدنيا بقلوبكم وفى الآخرة بنفوسكم واجسادكم " (الفتح الربانی ص ١٧٨ مجلس نمبر ٢٥) .

ترجمه : او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اتباع نه بغير ستا دا وينا چې زه د ده صلى الله عليه وسلم امتى يم تا ته څه فايده نه دركوي كله چې تاسو د ده صلى الله عليه وسلم په اقوالو او افعالو كې تابعداري وكړئ نو په آخرت كې به مو ورسره ملګرتيا نصيب شي او تاسو د الله عزوجل ارشاد ندى اوريدلى چې : پيغمبر صلى الله عليه وسلم

درته د کوم شي حکم درکړی.هغه عملي کړئ او د کومی خبری نه مو چی منع کړي د هغه نه منع شی ، یقینا دنیا کی حق تعالی ته نزدی شئ د زړونو په اعتبار سره او آخرت کی به ورته نزدی شئ د بدنونو او نفسونو په اعتبار سره .

(۹) " لیس الشرك عبادة الاصنام فحسب بل هو متابعتك هواك " (فتوح الغیب ص ۲۱ مقاله ۷) ترجمه شرک یواځی بت پرستي نه دی بلکی دا هم شرک دی چی ته د خپلو خواهشاتو پیروي وکړی .

(۱۰) " فتبین طریق المحبة اتباعه صلی الله علیه وسلم قولاً وفعلاً " (فتوح الغیب ص ۱۰۱ مقاله ۳٦) ترجمه : معلومه شوه چی د محبت طریقه په قول او فعل کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي ده ، تلك عشرة كاملة .

عربي شاعر ډیر ښه ویلي دي : ع

تعصی الرسول وانت تطهر حبه
هذا لعمری فی الفعال بدیع
لو کان حبك صادقا لأطعته
ان المحب لمن یحب مطیع

یعنی : ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت دعوه کوی او ورسره د ده صلی الله علیه وسلم نافرماني هم کوی او خومره د تعجب خبره ده که چیرته په واقعاً ستا په زړه کی د ده صلی الله علیه وسلم محبت وای او د خپل محبت دعوه کی رشتونی وای نو هیڅکله به دی د ده صلی الله علیه وسلم د حکم نافرماني نه کولو ځکه چی محبت کونکی د خپل محبوب د هر فعل مکمل اطاعت او تابعداري کوي .

لنډه دا چی دسنت په خلاف بدعت دیني کار ګڼل او د سنت پشان کلک نیول په دین کی کمي زیاتي او سخت ناجائز او لویه ګناه او خطرناک کار دی .

چا چی په دین کی نوی خبره پیدا کړه او هغه یی نیک عمل وګڼلو نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم د الهي احکامو په تبلیغ (نعوذ بالله) خائن او کوتاهي کونکی وګرځولو ، ځکه چی د الله تعالی ارشاد دی : " الیوم اکملت لکم دینکم " یعنی نن

ما ستاسو دین تاسو لپاره مکمل کړ ، لهذا کوم کار چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کې دین کې شامل نه و نن هم هغه په دین کې شامليدی نشي .
(کتاب الاعتصام ج ۱ ص ۲۸)

حضرت فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائي : " من احب صاحب بدعة احبط الله عمله واخرج نور الاسلام من قلبه " یعنی خوک چې د بدعتي سره محبت کوي الله تعالی د هغه نیک عملونه بربادوي او د زړه نه یې داسلام نور وباسي .
(غنیة الطالبین ج ۱ ص ۵۵ عربي)

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمائي : " وترویج بدعت موجب تخریب دین است وتعظیم مبتدع باعث هدم اسلام _ الی قوله _ بدعت را در رنگ کلنگ می داند که هدم بنیاد اسلام می نماید و سنت را در رنگ کوکب درخشان می نماید که درشب جور ضلالت هدایت می فرماید " (مکتوبات امام رباني ۳۸/۲ فارسي) .

ترجمه : د بدعت جاري کول د دین د بربادی سبب دی او د بدعتي تعظیم کول د اسلام د نړولو باعث دي _ الی قوله _ زه بدعت د یو کلنګ (کوداله) پشان ګڼم کوم چې د اسلام بنیاد نړوي او سنت راته د ځلیدونکو ستورو غوندی ښکاري کوم چې دګمراهی توره شپه کې هدایت او لارښونه کوي .
(ترجمه مکتوبات امام رباني ۶۳/۲ مکتوب نمبر ۲۳)

او یو بل مکتوب کې لیکي : " وعمل بدعت از دیار آن ظلمت می نماید وتقلیل نور سنت می سازد درعمل سنت باعث تقلیل آن ظلمت است و تکثیر آن نور : " فمن شاء فلیکثر ظلمة البدعة ومن شاء فلیکثر نور السنة ومن شاء فلیکثر حزب الشیطان ومن شاء فلیکثر حزب الله الا ان حزب الشیطان هم الخاسرون الا ان حزب الله هم المفلحون "

(مکتوبات امام رباني ۴۹/۲ مکتوب نمبر ۲۳ فارسي)

ترجمه : په بدعت باندی عمل کولو سره تیاره نور هم زیاتیږي ، او په سنت باندی عمل کولو تیاره کمیږي ، اوس اختیار دی که څوک غواړي د بدعتونو تیاره دی زیاته کړي او که څوک وغواړي د سنت رڼا دی نور هم زیاته کړي او که څوک غواړي د شیطان ډله

دی زیاته کړي او که څوک وغواړي د الله تعالی ډله دی زیاته کړي خو د شیطان ډله ناکامه ده او د الله تعالی ډله کامیابه ده

(مکتوبات امام رباني ۶۴/۲ مکتوب نمبر ۲۴)

یو بل مکتوب کی لیکي : " النصیحة هی الدین ومتابعة سیدالمرسلین علیه الصلواة والسلام واتیان السنة السنیة والاجتناب عن البدعة اللامرضیة وان کانت البدعة تری مثل فلق الصبح لانه فی الحقیقة لانور فیها ولا ضیاء ولا للعلیل منها شفاء ولا للداء منها دواء کیف والبدعة اما رافعة للسنة او ساکتة عنها والساکتة اما لا بد وان تکون زائدة علی السنة فتکون ناسخة لها فی الحقیقة ایضاً لان الزیادة علی النص نسخ له فالبدعة کیف کانت تکون رافعة للسنة نقیضةً لها فلا خیر فیها ولاحسن فیها " .

(مکتوبات امام رباني ج ۲ ص ۳۱ مکتوب نمبر ۱۹ فارسي)

ترجمه : د ټولو نه بهترین نصیحت دا دی چی د سیدالمرسلین دین او متابعت اختیار کړي او مبارک سنت عملي کړي او د ناکاره بدعاتو نه ځان وساتي ، اګرکه بدعت په ظاهر کی دسحر رڼا پشان سپین ښکاري لیکن په حقیقت کی هیڅ نور او رڼا پدیکی نشته او نه پدیکی د کوم بیمار دواء او نه شفاء شته ځکه چی بدعت له دوه حالتونو څخه خالي ندی : یا خو به سنت منسوخ کونکی وي او یا به لدینه ساکت وي او د ساکت کیدو په صورت کی به په سنت باندی زائد ضرور وي او دا هم په حقیقت کی د سنت منسوخ کونکی دی ځکه چی په نص باندی زیادت د نص ناسخ وي نو معلومه شوه چی بدعت که هر قسم وي د سنت ضد اوختمونکی دی او پدی کی هیڅ قسم خیر او خوبي نشته .

(مکتوبات امام رباني ترجمه ج ۲ ص ۵۲ ، ۵۳ مکتوب نمبر ۱۹)

او هدایت فرمائي : " از حضرت حق سبحانه وتعالی بتضرع وزاری والتجا افتقار و ذل و انکسار در سر و جهار مسالت می نماید که هر چه در دین محدث شده است ومبدعه گشته که درزمانه خیر البشر و خلفاء راشدین او نبوده علیه وعلیهم الصلوات والتسلیمات اگر چه آن چیز در روشنی مثل فلق صبح بوداین ضعیف راجمع که باو مستند اند گرفتار عمل محدث مگر دانا و مفتون حسن آن مبتدع مکند بحرمت سید المختار وآله الابرار

علیه وعلیهم الصلوات والتسلیمات گفته اند که بدعت برد و نوع است حسنه و سیئه ، حسنه آن عمل نیک راگویند که بعداز زمان آنحضور علیه السلام وخلفاء راشدین رضی الله عنهم اتسیا و من التحیات اکملها پیدا شده باشد ورفع سنت نه نماید و سیئه آن که رافع سنت باشد این فقیر در هیچ بدعتی ازین بدعتها حسن و نورانیت مشاهده نمی کند و جز ظلمت و کدورت احساس نمی نماید اگر فرضا عمل مبتدع را امروز بواسطه ضعف بصارت بطرادت ونضارت ببیند فردا که حدید البصر کردن دانند که جز خسارت وندامت نتیجه نداشت "

(مکتوبات امام رباني ج ۱ ص ۱۸٦ مکتوب نمبر ۱۸٦)

ترجمه : په عاجزی او زاري ، التجاء و محتاجی او ذلت و خواری سره په بنکاره او په پټه د الله تعالی په دربار کی سوال کوئ چی پدی دین کی کوم محدث او مبتدع پیدا شوی کوم چی د خیر البشر صلی الله علیه وسلم او د ده صلی الله علیه وسلم د خلفاء راشدینو په زمانه کی نه وو اگر که په رنړائي کی د سحر د سپین والي پشان دي دا ضعیف او ناتوان د دغو خلکو د بدعت عمل کی گرفتار نه کړی او د دی مبتدع په حسن باندی دوکه نه کړي بحرمت سید المختار وآله الابرار علیهم الصلوات والتسلیمات ځینی علماؤ ویلي دي چی بدعت په دوه قسمه دی : حسنه او سیئه ، حسنه هغه نیک عمل ته ویل کیږي چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو نه وروسته پیدا شوی وي خو هغه سنت نه ختموي او سیئه هغه بدعت ته ویل کیږي چی سنت ختموي ،دا فقیر لدی بدعتونو څخه هیڅ یو بدعت کی حسن او نورانیت نه ویني بغیر د تورتم او خړوالي نه ، اگر که نن د دی بدعتي عمل د بصیرت د کمزوری په وجه تر و تازه ووینی لیکن صبا چی کله بصارت او بینائي تیز وي نو وبه گوري چی د دی نتیجه دخسران او ندامت نه غیر بل هیڅ نه و .

(ترجمه مکتوبات امام رباني ۱/۳۰۸ ، ۳۰۹ مکتوب نمبر ۱۸٦)

د کوم کار په سنت او بدعت کیدو کی چی تردد وي هغه دی پریښودی شي

لهذا سعادتمندي همدا ده ی د سنت مطابق عمل وکړی شي او له بدعتونو څخه بالکل خان وساتل شي بلکی دکوم فعل چی دسنت او بدعت کیدو کی تردد وي هغه دی هم پریښودلی شي ، د اصول فقه قاعده ده ، " وما تردد بین البدعة والسنة یترك لان

ترك البدعة لازم " یعنی د کوم کار په سنت او بدعت کیدو کی چی شک وي نو هغه دی پرینبودلی شي ځکه چی د بدعت پرینبودل لازم او ضروري دي .
(فتح القدیر ج ۱ ص ۴۵۵ باب سجود السهو)
او په بحر الرائق کی دي " ان الحکم اذا تردد بين سنة وبدعة كان ترك البدعة راجحاً على فعل السنة "(بحر الرائق ۲/۲۰ باب ما یفسد الصلواة ومایکره فیها) .
یعنی : کله چی د کوم حکم د سنت او بدعت کیدو کی تردد وي نو په سنت باندی د عمل کولو په نسبت د بدعت پرینبودل بهتر او غوره دي .
په فتاوی عالمگیري کی دي : " وما تردد بين البدعة والسنة يترك " یعنی د کوم شي په باره کی چی تردد وي چی سنت دی او که بدعت ؟ پرینبودلی شي .
(فتاوی عالمگیري ۱۷۹/۱)
په شامي کی دي : " اذا تردد الحکم بين السنة وبدعة كان ترك السنة راجحاً على فعل البدعة " یعنی کله چی کوم حکم د سنت او بدعت تر منځ متردد وي نو سنت پرینبودل په بدعت باندی له عمل کولو نه بهتر دي (شامي ۶۰۰/۱ مکروهات الصلواة) . تر دی پوری هدایت دی چی که کومه خبره زړه ته راشي او هغه ورته بنه بنکاره شي نو هغه باندی په فوراً عمل نه کوي تر څو چی د سنت سره موافق کیدل ثابت نشي ، حضرت سلیمان داراني رحمه الله فرمائي : " لاینبغی لم الهم شيئاً من الخير ان يعمل به حتى يسمع به في الاثر فيحمد الله تعالى اذا وافق السنة " .
ترجمه : د چا په زړه کی چی کوم د خیر کار الهام کړی شي نو هغه ته پکار دي چی تر هغی پوری عمل پری ونکړي تر څو چی د هغه سنت سره موافق کیدل معلوم شوي نه وي ، که په اثارو کی دهغه ثبوت پیدا شي نو د الله تعالی شکریه دی ادا کړي چی کومه خبره د ده په زړه کی راغله هغه د اثارو سره موافق شوه .
(احیاء العلوم ج ۱ ص ۸۶ مذاق العارفین ترجمه إحیاء العلوم ج ۱ ص ۹۳)

په بدعت کی سخت قباحت ولی دی ؟

پدی باره کی د مجالس الابرار د صاحب بهترین مضمون

په بدعت کی دومره قباحت او بدي ولی دی ؟ په مجالس الابرار کی د دی متعلق ډیر بهترین مضمون لیکل شوی دی چی د بدعت په قباحت باندی پوهیدو کی ډیر مدد کوي . وګورئ :

" واما ما كان المقتضى لفعله فى عهد عليه السلام موجوداً من غير وجود المانع منه ومع ذلك لم يفعله عليه السلام فاحداثه تغيير لدين الله تعاى اذ لو كان فيه مصلحة لفعله عليه السلام او حث عليه وكما لم يفعله عليه السلام ولم يحث عليه علم انه ليس فيه مصلحة بل هو بدعة قبيحة سيئة مثاله الاذان فى العيدين فانه لما احدثه بعض السلاطين انكره العلماء وحكموا بكراهته فلو لم يكن كونه بدعة دليلاً على كراهته لقيل هذا ذكر الله تعالى ودعاء الخلق الى عبادة الله نعالى فيقاس على اذان الجمعة او يدخل فى العمومات التى من جملتها قوله تعالى واذكروا الله ذكراً كثيراً وقوله تعالى ومن احسن قولاً ممن دعا الى الله لكن لم يقولوا ذلك بل قالوا كما ان فعل ما فعله عليه السلام كان سنة كذلك ترك ما تركه عليه السلام مع وجود المقتضى وعدم المانع منه كان سنة ايضاً فانه عليه السلام لما امر بالاذان فى الجمعة دون العيدين كان ترك الاذان فيهما سنة وليس لاحد ان يزيده ويقول هذا زيادة العمل الصالح لايضر زيادته اذ يقال له هكذا تغيرت اديان الرسل وتبدلت شرائعهم فان الزيادة فى الدين لوجازت لجاز ان يصلى الفجر اربع ركعات والظهر ست ركعات، ويقال هذا زيادة عمل صالح لايضر زيادته لكن ليس لاحد ان يقول ذلك لان ما يبديه المبتدع من المصلحة والفضيلة ان كان ثابتاً فى عصره عليه السلام ومع هذا لم يفعله عليه السلام فيكون تركت مثل هذا الفعل سنة متقدمة

عنی کل عموم وقیاس " (مجالس الابرار ص ۱۲۷ ، ۱۲۸ مجلس نمبر ۱۸ فی اقسام البدع واحکامها) .

ترجمه : د کوم فعل سبب او موجب چې نبوي (صلی الله علیه وسلم) دور کې موجود وي او د کولو څخه یې کوم مانع هم موجود نه وي او بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کار نه وي کړی (مثلاً په قبر باندی اذان) نو ددی کار جاري کول د دین بدلول دي ځکه که چیرته پدې کار کې څه فایده او مصلحت وای نو سرور کائنات صلی الله علیه وسلم به هغه ضرور کړی وای او یا به یې ترغیب ورکړی وای او کله چې نه یې پخپله کړی او نه یې بل ته ترغیب ورکړی نو معلومه شوه چې هغه کې هیڅ قسم خیر او فایده نشته بلکې هغه ناکاره بدعت دی ، د دی مثال په اخترونو کې اذان کول دي کله چې ځینی بادشاهانو د دی ایجاد وکړ نو علماؤ منع کړ او ناجائز یې ورته وویل . که د دی بدعت کیدل د کراهت دلیل نه وای نو بیا به دا ویل کیدل چې دا خو د الله تعالی ذکر دی او د الله تعالی عبادت لپاره د خلکو رابلل دي او (شیطان شړل دي) لهذا دا دی د جمعی په اذان قیاس کړی شي او یا دی هغه عامو احکامو لاندی داخل کړی شي چې هغو کې د الله تعالی دا فرمان هم دی چې " واذکروا الله ذکراً کثیراً " یعنی الله تعالی ډیر ډیر یادوئ ، او دا هم د الله تعالی ارشاد دی " ومن احسن قولاً ممن دعا الی الله " یعنی د هغه چانه بهتره خبره د چا ده چې الله طرف ته خلک رابلي (لیکن پدی دواړو کارو څخه یو باندی قیاس کولو سره چا هم د اختر اذان ته سنت ندي ویلي بلکې ټول علماء همدا خبره کوي چې کوم رسول الله صلی الله علیه وسلم کړي وي په هماغه طریقه د هغه کول سنت دي او همدا شان د هغه کار پریښودل هم سنت دي کوم چې د تقاضا باوجود بغیر د کوم مانع نه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وي کړی ځکه کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعی د اذان حکم کړی او په اخترونو کې حکم ندی کړی نو په اخترونو کې اذان نه کول سنت دي او هیڅوک حق نلري چې پد باندی زیادت وکړي او دا ووائي چې دا خو نیک کار زیادت دی او داسی زیادت نقصاني ندی ځکه د هغه په خواب کې دا ویل کیږي چې پدی طریقه سره خو دانبیاء کرامو علیهم السلام دین او شریعت بدل کړی شوی ، پدی وجه که په دین کې زیادت جائز وای نو دا به هم جائز وای چې د سحر لمونځ څلور رکعته وکړو او د ماسپښین شپږ رکعته او ویل کیده به چې دا د نیک کار زیادت دی او دا پروا

نه لري ليکن هيڅوک دا خبره نشي کولی ، پدی وجه بدعتي چی کوم فضيلت او مصلحت بيانوي که چيری دا مصلحت د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کی موجود وُ او باوجود د دی رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ندی کړی نو د دی کار پريښودل هم داسی سنت دي چی په هر عموم او قياس باندی مقدم دي .

په تحفهٔ علم و حکمت کی دي : " د بدعت دريم شرط د باعث باوجود نه موجوديدل دی يعنی په خير القرون (د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د مجتهدينو امامانو په دور) کی د ضرورت او باعث باوجود نه موندل کيدل دي ، څکه چی په کال کی دا دولس مياشتی هفته کی دا اوه ورځې او په ورځ کی دا (۲۴) ساعتونه هغه زمانه کی هم موجود وو مګر د دی باوجود هغوی د کوم خاص مياشت يا د خاص ورځ او يا د خاص وخت لپاره کومه خاص طريقه او يا خاص عمل مقرر کړی ندی نو دا حق مونږ ته څنګه جوړيدلی شي ؟ يا مثلاً پيدا کيدل او مړکيدل ، غم و خوشحالي ، اخترونه او جنازې او نور ټول کارونه هغه وخت کی هم موجود وو نو د دغو کارونو متعلق کوم داسی کار کول مونږ لپاره څنګه جائز او صحيح کيدی شي چی هغوی د ضرورت او باعث باوجود نه وي کړي ، څکه چی ظاهره ده چی مونږ نه د علم په ميدان کی د هغوی د ښپو خاورو ته رسيدلی شو او نه د عمل په ميدا کی ، او نه د نبوي (صلی الله عليه وسلم) عشق په دعوی کی هغوی سره برابري کولی شو او نه د سنت د اتباع په دائره کی د دوی سره د سيالی سوال پيدا کيږي نو بيا هغه کار څنګه دين جوړيدلی شي چی هغوی د ضرورت او مقتضی باوجود ندی کړی .

(تحفهٔ علم و حکمت ص ۱۹۶ مولانا ابو عامر محمد اسحاق خان)

او په تحفهٔ علم و حکمت کی دا هم دي :

بدعتي دين ناقص ګڼي

د بدعت او اختراع نه دا خبره ظاهريږي چی نعوذ بالله دين نيمګړی وُ او دا شی پکی کم وُ کوم چی بدعتي سړي د بدعت په پيدا کولو سره پوره کړ (نعوذ بالله من ذلک) او دا خيال هم کفر دی څکه چی څمونږه دين مکمل دی او الله تعالی درويشت (۲۳) کالو په موده کی خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم باندی د وحي په ذريعه مکمل کړی دی لکه چی الهي ارشاد دی : " اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتی ورضيت لکم الاسلام ديناً " يعنی نن ورځ می تاسو لپاره دين مکمل کړ او خپل

نعمت می درباندی پوره کړ او تاسو لپاره می اسلام د دین په حیثیت خوښ کړ . دا آیت کریمه (۹) هجري د حجة الوداع په موقع عرفی په ورځ د " عرفات " په میدان کی نازل شوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د جبل رحمت په لمنه کی د دی اعلان وکړ پدی وجه د جمهورو علماؤ او مفسرینو په نزد لدی آیت کریمه نه وروسته احکامو په باره کی کوم آیت ندی نازل شوی ، نو کله چی دین مکمل شوی او د دی د تکمیل اعلان هم شوی نو پدی کی د بدعتونو د پیوند کاري گنجائش څنګه پاتی کیدی شي ؟ نو بدعتي سړی د خپل بدعت په پیدا کولو سره گویا چی دا خبره ثابتول غواړي چی نعوذ بالله دین نیمگړی ؤ او پدی طریقه ما مکمل کړ نو پدی شان دی خپل عمل سره د دی آیت کریمه تکذیب کوي او د کلام الله د تکذیب مجرم جوړیږي او لدی سره سره د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم هم مرتکب کیږي ، والعیاذ بالله .
(تحفهٔ علم و حکمت ص ۲۰۱ ، ۲۰۲)

د هند مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد کفایت الله صاحب لیکي : " رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : کوم سړی چی د بدعتي تعظیم کوي گویا هغه د اسلام په نړولو کی مدد کوي ، دا ولی ؟ ځکه چی بدعتي د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین کوي چی د ده په کامل او مکمل شریعت کی له خپل طرف نه ایجاد کولو سره گویا الله او رسول الله صلی‌الله علیه وسلم طرف ته د کوتاهي او دنقصان نسبت کوي او یا پخپله احکام مقررولو سره ځانته (د احکامو د تشریع) خدائي منصب ټاکي نو پدی وجه حقیقت کی دی اسلام نړوي او څوک چی د دی تعظیم کوي هغه د اسلام په نړولو کی د ده مدد کوي ، نعوذ بالله منها .
(کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۳۰ کتاب الجنائز)

ایا هر نوی شی بدعت دی ؟

دلته پدی خبره پوهیدل پکاردي چی په احادیثو کی د کوم بدعت مذمت راغلی دی د دینه هغه بدعت مراد دی چی د شریعت په اعتبار سره بدعت ورته ویل کیږي او په شرعي اعتبار سره د بدعت تعریف او د دی متعلق وضاحت وړاندی ذکر شوی ، پدی وجه هر نوی خبری ته بدعت ممنوعه نشي ویل کیدی ، بلکی کوم عمل چی " فی الدین " یعنی په دین کی دننه د کمي او زیاتي په طور وي او هغه دین گرځولو سره دعبادت وغیره دیني کارونو پشان ثواب او د رضاء الهي ذریعه گڼلو سره وکړی شي او

حال دا چې په شریعت کې د دې هیڅ کوم دلیل نه وي نه په قرآن و حدیث کې او نه په قیاس او اجتهاد کې لکه د اخترونو په لمانځه کې د اذان و اقامت وغیره اضافه کول دغه بدعت دی او کوم نوی کار چې " للدین " یعنی د دین استحکام او مضبوطتیا او د دیني مقاصدو د تکمیل و تحصیل لپاره وي دیته بدعت ممنوعه نشي ویل کیدی لکه د قرآن پاک د جمع کولو مسئله ، په قرآن پاک کې اعراب (زیر ، زور) لګول . د حدیثو د کتابونو تألیف، او د دوی شروح لیکل او د دې کتابونو صحیح بخاري او صحیح مسلم وغیره نومونه ایښودل ، پدې شان د فقهي احکامو تدوین او ترتیب او د څلورو مذهبونو تعین او د دوی حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي نومونه ایښودل ، مدرسې او مکتبونه او خانقاګانې جوړول دې ټولو کارو ته بدعت نشي ویل کیدی ، همداشان د نن صبا نوي ایجاد شوي څیزونه ، د سفر نوي وسائل ، ریل ، موټر ، طیاره وغیره دې شیانو ته هم بدعت نه ویل کیږي ځکه چې دا شیان دین و ثواب او رضاء الهي کار ګڼلو سره نشي استعمالولی ،لهذا کوم خلک چې دا وائي هر کله چې هر نوی شی بدعت دی نو دا ټول نوي ایجاد شوي شیان هم بدعت کیدل پکار دي او د دغو استعمالول نه دي پکار ، دا بالکل جهالت دی او یا عوامو ته دوکه ورکول دي .

د سنت تعریف او حکم یې

خدای لپاره د سنتو قدر وپیژنئ او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سنت محکم ونیسئ او د ده صلی الله علیه وسلم مبارک او نوراني سنتو ژوندي کولو پوره کوشش وکړئ .

مناسب معلومیږي چې پدې موقع د سنت تعریف او حکم یې بیان کړی شي سنت هغه کار دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ، خلفاء راشدینو او صحابه کرامو رضی الله عنهم کړی وي او د هغه تاکید یې کړی وي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی : " علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین تمسکوا بها وعضوا علیها بالنواجذ " یعنی تاسو ځان باندې زما او زما د هدایت یافته خلفاء راشدینو سنت لازم کړئ او د ژامې په غاښو باندې مضبوط ونیسئ او دا هم په حدیث کې دي :

" عن عمر بن الخطاب قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول سألت ربی عن اختلاف اصحابی من بعدی فاوحی الی یا محمد ان اصحابك عنـــدی بمنزلـــة النجوم فی السماء بعضها اقوی من بعض ولكل نور فمن اخذ بشیء مما هم عليـــه من اختلافهم فهو عندی علی هدی . قال . وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابی کالنجوم فبايهم اقتديتم اهتديتم " رواه رزين (مشكواة شريف ص ٥٥٤ باب مناقب الصحابة) .

ترجمه : حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمايي ما د رسول الله صلی الله عليـه وسلم نه اوريدلي چی فرمایل یی : ما له مانه وروسته د خپلو اصحابو د اختلاف پـه بـاره کی د الله تعالی نه سوال وکړ نو الله تعالی وحي وکړه چی ای محمده (صلی الله عليـه وسلم) ستا د صحابه ؤ مرتبه زما په نزد د آسمان د ستورو پـه شـان ده ځینـی ستوري د ځینو نه قوي دي لیکن رڼا په هر يوه کی شته په کومو ځيزونو کی چـی د صـحابه و تـر منځ اختلاف دی پدوی کی چی د هر يو قول څوک اختيار کـړي هغـه زمـا پـه نـزد پـه هدایت باندی دی ، لدینه وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمایل : زما صـحابه کـــرام رضی الله عـنهم دستـــورو پشـــان دي پـــدوی کـی چـی د هـــر يـــو اقتـــداء وکړئ هدايت به مومئ .

او مزید حدیثونه د فتاوی رحیمیه (۳) جلد (۹۷ _ ۱۰۶) صفحو کی وګورئ .

او سنت په دوه قسمه دي (۱) سنت مؤکد (۲) سنت غير مؤكد

(۱) سنت مؤکد هغه دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضـی الله عنهم همیشه کړي وي او یا د کولو تاکید کړی وي او بلاعذره کله نـه وي پريښـی د دی حکم هم عملاً د واجب پشان دی یعنی بلاعـذره پریښـودل ګنـاه او د پريښودلـو عـادت جوړول سخته ګناه او فسق دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له شفاعت څخـه بـه محروم وي (فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۴۱۱) .

په ردالمختار معروف په شامي کی دي :

" اعلم ان المشروعات اربعة اقسام فرض و واجب وسنة ونفل فما كان فعله اولى من تركه مع منع الترك ان ثبت بدليل قطعي ففرض او بظني فواجب وبـــلا منـــع

الترك ان كان مما واظب عليه الرسول صلى الله عليه وسلم او الخلفاء الراشدين من بعده فسنة والافمندوب ونفل ، والسنة نوعان سنة الهدى وتركها يوجب اساءة وكراهية كالجماعة والاذان والاقامة ونحوها ، وسنة الزوائد وتركها لايوجب ذلك كسير النبى صلى الله عليه وسلم فى لبسه وقيامه وقعوده الخ " (شامى ص ۹۵ مطلب فى السنة وتعريفها) .

او په درمختار کی دي : " وفى الزيلعي .... الى قوله .... كترك السنة المؤكدة فانه لايتعلق به عقوبة النار ، لحديث من ترك سنتى لم تنل شفاعتى فترك السنة المؤكدة قريب من الحرام وليس من الحرام انتهى " .

او په رد المختار کی دي : " (قوله وفى الزيلعى الخ) .... وما فى الزيلعى موافق لما فى التلويح حيث قال معنى القرب الى الحرمة انه يتعلق به محذور دون استحقاق العقوبة بالنار وترك السنة المؤكدة قريب من الحرام يستحق حرمان الشفاعة اه ومقتضاه ان ترك السنة المؤكدة مكروه تحريماً لجعله قريباً من الحرام والمراد بها سنن الهدى كالجماعة والاذان والاقامة فان تاركها مضلل ملوم كما فى التحرير والمراد الترك على وجه الاصرار بلا عذر .... الخ " (درمختار رد المختار ص ۲۹۵ ج ۵ ، كتاب الحظر والاباحة) .

او په شامي کی ليکي : " الحاصل ان السنة ان كانت مؤكدة قوية لايبعد كون تركها مكروها تحريماً وان كانت غير مؤكدة فتركها مكروه تنزيهاً .... الخ " (رد المختار ج ۱ ص ۴۳۹ باب ما يفسد الصلواة ومايكره مطلب فى بيان السنة والمستحب) .

او بيا سنت مؤکد په دوه قسم دي (۱) سنت عين (۲) سنت کفايه .

(۱) سنت عين هغه دی چی ادا کول يی هر مکلف باندی سنت دي لکه د تراويحو لمونځ وغيره (۲) سنت کفايه هغه دي چی ادا کول يی ټولو باندی ضروري نه دي يعنی

د حیمو په ادا کولو سره ادا کیږي او که هیڅوک یی ادا نه کړي نو ټول ګنهګاریږي لکه د محلی په جماعت کی تراویح کول وغیره . او په شامي کي دي

" (قوله سنة عين) يسن لكل واحد من المكلفين بعينه وفيه اشارة الى ان السنة قد تكون سنة عين وسنة كفاية ومثاله ما قالوا فى صلاة التراويح انها سنة عين وصلاتها بجماعة فى كل محلة سنة كفاية " (شامى ص ۵۰۲ ج ۱) فصل فى القراة . مطلب السنة تكون سنة عين وسنة كفاية

د سنت د اتباع متعلق نبوي (صلى الله عليه وسلم) ارشاد

" عن انس رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من احب سنتى فقد احبنى ومن احبنى كان معى فى الجنة " روا الترمذى (مشكواة ص ۳۰ باب الاعتصام) .

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چا چی زما سنت سره محبت وکړ (یعنی عمل یی پری وکړ) نو هغه ماسره محبت وکړ او څوک چی ماسره محبت کوي نو هغه به جنت کی ماسره وي .

(مشكواة)

او همدارنګه فرمایلي دي : " عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من تمسك بسنتى عند فساد امتى فله اجر مأة شهيد " يعنی حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چا چی زما په امت کی د فساد په وخت کی زما یو سنت باندی عمل وکړ هغه لپاره د سلو شهیدانو اجر دی .

(مشكواة شريف ص ۳۰ مناقب صحابة)

د فساد په وخت کی یو سنت باندی عمل کولو باندی (۱۰۰) شهیدانو ثواب ولی ملاویږي ؟

حضرت شاه محمد اسحاق فرمائي : " من تمسك بسنتی عند فساد امتی فله اجر ماة شهید " هغه ته د سلو شهیدانو اجر ملاویږي ځکه چې حقیقي شهید ته کوم چې د کافرو په مقابل کی جیګیدو سره شهید شوی وي یو ځل د زخم تکلیف برداشت کول دي پدی وجه هغه د یو شهید ثواب بیا مومي او دا سړی کوم چې د کافرانو او فاسقانو د غلبی په وخت کی سنت نبوي صلی الله علیه وسلم باندی عمل کوي نو د هر طرف نه د طعن او تشنیع د زخم نه هر وخت جسماني او روحاني درد و غم کی اخته وي پدی وجه دی ته د سلو شهیدانو ثواب ملاویږي او مؤمنانو هر وخت د بی دینو او مفسدانو له لاسه دا قسم تکلیفونه او مشکلات لیدلي دي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : " اشد الناس بلاءً الانبیاء ثم الامثل فالامثل " په هر حال هر کار د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري او رضامندي پکار ده او همدا د نجات او کامیابی ذریعه ده دا دنیا د یو څو ورځو ده آخر به د خپل خالق او مالک سره ضرور معامله راځي داسی څه کول پکار دي چې هلته د رسوائی نه بچ شي او د دوزخ ځناک جوړ نشي ، بلکی باید نیک اعمال تر سره کولو سره د خپل پروردګار رضامندي حاصل کړي او د جنت لائق جوړ شي او دا د الله تعالی په فضل و کرم سره کیږي "ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء والله ذو الفضل العظيم" اللهم اجعلنا منهم ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه انکار کول د الله تعالی د قهر وغضب سبب ګڼي " ربنا انك من تدخل النار فقد اخزيته وما للظالمين من انصار " فلاتجعلنا منهم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي : " كل امتى يدخلون الجنة الا من أبى قيل ومن أبى ؟ قال من اطاعنى دخل الجنة ومن عصانى فقد أبى " او د رسول الله صلی الله علیه وسلم حقیقت کی د الله تعالی تابعداري ده الله تعالی فرمایلي دي : " ومن يطع الرسول فقد اطاع الله ومن تولى فما ارسلنا عليهم حفيظاً ، ربنا آمنا بما انزلت واتبعنا الرسول فاكتبنا مع الشهدين " .

(مسائل اربعین فی سنة سید المرسلین ص ۳ ، ٤)

او همداراز په حدیث کی دي " من حفظ سنتی اکرمه الله باربع خصال المحبة فی قلوب البررة والهیبة فی قلوب الفجرة والسعة فی الرزق والثقة فی الدین " یعنی چا چی زما د سنت حفاظت وکړ (یعنی په صداقت سره وربانـدی محکم واوسـي او عمل وکړي) نو الله تعالی به په څلورو خبرو سره د هغه اکرام او عزت کوي (۱) د نیکانو خلکو زړونو کی د ده محبت پیدا کړي (۲) فاسقانو او بدکارانو په زړونو کی به د ده هیبت واچوي (۳) رزق به ورته فراخه کړي (۴) په دین کی به ورته پوخ والی نصیب کړي .

(شرح شرعة الاسلام لسید علی زاده ص ۸)

او دا هم په حدیث کی دي : " عن مالك بن انس رضی الله مرسلاً قال قال رسول الله علیه وسلم ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسوله صلی الله علیه وسلم " رواه فی المؤطا (مشکواة شریف ص ۳۱ باب الاعتصام بالکتاب والسنة) .

ترجمه : یعنی حضرت مالک بن انس رضی الله عنه نه مرسل روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ستاسو لپاره می دوه شیان پریښي دي څو پوری چی مو دا دواړه شیان مضبوط نیولي وي هغی پوری به گمراه نه شئ ، یو د الله تعالی کتاب یعنی قرآن مجید او بل د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت (مشکواة ص ۳۱) .

او دا هم په حدیث کی دي : " من احیی سنتی فقد احیانی ومن احیانی کان معی فی الجنة " چاچي زما سنت ژوندي کړ هغه زه ژوندي کړم او چا چی زه ژوندی کړم هغه به جنت کی زما ملګری وي (ترمذی ج ۲ ص ۹۲ باب الاخذ بالسنة واجتناب البدعة) .

د امام مالک رحمه الله ارشاد دي : " ان السنة مثل سفینة نوح من رکبها نجی ومن تخلف عنها غرق " یعنی د سنت مثال د نوح علیه السلام د کشتی دی څوک چی

پدیکی سور شي (د گمراهی) نه بچ شو او څوک چې پکې سور نشو (یعنې سنت پرینبودل) نو هغه غرق شو (یعنې د گمراهی په کنده کې پریوت) .
امام ا وزاعي رحمه الله فرمائي : " ما الله رب العزت په خوب کې ولید او ارشاد یې وفرمایل : ای عبد الرحمن ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی ؟ ما عرض وکړ ای زما ربه ستا په فضل سره کوم او بیا می وویل ای ربه په اسلام باندی ماته مرګ نصیب کړی الله تعالی وفرمایل وعلی السنة ، یعنې د اسلام سره په سنت باندی هم د مرګ نصیب کیدو دعاء او تمنا کوه .
" عن الاوزاعی رحمه الله قال رأیت رب العزة فی المنام فقال لی یا عبد الرحمن انت الذی تأمر بالمعروف وتنهی عن المنکر فقلت بفضلك یارب وقلت یارب امتی علی الاسلام فقال وعلی السنة " (تلبیس ابلیس ص ۹) .

د سنت له پیروی سره د محبت راز

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمایي :
" د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اتباع کې د خاص برکت راز دا دی کوم سړی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پشان شکل او هینت جوړوي هغه سره الله تعالی مینه او محبت کوي چې دا زما د محبوب هم شکل دی نو دا د وصول (الله ته د رسیدو) تولو نه لنډه لاره ده (کمالات اشرفیه په حواله د مواعظ درد و محبت ص ٦٨ د مولانا حکیم محمد اختر صاحب) .

د سنت د معمولي ګڼلو انجام

په تفسیر عزیزي کې دي : " من هاون بالاداب عوقب بحرمان السنة ومن هاون بالسنة عوقب بحرمان الفرائض ومن هاون بالفرائض عوقب بحرمان المعرفة " .
ترجمه : کوم سړی چې آدابو کې سستي وکړي او معمولي وګڼي هغه د سنت نه محرومیږي او څوک چې په سنت کې سستي کوي او معمولي وګڼي هغه د فرائضو پرینودو په مصیبت کې اخته کیږي او څوک چې فرائضو کې سستي کوي او معمولي وګڼي هغه د معرفت الهي نه محرومیږي (تفسیر عزیزي ص ۴۳۲) د " ضربت علیهم

لذلة ... ذلك بما عصوا وكانوا يعتدون " آیت لاندی او فضائل حج ص ٦١
احساني ... ذات

د سنت اهمیت او د مجدد الف ثاني یوه واقعه

د حضرت محبوب سبحاني مجدد الف ثاني رحمه الله په خدمت کی یو چشتیه بزرگ حاضر شو او عرض یی وکړ چی ماته د څو کالو نه د حق په نسبت کی قبض ؤ د حضرت خواجه باقي بالله په خدمت کی حاضر شوم او قبض شکایت می وکړ نو د حضرت خواجه په توجه او دعاء سره زما قبض حالت په بسط باندی بدل شو تاسو هم لږه توجه وکړئ ځکه چی حضرت خواجه رحمه الله خپل ټول خلیفه ګان او مریدان تاسو ته حواله کړي دي حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله هغه په خواب کی وفرمایل ، ماسره خو د اتباع سنت نه علاوه هیڅ نشته د دی خبری په اوریدو سره هغه بزرګ باندی حال طاري شو او د کثرت نسبت او باطني قوت له اثراتو نه د سرهند شریف ځمکه په خوزیدو شوه ، حضرت امام رباني یو خادم ته وفرمایل چی د طاقچی نه مسواک راواخله هغه چی مسواک په ځمکه وډرولو سمدستي ځمکه قلاره شوه او دهغه بزرګ د جذبی کیفیت هم په ختمیدو شو ، لدینه وروسته هغه بزرګ ته وفرمایل ستا په کرامت سره د سرهند ځمکه وخوزیده او که فقیر دعاء وکړي نو انشاء الله د سرهند مړي به راژوندي شي لیکن زه ستا لدی کرامت (د ځمکی خوزیدل) او خپل کرامت (چی په دعاء سره د سرهند ټول مړي ژوندي شي) نه د اودس په دوران کی د سنت په طریقه مسواک کول په ډیرو درجو افضل ګنم .

(دیباچه در لاثاني ، شاه محمد هدایت علي جی پوري ج ۳ ص ٦ ، ۷)

د اولیاؤ کرامت حق دی

د اهل سنت والجماعت په نزد د اولیاء الله کرامت حق دی ، د عقائدو مشهور کتاب "شرح عقائد نسفي" کی دي : " وکرامت الاولیاء حق " (ص ۱۰۵) د ولي کرامت په حقیقت کی د هغه نبي صلی الله علیه وسلم معجزه وي د چا چی دی امتي دی او د هغه د اتباع او پیروي په بدل کی ده ته دا کمال حاصلیږي لکه د اوبو د پاسه ګرځیدل . هوا کی الوتل . ډیره اوږده مسافه لږ وخت کی طی کول ، غیر موسمي میوی ملاویدل وغیره دی کراماتو ته حسي کرامات ویل کیږي ، او دلته دا خبره په ذهن کی اچول پکار دي چی عام طور صرف حسي کرامات کمال ګڼلی کیږي مګر د کمال د

خاوندانو په نزد " معنوي كرامات " كمال دی يعنی په محمدي او مصطفوي صلی الله عليه وسلم شريعت باندی ثابت قدم اوسيدل . د ژوند په هره شعبه او هره موقعه كی د سنت او غير سنت فرق كولو سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم مكمل اتباع او د دی شوق او محبت او په زړه سره هميشه الله تعالی ته داسی متوجه كيدل چی يوه لحظه او يو ساه هم غفلت كی تير نشي او دا خبره د پورتنی واقعی نه په واضح طور ثابتيږي . نو اصل كمال د شريعت او د سنت اتباع او پيروی دی ، پدی بناء محقق فرمائي . د سنت طريقي د پيروي نه بغير كه د تعجب كوم څيز ووينی هغه هرګز كرامت نه بلكی استدراج او شيطاني حركت دی .

سلطان العارفين حضرت بايزيد بسطامي رحمه الله فرمايي : كه چيرته تاسو داسی يو څوک ووينئ چی هوا كی ناست دی او يا په اوبو باندی ګرځي نو خو پوری چی تاسو امتحان نه وي كړی چی په اسلام او شرعي حدودو په پابندی كی څنګه دی هرګز د كرامت خيال پری مه كوئ .

حضرت بسطامي ته وويل شول چی فلانی سړی يوه شپه كی مكی ته رسيږي نو ده وفرمايل چی شيطان خو د سترګو په رپ كی مشرق نه مغرب ته رسيږي او حال دا چی دی د الله په لعنت كی ګرفتار دی (بصائر العشائر ص ٦١٢) .

حضرت جنيد بغدادي رحمه الله فرمائي : الله تعالی ته د رسيدو او وصل كيدو بی شميره طريقي او لارې دي مګر مخلوق لپاره ټولې لارې بندی دي دی لپاره صرف يوه لاره خلاصه ده چی هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اتباع لاره ده .

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي : ای فرزنده ! آنچه فرد ابكار آيد متابعت صاحب شريعت است عليه الصلوات والسلام والتحية ، احوال ومواجيه علوم و معارف و اشارات و رموز اګر بآن متابعت جمع شوند فبها و نعمت والا جز خرابي و استدراج هيچ نيست .

(مكتوبات امام رباني ص ١٨٥ ج ١ مطبع مرتضوي دهلي)

يعنی ای بچيه ! كوم شی چی صبا قيامت كی پكاريږي هغه د صاحب شريعت صلی الله عليه وسلم پيروي او متابعت دی ، درويشانه حالات ، عالمانه وجد ، علوم او معارف او صوفيانه رموز و اشارات كه د رسول الله صلی الله عليه وسلم تابعداري او پيروي ورسره وي نو بيشكه ډيره ښه ده او كه چيرته دا دری واړه خبرې د شريعت او د سنت د پابندی نه بغير وي نو د خرابی او استدراج نه علاوه نور هيڅ ندي .

محترمو کتونکو ! تر دی خایه چې خه لیکل شوي دا په غور او بیا بیا ولولی . د دی مقتضی دا ده چې زمونږه معاشره د سنت په رنګ کی رنګ شوی وای . که زمونږ د خوشحالی موقع وای او که د غم یواځی سنت خپل د لاری مشال جوړول پکار و مګر بی حده افسوس دی چې کله مونږ او یا تاسو خپلی معاشری ته نظر اچوو نو راته ښکاریږي چې په مسلمانانو کی خه عجیبه عجیبه بدعتونه رواج شوي او په هغو باندی ډیر پابندی سره عمل کیږي پدی هم اکتفاء نه کوي بلکی ځوک چې پدی بدعاتو باندی عمل نه کوي هغه باندی قسما قسم خبرې او لعن طعن کیږي بد رد ورته ویل کیږي او توهینیږي ، انا لله وانا الیه راجعون ، اللهم اهدنا الصراط المستقیم .

یو څو مروجه بدعتونه :

دلته مونږه یو څو مروجه بدعتونه بیانوو خو د نیک مقصد په غرض چې " الـدین النصیحة " (یعنی دین د خیر خواهی نوم دی) دا یو څو کرښې لیکل کیږي الله تعالی دی ټول مسلمانان لدی او نور ټولو بدعتونو څخه بچ او محفوظ کړي ، آمین .

د غم پروګرامونه او میلمستیاګانې

دریمه ، لسمه ، خلویښتې ، ششماهي او کلیزه

مرګ چې د غم موقع دی پدی موقع باندی دریمه ، لسمه ، خلویښتې ، شپږ میاشتنی او کلیزه کیږي او دا په ډیر اهتمام سره کولی شي ، دعوتونه ورکول کیږي که خپل وس یې نه وي نو د قرض په اخستو سره هم د دی رواجونو ادا کولو کوشش کیږي او پدیکی خلک داسی شرکت کوي لکه د واده پروګرام چې وي او خاص کر ښځې چې د جل بل لباس اهتمام کوي ، دا ټول شیان بدعت او ناجائز دي .

یو څه لوستلو یا غریبانانو ته د خوراک یا د یو څه ورکولو سره ایصال ثواب او مړي ته د مغفرت دعاء یقیناً ثابت دي ، او پدی باره کی د فتاوی رحیمیه اردو اوم جلد د (۹۱ ـ ۹۴) صفحو پوری چې څمونږه کومه فتوی چاپ شوی هغه ضرور وګوری پدی فتوی کی مونږه په دلیل سره دا خبره ثابته کړی ده چې مړي لپاره بغیر د شک او شبهی نه ایصال ثواب جائز دی او د دی صحیح طریقه دا ده چې د انسان د طاقت نه څه پوره وي او یا کوم بدني عبادت ، نفلونه ، روژی ، د قرآن مجید تلاوت ، درود شریف وغیره لوستلو سره چاته چې وغواړي وبخښي او یا مړی والا خپلو خاصو عزیزانو او دوستانو

ځخه د مغفرت ددعاء او ایصال ثواب درخواست وکړي او هغه خلک د څه لوستلو او یا خیرات کولو سره ایصال ثواب او د مغفرت دعاء وکړي ، په شامي کی دي :

" روی الامام احمد وابن ماجة باسناد صحیح عن جریر بن عبد الله قال کنا نری الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة " (جنائز ، مطلب فی کراهیة الضیافة من اهل المیت شامی ص ۸٤۲ جلد اول)

ترجمه : حضرت جریر بن عبد الله رضی الله فرمایي چی مونږه (صحابه کرام رضی الله عنهم) د مړي کور کی جمع کیدل او د خوراک انتظام او اهتمام نوحه (ماتم) ګڼلو او دا خو معلومه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ماتم ځخه منع کړی ده)

فقیه حافظ الدین ابن شهاب کردري (المتوفي ۸۲۷هـ) فرمایي : " ویکره اتخاذ الضیافة فی ایام المصیبة لانها ایام غم فلا یلیق فیها ما یختص باظهار السرور وان اتخذ طعاماً للفقراء کان حسناً " (فتاوی بزازیه علی هامش الهندی ج ٦ ص ۳۷۹ کتاب الکراهیة فصل ۹) .

یعنی د مصیبت په ورځو کی دعوت کول مکروه دي ځکه چی دا د غم ورځي دي او کوم کار چی خوشحالی لپاره خاص وي هغه پدی ورځو کی مناسب ندی او که غریبانو لپاره څه خوراک تیار کړي نو بهتر دی ، او علامه شرنبلالي (المتوفي ۱۰٦۹هـ) فرمایي : " وتکره الضیافة من اهل المیت لانها شرعت فی السرور لافی الشرور وفی بدعة مستقبحة " (مراقی الفلاح ص ۱۲۰ مع طحطاوي ص ۳۳۹ فصل فی حملها و دفنها) .

ترجمه : د مړي والاؤ له طرفه میلمستیا کول مکروه دي ځکه چی میلمستیا د خوشحالی په موقع کیږي نه د غم په وخت کی او پدی موقع باندی میلمستیا ډیر ناکاره بدعت دی .

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی دي : " قال فی البزازیة ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع " (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۳۳۹ فصل فی حملها و دفنها) .

يعنی برازیه کی دي چی دمړي په اول او دريم ورځ او يوه هفته وروسته خوراک تيارول مکروه دي . امام نووي په شرح منهاج کی فرمائي : " واتخاذ الطعام في الايام المصيبة كالثالث والخامس والتاسع والعشرين والاربعين والشهر السادس والسنة بدعة "
(شرح منهاج)

يعنی په خاصو ورځو کی د خوراک ورکولو رواج لکه دريمه ، پنځمه ، نهمه ، لسمه ، شلمه ، څلويښتمه ، شپږمياشتنی او کليزه دا ټول بدعت دی .

قاضي ثناء الله پاني پتي (المتوفي ۱۲۲۵ھ) په وصيت نامه کی ليکي " وبعد مردن من رسوم دنيوي مثل دهم و بستم و چهلم وششماهي وبرسي هيچ نكنند ".
(مالا بد منه ، وصيت نامه ص ۱٦۰) .

ترجمه : زما د مرګ نه وروسته دنيوي رواجونه لکه لسمه ، شلمه ، څلويښتي او شپږ مياشتنی او کليزه به نه کيږي .

د هند مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد کفايت الله رحمه الله فرمائي :

(۱۴۷) ځواب : مړو ته ثواب رسول مستحسن دي د عبادت مالي او بدني دواړو ثواب رسيږي ليکن ايصال ثواب لپاره کوم صورتونه چی شريعت مطهره ندی مقرر کړی د هغه مقررول او د ايصال ثواب شرط ګڼل او يا مفيد ګڼل بدعت دي ، شرعي صورت دومره قدري دی چی که کوم مړي ته ثواب رسول وي نو کوم بدني عبادت وکړه مثلاً لمونځ وکړه . روژه ونيسه ، د قرآن مجيد تلاوت وکړه ، درود شريف ووايه وغيره او د دی ثواب چی چا ته غواړی نو پدی طريقه ورسوه چی ياالله ما چی کوم لمونځ وکړ يا روژه ونيوه يا تلاوت وکړ يا درود شريف ولوست د دی ثواب خپل فضل و رحمت سره فلانـي مړي ته ورسوه همداشان که د مالي عبادت ثواب رسول غواړی نو چی څه وس دی وي د الله په لاره کی خيرات کړه ، يا جومات جوړ کړه ، کوهی وباسه ، مسافرخانه ، مدرسه وغيره جوړه کړه او پورته ذکر شوی طريقی سره د الله تعالی نه دعاء وکړه چی د دی شيانو ثواب هغه مړي ته ورسوی دا خو د ايصال ثواب شرعي طريقه ده ، اوس دی لپاره خاص تاريخ يا ورځ مقررول او دا تعين د ايصال ثواب شرط او يا د ثواب د زيادت لپاره بغير د شرعي دليل نه مفيد ګڼل يا خاص شيان مقرر کول او يا خاص ځای مثلاً په خاص قبر باندی د صدقه کولو تعين او يا د مړي له جنازی سره وړل ضروري يا مفيد ګڼل او نورهم زيات کارونه کوم چی رسم و رواج په طور کولی شي دا ټول د شريعت خلاف او

بدعت دي . خوراک مخی ته کینبودل او فاتحه لوستل هم بی اصل دي ، که چیرته د خوراک صدقه کول مقصود وي نو صدقه کړئ کوم حقدار ته ورکړئ ، او که د قرآن مجید د تلاوت او د درود شریف ثواب رسول وي دا هم وکړئ مګر د دواړو د ثواب رسولو شرط دا ندی چی خوراک دی مخی ته ایښودو سره ولوستل شي ، دا شرط نه د شریعت نه ثابت دی او نه معقول دی ، ځکه چی خوراک باندی فاتحه ویونکی هم کړړو یا د پیسو ثواب رسول غواړي خو پدی باندی هغه هم فاتحه نه لولي غرض دا چی ایصال ثواب پخپل ذات کی جائز او مستحسن دی لیکن د دی اکثر مروج صورتونه ناجائز او بدعت دي .

(کفایت المفتي جلد ۴ صفحه ۱۱۲ ، ۱۱۳ کتاب الجنائز)

د ده دویمه فتوی : (۱٦۲) ځواب : ایصال ثواب جائز بلکی مستحسن دی مګر د دی صحیح شرعي طریقه دا ده چی انسان څه وس لري صدقه کړي که چیرته کوم بدني عبادت مثلاً نفل لمونځ ، روژه ، د قرآن تلاوت وکړي او ددی ثواب چی چا وغواړي بخشش کړي او پدیکی دی ورځ او تاریخ یا د کوم معین شي تخصیص او تعیین نه کوي او نه دا لازم او ضروري ګڼي ، دریمه ، لسمه او څلویښتي د همدی تخصیصونو او مستقل رسم او رواج مقررولو په وجه بدعت دی او دا د رسم و رواج په طور باندی ادا کول د ثواب موجب هم ندی نو ایصال ثواب به د کومه شي ؟

(کفایت المفتي جلد ۴ صفحه ۱۲۲ کتاب الجنائز)

د فاضل بریلوي مولانا احمد رضا خان صاحب او د نورو رضاخاني علماؤ فتواګاني هم پیش کولی شي ، کوم خلک چی مذکوره رسمونه دین او دثواب کار ګڼلو سره ادا کوي او پدی بیا دی پخپله فیصله وکړي چی دوی کوم قسم څیزونه اختیار کړي دي ، په غور سره ولولئ او عبرت حاصل کړئ او په توبه کولو سره دغه رواجونه پریدئ .

د مولانا احمد رضاخان صاحب مفصله فتوی :

مسئله : د هند په زیاتره ښارو کی دا رواج دی چی د مړي په ورځ د مړي خپلوانو او د دوستانو ښځي د مړي په کور کی داسی راغونډیږي لکه واده چی وي یعنی بهترین لباس آغوندي او بیا څه دویمه ورځ او زیاتره دریمه ورځ باندي واپس ځي او ځینی تر څلویښتو ورځو پوری اناستی وي او پدی موده کی د ښځو خوراک ، څښکاک او پان وغیره ټول بندوبست دمړي په کور وي چی پدی وجه ډیره زیاته خرچه کیږي ، که خپله ورسره څه نه وي نو قرض اخلي او که قرض هم نه ملاویږي نو په سود باندی

اخلي ، او كه دا كار نه كوي نو خلك ورپوري طعن كوي او بدناميږي ايا شرعاً دا كار جائز دى يا څنګه ؟ وضاحت وکړئ ؟
ځواب : سبحان الله ! مسلمان د دى تپوس كوي چي جائز دى يا څنګه ؟
دا تپوس وكړئ چي دا ناپاك رسم څومره قبيح او سخت ګناهونو او نقصانونو باندى مشتمل دى ؟ اول خپله دا دعوت ناجائز او ډير قبيح او شنيع بدعت دى ، امام احمد خپل مسند او ابن ماجه په سنن كي په صحيح سند سره د حضرت جرير بن عبد الله البجلي رضى الله عنه روايت كوي : " كنا نرى الاجتماع الى اهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة " يعنى مونږ (صحابه كرام رضى الله عنهم) د مړي كور كي جمع كيدل او د دوى طعام تيارول نياحت (وير) كي شميرلو چي د دى په حرمت باندى متواتر حديثونه وارد دي ، امام محقق على الاطلاق فتح القدير كي فرمائي : " يكره اتخاذ الضيافة من الطعام من اهل الميت لانه شرع فى السرور لا فى الشرور وهى بدعة مستقبحة " (فتح القدير ، جنائز فصل فى الدفن) يعنى د مړي والاو له طرفه د خوراك ميلمستيا تيارول منع دي ځكه چي شريعت ميلمستيا په خوشحالى كي مقرر كړى نه په غم كي او دا شنيع بدعت دى ، او همداشان شرنبلالي په مراقي الفلاح كي فرمايلي : " ولفظه يكره الضيافة من اهل الميت لانها شرعت فى السرور لا فى الشرور وهى بدعة مستقبحة " (جنائز فصل فى حملها ودفنها) .
۳ فتاوى خلاصه ، ۴ فتاوى سراجيه ، ۵ فتاوى ظهيريه ، ٦ فتاوى تاتار خانيه ، او ظهيريه نه خزانة المفتين په كتاب الكراهيه او د تاتار خانيه نه فتاوى هنديه كي په متقاربو الفاظو سره دي : " واللفظ للسراجية لايباح اتخاذ الضيافة عند ثلاثة ايام فى المصيبة زاد فى الخلاصة لان الضيافة تتخذ عند السرورا " .
يعنى په غم كي دا د دريمي ورځي دعوت جائز ندى ځكه چي دعوت خو په خوشحالي كي وي .
او فتاوى قاضي خان كتاب الحظر والاباحه كي دي : " يكره اتخاذ الضيافة فى ايام المصيبة لانها ايام تأسف فلايليق بها ما يكون للسرور " .

یعنی په غم کی میلمستیا مکروه ده ځکه چی دا د غم و افسوس ورځ ده نو کوم کار چی په خوشحالی کی کیږي هغه پدی حالت کی مناسب ندی ، په تبین الحقائق د امام زیلعي کی دي : " لابأس بالجلوس للمصیبة الی ثلاث من غیر ارتکاب محظور من فرش البسط والاطعمة من اهل المیت "

یعنی غم لپاره تر دری ورځو پوری کیناستل څه پروا نلري پدی شرط چی کوم ممنوع شی ارتکاب ونکړی شي لکه اعلی فرش غوړول او د مړي والا له طرفه خوراک برابرول .

امام بزازي په وجیز کی فرمایي : " یکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع " یعنی مړي لپاره اول او دریم یا یوه هفته وروسته چی کوم خوراک تیارولی شي هغه مکروه او ممنوع دی ، علامه شامي په رد المختار کی فرمایي : " اطال ذلك فی المعراج وقال هذه الافعال کلها للسمعة والریاء " (شامی ۱/۸٤۲ جنائز مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت فیحترز عنها) یعنی صاحب د معراج الدرایه (شرح هدایه) پدی مسئله کی اورد بحث کړی او فرمایلي دي چی دا ټول کارونه د نوم او ښودنی لپاره دي لدینه باید ځان وساتل شي .

په جامع الرموز آخر الکراهه کی دي : " یکره الجلوس للمصیبة ثلثة ایام او اقل فی المسجد ویکره اتخاذ الضیافة فی هذه الایام وکذا اکلها کما فی الذخیرة الفتاوی "

یعنی دری ورځی یا کم د تعزیت لپاره جومات کی کیناستل منع دي او پدی ورځو کی ضیافت هم ممنوع دی او د دی خوراک هم منع دی لکه چی په ذخیرة الفتاوی کی تصریح کړی دی .

په فتاوی القروي او واقعات المفتیین کی دي : " یکره اتخاذ الضیافة ثلاثة ایام واکلها لانها مشروعة للسرور " دری ورځی میلمستیا او د دی خوراک مکروه دی ځکه چی دعوت خو په خوشحالی کی وي ، په کشف الغطاء کی دي : ضیافت نمودن اهل میت اهل تعزیت راوپختن طعام برای آنها مکروه است باتفاق روایات چه ایشان راسبب اشتغال بمصیبت استعداد وتهیئه آن دشوار است ! او په همدی کی لیکي :

پس آنچه متعارف شده ازیختن اهل مصیبت طعام رادر سوم وقسمت نمودن آن میان اهل تعزیت واقران غیر مباح ونا مشروع ست وتصریح کرده بدان درخزانه چه شریعت ضیافت نزد سرور ست نه نزد شرور وهو المشهور عند الجمهور !

دویم : غالباً په وارثانو کی څوک یتیم یا نابالغ ماشوم هم وي یا ځینی وارثان موجود نه وي ، او اجازت هم ورنه نشي اخستل کیدی ، الله عز وجل فرمایي : " ان الـذین یأکلون اموال الیتمی ظلماً انما یاکلون فی بطونهم ناراً وسیصلون سـعیراً " یعنی بیشکه کوم خلک چی د یتیمانانو مال په ناحق طور سره خوري دوی په خپلو خیټو کی اور اچوي او زر به جهنم ته داخل شي ، " لاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطـل " تاسو خپل مالونه خپل منځ کی باطل طریقی سره مه خورئ ، په خانیه ، بزازیه ، تاتار خانیه او هندیه کی دي : " واللفظ لهاتین ان اتخذ طعاماً للفقراء کان حسناً اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ان اتخذ ولی المیت طعاماً للفقراء کان حسناً الا ان یکون فی الورثة صغیر فلا یتخذ من الترکة " .

دریم : دا کومی ښځی چی راغونډیږي نو ناروا کارونه کوي مثلاً پـه چیغـو چیغـو ژړا او خان وهل او د مکر نه په مخ پرده اچول او داسی نور دا ټـول نیاحـت او (ویـر) دی او نیاحت حرام دی .

داسی ډلی لپاره د مړي خپلوانو او دوستانو ته هم جائز ندي چی خوراک ولیـږي ځکـه چی دا په گناه کی امداد کول دي ، قـال الله تعـالی : "ولا تعـاونوا علـی الاثم والعدوان" او د مړي والاو د طعام و خـوراک اهتمـام کـول بالکـل ناجـائز دي ، د دی ناجائزی ډلی لپاره په کشف الغطاء کی دي : " ساختن طعـام در روز ثـاني وثالـث بـرای اهل میت اگر نوحه گران جمـع بـاشنـد مـکروه ست زیرا که اعانت ست ایشـان را بر گناه " .

څلورم : او زیاتره خلکو ته د دی شنیع رسم په وجه دخپل طاقت نه زیات تکلیـف کولـو ضرورت پینبیږي تر دی پوری چی مړي والا غریبانان خپل غم هیروئـو سـره پـدی آفـت کی مبتلا کیږي چی دی میلی لپاره خوراک ، پان وغیره د کومه کـړو او زیـاتره وخـت د قرض اخستو ضرورت پیدا کیږي داسـی تکلـف شـریعت د یـو مبـاح کـار لپـاره هـم نـه خوښوي نو د یو ممنوع رواج لپاره به څنګه خوښـوي ؟ او بیـا دی لپـاره چـي تکلیفونه

برداشت کول دي هغه ښکاره دي او که بیا سودي قرض یکی یوځای شو نو خالص حرام کرځي او نعوذ بالله د الهي لعنت نه پوره حصه په برخه شوه ، بغیر د شرعي ضرورت نه سود ورکول هم د سود اخستو پشان د لعنت باعث دی ، لکه چی صحیح حدیث کی راغلي ، غرض دا چی د دی رسم په شناعت او ممناعت کی شک نشته . الله تعالی دی مسلمانانو ته توفیق ورکړي چی داسی قبیح رواجونه ځخه مکمل احتراز وکړي کوم چی د دوی دین و دنیا ته ضرر دي او د بی ځایه طعنو پروا ونکړي . والله الهادی الی سواء السبيل.

تنبیه :

اګر که یواځی یوه ورځ یعنی اول ورځ خپلوانو او ګاونډیانو ته سنت دي چی د مړي کور والاو ته دومره خوراک ولیږي چی دوه وخته یی وخوري او په زوره دی پری وخوري مګر خوراک یواځی مړي والاو لپاره سنت دی میلی ته د لیږلو هرګز حکم نشته او مړي والاو ته هم صرف اول ورځ لپاره حکم دی نور نه ، په کشف الغطاء کی دي : " مستحب ست خویشان وهمسایه های میت راکة اطعام کنند طعام را برای اهل وی که سیر کند ایشان رایک شبانه روز والحاح کنند تا بخورند ودر خوردن غیر اهل میت این رامشهور آنست که مکروه است ، په عالمګیري کی دي : " حمل الطعام الی صاحب المصيبة والاكل معهم فی اليوم الاول جائز لشغلهم بالجهاز وبعده يكره كذا فی التاتار خانية " (احکام شریعت صفحه ٦١ ، ٦٢، ٦٣ ، ٦٤ ج ٣ مولفه مولوي احمد رضا خان صاحب) .

مولوي امجد علي رضاخاني په " بهار شریعت " کی لیکلي : د مړي کورنی په دریم وغیره ورځ چی دعوت وکړي نو ناجائز او قبیح بدعت دی ځکه چی دعوت خو د خوشحالی په وخت مشروع دی نه د غم په وخت کی او که غریبانو ته خوراک ورکړي نو بهتر دي (بهار شریعت ج ۳ ص ۱۵۹) .

د دوی یو بل پیشوا مولوي حکیم محمد حشمت علي رضوي لیکي : د مړي والاو سره خوراک کول او د دوی دعوت او میلمستیا قبلول ناجائز او ګناه دی د هندوستان په خینو ښارونو کی دا ډیر غلط رواج دی چی خپل خپلوان دمړي کور کی راجمع کیږي او خوراک کوي ، پان سګریټ وغیره ځیزونو باندی د هغوی خرچه کوي او مړي والا

مجبوراً داسی کوي بلکې زیاتره د بدنامی په وجه په قرض کولو مجبوریږي او یا د یتیمانانو مال پکی مصرفوي ، مسلمانانو ته پکار دي چی لدینه په کلکه ځان وساتي .
(اسوهٔ حسنه د مولوي حکیم محمد حشمت علي ص ۱۲)

د ده دویمه فتوی :

سوال : که چیرته د فاتحي په وخت لاس پورته نه کړي او خوراک مخی ته کی نږدي او په ژبه دا ونه وائي چی دا د فلاني فاتحه ده یواځی په زړه کی خیال وکړي ....

ځواب : حقیقت دا دی چی فاتحه د ایصال ثواب یعنی د مړو روحونو ته د ثواب رسولو نوم دی او دا په لاس اوچتولو او نه اوچتولو ، خوراک مخی ته کینبودو او د نه کینبودو او په ژبی سره ویلو او نه ویلو باندی موقوف ندی ، یواځی خوراک وغیره ورکولو وخت او د قرآن مجید وغیره اعمالو ثواب د دوی روح ته د بخښش کولو په وخت کی د دوی نیت کول (چی د دی ثواب فلاني روح ته ورسي) کافي دی .
(مجمع الوسائل ص ۱۲۵)

غرض دا چی دریمه ، لسمه ، دولسمه ، شلمه ، څلویښتي ، شپږ میاشتنی او کلیزه دا اسلامي پروګرامونه ندي د غیر قومونو د ګاونډګیری او د تقلید نتیجه ده .

رسمي قرآن خواني

همداشان قرآن مجید لوستلو سره که ایصال ثواب کول وي نو چی څومره پوری کیدی شي قرآن کریم لوستلو سره ایصال ثواب وکړئ دا به د اسلافو د طریقی مطابق وي او اخلاص به هم پکی وي نو انشاء الله مړي ته به فایده کیږي ، رسمي قرآن خواني د سلفو نه ثابت ندي ، په شامي کی دي : " هذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم یریدون بها وجه الله تعالی " (جنائز مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت ج ۲ ص ۲۷۰) .

یعنی دا ټول کارونه د نوم او شهرت لپاره کیږي لهذا لدینه ځان ساتل پکار دي ځکه چی پدی سره د دوی مطلب د الله رضا نه وي (شامی ج ۱ ص ۸۴۲) .

او کوم خلک چی په قرآن خوانی کی شرکت کوي هغوی کی هم عام طور اخلاص نه وي ډیر خلک پدی وجه شرکت کوي چی که لاړ نشي نو د مړي کورنی خفه کیږي او ډیر خلک یواځی د شیرینی او د خوراک په غرض حاضریږي نو چی کله اخلاص نه وي

نو ثواب به د کومه ملاو شي ؟ او چې کله لوستونکي د ثواب نه محروم وي نو ایصال ثواب به څنګه کیږي ؟

د علامه شامي تحقيق

علامه شامي رحمه الله پدی باره کی ډیر ښه بحث کړی چی مطالعه کول یی پکار دي ، وکوری : " قال تاج الشريعة فى شرح ان القرآن بالاجرة لايستحق الثواب لا للميت ولا للقارى وقال العينى فى شرح الهداية ويمنع القارى للدنيا والآخذ والمعطى آثمان فالحاصل ان ماشاع فى زماننا من قرأة الاجزاء بالاجرة لايجوز لان فيه الامر بالقرأة لاجل المال فاذا لم يكن للقارى ثواب لعدم النية الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجر ولولا الاجرة ماقرأ احد لاحد فى هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظيم مكسباً ووسيلة الى جمع الدنيا انا لله وانا اليه راجعون . الى قوله . وقد رده الشيخ خير الدين رملىفى حاشية البحر فى كتاب الوقف حيث قال اقوال المفتى به جواز الاخذ استحساناً على تعليم القرآن الا على القرأة المجردة كما صرح به فى التتار خانية حيث قال لا معنى لهذه الوصية .... لان هذا بمنزلة الاجرة والاجارة فى ذلك باطلة وهى بدعة ولم يفعلها احد من الخلفاء وقد ذكرنا مسئلة تعليم القرآن على استحسان اه يعنى للضرورة ولاضرورة فى الاستئجار على القرأة على القبر . الى قوله . ونقل العلامة الخلوتى فى هاشية المنتهى الحنبلى عن شيخ الاسلام تقى الدين مانصه ، ولايصح الاستئجار على القرأة واهدائها الى الميت لانه لم ينقل عن احد من الائمة الاذن فى ذلك وقد قال العلماء ان القارى اذا قرأ لاجل المال فلا ثواب له ، فاى شئى يهديه الى الميت وانما يصل الميت العمل الصالح والاستئجار على مجردة التلاوة لم يقل به احد من الائمة الخ " (شامى ج ٥ ص ٤٧ ، ٤٨ باب الاجارة الفاسدة مطلب فى الاستئجار على الطاعات) .

ترجمه : تاج الشريعت په شرح هدایه کی فرمایلي دي : په اجرت باندی قرآن لوستلو سره نه مړي ته ثواب رسي او نه قاري مستحق د ثواب ګرځي ، علامه عیني د هدایه په

شرح کی فرمایلي دي : کوم سړی چی دنیا لپاره قرآن لولي هغه دی منع کړی شي د قرآن کریم په تلاوت باندی اجرت اخستونکی او ورکونکی دواړه گنهګاریږي ، حاصل دا چی څمونږ پدی زمانه کی چی د قرآن کریم سپارو په اجرت باندی د لوستلو کوم رواج جوړ شوی دا جائز ندی ځکه چی پدیکی د قرآن کریم د لوستو حکم آمر ته ثواب ورکول او د مال لپاره قرئت کول دي نو کله چی د صحیح نیت د نشتوالي له کبله قاري ته ثواب نه کیږي نو مستاجر (اجرت ورکونکی) ته به څنګه ثواب ورسي ؟ که چیرته د پیسو او د شیرینی ملاویدو امید نه وي نو پدی زمانه کی به هیڅوک بل لپاره تلاوت ونه کړي ، حقیقت دا دی چی خلکو قرآن پاک د ګټي او د دنیا حاصلولو یوه ذریعه جوړه کړی انا لله وانا الیه راجعون _ الی قوله _ علامه مفتي خیر الدین د بحر په حاشیه کتاب الوقف کی لیکي ، اقوال : زه وایم : مفتی به قول دا دی چی په تعلیم القرآن باندی استحساناً اجرت اخستل جائز دي او په خالص تلاوت باندی اجرت اخستل جائز ندي لکه چی په تاتار خانیه کی بیان کړي : لاینبغی لهذه الوصیة .... که څوک دا وصیت وکړي چی زما د مرګ نه وروسته دی په اجرت ورکولو سره قرآن خواني وکړی شي نو دا وصیت معتبر ندی ځکه چی دا په منزله د اجرت دی او تش قرآن خوانی لپاره اجرت اخستل باطل دي او دا بدعت دی د خلفاؤ څخه یو هم داسی کار ندی کړی او په تعلیم د قرآن باندی د اجرت اخستو مسئله مونږه استحساناً بیان کړی ده (یعنی د قرآن حفاظت وشي) د دی ضرورت په وجه او په قبر باندی اجرت اخستو سره د قرآن لوستلو لپاره هیڅ ضرورت نشته _ الی قوله _ علامه خلوتي په حاشیه المنتهی الحنبلي کی د شیخ الاسلام تقی الدین نه نقل کړی چی د مړي د ایصال ثواب لپاره اجرت ورکولو سره قرآن خواني کول صحیح ندي چی د هیڅ یو امام نه د دی اجازت نقل ندی ، علماؤ فرمایلي دي ، کله چی قاري مال لپاره قرئت کوي هغه ته ثواب نه ملاویږي نو مړي ته به څه شی ورسي ، مړي ته خو نیک عمل رسي ، خالص تلاوت لپاره اجرت ورکول د هیڅ یو امام قول ندی .

په شرح سفر السعادت کی دي : " وعادت نبود که برای میت درغیر وقت نماز جمع شوند و قرآن خوانند و ختمات خوانند نه بر سر گور ونه غیر آن واین مجموع بدعتاست ومکروه " یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم وغیرهم د سلفو دا عادت نه ؤ چی مړي لپاره د جنازی لمونځ نه علاوه په بل کوم موقع

راجمع شي او قرآن خواني وکړي ، نه په قبر باندی او نه په بل کوم ځای کی ، دا ټول رواجونه بدعت او مکروه دي (شرح سفر السعادت ص ۲۷۳) .

په زاد المعاد کی دي : " ولم یکن من هدیه ان یجتمع للعزاء ویقرأ له القرآن لا عند قبره ولاغیره وکل هذه بدعة حادثة مکروهة " (زاد المعاد ج ۱ ص ۱۵۰ مصری) .

یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا طریقه نه وه چی تعزیت لپاره راجمع شي او قرآن خواني وکړي نه د قبر خوا کی او نه بل ځای کی دا ټول نوي پیدا شوي بدعتونه دي او مکروه دي ، او په فتاوی بزازیه کی دي : " واتخاذ الدعوة بقرأة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقرأة سورة الانعام او الاخلاص فالحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة القرآن لاجل الاکل یکره " (بزازیه علی هامش الهندیه ج ٤ ص ۸۱ جنائز فصل نوع اخر) .

یعنی د ایصال ثواب دا طریقه چی د قرآن پاک ختم یا د سورت انعام یا د سورت اخلاص لوستلو لپارهِ صلحاء او قاریانو ته دعوت ورکولو سره جمع کول او د خوراک اهتمام کول مکروه دي .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمائي :

" په کومه طریقه چی نن صبا قرآن پاک لوستو سره ایصال ثواب کولی شي دا مروجه صورت صحیح ندی ، البته که خاصو دوستانو ته وویل شي چی خپل خپل ځای کی حسب توفیق لوستلو سره ثواب ورسوي ـ الی قوله ـ اګر که دزی ځلی قل هو الله ولولي او بخشش کړي چی پدی سره د یو قرآن پاک ثواب ملاویږي دا لدینه هم ښه دي چی په اجتماعي صورت سره لس قرآنونه ختم کړی شي پدیکی زیاتره مړي والاو باندی احسان باروي ، او الله تعالی خو لږ او ډیر ته نه ګوري بلکی خلوص او نیت ته ګوري ، لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چی زما یو صحابي یو مد (پاؤ) کجوري خیرات کړي او بل څوک د احد غر برابر سره زر، دا د صحابي یو مد ته نشي رسیدلی ، دا فرق دخلوص او د عدم خلوص دی ځکه کوم خلوص چی د یو صحابي وي هغه د بل چا نشي کیدی (انفاس عیسی ج ۱ ص ۲۱۵) .

په مزارونو باندې عرس او قوالي

د قبرونو زيارت يقينا سنت دى ، په مزارونو باندې عبرت حاصلول ، د مغفرت دعاء او فاتحه خواني لپاره تلل او ثواب بخښل دا ټول جائز دي منع ندي ليکن رسمي عرس چې شرعي حکم او ضروري ګڼلو سر هر کال د وفات په ورځ اجتماعي صورت سره کولى شي دا ناجائز او بدعت دى ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه كرامو رضى الله عنهم په مبارک دور کې د دې هيڅ کوم مثال نه پيدا کيږي ، دا د اهل کتابو (يعنى پرديو) رواج دى ، که چيرته اسلامي حکم او ديني کار واى نو صحابه كرامو رضى الله عنهم به د ټولو نه وړاندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم عرس کړې واى د خلفاء راشدينو عرس به کولى شو ، حال دا چې حديث کې د دې ممانعت ثابت دى ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دى : " لاتجعلوا قبرى عيداً " يعنى زما په قبر ميله مه جوړوئ (مشكواة شريف ص ٨٦ باب الصلواة على النبى صلى الله عليه وسلم وفضلها) يعنى لکه څنګه چې خلک ميله او جشن کې په يو تاريخ باندې راجمع کيږي پدې شکل زما قبر باندې مه راټوليږئ ، په عيد (ميله) کې دا درې شيان په خاص طور سره وي : (١) تاريخ متعين کول (٢) اجتماع (راغونډيدل) (٣) خوشحالي کول ، لهذا پدې حديث کې مزارونو باندې يو معين تاريخ کې جمع کيدل او خوشحالي کولو ممانعت راغلى ، لکه چې علامه محمد طاهر پټني د دې حديث په تشريح کې فرمايي : " لاتجتمعوا الزيارة اجتماعكم للعيد فانه يوم لهو وسرور وحال الزيارة بخلافه وكان داب اهل الكتاب فاورثهم القسوة ".

يعنى د حديث مطلب دا دى چې د قبر زيارت لپاره د اختر او ميلې پشان راغونډيدل ندي پکار څکه چې د اختر ورځ خو د لوبو او دخوشحالي (د خوارک څښاک) وى او د قبر د زيارت حال جدا دى (د زيارت مقصد عبرت حاصلول ، مرګ او آخرت او خپل انجام يادول دي) په قبر باندې د عرس کولو رواج د اهل کتابو دى چې د دې په وجه د دوى زړونه هم سخت شول .

همدا وجه ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر مبارک د زيارت ورځ او تاريخ متعين نه دى ، د کال په دوران کې څومره عاشقان ځي او راځي او په زيارت کولو سره اجر و ثواب حاصلوي، نو کله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په روضه اقدس

باندی عرس او اجتماع نه کيږي نو د دين د نورو بزرگانو په مزارونو باندی به څنگه جائز کيدی شي ؟ پدی وجه د دين بزرگانو، محدثينو او فقهاؤ په صريح الفاظو کی رواجي عرسونه ناجائز گرځولي دي .
د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله شاگرد د عارف بالله حضرت مرزا مظهر جان جانان رحمه الله خاص خليفه د وخت بيهقي حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي نقشبندي په تفسير مظهري کی ليکي : " لايجوز ما يفعله الجهال بقبور الاولياء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السرج والمساجد عليها ومن اجتماع بعد الحول كالعياد ويسمونه عرسا " (تفسير مظهری) .
يعنی جاهلان چی د اولياؤ او شهيدانو له قبرونو سره کوم سلوک کوي يعنی قبرو ته سجده او گيرچاپيره ترينه طواف کول ، او پری چراغان کول او هر کال د اختر پشان هلته جمع کيدل چی عرس ورته وائي دا ټول کارونه ناجائز دي .
حضرت شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي : " مقرر ساختن روز عرس جائز نيست " يعنی د عرس ورځ مقررول جائز ندي (مسائل اربعين (۴۲) صفحه) .
او په مجالس الابرار کی دي : " ونهی عن اتخاذها عيدا وهم يخالفونه ويتخذونها عيداً او يجتمعون لها كما يجتمعون للعيد او اكثر " (مجالس الابرار ص ۱۱۸ مجلس ۱۷) او په قبرونو باندی د اختر او ميله جوړولو نه منع کړی ده او حال دا دی چی دوی يی مخالفت کوي او ميلی جوړوي او داسیورباندی راټوليږي لکه اختر لپاره بلکی د دينه هم زيات
همداشان قوالي . طبله . سورنی . باجه.وغيره قطعي حرام دی په مسند ابن ابی الدنيا کی روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : په آخره زمانه کی به د دی امت يو قوم بيزوگان او خنزيران جوړيږي ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ يارسول الله ايا هغوی لا اله الا الله محمد رسول الله نه مني ؟ وی فرمايل : ولی نه ، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ بيا د دی سزا څه وجه ده ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : هغوی به د باجی غږولو او د سندرو ويلو کسب اختياروي ، او بيا يی وفرمايل : " استماع الملاهی معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ فيها كفر "

یعنی د باجو آواز اوریدل گناه ده. هلته کیناستل فسق دی او ترینه خوند اخستل کفر دی (نصاب الاحتساب ۱۰۳/۲ ، درمختار مع الشامی ۳۰٦/۵ کتاب الحظر والاباحه).

په حدیث کی دي : " الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء الزرع " یعنی گانې او سندرې په زړه کی داسی نفاق پیدا کوي لکه اوبه چی فصل رازرغونوي (مشکواة ص ۱۱۴).

او حضرت فضیل بن عیاض فرمایي : " الغناء رقیة الزنا " یعنی گانې او موسیقي د زنا منتر دی (تلبیس ابلیس ص ۳۳۸).

د مولانا احمد رضا خان صاحب فتوی :

کوم خلک چی عرس او قوالي وغیره ډیر اهتمام او پابندی سره کوي ، دین او ثواب کار یی گڼي هغوی دی د مولانا احمد رضا خان بریلوي صاحب فتوی په غور سره وگوري او عبرت دی ورنه واخلي .

(سوال) نن چی زه له تاسو نه کله رخصت شوم او د مابنام لمانځه لپاره جومات ته لاړم د لمانځه نه وروسته یو دوست راته وویل راځه یوځای کی عرس دی هلته لاړم گورم چی ډیر زیات خلک راټول شوي او قوالي پدی طریقه کیږي چی یو ډول او دوه ربابونه غږیږي او خو قوالان د پیران پیر په شان کی اشعار وائي ، دا باجي په شریعت کی قطعي حرام دي ، ایا پدی کار سره رسول الله صلی الله علیه وسلم او اولیاء الله خوشحالیږي ؟ او دی جلسه کی حاضر خلک گنهکار شول یا نه ؟ او داسی قوالي جائز دی یا نه ؟ او که جائز وي نو په کومه طریقه ؟

ځواب : داسی قوالي حرام دی او حاضرین ټول گنهکار دي او د دی ټولو گناه داسی عرس کونکو او قوالانو باندی ده او د قوالانو گناه هم دی عرس کونکو باندی ده او د قوالانو په گناه کی هم څه کمی نه راځي او د حاضرینو په گناه کی هم څه کمی نه راځي ، بلکی د حاضرینو کی هر یو باندی خپله پوره گناه او قوالانو باندی خپله پوره گناه جدا او د ټولو حاضرینو برابر جدا او داسی عرس کونکو باندی خپله گناه ځانته او د قوالانو په برابر جدا او د حاضرینو په برابر جدا آه (احکام شریعت ۳۳/۱).

د خان صاحب دویمه فتوی :

عرض ایا دا روایت صحیح دی چی حضــرت محبوب الهي په قبر شریف کی ســرتور سر ودریدو او کانو والا باندی به یی لعنت کولو ؟

ارشاد دا واقعه د حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکي رحمه الله دد چی د ده پـه مزار باندی په مجلس سماع کی قوالي کیده نن صبا خو ډیـر زیـات نـوي نـوي کارونـه شروع شوي کدا وغیره هم پکی کوي حال دا چی هغه وخت کی په مزارونو کی مزامیر او موسیقي هم نه ؤ ، حضرت سید ابراهیم امیرجي رحمه الله کوم چـی زمونـږ د پیرانـو په سلسله کی دی د مجلس سماع نه باهر تشریف فرما ؤ یـو نیـک سـړی ورتـه راغـی او درخواست یی ورته وکړ چی مجلس ته لاړ شئ حضرت سید ابراهیم امیرجي رحمـه الله وفرمایل تاسو پوهیږئ په مواجه اقدس کی به حاضر شم که چیرته حضرت راضي وي نـو زه اوس ځم ، دوی په مزار اقدس کی مراقبه وکړه گوري چی حضور په قبرشـریف کـی ډیر پریشان دی او دی قوالانو طرف ته اشاره کولو سره فرمائي : " ایـن بـدبختان وقـت مـارا پــریشان کرده اند " هغه واپس شو او مخکی لدی چـی څـه عـرض کـړي ، ویی فرمایلو تاسو ولیدل ؟

(ملفوظات ۹۰/۱)

د رضاخاني ورونو د یو بل پیشوا مولانا حکیم محمد حشمت علي صاحب فتوی :

(سوال) د ښځو قبرونو ته تلل او سړو له سفر کولو سره قبرونو لکه د کلیر او اجمیر پیرانو ته تلل څنګه دي ؟

خواب : په صحیح قول کی خو د قبرونو زیـارت سـړو او ښځـو دواړو لپاره جـائز بلکـی مندوب او مستحب دی ، په نور الایضـاح کـی دي : " ندب زیارتها للرجال والنســاء علی الاصح " مګر پدی زمانه کی د ښځو لپاره زیارت ته تګ مکروه بلکـی حـرام دی " قال بدر العینی فی شرح البخاری وحاصل الکلام انها تکره للنساء بل تحرم فی هذا الزمان لاسیما نساء مصر لان خروجهن علی وجه فیه فساد وفتنة " پاتی شو سـړي دوی لپاره په هر حال کی د قبرونو زیارت لپاره سفر کولو سره د اولیاء کرامو او د پلار او

نیکه زیارتونه کول مستحب دي . " کما مر وقال فی الغنیة وتستحب زیارة القبور للرجال " رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمانی . " کنت نهیتکم عن زیارة القبور الا فزوروها " بلکی پخپله د رسول الله صلی الله علیه د فعل نه د قبرونو زیارت کول ثابت دي ، ده صلی الله علیه وسلم به جنت البقیع ته تشریف وړو او دعاء به یی کوله ، مګر بهتره دا ده چی د کلیر او اجمیر د پیرانو زیارت ته وروسته د میلو نه لاړ شئ ځکه په میلو کی اکثر بدعتونه او نامشروع کارونه کیږي او عام خلک لدینه د ځان ساتلو قدرت نه لري .او د اولیاء کرامو په دربار کی د ګناه کول نور هم زیات سخت ګڼخي . (مجمع المسائل ۱/۱۱۰) .

د قبرونو طواف :

په مزارونو باندی حاضریدو سره د قبرونو طواف او سجدې کولی شي او ښکلولی شي دا افعال هم شرعاً ناجائز او حرام دي .

شاه محمد اسحاق دهلوي د شرح مناسک په حواله لیکي :

(سوال) از طواف کردن قبر سه بار کافر می شود یا مشرک یا فاسق ؟

(سوال) د قبر نه ګیر چاپیره دری ځلي تاویدلو سره سړی کافر کیږي یا مشرک او یا فاسق ګرځي ؟

جواب : طواف کردن قبر سه بار باشد یا غیر از سه بار شرعاً غیر جائز و حرام است و مرتکب حرام که اصرار به آن سازد فاسق می شود اگر جائز و مستحب دانسته طواف نموده باشد موجب کفر است " فی شرح المناسك للقاری ولایطوف ای لایدور حول البقعة الشریفة لان الطواف من مختصات الکعبة المنیفة فیحرم حول قبور الانبیاء والاولیاء .... الخ "

(مائة مسائل ص ٦٨ سوال ٣٤)

ترجمه : د قبر نه طواف او تاویدل دری پیری وي یا کم یا زیات شرعاً ناجائز او حرام دي او داسی مرتکب چی حرام باندی اصرار کوي فاسق ګرځي او که ناجائز او مستحب ګڼلو سره طواف وکړي نو موجب د کفر دی د ملا علی قاري په شرح مناسک کی دي " ولا یطوف آه " یعنی طواف دی نه کوي یعنی د رسول الله صلی الله علیه

وسلم روضهٔ اطهر څخه به ګیر چاپیره نه تاویږي څکه چی طواف د بیت الله سر خاص دی نو د انبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ کرامو له قبرونو څخه طواف کول حرام دي ....آه .

(امداد المسائل ترجمه مائة المسائل ص ۷۵ . ۷٦)

قبرونو باندی سجده

همداشان قبرونو باندی سجده کول حرام دي . ام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل آخري ورځو کی فرمایل : " لعن الله الیهود والنصاری اتخذوا قبور انبیاءهم مساجد " یعنی په یهودو او نصاراو باندی د الله تعالی لعنت وي چی دوی د خپلو انبیاؤ قبرونه سجده ګاه جوړ کړي وو (بخاري ج ۱ ص ۱۷۷ کتاب الجنائز باب مایکره من اتخاذ المسجد علی القبور) (مشکواة شریف ص ٦۹ باب المساجد وموضع الصلواة) .

او دا هم په حدیث کی دي . " عن جندب قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول : الا وان من کان قبلکم کانوا یتخذون قبور انبیاءهم وصالحیهم مساجد إلی انهاکم عن ذلك " رواه مسلم

حضرت جندب رضی الله عنه فرمایي : ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا فرمان اوریدلی دی چی خبردار له تاسو نه مخکني خلکو به د خپلو نبیانو او صالحانو قبرونه سجده ګاهونه جوړول او زه تاسو لدی کار نه منع کوم (یعنی تاسو قبرونه سجده ګاه مه جوړوئ) .

(مشکواة شریف ص ٦۹ باب المساجد ومواضع الصلواة)

بل حدیث کی دي : " عن عطاء بن یسار قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اللهم لاتجعل قبری وثناً یعبد اشتد غضب الله علی قومٍ اتخذوا قبور انبیاءهم مساجد " یعنی د حضرت عطاء بن یسار رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : یا الله ! زما قبر نه بت مه جوړوی چی عبادت یی وکړی

شي (یعنی سجده وکړی شي) په هغه قوم باندی د الله تعالی غصه سختیږي چې د خپلو انبیاؤ قبرونه سجده ګاه جوړ کړي وي (مشکواة ص ۷۲ باب المساجد).

یو بل حدیث کی دي : " عن قیس بن سعد .... " حضرت قیس بن سعد رضی الله عنه فرمائي : زه حیره ته لاړم ، د هغه ځای خلک می ولیدل چې خپل سردار ته سجده کوي نو ما په زړه کی وویل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات مستحق دی چې سجده ورته وکړی شي او بیا وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شوم او لیدلی حال می ورته بیان کړ او خپل خیال می ورته هم ظاهر کړ چې تاسو د دی زیات حقدار یئ چې سجده درته وکړی شي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : " ارأیت لو مررت بقبري اکنت تسجد له فقلت لا فقال لاتفعلوا لو کنت امر احداً ان یسجد لاحد لامرت النساء ان یسجد لازواجهن لما جعل الله لهم علیهن من حق " رواه ابوداؤد باب عشرة النساء ومابکل واحد من الحقوق .

یعنی : وګوره ! که چیرته زما په قبر باندي تیر شی نو سجده ب ورته وکړی ؟ ما وویل چې بالکل نه ، وی فرمایل : (په ژوند کی هم) سجده مه کوئ که ما چا ته بل مخلوق لپاره د سجدی حکم کولای نو ښځو ته به می حکم کړی وای چې خپلو خاوندانو ته سجده وکړئ د هغه حق په وجه چې الله تعالی سړو ته په دوی باندی لازم کړی .

(مشکواة شریف ص ۲۸۲ باب عشرة النساء)

او یو بل حدیث کی دي چې یوځل یو اوښ راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یی سجده وکړه نو صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ : تا (صلی الله علیه وسلم) ته حیوانات او ونې سجدې کوي نو مونږه زیات حقدار یو چې سجده درته وکړو ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : " اعبدوا ربکم واکرموا اخاکم " یعنی د خپل رب عبادت کوئ (یعنی سجده عبادت دی او د عبادت لائق یواځې د الله تبارک وتعالی مقدس ذات دی) البته د خپل ورور اکرام کوئ .

" عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان فی نفر من المهاجرین والانصار فجاء بعیر فسجد له فقال اصحابه یارسول الله تسجد لک

البهائم والشجر فنحن احق ان نسجد لك فقال اعبدوا ربكم واكرموا اخاكم ولو كنت امر احدا ان يسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها .... الخ "
(مشکواة شریف ص ۲۸۳ باب عشرة النساء) .

پدی مبارکو حدیثونو کی غور وکړئ چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل امت متعلق د قبر پرستی څومره سخته ویره وه او څومره سختی سره د دی ممانعت کړی کوم قبر ته چی سجده وکړی شي هغه بت ګرځولو سره سجده کونکو باندی لعنت کړی او دا یی د غضب الهي د زیاتیدو سبب ښودلی دی .

قبر ته د سجده کولو متعلق د وخت بیهقي حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي په ما لا بد منه کی فرمایي :

مسئله : " سجده کردن بسوئی قبور انبیاء واولیاء وطواف گرد قبور کردن و دعا از آنها خواستن ونذر برائی آنها قبول کردن حرام است بلکه چیز ها از آن بکفر می رساند ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم بر آنها لعنت گفته وازان منع فرموده که قبر مرابت نه کنید "
، ما لا بد منه ص ۸۰ کتاب الجنائز) .

یعنی : د انبیاء کرامو علیهم السلام او اولیاء کرامو قبرونو ته سجده او طواف کول او دعاء ترینه غوښتل او د دوی په نوم نذر منل حرام دي بلکی د دی ځینی شیان سړی کفر ته رسوي ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دوی لعنت کړی او منع یی تری کړی ده او فرمایلي یی دي چی زما قبر بت مه جوړوئ (یعنی لکه څنګه چی مشرکان بتانو ته سجدې کوي زما دقبر سره داسی معامله مه کوئ) .

شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمه الله فرمائي :

(سوال) سی و سوم : سجده کردن قبر را برائی تعظیم مقبور در شرع حرام است یا کفر یا شرک یا کبیره ؟

ترجمه : (۳۳ سوال) د صاحب قبر د تعظیم لپاره قبر ته سجده کول په شریعت کی حرام دي یا کفر یا شرک یا گناه کبیره ؟

جواب : سجده کردن غیر خدا را قبر حرام و کبیره است او اگر بجهت عبادت غیر خدا را سجده کند موجب کفر و شرک است و اگر غیر خدا را قبر باشد یا غیر قبر سجده بدون حضور نیت کند آنهم موجب کفر است ، چنانچه از کتب فقیه معلوم می شود

وسجدهٔ تحیه که درزمان سابق بود درشریعت محمد صلی الله علیه وسلم منسوخ شده چنانچه کتب تفسیر و حدیث و فقه دلالت برآن دارند .... الخ

(مائة مسائل ص ٦٣)

ترجمه : ځواب : د الله تعالی نه علاوه کوم قبر یا غیر قبر ته سجده کول حرام او لویه ګناه ده او ک، د عبادت په اراده غیر د الله تعالی نه کوم شي ته سجده وکړي نو د کفر و شرک موجب دی او که د غیر الله نه قبر یا غیر قبر ته بغیر د څه نیت نه سجده وکړي نو دا هم موجب کفر دی لکه چې د فقهی کتابو څخه معلومیږي او د تحیه (تعظیمي) سجده کومه چې تیرو امتونو کی رواج وه هغه په شریعت محمد صلی الله علیه وسلم کی منسوخه شوی ده لکه چې د تفسیر ، حدیث او د فقه کتابونه پری دلالت کوي ، لدینه وروسته حضرت نقل کړی دی .

(امداد المسائل ترجمه مائة المسائل ص۷۰)

قبر باندی تعظیمي سجده او طواف متعلق د فاضل بریلوي مولانا احمد رضا خان صاحب فتوی :

مسئله : پدی مسئله کی دیني علماء او مفتیان صاحبان څه فرمائي چې د اولیاء کرامو قبر ښکلول ، طواف کول ، تعظیماً سجده ورته کول د شریعت له مخی حنفي مذهب مطابق جائز دي یا نه ؟

ځواب : بغیر د شبهی نه د بیت الله نه علاوه د بل څه تعظیمي طواف ناجائز او زمونږ په شریعت کی غیر الله ته سجده کول حرام دي ، او د قبر په ښکلولو کی د علماؤ اختلاف دی خو احوط منع دی . خاص د اولیاء کرامو مزارونو په باره کی زمونږه علماؤ تصریح کړی چې کم نه کم څلور لاسه فاصله باندی باید ودریږي همدا ادب دی نو بیا ښکلول څنګه متصور کیږي دا هغه څه دي چې عوامو ته فتوی ورکول کیږي او د تحقیق مقام جدا دی " لکل مقام مقال ولکل مقال رجال ولکل رجال مجال ولکل مجال منال نسئل الله حسن المآل وعنده العلم بحقیقة کل حال والله اعلم "

(احکام شریعت ج ۳ ص ۳ ، ٤)

وګورئ ! چې د قبر تعظیمي سجدی ته ناجائز ویلي او غیر الله ته سجده حرام ، او د قبر ښکلولو منع ته احوط ویلي دي .

او په بهار شریعت کی دي : مسئله : د قبر ښکلولو ته خینی علماؤ جائز ویلي دي مګر صحیح دا دي چې منع دي (اشعة اللمعات) او د قبر تعظیمي طواف منع دی او کـه چیرته برکت حاصلولو لپاره د قبر نه راتاؤ شي نو څه پروا نه کـوي مګـر منـع دی کـړی ښي بلکې د عوامو په وړاندی دی نه کوي څکه چې هغوی به ورنه نور مطلب واخلي.
(بهار شریعت ج ۴ ص ۱۵۷)

د مولانا احمد رضاخان بریلوي کتاب په " الزبدة الزكية لتحريم السجود التحيـة " کی دي : " تنظیمي سجده حرام او د خنزیر خوراک او شراب څښکلو نه هـم لویـه ګنـاه ده چې قرآن پاک ورنه په کفر سره تعبیر کړی او رکوع ترحده پوری ټیټیـدل هـم حـرام دي .

(احسن الفتاوی ص ۹)

او " جواهر القرآن فی اسرار الارکان " کی لیکي :
د زیارت په وخت کی دی د حجره محترمه دیوال ته لاس نه لګـوي او نـه بـه ورپـوری خان سولوي او د روضهٔ اطهر نه به طواف نه کوي ، څمکـه بـه نـه ښکلـوي او د رکـوع پشان به ښکته کیږي هم نه ، د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم تعظـیم د ده صـلی الله علیه وسلم په تابعداری کی دی .
(احسن الفتاوی ص ۱۹۹ او د بریلي مظهر اسلام د مدرسی مفتي ص ۹)

د نورو رضاخاني علماؤ فتواګانې :

په احسن المسائل د مفتي سید محمد افضل حسین مونګیري کی دي : " یـواځې د دی شرعي منکراتو (قبرونه ښکلول ، څمکه ښکلول ، سجده کول ، د ښځو راتلل ، په قبرونـو باندی ګانې او سندرې ، موسیقي ، ډول او رباب سره قوالي) باندی رد کولو سـره دویم ریق ته وهابي ویل ظلـم د پاسـه ظلـم دی ، توبـه لازم ده بلکـی د نکـاح او د ایمـان تجدید او نوئ کولو حکم دی ، والله اعلم ، سید محمد افضل حسین مونګیري غفر له .
مفتی دار العلوم مظهر اسلام بریلي ۲۳ صفر ۱۳۷۴ھ

(الجواب صحیح) :
(۱) فقیر مصطفی رضا قادري .
(۲) ثناء الله الاعظمي غفر له د بریلي د مظهر اسلام د مدرسی د طلباؤ خادم .
(۳) فقیر محمد اخلاق احمد د بریلي د مظهر اسلام د مدرسی استاذ .

(۴) معین الدین اعظمي د بریلي دمظهر اسلام د مدرسی استاذ .
(۵) محمد رجب علی القادري .
(٦) فقیر ابو محمد سنی رضوي د بریلي شریف مظهر اسلام مدرسی مدرس .
(۷) فقیر ابو الظفر محب الرضا محمد محبوب علی خان قادري برکاتي رضوي لکهنوي .
(۸) فقیر مظفر پوري د بریلي د مظهر اسلام د مدرسی صدر مدرس .
(۹) محمد عرف جهانګیر د ګجرات د مچهاسرا د رضویه مدرسی صدر مدرس .
(۱۰) محمد حبیب الله دمراد آباد د جامعه نعیمه مفتي .
(۱۱) فقیر عبد الحفیظ مفتي آګره .
(په حواله د " احسن الفتاوی " د مفتي سید افضل حسین مونګیري (۱۲ _ ۱۴) صفحې) .

د عرس په موقع باندی ښځی په جل بل او زري لباس کی بی پردی راځي ، او د بی حیایۍ مظاهرې هم وي او په حدیث کی دي : " لعن الله الناظر والمنظور الیه " یعنی غیر محرم ښځی ته کتونکی او هغه ښځی باندی چی ورته کتل کیږي د الله تعالی لعنت دی ، داسی عرس څنګه جائز کیدی شي ؟

د ښځو زیارت ته تللو متعلق د مولانا احمد رضاخان صاحب فتوی :

عرض : جناب اجمیر شریف کی د خواجه صاحب مزار ته د ښځو تګ جائز دی یا نه ؟

ارشاد : غنیة کی دي : دا تپوس مه کوئ چی د ښځو مزار ته تلل جائز دي یا نه ؟ بلکی دا تپوس وکړئ چی په هغه ښځی باندی د الله څومره لعنت کیږي او د قبر دخاوند له طرفه څومره لعنت کیږي ، کوم وخت چی هغه د کور نه اراده وکړي نو لعنت شروع کیږي او څو پوری چی واپس کور ته راځي ملائکی پری لعنت کوي د روضه انور نه علاوه بل کوم مزار ته د تللو اجازت نشته او هلته حاضریدل البته جلیله عظیمه سنت دی چی واجب ته قریب دي او قرآن کریم دا د ګناهونو د مغفرت تریاق ښودلی ، په خلاف د نورو قبرونو او مزارونو چی دلته داسی تاکید موجود ندی او احتمال مفسده موجود دی ، که د خپلوانو قبرونه وي نو بی صبري به کوي او که د اولیاؤ قبرونه وي نو احتمال لري چی بدتمیزي سره بی ادبي وکړي او یا د جهالت په وجه په تعظیم کی افراط وکړي لکه لکه څنګه چی ښکاره لیدلی کتلی شوي ،لهذا دوی

لپاره احتراز کول غوره دي (ملفوظات مولانا احمد رضاخان ص ١١٦ ، ١١٧ دویمه حصه) .

په بهارت شریعت کی دی : مسئله : ښځو لپاره هم ځینی علماؤ د قبرونو زیارت لپاره د تلو اجازه کړی ده ، په درمختار کی همدا قول اختیار کړی مګر که د خپلوانو قبرونو ته خي نو جزع فزع به کوي لهذا ممنوع دی او د صالحانو قبرونو ته برکت لپاره که خي نو زړو ښځو ته پرواه نشته خو خوانانو لپاره ممنوع دی (رد المختار) او اسلم دا دي چی ښځی مطلقاً منع کړی شي ځکه چی د خپلوانو په قبرونو خو به ژړا فریاد کوي او د صالحانو په قبرونو باندی یا به تعظیم کی دحد نه تجاوز کوي او یا به بی ادبي کوي چی ښځو کی دا دواړه خبرې په کثرت سره موجودی دي .

(فتاوی رضویه)

په قبرونو باندی ډیوې بلول

په قبرونو باندی ډیوې بلولو ځخه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یواځی منع کړی بلکی داسی کونکو باندی لعنت هم کړی دی ، په حدیث کی دي :

" عن ابن عباس رضی الله عنهما قال لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج " رواه ابوداؤد والترمذی والنسائی (مشکواة شریف ص ٧١ باب المساجد ومواضع الصلواة) .

ترجمه : د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ښځو باندی لعنت کړی چی قبرونو ته ځي او هغو خلکو باندی هم لعنت کړی چی قبرونه سجده ګاه جوړوي او ځوک چی ډیوې پری بلوي .

ملا علي قاري حنفي د دی په شرح کی فرمائي :

" والنهی عن اتخاذ السرج لما فیه من تضیع المال لانه لانفع لاحد من السراج ولانها من آثار جهنم واما للاحتراز عن تعظیم القبور کالنهی عن اتخاذ مساجد الخ "

(مرقاة شرح مشکواة ص ٢١٩ ج ٣ مطبوعه مکتبه امدادیه ، ملتان ، پاکستان)

ترجمه : په قبرونو باندی د ډیوی بلولو ممانعت یا خو پدی وجه دی چی پدیکی بی فائدی مال ضائع کول دي ځکه چی پدی سره هیچا ته فائده نه رسي ، او پدی وجه هم چی اور خو د جهنم له اثارو ځخه دی (دا د قبر نه لری ساتل پکار دي) او یا دا

ممانعت د قبرونو (غیر شرعي) تعظیم نه بچ کولو لپاره دی لکه چی د قبرونو سجده گاه جوړولو ممانعت هم په همدی بناء دی .
د حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي بهترین شاگرد او دحضرت مرزا مظهر جان جانان خاص خلیفه د وخت بیهقي حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي نقشبندي په تفسیر مظهري کی فرمائي : " لایجوز ما یفعله الجهال بقبور الاولیاء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السرج والمساجد علیها ومن اجتماع بعد الحول کالعیاد ویسمونه عرساً " (تفسیر مظهری بحواله فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۹۵ اردو) .
یعنی جاهل خلک چی د اولیاؤ او شهیدانو له قبرونو سره کوم سلوک کوي یعنی قبرو ته سجده او ورنه طواف کول ، ډیوې او شمعې پرې بلول او هر کال د اختر پشان هلته جمع کیدل چی عرس ورته وائي دا ټول کارونه ناجائز دي .
حضرت شاه محمد اسحاق صاحب (د حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي لمسی) لیکي : (سوال سی و نهم) روشني کردن برای تعظیم میت جائز یا گناه ؟ کدام گناه ؟
ترجمه : د مړي د تعظیم لپاره قبر باندی رڼا جوړول جائز دي یا گناه او کوم قسم گناه ؟
جواب : غیر جائز بلکه مستوجب لعن است کما هو مذکور فی الحدیث فی المشکواة عن ابن عباس رضی الله عنهما لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج ، رواه ابوداؤد والنسائی والترمذی . الی قوله .
در ترجمه شیخ عبد الحق تحت این حدیث مرقوم است و لعنت کرده است رسول خدا صلی الله علیه وسلم کسانیکه می گیرند قبور را مسجد یعنی سجده برندگان بجانب قبور بقصد تعظیم چنانکه گذشت و کسآني را که میگرند چراغها را بر قبور بقصد تعظیم و نزد بعضی حرام است اگرچه تعظیم باشد از جهت اسراف وتضییع مال و بعضی گویند که اگر برای رهگذر مردم باشد یا درسایه چراغ کاری می کرده جائز است ودرین صورت چراغ گرفتن بجهت قبر نیست بلکه بجهت کاري دیگر است که روشني قبر ازان منظور نیست انتهی ـ پس ازین روایات معلوم شد که روشنی کردن برقبور غیر جائز است ومقرون بلعنت شدن فعلی دلیل گناه ست ولزد بعضی علامت کبیره است کما ذکره الشیخ عبدالحق فی شرح العربی علی المشکواة (مائة مسائل ص ۷۲ ، ۷۳) .

ترجمه : خواب : ناجائز دی بلکې د لعنت قابل دی لکه چې د مشکواة په یو حدیث کې دي د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبرونو زیارت کونکو ښځو او په قبرونو باندی جماعت جوړونکو او ډیوې او شمعې بلونکو باندی لعنت کړی دی او د دی حدیث روایت ابوداؤد ، نسائي او ترمذي کړی دی (مشکواة) الی قوله _ شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله د پورتني حدیث لاندی د مشکواة په ترجمه کې لیکي : رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خلکو باندی چې قبرونو باندی جوماتونه جوړوي یعنی د تعظیم په اراده قبرونو ته سجده کونکو باندی لعنت کړی دی لکه چې پورته ذکر شو او هغه خلکو باندی لعنت کړی دی کوم چې د تعظیم په اراده قبرونو باندی ډیوې او رڼاګانې جوړوي او دځینو علماؤ په نزد حرام دي اګر که (د هغوی دا کار تعظیماً نه وي) لیکن د اسراف او د مال ضائع کولو په وجه حرام دي ، او ځینی علماء فرمائي : که چیرته د خلکو د تګ او راتګ لپاره وي او یا د ډیوی په رڼا کې کوم کار کوي نو جائز دي نو پدی صورت کې قبر لپاره ډیوه بلول مقصود نه دي بلکې د یو بل کار لپاره او د قبر رڼا کول مقصود ندي لیکن که چیرته د قبر رڼا کول مقصود وي نو بیا ډیوه بلول حرام دي ، انتهی (ترجمه مشکواة للشیخ) نو پدی روایتونو سره معلوم شوه چې په قبرونو باندی رڼائي کول ناجائز دي او د کوم فعل ملعون کیدل موجب د ګناه دي او دځینو علماؤ په نزد خو د ګناه کبیره علامه ده لکه چې شیخ عبد الحق محدث دهلوي د مشکواة په عربي شرح کې بیان کړي دي (امداد المسائل ترجمه مائة المسائل (۸۰ _ ۸۲) صفحې) .

په قبرونو باندی ګلان اچول

د حدیث نه دومره ثابت دي چې یوه موقع باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوه قبرونو باندی تیریدو چې ارشاد یې وفرمایل : دی دواړو ته عذاب ورکول کیږي او بیا یې د کجوری شنه لخته راوړه او بیا یې دده ټکړی کړه یوه ټکړه یې په یو قبر باندی ښخه کړه او بله ټکړه یې په بل قبر باندی او وی فرمایل ، امید دی چې څو پوری دا وچ نشي د دی دواړو په عذاب کې به تخفیف او آسانې وکړی شي (بخاري ، مسلم په حواله د مشکواة ص ۴۲ باب اداب الخلاء) که په حقیقت کې حدیث باندی عمل کول

وي نو کومه شنه لخته دی قبر باندی ودرولی شي لکه چی دفن کولو وخت کی تازه شاخ ودرولی شي نو دا د ګلانو سره ولی خاص کولی شي ؟ شاخ په آساني سره او مفت ملاویدی شي او ګلان خو اخستل غواړي که دغه پیسی د ایصال ثواب په نیت کوم غریب ته ورکری شي نو مړي ته د زیاتی فائدی رسیدو امید دی . معلومیږي چی ګلان یا خو مړي ته د نزدیکت په نیت سره اچولی شي چی د دی ناجائز او حرام کیدل ښکاره دي او یا صرف رواج لپار او پدی کی د مال ضائع کول او د هندوانو سره مشابهت دی او مسلمانانو لره د کافرانو او فاسقانو سره مشابهت کول حرام دي (ما لا بد منه ص ۱۳۱) د مړي لپاره د ایصال ثواب بهتر صورت دا دی چی خه لوستلو سره یا صدقه او خیرات کولو سره ایصال وکړي د مړي روح به ډیر خوشحال شي او دا طریقه دسنت مطابق ده .

د حضرت شاه محمد اسحاق صاحب مفصله فتوی :

(سوال چهل ویکم) چادر ګل انداختن بر قبر چه حکم دارد جائز یا ګناه ؟

ترجمه : (۴۱ سوال) په قبر د ګلونو څادر اچول څنګه دي ؟ جائز یا ناجائز ؟

(الجواب) " اګر برای تقرب میت می اند ازند غیر جائز است وحرام کما یفهم من الدر المختار وغیره عبارته هکذا اعلم ان النذر الذی یقع للاموات ومایؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقرباً الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام مالم یقصدوا صرفها لفقراء الانام وابتلی الناس بذلك ولا سیما فی هذه الاعصار ، انتهی و اګر برائی تزئین قبر و تجمل آن باشد آنهم مکروه است زیراکه قبر محل زینت وتجمل نیست بلکه نزد قبر فعلی باید کرد که تذکر آخرت شود که در حدیث شریف وارد است زور والقبور فانها تزهد الدنیا تذکر الاخرة ، پس امری که خلاف زهد وتذکر آخرت باشد مطلوب اززیارت قبور نیست پس زینت و تجمل قبر خلاف مقصود شارع خواهد شد و کسانیکه انداختن سبزه ، وګل برقبور جائز دا شته اند تمسک کرده اند بحدیثی که در مشکواة وغیره است مرا النبی صلی الله علیه وسلم بقبرین فقال انهما لیعذبان وما یعذبان فی کبیر اما احدهما فکان لا یستتر من البول وفی روایة مسلم لا یستنزه من البول واما الاخر فکان یمشی

بالنميمة ثم اخذ جريدة رطبة فشقها بنصفين ثم غرز في كل قبر واحدة . قالوا يـا رسول الله لما صنعت هذا فقال لعله ان يخفف عنهما مالم ييبسا شيخ عبد الحق محدث دهلوي تحت اين مى نويسند تمسك مى كند جماعت باين حديث درانداختن سبزه وگل و ريحان برقبور ، وخطابي كه از ائمه اهل علم وقدوة شراح حديث اين قول رارد كرده است و انداختن سبزه و گل رابر قبور متمسك باين حديث انكار نموده و گفته كه اين سخن اصلى ندارد و در صدر اول نبوده و بعضى گفته اند بنا برآن تحديد و توقيت بدانست كه آنحضرت صلى الله عليه وسلم شفاعت خواست در تخفيف عذاب پس قبول كرده شد ازوى تامدت خشك شدن آن شاخ كلمهٔ لعل ناظر است درين معنى .... الخ .

(مائة مسائل ص ٧٤ ، ٧٥ ، ٧٦)

ترجمه : كه چيرته مړي ته نزديكت لپاره د گلونو خادرې غوړوي نو ناجائز او حرام دي لكه چې در مختار وغيره نه همداسى معلوميږي ، د درمختار عبارت دا دى ، ترجمه : خبردار ! كوم نذرونه چې مړو لپاره منلى كيږي او هغه پيسى او روپۍ ، شمعې ، تيل او د دى پشان نور شيان كوم چې د اولياء كرامو مزارونو ته د دوى د نزديكت لپاره وړلى شي هغه په اجماع سره باطل او حرام دي خو پورى چې د دى شيانو د خرچ كولو اراده فقيرانو لپاره نه وي . او پدى آفت كى خصوصاً پدى زمانه كى تول خلك اخته دي (انتهى . (درمختار) او كه چيرته د گلونو خادر د قبر د زينت او بنايست لپاره وي بيا هم مكروه دى ځكه چې قبر د زيب و زينت ځاى ندى بلكى قبرستان كى هغه افعال كول پكار دي چې په هغو سره د آخرت يادېدل زيات وي ، په حديث شريف كى راغلي دي : د قبرونو زيارت كوئ ځكه د قبرونو زيارت كولو سره د دنيا نه بې رغبتي او آخرت رايادوي ، نو كوم كارونه چې د زهد او د آخرت د ياد نه مخالف وي هغه د زيارت قبور مقصود ندي ځكه چې د قبر زينت او بنايست د شارع عليه السلام د مقصود نه خلاف دي ، او كوم خلك چې شينكي او گلان په قبرونو باندى غوړول جائز گڼي هغوى د مشكواة پدى حديث شريف باندى استدلال كړى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوه قبرونو باندى تير شو او وى فرمايل : دى دواړو ته عذاب وركول كيږي ليكن دا د كوم لويه گناه په وجه ندى بلكى يو سړي د ده د متيازو نه ځان نه ساتلو او دويم سړى چغل خور و بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه تازه شاخ او

لخته راوړله او په منځ یې پرې کړه نیم یې په یو قبر باندې ودرولو او نیم یې په بل قبر، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ یارسول الله تاسو داسې ولې وکړل؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شاید چې پدې سره د دوی عذاب سپک کړی شي څو پورې چې دا وچ شوي نه وي. شیخ عبد الحق محدث دهلوي د دې حدیث لاندې لیکي چې لدې حدیث نه یوه ډله قبرونو باندې شینکي، ګل او ریحان اچولو باندې استدلال کوي لیکن علامه خطابي چې امام العلماء او دحدیث د شارحینو پیشوا دی پدې قول باندې رد کړی دی او لدې حدیث نه په قبرونو باندې شینکي او ګلانو غوړولو په استدلال باندې انکار کړی دی او فرمایلي دي چې دا خبره هیڅ کوم اصل نه لري او په اولنو زمانو کې هم نه وه، او ځینې علماؤ ویلي دي چې د دې حد او وخت مقرزولو نه معلومیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعذاب د تخفیف شفاعت کړی ؤ چې د دې شاخ د وچیدو تر وخته پورې قبول کړی شوی او د لعل د لفظ نه هم دا خبره فهمیږي الخ.

(امداد المسائل ترجمه مائة مسائل (۸۲ ـ ۸۴) صفحې)

یو نوی بدعت

د جمعې لمانځه نه وروسته اجتماعي صلواة و سلام

په ځینې ځایو کې د لمانځه نه وروسته خصوصاً د جمعې لمانځه نه وروسته په ودریدو سره اجتماعي طور باندې په یو خاص طرز په خوزیدو او لوړ آواز سره التزاماً درود و سلام وائي او دې طریقې ته د اهل سنت (سني کیدو) علامه وائي کوم خلک چې ورسره پدې کار کې شرکت نه کوي هغوی د اهل سنت نه خارج ګني او بدعقیده ورته

---

[1] ـ زه وایم چې لدې حدیث نه د بدعتیانو استدلال بالکل غلط دی ځکه چې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم قبرونو باندې د کجوری شاخ ودرولی ؤ ګلان خوبي نه ؤ غوړولي که د دوی مقصود اتباع وای نو دوی ته پکار ؤ چې د کجوری شاخ ودروي نه دا چې ګلان پرې وغوړوي نو معلومه شوه چې د دوی مقصود بدعت دی نه اتباع او بله دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عمل د ګنهګار په قبرونو کړی ؤ نه د صالحانو په قبرونو نو که د دوی مقصود اتباع وای نو پکار ؤ چې د فاسقانو او فاجرانو په قبرونو باندې ګلان وغیره غوړولی لیکن داسې نه کوي بلکې دداسې خلکو په قبرونو باندې ګلان غوړوي چې د هغوی متعلق دوی د عذاب احتمال څو څه کوی امکان یې هم نه مني لو معلومه شوه چې د دوی مقصود اتباع نه بلکې ابتداع (بدعت) دی دا استدلال د استنباط له جملې څخه نه بلکې د تحریف له قبیلې څخه دی" اعاذنا الله من ذلك" (حبیب احمد کیرانوي، امداد المسائل ترجمه مائة مسائل ص ۸٤).

وابي ، د درود او نعوذ بالله د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالف او گستاخ ورته وابي او ځینې متشدد د ټولو حدودو نه تجاوز کولو سره د کفر فتوی هم لګوي . نعوذ بالله ، انا لله

یقیناً درود و سلام ډیر اوچت عبادت دی او ډیر عظیم عمل دی په قرآن مجید کی ډیر اهتمام سره د دی حکم دی او په حدیثو کی د دی بی شمیره فضائل او فوائد بیان شوی دی دی عظیم عبادت لپاره د نورو عبادتونو پشان خه اصول او آداب دي چی د هغو رعایت او پابندي نهایت ضروري دی او ددی پرینښودو سره د خپل نفسي خواهشاتو او خود ساخته طریقی مطابق عمل کولو د ثواب په ځای ګناه او د نزدیکت په ځای د لری والي سبب جوړیږي .

غور وکړئ ! که چیرته یو سړی د تکبیر تحریمی په ځای په درود شریف سره لمونځ شروع کړي او د سورت فاتحه په ځای درود شریف ولولي او د سورت یو ځای په ځای درود شریف ولولي او د انتقالاتو تکبیرونو په ځای هم د درود شریف وظیفه وکړي ، په رکوع او سجده کی هم درود شریف ولولي ؛ او تشهد (التحیات لله) پریدي او درود شریف کی لګیا شي نو تاسو پخپله ووایئ چی پدی ځایونو کی د درود شریف ویلو اجازت شته؟ او دیته صحیح طریقه ویل کیدی شي ؟ لمونځ صحیح کیږي ؟ که چیرته یو سړی په اوله قعده کی د تشهد نه وروسته درود شریف ولولي نو سجده سهو لازمیږي ، نو معلومیږي دا چی بی محل او بی ځایه درود شریف ویل صحیح ندي ، صلواة وسلام انفرادي طور (ځانته ځانته) ویل کیږي دی لپاره اجتماع ، اهتمام او التزام ثابت ندی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول او عمل ، د صحابه کرامو رضی الله عنهم ، تابعین او تبع تابعین ، محدثین ، مجتهدین امامان ، اولیاء کرام او مشائخ کرام ، حضرت شیخ عبد القادر جیلاني ، خواجه معین الدین چشتي اجمیري ، خواجه نظام الدین اولیاء او غیرد حضراتو نه لمانځه نه وروسته جومات کی اجتماعي طور په ولاړه باندی په لوړ آواز سره د صلواة و سلام ویلو یو مثال هم نشي پیش کولی ،لهذا دا طریقه یقیني بدعت ده د دی پیدا کونکی او پدی باندی عمل کونکی او پدی باندی اصرار کونکی او دی لره دین ګڼونکی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خفګان او د لعنت مستحق دی او بدعت په باره کی چی کوم وعیدونه وارد شوي هغه تاسو تفصیل سره ولیدل .

کوم عبارت کی چی اجتماع ثابت ندی هغه کی د اجتماع نه منع کولی شي د دی یو څو نمونې

کوم عبادت لپارہ چی اجتماع ثابت نه وي که چیرته اهتمام او التزام سره په اجتماعي طریقی سره هغه عبادت ادا کړی شي نو هغه به مناسبه طریقه نه وي او لدی څخه به منع کولی شي او د سلف صالحینو څخه د دی ثبوت کیږي د دی څو نمونی وګوری :

(۱) د څاښت لمونځ له حدیث نه ثابت دی خو دی لپاره جوماتو کی اجتماع او اهتمام ندی ثابت ، حضرت ابن عمر رضی الله عنه کله چی ولیدل خلک جوماتو کی راغونډیدو سره ادا کوي نو پری خفه شو او بدعت یی ورته وویل :

" عن مجاهد قال دخلت انا و عروة ابن الزبیر المسجد فاذا عبد الله ابن عمر رضی الله عنه جالس الی حجرة عائشة رضی الله عنها واذا اناس یصلون فی المسجد صلواة الضحی قال فسألناه عن صلواتهم فقال بدعة " (بخاری ج ۱ ص ۲۳۸ باب کم اعتمر النبی صلی الله علیه وسلم) .

(۲) شهاب الدین شیخ رومی رحمه الله فرمائي :

" ویستحب التکبیر فی طریق المصلی لکن لا علی هیئة الاجتماع والاتفاق فی الصوت ومراعات الانغام فان ذلك کله حرام بل یکبر کل واحد بنفسه " .

ترجمه : عیدګاه ته تلو راتلو کی په لاره باندی تکبیر " الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد " ویل مستحب دي لیکن ټول په یوځای کیدو او یوآواز سره د وزن رعایت سره دی نه وائي چی دا حرام دي بلکی هر یو دی ځانله ځانله ووائي (مجالس الابرار ص ۲۱۳ مجلس نمبر ۳۲) .

(۳) د وړوکي او د لوی اختر شپه کی ، د برائت شپه کی ، د رمضان المبارک آخري عشره شپو کی ، د ذو الحجه لس ورځو او لسو شپو کی د عبادت ډیر لوی فضیلت راغلی دی لیکن فقهاء کرامو لیکي چی پدی شپو کی عبادت کولو نفلونه وغیره ادا کولو لپاره په جومات کی جمع کیدل مکروه دي ، په بحر الرائق کی دي :

" ومن المندوبات احياء ليالى العشر من رمضان وليلتى العيدين وليالى عشر ذى الحجة وليلة النصف من شعبان كما وردت به الاحاديث وذكرها فى الترغيب والترهيب مفصلة والمراد باحياء اليل قيامه .... ويكره الاجتماع على احياء ليلة من هذه الليالى فى المساجد " (البحر الرائق ص ۵۳ ، ج ۲ باب الوتر والنوافل)

(۴) علامه ابن الحاج په " كتاب المدخل " کى ليکي : " وانما اجتماعكم لذلك فبدعة كما تقدم " يعنى د جمعى په ورځ په جومات کى اجتماعي طور سره د سورت کهف ويل بدعت دى (انفرادي طور سره ډير لوى د ثواب کار دى) (كتاب المدخل ج ۲ ص ۸۱) .

(۵) امام نافع رحمه الله فرمائي : دحضرت ابن عمر رضى الله عنه په وړاندى يو سړي پرنجي وکړ او هغه " الحمد والسلام على رسول الله " وويل ، حضرت ابن عمر رضى الله عنه وفرمايل دا كلمات زه هم لولم مګر پدى موقع باندى رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د دى کلماتو ويلو تعليم ندى راکړى پدى موقع يواځى " الحمد لله على كل حال " ويلو تعليم راکړى دى .

" عن نافع ان رجلاً عطس الى جنب ابن عمر رضى الله عنهما فقال الحمد لله والسلام على رسول الله فقال ابن عمر انا اقول الحمد لله والسلام على رسول الله وليس هكذا علمنا رسول الله صلى الله عليه وسلم علمنا ان نقول الحمد لله على كال حال " (ترمذى شريف باب ما يقول العاطس اذا عطس ج ۲ ص ۹۸) (مشكواة شريف ص ٤٠٦ باب العطاس والتثاؤب) .

پدى کلماتو کى دا زياتي کلمه " والسلام على رسول الله " د خپل معنى په لحاظ سره بالکل صحيح ده ليکن پدى موقع رسول الله صلى الله عليه وسلم د دى د ويلو تعليم ندى کړي ، نو ابن عمر رضى الله عنه ته همدا شى نوى معلوم شو نو فوراً يى ورباندى رد وکړ .

امام شاطبی رحمه الله فرمائي : په عباداتو کې مخصوص کیفیات او مخصوص طریقې او وختونه مقررول کوم چې شریعت کې ندي ثابت بدعت او ناجائز دي . (الاعتصام ج ۱ ص ۲۴) .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله فرمائي : هر هغه کار چې د هغه متعلق صاحب شریعت له طرفه ترغیب نه وي د هغه ترغیب ورکول او د کوم چې وخت مقرر نه وي د هغه وخت مقررول د سید الانام صلی الله علیه وسلم د سنت نه خلاف دي او د سنت مخالفت کول حرام دی (مجموعه فتاوی عزیزي ج ۱ ص ۹۹) .

او په بحر الرائق کې دي :

" ولان ذكر الله تعالى اذ قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم يكن مشروعاً حيث لم يرد به الشرع لانه خلاف المشروع "

(البحر الرائق ج ۲ ص ۱۵۹ باب العيدين تحت قوله غير مكبر و مشتغل)

د یو اشکال ځواب

ځینې خلک په ډیره سادګۍ سره دا خبره کوي چې پدې کې دګناه څه خبره ده ؟ دا خو درود شریف ویل کیږي ، لیکن که پورته ذکر شوي خبرو باندې غور وکړی نو دا خبره به د رڼا ورځ پشان واضحه شي چې : کوم عمل بې موقع او بې ځایه وکړی شي هغه دملامتیا او د مواخذې قابل دی .

وګورئ ! روایت دی چې امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه یو سړی په عیدګاه کې د اختر په ورځ ولید چې د اختر لمانځه نه مخکې نفل لمونځ کوي هغه یې منع کړ نو هغه وویل امیر المؤمنین زما یقین دی چې الله تعالی ما ته په لمونځ باندې عذاب نه راکوي ، حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل زما هم یقین دی کوم کار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وي کړی او دهغه د کولو ترغیب نه وي ورکړی هغه باندې الله تعالی ثواب نه ورکوي نو هغه کار عبث ګرځي او عبث کار بې فائدې او بیکاره وي نو ویره ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مخالف کیدو په وجه الله تعالی عذاب درکړي (مجالس الابرار ص ۱۲۹ مجلس ۱۸) .

یو سړي د ماښکر لمانځه نه وروسته دوه رکعته نفل کول حضرت سعید ابن المسیب رحمه الله هغه منع کړ نو هغه ورنه تپوس وکړ چې " یا ابا محمد ایعذبنی الله علی

الصلواة ؟ " ای ابو محمده ! ایا الله تعالی به ما ته په لمونځ باندی عذاب راکوي ؟ هغه وفرمایل " لکن یعذبك الله بخلاف السنة " (عبادت د سزا او د عتاب سبب ندی) لیکن الله تعالی به د سنت په مخالفت باندی تا ته سزا درکوي (مسند دارمي) .

فکر وکړئ ! لمونځ عبادت دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو یخوالی دی الله تعالی ته د نزدی کیدو ذریعه ده مګر د اختر لمانځه نه مخکی او د مازیګر لمانځه نه وروسته نفل کول چونکی دسنت خلاف دي پدی وجه موجب د عذاب وګرځید او په سختی سره منع کړی شو ،لهذا د صلواة او سلام کومه طریقه چی ایجاد کړی شوی همدیته بدعت ویل کیږي ، حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خپل زمانه کی څه خلک ولیدل چی جومات کی په لوړ آواز سره درود شریف وائي نو ده ورته بدعتیان وویل او له جومات نه یی وشړل : " لما صح عن ابن مسعود رضی الله عنه انه اخرج من المسجد یهـــــللون ویصـــــلون علی النبی صلی الله علیه وســــلم جهـــراً وقال لهم ما اراکم الا مبتدعین " .

یعنی حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه نه په صحیح سند سره ثابت دي چی دوی یوه ډله جومات نه صرف پدی وبستلی وه چی په اوچت آواز یی لا اله الا الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی درود ویلو او فرمایلي یی وو چی زه تاسو باندی د بدعتیانو ګمان کوم (شامي ج ۵ ص ۳۵۰ کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع عند قوله هل یکره رفع الصوت بالذکر) .

کوم خلک چی مروجه صلواة و سلام باندی عمل کوي او ځای په ځای د دی طریقو رواج کولو لپاره کوشش کوي او کوم خلک چی د دوی پدی نوي ایجاد او خود ساخته طریقه باندی عمل نه کوي هغو ته بدرد او بدعقیده د رسالت دتعظیم نه منکر او د درود مخالف او پته نه لګي چی کوم قسم خبرې ورپسی کوي د ذکر شوي روایت نه دوی ته عبرت حاصلول پکار دي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم جلیل القدر صحابی حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه خو ورته بدعت وائي او داسی خلک له جومات نه وباسي او دا خلک دغه د سنی کیدو علامه ګرځوي ، فاعتبروا یااولی الابصار . ببین تفـــاوت ره ازکجـــا ست تـــابکجا

کامل اتباع داده چې کوم عمل څه طریقې سره ثابت وي په هغه طریقه پرې عمل وشي د دې یو څو نمونې

کامل اتباع او حقیقي پیروي دا ده چې کوم عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په کوم شان سره ثابت وي په هماغه شان ورباندې عمل وکړی شي او د خپل طرف نه څه کمی زیاتی ونه کړی شي مثلاً :

(۱) د لوی اختر په ورځ عیدګاه ته تګ راتګ وخت کې په اوچت آواز سره باید تکبیرونه وویل شي او په وړوکي اختر کې په رو رو ، ځکه چې پدې طریقه ثابت دي .

(۲) د کسوف (لمر تندر نیول) لمونځ جماعت سره ادا کیږي او د خسوف (سپوږمی تندر نیول) لمونځ انفرادي طور سره باید ادا شي د جماعت سره منع او مکروه دی ځکه چې ثابت ندي .

(۳) د استسقاء لمونځ کې خطبه شته او د کسوف لمونځ کې نشته ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندی .

(۴) په رمضان المبارک کې وتر جماعت سره ادا کیږي او په نورو ورځو کې جماعت سره ادا کول مکروه او ممنوع دي ځکه چې ثابت ندي .

(۵) د جمعې لمونځ لپاره دوا آذانونه (یو مناره باندې او بل منبر په وړاندې) کیږي او د لمانځه نه وړاندې اقامت کیږي مګر په دواړو اخترونو کې نه د مناری اذان شته او نه د خطبې او نه د لمانځه نه وړاندې اقامت شته د دی سبب یواځې همدا دی چې آذان او اقامت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت ندي .

(٦) د اشراق لمونځ همیشه کولی شي د مقبول حج او عمرې ثواب ملاویږي مګر په اخترونو کې منع دي ځکه چې ثابت ندي .

محرم او تعزیه داري :

علامه ابن حجر مکی رحمه الله فرمائي :

" وایاه ثم ایاه ان یشغله ببدع الرافضة ونحوهم من الندب والنیاحة والحزن اذ لیس ذلك من اخلاق المؤمنین و الا لکان یوم وفاته صلی الله علیه وسلم اولی بذلك واحری " (صواعق محرقه ص ۱۰۹) (شرح سفر السعادة ص ٥٤۳) .

خبردار او هوښیار شه ! د عاشورا په ورځ د شیعه ګانو په بدعتو کی اخته نشی لکه مرثیه خواني . ژړا ۶ فریاد او درد و غم کول ځکه چی دا خرافات د مسلمانانو د شان سره لائق ندي ، او که داسی کول جائز وای نو بیا دی لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات ورځ زیات حقدار وه .

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله فرمائي :

" ولو جاز ان یتخذ یوم موته مصیبة لکان یوم الاثنین اولی بذلك اذ قبض الله تعالی نبیه محمداً صلی الله علیه وسلم فیه وکذالك ابوبکر الصدیق رضی الله عنه قبض فیه " (غنیة الطالبین ص ۳۸ ج ۲) .

ترجمه : که چیرته دحضرت حسین رضی الله عنه د شهادت ورځ "یوم المصیبت او ماتم" په طور ولمانځل شي نو بیا دی درد و غم لپاره د دوشنبی ورځ زیات لائق ده ځکه چی پدی ورځ حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم وفات شوی او هم ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفات شوی دی (او حال دا چی هیڅوک نه کوي) .

او علامه شیخ رومي په مجالس الابرار کی لیکي :

" واما اتخاذه ماتما لاجل قتل الحسین بن علی رضی الله عنهما کما یفعله الروافض فهو من عمل الذین ضل سعیهم فی الحیواة الدنیا وهم یحسبون انهم یحسنون صنعا اذ لم یامر الله ولارسوله باتخاذ ایام مصائب الانبیاء وموتهم ماتما فکیف بما دونهم ؟ " (مجالس الابرار ص ۲۳۹ م ۳۷) .

ترجمه : او د دی ورځی د حضرت حسین رضی الله عنه بن علی رضی الله عنه د شهادت په سبب د ماتم ورځ جوړول لکه شیعه ګان چی کوي دا د هغو خلکو کار دی چی د هغوی کوشش دنیا کی ضائع شوی او هغوی خیال کوي چی مونږ خپل کار ډیر ښه کوو ، ځکه چی الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د انبیاء کرامو علیهم السلام د مصیبت او د مرګ ورځو لره د ماتم کولو حکم ندی کړی نو د دوی نه د لاندی خلکو څه تپوس کوی ؟

محدث علامه محمد طاهر فرمائي :

" فانه تجدید الماتم وقد نصوا على كراهية كل عام فى سيدنا الحسين مع انه ليس له اصل فى امهت البلاد الاسلامية "

یعنی : هر کال د سیدنا حسین رضی الله عنه ماتم کول علماؤ مکروه تحریمي ګرځولي او د اسلامي ملکونو څخه یوځای کی هم دا طریقه رواج نه ده (مجمع البحار ۵۵۰/۳).

علامه حیات سندهي ثم المدنی (المتوفی ۱۱۶۰ھ) فرمائي : " د شیعه د غلطیو څخه یوه غلطي دا هم ده چی دوی د حضرت حسین رضی الله عنه د قبر تصویر جوړوي او نه يې ښایسته کولو سره په لارو کوڅو کی ګرځوي او یاحسین یا حسین آوازونه کوي او فضول خرچونه کوي دا ټول کارونه بدعت او ناجائز دي " (الرقضه فی ظهر الرفضه) .

شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله فرمائي :

" در صواعق ګفته که طریقه اهل سنت آنست که درین روز هم از مبتدعات فرقه رافضیه مثل ندبه و نوحه و عزا او امثال آن اجتناب کنند که نه از داب مومنان است والا روز وفات حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولی واحری میبود " .

(شرح سفر السعادت ص ۵۴۳)

یعنی : د اهل سنت طریقه دا ده چی د عاشورا په ورځ د شیعه ګانو دبدعاتو مثلاً ماتم (ویر کول) نوحه (ژړا) وغیره نه ځان وساتي چی دا د مؤمنانو کار ندی ، او که نه د دی غم ټولو نه زیات حقدار د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د وفات ورځ ده .

حضرت سید احمد بریلوي رحمه الله فرمایي :

" از جمله بدعات رفضه که درد یار هندوستان اشتهار تمام یافته ماتم وتعزیه سازي ست درماه محرم بزعم محبت حضرت حسین بن علی رضی الله عنهما ...... این بدعات چند چیز ست اول ساختن نقل قبور ومقبره و علم و شده غیرها واین معنی بالبداهت از قبیل بت سازي و بت پرستي است " یعنی د محرم په میاشت کی د حضرت حسین رضی الله عنه په محبت په ګمان ماتم او تعزیه سازي هم د شیعه ګانو له هغه بدعتونو څخه دي چی په هندوستان کی رواج شوي دي ، او د دی بدعتونو څو قسمونه دي (۱) د قبر او مقبری نقل ، علم وشده (جنډا) وغیره چی دا په ښکاره طور یو قسم بت سازي او بت پرستي ده .

(مجموعه ملنوظات عرف صراط مستقیم فارسي ص ۵۹)

رضاخاني او بریلوي علماء هم دی خرافاتو ته ناجائز او گناه وائي د بریلوي ملایانو فتوی

د مولانا احمد رضاخان بریلوي صاحب فتوی غور سره ولولئ او عبرت او سبق تری حاصل کړئ

(۱ سوال) علم ، تعزیه ، برک ، نکریزی په کومه طریقه چې رواج دی بدعت دی او په بدعت سره د اسلام شان و شوکت نه کیږي ، او تعزیه ته حاجت روا گڼل جهالت دی د پاسه جهالت دی او دیته نذرونه منل حماقت دی او نه کول یې باعث د نقصان گڼل د ښځو وهم دی ، مسلمانانو ته داسې حرکتونو څخه ځان ساتل پکار دي .

(رساله محرم وتعزیه داري ص ۵۹)

(۲ سوال) تعزیه جوړول سنت دي ، د چا چې دا عقیده وي یا دقرآن شریف د کوم آیت او یا حدیث نه استدلال وکړي ، د اهل سنت والجماعت د علماؤ په نزد داسې سړی د اسلام نه خو خارج نشي گڼلی ، په هغه باندی د کفر اطلاق کیږي یا نه ؟ او دا څنگه شروع شوی ؟ که مخې ته راشي نو د تحقیر یا تعظیم په نظر ورته کتل پکار دي یا نه ؟

ځواب : هغه جاهل ، خطاء او مجرم دی مگر کافر ورته نه وایو ، تعزیه چې روان ووینې ورنه مخ اړول او اعراض پکار دی او کتل ورته ندی پکار ، داسې اوریدل کیږي چې د دی ابتداء او شروع د دهلي بادشاه امیر تیمور لنگ وخت نه شوی .

(عرفان شریعت ۱۵/۲)

(۳ سوال) په محرم شریف کی مرثیه خواني کی شرک جائز دی یا نه ؟

ځواب : ناجائز دي څکه چې دا د منکراتو او ناروا نه ډک وي (عرفان شریعت ۱٦/۱) .

(۴ سوال) اوس چې تعزیه داري د نامرضی طریقی نوم دی قطعاً بدعت و ناجائز او حرام دی (رساله تعزیه داري ص ۳) .

(۵ سوال) په محرم کی تور او سپین کپړی دغم او ماتم علامه ده او غم او ماتم حرام دی او خاص طور توری جامی چې دا د رزیلو شیعه گانو علامه ده (احکام شریعت ۹۰/۱) .

(۷ سوال) د محرم په میاشت کی کومه جوړه واده نه کوي ......

ځواب : دا کار غم و ماتم دی او غم و ماتم کول حرام دی (احکام شریعت ۹۰/۱) .

د مولوي مصطفى رضاخاني بريلوي نوري بركاتي فتوی :

ځواب تعزيه چې لکه څنګه رواج ده د ګمو ګناهونو او منکراتو مجموعه او ګناه او ناجائز او شنيع بدعت ، د عذاب الهي باعث او د شيعه ګانو طريقه ده . ديته جائز نه وائي مګر بې علم او د شرعي احکامو نه ناواقف خلک ورته د ثواب کار وايي ، حضور اقدس سرور عالم صلی الله عليه وسلم فرمائي : " كل بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار " او بل حديث کې دي : "شر الامور محدثاتها وكل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة كذا في المشكواة" نو د تعزيه جوړونکي او پدې مرسته کونکي او پدې باندې شيريني اچونکي فاتحه ويونکي ټول ګنهکار او مستحق د اور دي ځکه چې دا ټول کارونه بدعت او اعانت على المعصيت دي او دا حرام او د سخت عذاب باعث دي ، الله تعالى فرمايي : " ولا تعاونوا على الاثم والعدوان " مسلمانانو ته پکار دي چې لدې شنيع بدعت څخه د " اياكم ومحدثات الامور " حديث له مخې ځان وساتي او په هيڅ شکل پدې کې شرکت ونه کړي (مجمع المسائل ج ۱ ص ۱۱۹) .

د مولوي محمد عرفان رضاخاني صاحب فتوی

تعزيه جوړول او وربانديى ګلونه او څهرى غوړول وغيره وغيره دا ټول کارونه ناجائز او حرام دي ، شرعي ، اخلاقي او تمدني اعتبار سره د هر څه نه زيات فضول او مضر ، مروجه رسمي تعزيه جوړول دي چې د دې په وجه مسلمانانو لکونه روپې د کاغذ او بانس شکل کې جوړيدو سره د ځمکې لاندې دفن کيږي مروجه تعزيه جوړول د مال ضائع کول او د شيعه ګانو ست او طريقه او د دې جائز ګڼل سخت ګناه ده او داسې سړي پسې لمونځ کول مکروه تحريمي او واجب الاعاده ګرځي ـ الى قوله ـ پدې طريقې سره د مسلمانانو ډيرې پيسې په ډول او سورنى او د زيب زينت څخه لوټې کيږي او ډيرې پيسې د مرثيه خوانانو جيبونو ته رسيږي ـ الى قوله ـ په ځينو سيانو کې هم د شيعه ګانو پشان په محرم شريف کې غم او ماتم کوي ، لس ورځې په کټونو کې نه سملي . سر تور سر او نبپې ابلې ګرځي ، تور ماتمي کپړې يا شين رنګ کپړې اغوندي او يا کم از کم شين ټوپى په سروي ، په غاړه کې اميل اچوي ، او ماشومانو ته شنې جامې اچولو سره فقيران جوړولې شي ، ښځې بنګړي ماتوي ، پان نه خوري ، رانجه نه اچوي . تر لسم محرم الحرام پورې خو پورې چې تعزيه والاوٌ تعزيه دفن کولو سره

مصنوعي کربلا نه واپس شوي نه وي روتی نه پخـوي ، د دی ټولـو کـارونو اسـلام سـره هیڅ رابطه نشته . او ماتم کول حرام دي .... الخ

(عرفان هدایت ص ۹ ، ۱۰)

د مولوي ابو العلی امجد علی اعظمي سني حنفي قادري رضوي فتوی

علم او تعزیه جوړول . قاصد جوړیدل او محرم کی ماشومان فقـیران جـوړول او پټـی او امیل ورآغوستل او د مرثیی مجلس کول او تعزیه ته نـذر و نیـاز ورکـول وغـیره خرافـات کول شیعه ګان او تعزیه داران خلک کوي دا سخت جهالت دی .

(بهار شریعت ج ۹ ص ۳۵)

د نوموړي دویمه فتوی

مسئله : د تعزیه داری واقعات د کربلا په سلسله کـی قسماقسـم ډانچـی جـوړول او دا د حضرت سیدنا حسین رضی الله عنه د روضه مشابه ګڼل ، چیرتـه تخـت جـوړولی شـي او چیرته صریح قبر جوړیږي او علم او جنډی ویستل کیږي ، ډول او سـورنی او قـسما قسـم باجی غږول کیږي او په ډیر ډوم دام او جذبی سـره د تعزیـو ګشـتونه کیـږي ، وړانـدی وروسته کیدو کی د جاهلیت دور پشان جنګونه کیږي ، کله د ونو شاخونه پریکـولی شـي او چیرته کندې ویستلی کیږي ، تعزیو ته نذرونه منلی کیږي ، د سرو او سپینو زرو جنډی پری اچول کیږي ، څهری ، ګلونه او د ناریل خانګی ودرول کیږي ، هلتـه پـه بوټـانو او څپلو ټګ ګناه ګڼل کیږي بلکی دا په ډیر سـختی سـره منـع کـولی شـي چـی پـه ګنـاه باندی هم دومره ممانعت نه کـوي ، چتـری لګـول ډیـر بـد منـي ، د تعزیـو دننـه د ده مصنوعي قبرونه جوړوي یو باندی شین خادر او بل باندی سور خادر اچوي شین خـادر والا دحضرت سیدنا حسین رضی الله عنه قبر او سور خادر والا د حضرت سـیدنا حسـین رضی الله عنه قبر یا د قبر مشابه بنایي او هلته شـربت وغـیره بانـدی فاتحـه کـوي پـدی تصور سره چی د حضرت امام عالي مقام روضی او مواجه اقدس باندی فاتحـه کـوي او بیا دا تعزیه لسم محرم باندی مصنوعي کربلا ته وړلو سره دفن کوي ګویا چـی دا جنـازه وه او دفن کولو سره راغلل ، بیا دریمه ، لسمه او څلوېښتي دا ټول کولی شي او هر یـو د خرافاتو څخه ډک وي ، دحضرت قاسم نکریزی راوباسي ګویا چی د هغه واده کیـږي او نکریزی لګولی شي ، او د همدی تعزیه داري په سلسله کی څوک قاصد جوړیـږي او پـه

ملا پوری ګنګروګان ترې ګويا چې دی د حضرت عالي مقام قاصد دی چې لدی ځای نه خط اخلي او ابن زياد يا يزيد خوا ته ځي او هغه د قاصدانو پشان منډی وهي ، کوم يو ماشوم نه فقير جوړولی شي ، په غاړه کی ورته کچکول اچوي او کور په کور ورباندی سوالونه کوي او څوک ساقي جوړولی شي او وړوکی غوندی مشک په اوږه باندی زوړند وي ګويا چې دفرات درياب نه اوبه راوړي ، او کوم يو علم پوری مشک زوړند وي او هغه باندی تير (غشی) لګيدلی وي ګويا چې دا حضرت عباس علمبردار دی چې د فرات نه اوبه راوړي او يزيديانو مشک ورته په غشي سوری کړي ، پدی شکل ډير کارونه کيږي دا ټول لغوه او خرافات دي او پدی سره سيدنا حسين رضی الله عنه نه خوشحاليږي دا تاسو پخپله فکر وکړئ چې هغوی د دين او سنت د احياء لپاره زبردست قرباني ورکړه او تاسو معاذ الله دا د بدعاتو ذريعه جوړ کړل ، ځينی ځايو کی د دی تعزيه داری په سلسله کی براق جوړولی شي چې يو عجيب قسم مجسمه وي چې څه حصه يی انساني شکل وي او څه حصه يی دځناور پشان ، شايد چې دا د حضرت امام عالي مقام د سورلی لپاره يو حيوان وي ، چيرته دلدل جوړولی شي ، چيرته لوی لوی قبرونه جوړولی شي او په ځينی ځايو کی سړی ، ميلو ، بيزو او شادو جوړيږي او ټوپونه وهي چې دا اسلام خو اسلام دی انساني تهذيب هم جائز نه ګڼي ، داسی غلط حرکت اسلام هرګز جائز نه ګڼي افسوس چې د اهل بيتو د محبت دعوی او بيا ورسره داسی بی ځايه حرکتونه ؟ دا واقعه خو تاسو لپاره نصيحت او عبرت وه او تاسو ورنه لوبی او تماشي جوړی کړی ، اوپدی سلسله کی نوحه او ماتم هم کيږي او سينه کوئي هم کيږي دومره په زوره زوره سينه وهي چې وپړسيږي او سينه سور وګرځي او ځينو ځايو کی په زنځيرونو او چړو سره ماتم کوي چې د سينی نه وينی بهيږي ، د تعزيو سره مرثيه لوستلی شي او کله چې د تعزيه ګشت کوي هغه وخت کی هم وړاندی ترينه مرثيه لوستل کيږي او په مرثيه کی غلط واقعات نظم کی بيانيږي د اهل بيتو بی حرمتي او بی صبري کی تبرا (بيزاري) هم کيږي مګر پدی لاره ځينی سنيان هم دا بی تکلفه لولي او دا خيال يی هم نه وي چې څه لولي دا ټول ناجائز او د ګناه کار دی .

(بهار شريعت (۲۴۷ ، ۲۴۸) صفحې (۱۶) حصه)

دويمه دعاء

په خينو جوماتو کی دا طريقه ده چې د فرض لمونځ نه وروسته خو فقط اللهم انت السلام والا دعاء کوي او بيا سنت وغيره جومات کی ادا کولو سره امام او مقتديان

بوخای الحمد لله ویلو سره دعاء کوي او دا ډیر ضروري ګڼل کیږي د امام سره شرط نږلی شي چې پدی طریقه به دعاء کوي او کوم خلک چې پدی شکل دویمه دعاء نه کوي هغوی د فاتحی تارک د دعاء منکر ، وهابي ، بدعقیده ویل کیږي تر دی چې د اهل سنت والجماعت نه خارج ګڼلی شي سنت دا دی چې فرض لمونځ بی جماعت سره ادا کړي نو د لمونځ نه وروسته دعاء هم جماعت سره وکړي یعنی امام او مقتدیان ټول په جمع دعاء وغواړي او سنت او نفل یې چې ځانته ځانته ادا کړي نو دعاء به هم ځانته ځانته وکړي ، د سنت او نفلو نه وروسته د دویمی دعاء طریقه د سنت خلاف ده بی اصل او بی دلیله ده ، ځان ځانله سنت او نفلونه ادا کولو نه وروسته د ټولو یو ځای اجتماعي طور سره دعاء کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دکوم قول او عمل نه ، صحابه کرام رضی الله عنهم ، تابعین او تبع تابعینو او د دین امامانو کی د چا نه هم ثابت ندي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ، صحابه کرام رضی الله عنهم او د سلف صالحینو طریقه دا ده چې فرض لمونځ جماعت سره ادا کولو سره اجتماعي طور (امام او مقتدیان ټول یوځای) دعاء کولو او بیا به یی سنت او نفل ځان ځانله کول او دعاء به یی هم ځان ځانله کولو ، د صحیح حدیثونو نه ثابت دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت مبارک دا وُ چې سنت به یی کور کی کول او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یی هم همدا هدایت کولو ، یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنو اشهل په جومات کی د ماښام لمونځ ادا کړ د لمانځه نه وروسته یی ولیدل چې جماعت کی شریک کسان په جومات کی سنت او نفل کوي ، وی فرمایل : دا لمونځونه خو کورو کی کول پکار دي (ابوداوُد ، ترمذي ، نسائي) (مشکواة شریف ص ۱۰۵ باب السنن وفضائلها) .

په هر حال کی چې دا ثابت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضی الله عنهم زیاتره وختو کی سنتونه په کورو کی کول نو بیا د سنتو نه وروسته اجتماعي طور سره د دعاء کولو سوال هم نه پیدا کیږي ؟ ایا سنتونه کور کی ادا کولو نه وروسته دوباره جومات ته راتلل ؟ او اجتماعي دعاء به یی کوله ؟ د دعاء لپاره کونه جومات ته راتلل خو پریده حقیقت دا ذی چې کله به د کوم مصلحت یا ضرورت په وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم اتفاقاً جومات کی سنت ادا کول هغه وخت هم رسول الله صلی الله علیه وسلم مقتدیانو سره یوځای دعاء نه دی کړی بلکی رسول الله صلی الله علیه وسلم به سنتو کی لګیا شو او مقتدیان به هر یو خپل لمونځ نه فارغیدو

سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دانتظار نه بغیر یو یو جومات نه وتل او تلل ، د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ماښام نه وروسته سنتو کی دومره اوږد قراءت کولو چی لمونځ کذاران به ټول جومات نه لاړل (ابوداؤد شریف ۱۹۱/۱ باب رکعتی المغرب این تصلیان) "کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یطیل القرأة فی الرکعتین بعد المغرب حتی یتفرق اهل المسجد" یعنی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چی یوه شپه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر شوم چی د ماسخوتن لمونځ یی وکړ او بیا په لمانځه کی مشغول شو تر دی پوری چې په جومات کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه بل څوک پاتی نشو (شرح معانی الآثار ۲۰۱/۱ باب التطوع فی المساجد) .

لدینه هم ثابت شو چې د سنتو نه وروسته د اجتماعي دعاء کولو دستور له سره نه ؤلهذا دا دستور او طریقه دسنت خلاف ده نو د دی پرینبودل ضروري دي .

(فتاوی رحیمیه اردو ج ٦ ص (٥٧ _ ٦٠)

د لمانځه نه وروسته مصافحه (لاس ملاوول)

مصافحه دحدیث نه ثابت دی او ډیر فضیلت لري د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " مامن مسلمین یلتقیان فیتصافحان الا غفر لهما قبل ان یفترقا " یعنی کله چی دوه مسلمانان یوځای کیدو سره یو بل سره لاس ملاو کړي نو د جدا کیدو نه وړاندی ورته مغفرت کیږي (ترمذي شریف ج ۲ ص ۹۷ باب ما جاء فی المصافحه) .

لدینه ثابت شو چی د مسلمانانو یوځای کیدو سره د سلام نه وروسته لاس ملاوول مسنون او مشروع دي او چونکی مصافحه د سلام تکمله ده نو د سلام نه وروسته پکار ده په مجالس الابرار کی دي : " واما المصافحة فسنة عند التلاقی " یعنی مصافحه د ملاقات په وخت کی سنت ده ځکه چی د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : کله چی دوه مسلمانان سره یوځای شي او لاسونه سره ملاو کړي نو دجدا کیدو نه وړاندی دواړو ته مغفرت کیږي (ص ۴۹۲ مجلس ۸۳) د ملاقات په شروع کی چی کوم مصافحه کولی شي مثلاً د سحر ، مازیګر ، جمعه یا اختر لمونځونو نه وروسته مصافحه کولي شي او دا سنت ګڼلي

کېږي دا غلط دي دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم له علم نه ثابت نه دي .

د مشکواة شارح ملا علي قاري رحمه الله لیکي :

" فان محل المصافحة المشروعة اول الملاقات وقد یکون جماعة یتلاقون من غیر مصافحة ویتصاحبون بالکلام ومذاکرة العلم وغیره مدة مدیدة ثم اذ صلوا یتصافحون فاین هذا من السنة المشروعة ولهذا صرح بعض علماءنا بانها مکروهة حینئذ وانها من البدع المذمومة " (مرقاة شرح مشکواة ص ٥٧٥ ج ٤) .

ترجمه : بیشکه د مشروع مصافحې موقع د ملاقات ابتداء اؤ شروع ده ، خینې خلک داسې کوي چې بغیر د مصافحې نه یو بل ته ملاوېږي او تر ډېرې مودې پورې گپ شپ او د علم وغیره خبرې کوي او چې کله لمونځ وکړي نو بیا یو بل سره مصافحه کوي دا د کوم ځای سنت دي ؟ پدې وجه خینې علماؤ په صراحت لیکلي دي چې دا طریقه مکروه او مذموم بدعت دی ، په شامي کې دي :

" ونقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلواة بکل حال لان الصحابة رضی الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلواة ولانها من سنن الروافض الخ ثم نقل عن ابن حجر من الشافعیة انها بدعة مکروهة لا اصل لها فی الشرع وانه ینبه فاعلها اولاً ویعزر ثانیاً ثم قال و قال ابن الحاج من المالکیة فی المدخل انها من البدع وموضع المصافحة فی الشرع انما هو عند لقاء المسلم لاخیه لا فی ادبار الصلوات فحیث وضعها الشرع یضعها فینهی عن ذلک یزجر فاعلها لما اتی به من خلاف السنة " .

(کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء وغیره شامی ص ٣٣٦ ج ٥)

ترجمه : د لمانځه نه وروسته مصافحه کول (لاسونه ملاوول) مکروه دي ځکه چې صحابه کرام رضی الله عنهم به لمانځه نه وروسته نه کولو او پدې وجه هم مکروه ده چې دا د شیعه گانو طریقه ده او علامه ابن حجر رحمه الله فرمائي چې دا مکروه بدعت په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته د دې کونکي ته به اول خبرداری ورکولی

شي (چی ونه مني) نو دویم ځلی به ورته سزا ورکولی کیږي او ابن الحاج مالکي په "المدخل" کی لیکلي دي : دا هم یو بدعت دی . په شریعت کی د مصافحی وخت هغه بنودل شوی چی کله مسلمان د بل مسلمان ورور سره ملاقات وکړي ، د لمانځه نه وروسته نه دی ، نو کوم ځای کی مثلاً د لمونځ نه وروسته منع وکړی شي او دخلاف سنت مصافحی ځخه دی خلک منع کړی شي .

په مجالس الابرار کی هم دا مضمون په (۲۹۸) صفحه او (۵) مجلس کی بیان کړی دی په هر حال اصل مسئله دا ده ، البته د خلکو حالات ډیر نازک شوي دي ، طبیعتونه خراب شوي په معمولي خبره باندی جګړه کیږي ، بدګماني کیږي ،لهذا د فتنی د رفع کولو په طور علماؤ دا هم فرمایلي دي که چیرته یو ځوک مصافحی لپاره لاس اوږد کړي نو خپل لاس وروسته کولو سره داسی صورت مه پیدا کوئ چی بدګماني او شکایت او خفګان ورنه جوړ شي (مرقاة شرح مشکواة ج ٤ ص ٥٧٥ ، د فتاوی رحیمیه ج ۱۰ ص ۱۲٤ په حواله) .

الله تعالی دی ماته او زما کورنی ، متعلقین ، دوستان او ټول امت ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت او د صحابه کرامو رضی الله عنهم د سلف صالحینو په طریقه باندی د عمل کولو او بدعتونو ځخه مکمل طور باندی د بچ کیدو توفیق ورکړي ، په دین او ایمان باندی استقامت او مرګ نصیب کړي او خپل رضامندي ورعطاء کړي ، آمین بحرمة النبی صلی الله علیه وسلم وآله وصحبه اجمعین .

په اجتماعي او دوامدار طور باندی د ختم خواجه ګان معمول جوړول

(٦۲ سوال) په خینو ځایو کی اجتماعي طور سره ختم خواجه ګان کولی شي د دی څه حکم دی ؟ ایا همیشه کول بدعت او مکروه نه ګرځي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب . په دی باره کی د حضرت مفتي محمد یحیی صاحب رحمه الله (مظاهر علوم سهارنپور) نه سوال کړی ؤ او حضرت مفتي صاحب دحضرت مفتی محمد ګنګوهي قدس سره نه د دی متعلق تپوس وکړ او حضرت د دی خواب ولیکلو ، مناسب معلومیږي چی هغه سوال و خواب نقل کړی شي ، انشاء الله چی پدی سره ستا د سوال خواب هم وشي .

(سوال) زمونږ د بزرګانو ختم خواجه ګان معمول دی او کوم حضرات چې د دوی متعلقین دي په دوی کې ځینې ځای کې پدی باندی عمل کوي، پدی شان د سورت یسین شریف اجتماعي ختم نه وروسته اجتماعي دعاء کیږي، پدی باندی سی د زړه تسلي نه کیږي تاسو ته خو به د دی د جواز دلائل معلوم وي د دغو په لیکلو سره مو مشکور وګرځوئ او د اشکال وجه د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه واقعه ده کومه چې فتاوی رحیمیه ج ٦ ص ۲۰۷ کې د ازالة الخفاء، الاعتصام او مجالس الابرار په حواله مذکوره ده، ځینو حضراتو د فتاوی رحیمیه د مطالعی نه وروسته دا اشکال وکړ چې ستاسو فتاوی رحیمیه کې دا لیکل شوي او سهارنپور دهلي وغیره ځایونو کې زمونږ د بزرګانو ختم خواجه ګان او ختم سورت یسین شریف معمول دی، ایا دا عمل د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د واقعی نه خلاف ندی؟ او دا التزام د ما لا یلتزم ندی؟ په دواړو کې فرق څه دی؟ .... که چیرته دا د علاج یا د آفاتو د دفع کولو لپاره مقرر کړی شوی نو علاج یا آفات خو وقتي شی دی لکه څنګه چې قنوت نازله هنګامي حالاتو کې لوستل کیږي، پدی باندی همیشه والی نه کیږي نو دلته هم همداسی پکار دي، وضاحت وکړئ مهرباني.

(۱۳۳۳ ځواب) حامداً ومصلیاً ومسلماً! دوه شیان دي یو مداومت (همیشه والی) او بل اصرار د دواړو حکم بیل بیل دی، په مندوب کار باندی مداومت قبیح ندی، فقهاؤ په امر مندوب باندی اصرار مکروه کړی دی.

اصرار دا دی چې یو کار همیشه وکړی شي او نه کونکی ګنهکار وګڼل شي او تحقیر او تذلیل وکړی شي نو دا مکروه دی، که چیرته مندوب کار باندی مداومت وي او اصرار نه وي نو مندوب، مندوب پاتی کیږي، مثلاً یو سړی د اودس نه وروسته تحية الوضوء کوي او دا ضروري نه ګڼي او نه کونکی ګنهکار هم نه ګڼي او ملامتوي یی هم نه نو پدیکی هیڅ کراهت او بدي نشته، اوس کوم اعمال چې علاج لپاره وکړی شي یا د کومی وجهی نه وکړی شي نو کله د علاج ضرورت وي او یا هغه وجه او سبب موجود شي هغه عمل به کولی شي.

قنوت نازله اول خو د امام شافعي رحمه الله په نزد روزانه دسحر لمانځه کې لوستل کیږي او امام ابوحنیفه رحمه الله د ابتلاء عام وخت کې اجازت ورکړی د دی سبب

ابتلاء عام دی لهذا څو پوری چی ابتلاء عام موجود وي دا به لوستلی شي او کله چی دا سبب ختم شي بیا نه لوستل کیږي.
ختم خواجه ګان د برکت حاصلیدو لپاره کولی شي دا د مشائخو مجرب عمل دی د دی په برکت سره دعاء قبلیږي او داسی وخت به کوم یو وي چی د برکت خواهش نه وي لهذا کله چی د دی مقصد د برکت حاصلیدل دي نو کوم وخت چی د برکت حاصلیدو خواهش وي دا به کولی شي او د برکت خواهش خو هر وخت وي پدی وجه مداومت کیږي مګر اصرار نه کوي ، فقط . املاء الشیخ محمد حسن .
رئیس المفتیین مظاهر علوم باستدعاء یحیی غفر له ۱۴۰۲/۵/۱۰ه فقط والله اعلم .

د کشرانو په سر شفقت لپاره د مشرانو لاس ایښودل ، یا ددعا او ملاقات په وخت پخپل سر باندی د بزرګانو لاس ایښودل څنګه دي ؟

(٦٣ سوال) کوم یو بزرګ چی د شفقت لپاره خپلو کشرانو په سر لاس کیدي او یا خادم یا عوام دخپلو بزرګانو لاس پخپل سر باندی د برکت په نیت کیدي او دعاء ترینه وغواړي نو شرعاً څه حکم لري ؟ او همداشان که چیرته د ملاقات په وخت په سر باندی لاس کیدي یا کشر پخپل سر کیدي څنګه دي ؟
ځواب : د ملاقات په وخت کی سلام او معانقه (غاړه ورکول) خو سنت دي خو پدی موقع باندی په خپل سر باندی لاس ایښودل او یا د بل په سر باندی ایښودل او التزام کول یو زیاتي شی دی دا د ملاقات سنت ندی او که د دی التزام کوي نو بیا ورته بدعت هم ویل کیږي .
. البته کله ناکله د کوم بزرګ لاس د شفقت له لاری کشرانو په سر باندی ایښودل یا د عقیدت له لاری د برکت حاصلیدو په خیال خپل سر باندی د کوم بزرګ لاس ایښودو سره دعاء ترینه غوښتل وي نو د دی ګنجائش شته مګر دا به دستور نه جوړوي ، امام بخاري په بخاري شریف کی دا باب قائم کړی : " باب الدعاء للصبیان بالبرکة ومسح رؤسهم " یعنی ماشومانو لپاره د برکت دعاء کول او د دوی په سرونو باندی لاس راتیرول ، او دی لاندی حدیث راوړي چی :

" حدثنا قتیبه .... قال سمعت سائب بن یزید یقول ذهبت بی خالتی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت یارسول الله صلی الله علیه وسلم ان ابن اختی وجع فمسح رأسی ودعا لی بالبرکة ثم توضأ فشربت من وضوئه ثم قمت خلف ظهره فنظرت الی خاتمه بین کتفیه مثل زر الحجلة "

ترجمه : سائب بن یزید وائي زه خپل ترور رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بوتلم او عرض یې وکړ دا زما خوریی بیمار دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زما په سر باندی لاس راتیر کړ او ماته یې د برکت دعاء وکړه او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس وکړ او ما د حضور صلی الله علیه وسلم د اودس اوبه وڅښکلی او بیا زه (اتفاقاً یا قصداً) د رسول الله صلی الله علیه وسلم شاته ودریدم نو ما مهر نبوت ولید چې د دولی د پردی تنی (بتهنی) پشان ؤ (کوم چې د کونتری د هگی برابر بیضوي شکل کې هغه پرده کې لګیدلی دی کومه چې دولی باندی اچولی شوی وي) (بخاري شریف ج ۲ ص ۹٤۰ کتاب الدعوات باب الدعا للصبیان بالبرکة ومسح رؤسهم) همدا حدیث امام ترمذي په " شمائل ترمذي " کی د " باب ما جاء فی خاتم النبوة " لاندی ذکر کړی دی ، شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا مهاجر مدني رحمه الله په " خصائل نبوي اردو " کی د دی حدیث په تشریح کی لیکلي دي : " د ځینو علماؤ په نزد د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سائب بن یزید په سر باندی لاس مبارک تیرول د دی خبری دلیل دی چې د ده په سر کی څه تکلیف ؤ لیکن ضعیف او عاجزه بنده په نزد دا خبره نه معلومیږي چې دده په سر باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس تیرول د شفقت لپاره ؤ څکه چې دی په ۲ھ کی پیدا شوی نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات کیدو په وخت کی هم د ده عمر اته نهو کالو نه زیات نه ؤ پدی دا لاس تیرول د شفقت لپاره ؤ لکه چې د مشرانو او بزرگانو معمول وي .

(خصائل نبوي اردو شرح شمائل ترمذی ص ۱٦)

(۲) په نشر الطیب کی دي : " فیضع یده علی رأس الصبی فیعرف من بین الصبیان " یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله کوم ماشوم په سر باندی لاس کینود (نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک لاس د خوشبویي په وجه سره د هغه سر

خوشبویی داره کیدلو او هغه هلک به د خوشبویي په وجه) په نورو ماشومانو کی پیژندلی کیدو

(نشر الطیب ص ۱۳۴ فصل ۴ شیم الحبیب)

(۳) یو بل حدیث کی دي : " عن ابي محذورة رضى الله عنه قال قلت یارسول الله علمنی سنة الاذان قال فمسح مقدم رأسه قال تقول الله اکبر .... الخ " رواه ابوداؤد .

(مشکواة شریف ص ٦٣ باب الاذان فصل نمبر ۲ حدیث نمبر۳)

او مرقاة شرح مشکواة کی دي :

"(فمسح) ای النبی صلی الله علیه وسلم (مقدم رأسه) ای رأسه علیه السلام قال ابن حجر اشارة الی انه علی الرأس وفیه تأمل اذ فی العادة یقال علی الرأس لانه یمسح رأسه ایضا هذا یصدر من الاصاغر للاکابرون العکس فالظاهر انه فعل اتفاقی ذکره الراوی لیحصل له برکة یده الموصلة الی الدماغ وغیره فیحفظ مایلقی الیه وعلی علیه" (مرقاة ج ۲ ص ۱۵۳ مطبوعه امدادیه ملتان) .

په مظاهر حق کی دي : د ابومحذوره نه نقل دي : ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل یارسول الله ماته د اذان طریقه وښایه ، راوي وائي بیا یې لاس د هغه سر مخکی حصی باندی راتیر کړ او وی فرمایل : ووایه الله اکبر ....،

ف : د هغه په سر باندی یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابومحذوره په سر باندی لاس راتیر کړ تر څو د مبارک لاس برکت د ده د ماغو ته ورسي او د دین خبرې زده کړي ، لکه ځنګه چی یو صحیح نسخه کی " فمسح رأسی " راغلي او دا د دی تقریر تائید کوي او یا حضرت صلی الله علیه وسلم اتفاقاً خپل سر مبارک باندی لاس راتیر کړ نو راوي د ټولی قصی په بیانولو دا خبره هم بیان کړه .... الخ .

(مظاهر حق قدیم ج ۱ ص ۲۲۰ باب الاذان فصل ۲)

د ابوداوٗد شریف د روایت الفاظ دا دي :

" حدثنا مسدد .... عن محمد بن عبد الملك بن ابی محذوره عن ابیه عن جده قال قلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم علمنی سنة الاذان قال فمسح مقدم رأسی قال تقول الله اکبر .... الخ " .

(ابوداؤد شریف ج ۱ ص ۱۷۹ باب کیف الاذان)

یہ بذل المجھود کی دي : " قال فمسح مقدم رأسی ، وتفصیل القصة فیما اخرجه الدار قطنی فی سننه قال خرجت فی نفر وفی روایة لما خرج النبی صلی الله علیه وسلم الی حنین خرجت عاشر عشرة من اهل مکة اطلبهم فکنا فی بعض طریق حنین فقفل رسول الله صلی الله علیه وسلم من حنین فلقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی بعض الطریق فاذن مؤذن رسول الله صلی الله علیه وسلم للصلواة قال فسمعنا صوت المؤذن ونحن متنکبون فصرخنا نحکیه ونستهزئ به فسمع النبی صلی الله علیه وسلم الصوت فارسل الینا وفی روایة قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایتونی بهؤلاء الفتیان فقال ادنوا الی فقمنا بین یدیه فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایکم الذی سمعت صوته قد ارتفع فاشار القوم کلهم الیّ وصدقوا فارسل کلهم وحبسنی فقال قم فاذن بالصلواة فقمت ولا شیئ اکره الیّ من النبی صلی الله علیه وسلم ومایأمرنی به فقمت بین یدی رسول الله صلی الله علیه وسلم فالقی علی رسول الله صلی الله علیه وسلم التاذین بنفسه فقال قل الله اکبر الله اکبر الله اکبر حتی تم الاذان وفی آخره ثم دعا لی حین قضیت التاذین واعطانی صرة فیها شئ من فضة ثم وضع یده علی ناصیة ابی محذوره ثم امرها علی وجهه ثم امر بین ثدییه علی کبده ثم حتی بلغت یدیه سرة ابی محذورة ثم قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بارك الله فیك وبارك علیك فقلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم مرنی بالتاذین بمکة فقال قد امرتك وذهب کل شئ کان لرسول الله

صلی الله علیه وسلم من کراهیة وعاد ذالك کله محبة النبی صلی الله علیه وسلم " الحدیث .

(بذل المجهود فی حل ابی داؤد ص ۲۸۲ ، ۲۸۳ ج ۱ ، باب کیف الاذان)
د حضرت ابو محذوره رضی الله عنه د سر په کومه حصه باندی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل مبارک لاس تیر کړی و ده به د برکت لپاره د هغو ویښتو حفاظت او ساتنه کوله او ابو محذوره رضی الله عنه به هغه ویښته نه پریکول ، په ابوداؤد کی د یو روایت په آخر کی راځي : " قال فکان ابو محذورة رضی الله عنه لایجز ناحیته ولایفرقها لان النبی صلی الله مسح علیها " (ابوداؤد ج ۱ ص ۸۰ باب کیف الاذان) .

(۴) یو بل حدیث کی دي : " عن ابی امامة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من مسح رأس یتیم لم یمسحه الا الله کان له بکل شعرة یمر علیها حسنات ومن احسن الی یتیمة او یتیم عنده کنت انا وهو فی الجنة وقرن بین اصبعیه " رواه احمد والترمذی وقال هذا حدیث غریب (مشکواة شریف ص ۴۲۳ باب الشفقة والرحمة علی الخلق) .

ترجمه : د حضرت ابو امامه رضی الله عنه نه نقل دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چی خاص د الله تعالی د رضا لپاره د کوم یتیم په سر باندی لاس تیر کړي نو د هر هر ویښته په بدل کی کوم چی د ده لاس لاندی راغلی وي نیکی ملاویږي او کوم سړی چی هغه یتیم هلک یا جینی سره ښه سلوک وکړي کوم چی د ده په تربیت کی وي نو زه او هغه به جنت کی د دی دوه ګوتو پشان یو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلی دواړه ګوتي مبارکی یوځای کولو سره وښودلی (مشکواة شریف) .

لدی آخر حدیث نه هم ثابتیږي چی د شفقت له لاری د کشرانو په سر لاس تیرول جائز دي بلکی خینی وختو کی باعث د ثواب هم دي .

په تتبع او پلټنې سره نور هم واقعات او دلائل پیدا کیدلی شي ، فقط والله اعلم .

د مصائبو او مشكلاتو وخت كى د سورت يسين ختم

(۶۴ سوال) زمونږ د محلى په جومات كى روزانه ماسخوتن لمانځه نه وروسته اجتماعي طور سره د سورت يسين ختم كيږي، روزانه ختم كول څنګه دي؟ وضاحت وكړئ مهرباني.

ځواب: د مصائبو او بلياتو د دفع كولو او د بركتونو حاصلولو لپاره د يسين شريف ختم د بزرګانو مجرب عمل دى، لهذا څو پورى چې مصائب او مشكلات وي د عمل او علاج په طور باندى د دى ختم كولى شي، دا دى مسنون طريقه او شرعي حكم نه ګڼل كيږي او كوم خلک چې په ختم كى شريک نه وي په هغوى به هيڅ قسم طعن نه كيږي او نه به وربان‌دى بدګماني كيږي. فقط والله اعلم.

۲۴ شعبان المعظم ۱۴۱۰ھ

د سجدى په حالت كى دعاء څه حكم لري؟

(۶۵ سوال) زياتره ليدل كيږي چې ډير خلک د لمانځه نه وروسته جاى نماز باندى سجده كولو سره ديني او دنياوي آبادي لپاره دعاء كوي، دا څه پروا لري يا نه؟

ځواب: د دى عادت جوړول بدعت دى مګر كه كوم وخت كى داسې وشي او كونكى هم ضروري ونه ګڼي نو څه پروا نلري[1]. فقط والله اعلم.

په سجده كى دعاء غوښتل:

(۶۶ سوال) په سجده كى دعا كول صحيح دي يا نه؟ د تهجد لمانځه نه وروسته يا بل وخت روزانه سجده كولو سره د خپل حاجت او د مغفرت لپاره چې دعاء وكړى شي نو دا جائز دي يا نه؟ ځينى ورته مكروه وائي او ځينى يې د جواز قائل دي، ايا رسول الله صلى الله عليه وسلم په سجده كى دعاء كړى ده؟

ځواب: پدى طريقه سجدى ته دمناجات سجده وبل كيږي پدى باره كى د ځينو ديني علماؤ قول د مكروه دى، د مشكواة شريف شرح اشعة اللمعات كى دي: " سوم سجده مناجات بعد از نماز و ظاهر كلام اكثر علماء آنست كه مكروه است " (اشعة اللمعات ج۱ ص ۶۲۰) (شرح سفر السعادت ص ۱۵۹) لهذا د دى عادت جوړول غلط دي، د دعاء او

---

[1] سوم سجده مناجات و ظاهر كلام اكثر علماء آنست كه مكروه است (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۶۲۰)

د مناجات مسنون طریقه چي د هیڅا هم اختلاف پکې نشته ، پریښودل او اختلافي طریقه اختیارول مناسب ندي ، په سجده کې د دعاء کولو چې کوم روایت دی د دی متعلق په شرح سفر السعادت کې دي : " وآنکه در احادیث آمده است که آنحضرت صلی الله علیه وسلم در سجده اطالت میفرمود و دعاء بسیار میکرد مراد بدون سجده صلواتیه است " (ص ۱۵۹) یعنی په حدیثونو کې چې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډیره اوږده سجده کوله او ډیره دعاء به یې کوله او لدینه مراد هماغه سجده ده چې نفل لمونځ کې به یې کوله نه د تهجد لمونځ په سجده کې هغه دعاګانې کولی شي کوم چې په حدیثونو کې راغلي دي ، فقط والله اعلم .

په اجتماعي طور سره سورت کهف لوستل :

(٦٧ سوال) په ځینو ځایو کې د جمعې په ورځ د جمعې د آذان نه وروسته په جوماتو کې یو ځای کیدو سره پدې طریقه سورت کهف لولي یو سړی په زور سره یوه رکوع وائي او نور یې آوري په همدې ترتیب سره یو د بل پسې اوچت آواز سره لولي چې پدې سره لمونځ ګذارو او وظیفه خوان حضراتو ته تکلیف وي لهذا دا څه حکم لري ؟

ځواب : اجتماعي طور په اوچت آواز سره لوستل غلط دي که انفرادي طور سره پدې طریقه ولولي چې د چا لمونځ او وظیفه وغیره ته نقصان ونه رسي نو بیا څه پروا نشته ، علامه ابن الحاج (المتوفي ۷۳۷ھ) کتاب المدخل کې لیکي : " واما اجتماعهم لذلك فبدعة كما تقدم والله تعالى اعلم " یعنی د جمعې په ورځ جومات وغیره کې اجتماعي طور سره د سورت کهف لوستلو نه منع کړی شي چې دا بدعت دی .

(ج ۲ ص ۸۱) فقط والله اعلم

د جمعې په ورځ سورت کهف

(٦٨ سوال) زمونږ په ضلع کې زیاتره ځایو کې د جمعې په ورځ اول آذان نه (۱۵) دقیقې (منته) وروسته د سورت کهف ویلو رواج دی هر یو کس په وار سره یوه یوه رکوع اوچت آواز سره لولي او نور ورته غوږ نیسي او کوم چې لوستلی نشي هغوی اوریدو سره ثواب حاصلوي او لدینه وروسته سنت وغیره ادا کولو سره خطبه شروع کوي ، ځینې خلک د دی مخالفت کوي او وائي چې خمونږ لمونځ کې فرق راځي نو

ايا دا د سورت کهف لوستل ثابت ندي ؟ په اوچت آواز باندی ويلو سره د اميانو په لواب کی شاملول منع دي ؟ دا رواج جاري ساتل پکار دي يا نه ؟ پدی کی اختلاف پيدا شوی ، اميد دی چی مدلل ځواب راوليږئ ، مهرباني .

ځواب : بيشکه چی د جمعی په ورځ د سورت کهف ويلو فضيلت راغلی دی مګر دا ضروري نه ده چی جومات کی د آذان نه وروسته په اوچت آواز سره ولوستل شي ، د جمعی په ورځ يا شپه کی ، په کور يا جومات کی يواځی او ورو رو ويلو سره هم فضيلت حاصليږي بلکی د ورځی يا د شپی په اوله حصه کی ويل افضل دي (شامي ۷۷۳/۱)[1]

نو دا صورت چی جومات کی د آذان نه وروسته اجتماعي طور سره اوچت آواز سره سورت کهف ولوستل شي او د دی پابندي وکړی شي د نورو په عبادت او وظيفه کی خلل او نقصان وکړی شي د دغی هنګامی او فتنی څه ضرورت دی ؟ او بيا دا سنت ګڼل او پدی باندی مواظبت کول جهالت دی د دی پريښودل ضروري دي ، نو د هر څه نه بهتر خو دا دي چی په کور کی ولولي ، او که جومات کی لولي نو پداسی طريقه يواځی او ورو غوندی ولولي چی د نورو په عبادت وغيره کی خلل رانشي .

د څاښت لمونځ د حديث نه ثابت دی مګر په جومات کی اجتماعي طور التزام و اهتمام او اعلان سره کول بدعت دي .

" قال النووی واما ماصح عن ابن عمر رضی الله عنه قال فی الضحی انــه بدعــة فمحمول علی ان صلوتها فی المسجد والتظاهر بها كما كانوا يفعلونـــه بدعـــة لان اصلها فی البيوت ونحوها مذموم الخ " (نووی شرح مسلم باب استحباب صلواة الضحی اقلها رکعتان ج ۱ ص ۲٤۹) وفی الفتح قال عياض وغيره انما انکر ابن عمر رضی الله عنه ملازمتها واظهارها فی المساجد وصلاتها جماعةً لانها مخالفة للسنة باب کم اعتمر النبی صلی الله عليه وسلم فتح الباری ج ۳ ص ٤۱ .

په هر حال لدی اقوالو نه معلوميږي چی حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنه د څاښت لمونځ ته خو بدعت نه وائي که خپل کور کی څوک ادا کړي ديته سنت وائي ليکن په جومات کی مظاهره کولو سره اهتمام او التزام کولو يا جماعت سره کولو ته

[1] " باب الجمعة مطلب ما اختص به يوم الجمعة مما اختص به يومها قرأة الکهف منه قال فی التتارخانية تحت قولـه قرأة الكهف ای يومها وليلتها والافضل فی اولهما مبادرة للخير وحذرا من الاهمال الخ " .

بدعت ویل همداشان د سیدنا ابن مسعود رضی الله عنه ارشاد هم نقل دی چی ده پدی طریقه ادا کولو باندی سخت اعتراض وکړ او وی فرمایل که د ښاسبت لمونځ کوي نو خپل کور کی وکړي " ابن ابی شیبة عن ابن مسعود رضی الله عنه انه رأی قوماً یصلونها فانکر علیهم وقال ان کان ولا بد ففی بیوتکم " (فتح البـاری ج ۳ ص ٤١) او لکه څنګه چی د ښابت لمونځ فضیلت حدیثونوکی راغلی د اخترونـو د شپو ، د برات شپی ، د رمضان آخري لس شپی او د ذوالحجی اولنی لسو ورځو شپو کی هـم د عبادت ډیر فضیلتونه په حدیثونو کی راغلي دي مګر فقهاء کرامـو دا تصریح هـم کـړی دی چی دی لپاره جومات کی رایوځای کیدل او اجتماعي طـور سـره دغـه اعمـال او نوافل ادا کول مکروه دي (بحر الرائق ج ۲ ص ٥٢ باب الوتر والنوافل تحت قوله وندب الاربع قبل العصر والعشاء والست بعد المغرب) .

امام شاطبي رحمه الله فرمائي : په عبادتونو کی خـاص خـاص کیفیـات او رسـمونه او د وختونو تعیین (کوم چی د شریعت نه ثابت نه وي) ناجائز او بدعت دی .
(الاعتصام ج ۱ ص ۳۴)

او دا هم په ذهن کی ساتل پکار دي چی یواځی سورت کهف نـه بلکـی د جمعـی پـه ورځ سورت اخلاص زرځله ، سورت آل عمران ، سورت هـود ، سـورت صـافات ، صـلواۃ تسبیح ، درود شریف او په دعاء او استغفار کی د مشغول اوسیدو فضیلتونه هـم حـدیثونو کی راغلي دي ، او دا روایت هم شته چی کوم وخت کی سورت کهـف لوسـتل کیـږي یعنی زوال نه وروسته په همدی وخت کی صحابه کرامو رضی الله عنهم بـه نـور اعمـال کول مثلاً حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه په صلواۃ تسبیح کولو (احیـاء العلـوم ج ۱ ص ۱٦٩) او حضـرت ابـوهریره رضـي الله عنـه بـه حاضـرینو تـه حدیثونـه اورول (مستدرک حاکم ج ۱ ص ۱۰۸) او حضرت تمیم داري رض الله عنه به وعظ کولـو (مسـند امام احمد ج ۳ ص ۴۴۰) خلاصه دا چی د چا نه څومره کیدی شي او د کوم شي موقع وي هغه دی وکړي ، همیشه صرف یو کار په یو معین وخت کی او یوه طریقه او یـو رسـم نیول او نور ټول فضایل پریښودل په دین کی غلط دخل بازي دی ، پاتی شـو د عوامـو په ثواب کی شاملول نو د دی شوق او حرص له صحابه کرامو رضی الله عـنهم ، تـابعین او تبع تابعین او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له مونږ څخه څو چنده زیات و

د صحابه کرامو رضی الله عنهم آخري دور او د تابعینو او تبع تابعینو زمانه کی دجدید الاسلام (نوي مسلمانانو) شمیر هم کافي زیات ؤ مگر د هیچا نه ثابت ندي چی د جمعی په ورځ اول آذان نه وروسته جومات کی راټولیدو سره د سورت کهف لوستلو او اورولو اهتمام کړی وي او یا بلا اهتمام دا عمل کړی وي نن مونږ دا نوي شی پیدا کولو سره گویا دا ثابتوو چی سلف صالحین او پخپله سرور کونین صلی الله علیه وسلم (معاذ الله) په غلطی باندی وو او د دوی ته (نعوذ بالله) د دین د اشاعت شوق نه ؤ. چا چی نوی خبره پیدا کړه او هغه یی ښه وگڼله نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین په تبلیغ کی نعوذ بالله خائن او کوتاهي کونکی وگرځولو.

(الاعتصام ج ۱ ص ۴۸)

په هر حال څمونږه کامیابي او سعادت پدی نوي نوي کارونو پیدا کولو کی نه دی بلکی څمونږه کامیابي او سعادت دا دی چی د سید الانبیاء صلی الله علیه وسلم او د صحابه کرامو رضی الله عنهم پوره او مکمل پیروي وکړو یو څوا بل څوا لاړ نشو، رسول الله صلی الله خبرداری ورکړی ؤ چی څوک مانه وروسته ژوندی پاتي وي هغه به ډیر زیات اختلاف ویني، د دی خبرداري سره رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي ؤ او تاکید یی کړی ؤ چی زما طریقه او د خلفاء راشدینو طریقه هرگز پری نږدئ بلکی مضبوط یی ونیسئ او لدی سره دا هم فرمایلي دي چی په دین کی هره نوی خبره بدعت ده او هر بدعت گمراهي ده (او د گمراهانو ځای دوزخ دی) (مشکواة شریف ص ۳۰) د فتنی او فساد دور کی چی څوک زما سنت محکم کړي او کوم سنت چی هیر شوی دی هغه دوباره جاري کړی هغه ته د سلو شهیدانو ثواب ملاویږي.

(مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

لنډه دا چی د مبارکو حدیثونو او د فقه کتابونو له حوالو نه ثابت شو چی د سورت کهف لوستلو دغه طریقه قابل ترک ده پدی کی دنورو خرابیو نه علاوه یوه خرابي دا هم ده چی د آذان نه یوه ساعت (گهنته) وروسته خطبه ویل کیږي دومره تاخیر دسنت خلاف دی (شامي ۳۴۱/۱) فقط والله اعلم.

د اختر يا د جمعی دويمه خطبه کی لاس اوچتولو سره آمین ویل :

(٦٩ سوال) د اختر او د جمعی دويمه خطبه کی چی دعاء کيږي نو پدی وخت کی حاضرين لاس اوچتولو سره آمین وائي ، د دی څه حکم دی ؟

ځواب : پدی وخت کی لاسو اوچتول او آمین ویل منع دي ، پدی کی د دیوبندي او رضاخاني اختلاف شته ، مولوي احمد رضا خان مصوقه کتاب کی دي ، خطيب چی مسلمانانو لپاره دعاء وکړي نو د اوريدونكو لاس اوچتول يا آمین ویل منع دي که وکړي نو ګنهګاريږي ، خطبه کی درود شريف ويلو وخت کی د خطيب بني او ګس طرف ته مخ كول بدعت دی (رد المختار) (بهار شریعت ۱۰۰/۴) .

ویده کیدو وخت کی دری ځلی سورت اخلاص او درود ویل :

(۷۰ سوال) د شپی ویده کیدو وخت کی دری ځلی سورت اخلاص او دری ځلی درود شریف لوستلو سره خپل بدن باندی لاس تیرول او چوف کولو سره ثواب ملاویږي یا نه ؟

ځواب : په فتاوی حدیثیه کی دي : د شپی ویده کیدو وخت کی ماثور دعاء ویل او لاسو باندی چوف کولو سره په مخ او بدن باندی راتیرول مسنون طریقه ده .

(فتاوی حدیثیه ص ۴۲)

او په ترمذي شریف کی دي :

" عن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان اذا أوى الى فراشه كل ليلة جمع كفيه ثم نفث فيهما فقراء فيهما " قل هو الله احد " وقل اعوذ برب الفلق قل اعوذ برب الناس ثم يمسح بهما ما استطاع من جسده يبدأ بهما على رأسه ووجهه ما اقبل من جسده يفعل ذلك ثلاث مرات " .

يعنی حضرت عائشه رضی الله عنها نه نقل دي چی روزانه د شپی په وخت چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله چی بستری ته تشريف وړلو نو خپل دواړه لاسونه به رایوځای کړل او بیا قل هو الله احد ، قل اعوذ برب الفلق اوقل اعوذ برب الناس ولوستل او په لاسو به یی چوف کړ او بیا به یی په ټول بدن باندی چی کوم ځای ته

رسیدل راتیرول اول به سرمبارک ، نوراني مخ او د بدن نورو حصو باندی راتیر کړل او دری ځلی به یی داسی کول (ترمذي باب ما جاء فیما یقرأ من القرآن عند المنام ج ۲ ص ۱۷٦ مجتبائی دهلي) .
دغه مسنونه طریقه د ځان حفاظت جوړول پکار دي ، کوم ثواب او برکت چی په مسنون ذکر کی وي په نورو ذکرونو او اورادونو کی چیرته دی ؟ فقط .

قنوت نازله یوه ده که نور هم شته ؟

(۷۱ سوال) قنوت نازله یوه ده اوکه نور دعاء ګانې هم لوستلی شو ؟
ځواب : قنوت نازله یو متعین ندی د حالاتو او وختونو مطابق مأثوره دعاګانو څخه هره یوه دعاء ویلی کیدلی شي [1] .

د صلواة التسبیح په تسبیحاتو کی زیادت کول

(۷۲ سوال) د صلواة التسبیح ، تسبیح سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر سره (لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم زیاتولی شو یا نه ؟
ځواب . د حدیثو په روایتونو کی صرف پورته ذکر شوي الفاظ راغلي دي مګر په ځینی رویتونو کی وروستني الفاظ هم نقل دي لهذا که لوستل غواړئ نو لوستلی شئ په احیاء العلوم کی مذکوره زیاتي الفاظ لوستلو ته مستحسن ویلي دي (۲۷/۱) [2] .

---

[1] _ قوله ویسن الدعآء المشهور وذکر فی البحر ان القنوت لیس فیه دعآء مؤقت لأنه روی عن الصحابة ادعیة مختلفة والان المؤقت من الدعآء یذهب برقة القلب وذکر لسبیجابی انه ظاهر الروایة الخ شامی باب الوتر والنوافل ج ۲ ص ٦ .

[2] _ یقول فیها ثلثمائة مرة سبحان الله ، والحمد لله ، ولااله الا الله والله اکبر وفی روایة زیادة ولاحول ولاقوة الا بالله ، شامی مطلب فی صلاة التسبیح ج ۲ ص ۲۷ فقط والله اعلم .

د انبیاء کرامو علیهم السلام او اولیاء کرامو نه دعاء غوښتل جائز دي یا نه ؟

(۷۳ سوال) انبیاء کرام علیهم السلام او اولیاء کرام نه دعاء غوښتل چې زما دا کار وکړی ، اولاد راته راکړی ، نوکري او ملازمت راته پیدا کړی ، په مقدمه (دعوه) کې می کامیاب کړی ، نو پدی طریقه دعاء کول شرعاً جائز دي یا نه ؟

خواب : د مخلوق نه پدی طریقه دعا غوښتل جائز ندي ، دعاء عبادت دی او عبادت الله تعالی لپاره خاص دی ، مخلوق لپاره ناجائز او حرام دی .

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمایي :

" سجده کردن بسوی قبور انبیاء و اولیاء طواف گرد قبور کردن ودعا از آنها خواستن ونذر برای آنها قبول کردن حرام است " (ما لا بد منه ص ۸۰) .

او په " ارشاد الطالبین " کی دي : " دعاء از اولیاء مردگان یا زندگان واز انبیاء کرام علیهم السلام جائز نیست ، رسول خدا صلی الله علیه وسلم فرمود "الدعاء هو العبادة " . (ص ۲۸)

او حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمائي : " کل من ذهب الی بلدة اجمیر او الی قبر سالار مسعود او ماضاها لاجل حاجة یطلبها فانه اثم اکبر من القتل والزنا لیس مثله الا مثل من کان یعبد المصنوعات او مثل من کان یدعوا للات والعزی " .

ترجمه : هر هغه څوک چې خپل حاجت لپاره اجمیر شریف (حضرت خواجه اجمیري رحمه الله) سید سالار مسعود او د ده پشان بزرگانو مزارونو ته تللو سره خپل مرادونه او حاجتونه وغواړي نو بیشکه هغه ډیر لوی جرم وکړ داسی جرم یی وکړ چې د قتل او د زنا نه هم لوی دی ددی مثال د هغه مشرک دی چې د خپلو جوړ کړي بتانو عبادت کوي او لات او عزی ته د خپل حاجت لپاره آوازونه کوي .

(تفهیمات الهیه ج ۲ ص ۴۵)

او په مجالس الابرار کی دي : " والاستغاثة بهم وسؤالهم النصر والرزق والعافية والولد وقضاء الديون وتفريح الكربات وغير ذلك من الحاجات التى كان عباد الاوثان يسألونها من اوثانهم وليس شيئ منها مشروعاً باتفاق ائمة المسلمين الخ " .
یعنی : قبرونو والاو ته فریاد کول او له دوی نه مدد ، روزي ، تندرستي او اولاد ، د قرض ادا کول او د مصیبتونو څخه نجات لپاره دعاء کول او ددی پشانی نور حاجتونه غوښتل لکه څنګه چی بت پرستان خپلو بتانو نه غواړي ، دا ټولی خبرې د مسلمانانو ټولو امامانو په اتفاق سره ناجائز دي (ص ۱۱۹ مجلس ۱۷) .
حاصل دا چی الله تعالی نه علاوه د نورو (قبرونو والاو) نه اولاد غوښتل ، بیمار لپاره شفاء اوصحت غوښتل او رزق طلبول مشرکانه فعل دی .
محدث علامه محمد طاهر فرمایي :
" فان منهم من قصد بزيارة قبور الانبياء والصلحاء ان يصلى عند قبورهم ويدعوا عندها وينالهم الحوائج وهذا لايجوز عند احد من العلماء المسلمين فان العبادة وطلب الحوائج والاستعانة الله وحده " (مجمع بحار الانوار ص ۷۲ ج ۲) .
یعنی : ځینی هغه خلک دي چی د انبیاء کرامو علیهم السلام او صالحانو د قبرونو زیارت کولو نه د دوی مقصد دا دی چی ددغو مزارونو خوا کی لمونځ وکړي اوخپل حاجتونه ورنه وغواړي او د اسلام په علماؤ کی هیڅوک نشته چی دیته جائز ووائي څکه چی عبادت کول . حاجتونه غوښتل او مدد غوښتل یواځی د الله تعالی نه وي او دی سره خاص دی ، غور وکړئ ! الله تبارک وتعالی خپلو بندګانو نه روزانه دا اقرار اخلي چی اياك نعبد واياك نستعين ووایئ . یعنی ای الله مونږه خاص ستا عبادت کوو او خاص له تانه مدد غواړو ، نه د بل چا نه .
او رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه ته وصیت کوي : " اذا سألت فسأل الله واذا استعنت فاستعن الله " یعنی کله چی سوال کوی نو د الله تعالی نه یی کوه او چی کله مدد غواړی نو د الله تعالی نه یی غواړه .
(مشکواة ص ٤٥٣ باب التوکل والصبر الفصل الثانی)

حضرت شاه عبد القادر جیلاني رحمه الله د مرګ په وخت کی خپل ځوی عبد الوهاب ته وصیت وکړ چی ټول حاجتونه الله پاک ته حواله کړه او له همدی څخه مدد غواړه د ده د ارشاد الفاظ دا دي : " عليك بتقوى الله وطاعته ولاتخف احداً ولاترجه وكل الحوائج كلها الى الله عزوجل واطلبها منه ولاتثق باحد سوى الله عزوجل ولاتعتمد الا عليه سبحانه التوحيد التوحيد التوحيد "

(ملفوظات مع فتح ربانی ج ۱ ص ٦٦٥)

ترجمه : په تا باندی لازم دی چی په زړه کی د الله تعالی خوف پیدا کړی ، د ده اطاعت وکړی . د الله نه سیوا د هیچا ویره باید ستا په زړه کی نه وي ، او نه د الله تعالی نه سیوا د بل چا نه امید کوه ، خپل ټول حاجتونه الله عزوجل ته حواله کړه له همدی څخه خپل حاجتونه غواړه او د الله تعالی نه سیوا بل چا باندی باور مه کوه باور او اعتماد باید یواځی د الله تعالی په ذات باندی وي ، د ده ذات ټولو عیبونو څخه پاک دی ، وګوره توحید ، توحید ، توحید یعنی صرف او صرف همدغه یو ذات ومنه او یواځی همدا ذات قادر ذوالجلال وګڼه ، یواځی په همدی یو ذات باندی باور کوه او ټولی حیلی او امیدونه د همدی ذات نه ساته ، فقط والله اعلم .

په دعاء کی د توسل مسئله :

(۷۴ سوال) د انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرامو په وسیله سره دعاء غوښتل او الهي بحق فلان او الهي بحرمت فلان ویل جائز دي یا نه ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : د الله تبارک و تعالی نه دعاء کولو او خپل حاجت طلبولو کی کوم نبي یا ولي د وسیلی په توګه ذکر کول او داسی ویل : ای الله د فلاني نبي علیه السلام یا فلاني ولي په وسیله زما په حال باندی رحم وکړی او زما حاجت پوره کړی ، دا جائز او مسنون دي او د دعاء په اجابت کی نهایت موثر دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابي ته پدی طریقه د دعاء کولو تعلیم ورکړی دی ، ترمذي شریف وغیره د حدیثو په کتابو کی دي : " اللهم انی اسئلك واتوجه اليك بنبيك محمد ن الرحمة " ای الله زه ستا د نبی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نبی رحمت په وسیله له تانه حاجت پوره کول غواړم او ستا طرف ته متوجه کیږم (ترمذي شریف ج ۲ ص ۱۹۷ باب في الدعاء النبی صلی الله علیه وسلم وتعوذه في دبر كل صلواة) (مشکواة

شريف ص ۲۱۹ باب فی جامع الدعاء فصل ۳) (حصـــن خصـــين ص ۱۵۱ المنزل الخامس ، ابن ماجه ص ۱۰۰) .

په مشكواة كی حديث دی : چی د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه معمول وُ چـی كلـه به قحط جوړ شو نو د حضرت عباس رضی الله عنه په وسيله سره به د بـاران دعـاء كولـه او ويل بـه يی : " اللهم انا كنا نتوسل اليك نبينا فتسقينا وانا اتوسل اليك بعم نبينا فاسقنا فيسقوا " (رواه البخاری) ای الله تعالی مونږ به ستا نبی صلی الله عليه وسلم وسيله كولو او دده صلی الله عليه وسلم په واسطه له تا څخه دعاء كولو او تـا بـه زمونـږه دعاء قبلوله او باران به دی ورولـه ، اوس د رسول الله صلی الله عليه وسـلم تـره حضـرت عباس رضی الله عنه په ذريعه ستا په حضور كی وسيله كوو نو پـه مونـږه بـاران راوليـږه ، حضرت عمر رضی الله عنه به د حضرت عباس رضی الله عنه په واسطه كولـو سـره پـدی شان سره دعاء كوله او نتيجه به دا شوه چی باران به كيدلو (مشـــكواة شـــريف ص ۱۳۲ باب الاستسقاء الفصل الثالث) زمونږه حضرات د دی قسم توسل قائل دي او د دوی عمل همدا پاتی شوی دی ، حكيم الامـت حضـرت تهـانوي رحمـه الله ليكـي : " اهل طريق يعنی د طريقت خاوندانو كی د مقبولان الهي په وسيله سره دعاء كـول پـه كثرت سره شائع دي ، د حديث نه د دی ثبوت كيږي ، په مشكواة كـی اميـه نـه روايـت دی : نبـی كـريم صـلی الله عليـه وسـلم بـه د فقـراوُ مهـاجرينو پـه وسـيله د فـتح دعاء كولو . التكشف ص ۴۴٦ او امداد الفتاوی كی هم دي :

خواب : په دعاء كی د مقبولان حق وسيله كول كه هغه ژوندی وي يـا مـړه وي درسـت او صحيح دي ، د استسقاء په قصه كی په حضرت عباس رضی الله عنه بانـدی د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وسيله ، د ضرير (وړوند) په قصه كی په جناب رسول الله صـلی الله عليه وسلم باندی د وفات نه وروسته هم احاديثو كی وارد دي پدی وجه جواز كـی هيڅ شک و شبه نشته (ج ۴ ص ۳۲٦) .

شيخ الاسلام حضرت مولانا مدني رحمه الله ليكي : په رسول الله صـلی الله عليـه وسـلم باندی توسل نه يواځي وجود ظاهري په زمانه كی به كيدلو بلكی پدی برزخـي وجـود كی هم كول پكار دي ، محبوب حقيقي پوری رسيدل او د ده رضا يواځی د رسـول الله صلی الله عليه وسلم په ذريعهِ او وسيله سره كيدلی شي . الخ .

(مکتوبات شیخ الاسلام ج ۱ ص ۱۲۹، ۱۳۰)

وسیله په اصل کی د الله تعالی هغه رحمت دی چی پدی سره خپل محبوب بنده (نبي ، ولي) نازولی شوی وي ، نو د کوم نبي یا ولي په وسیله د دعاء کولو مطلب دا وي چی د الله تعالی خاص رحمت او خصوصي عنایت چی پدی بنده وي وسیله گرځولی شوی ، ناجائز توسل هغه دی چی د خپل مطلب او حاجت پوره کیدو لپاره غیر الله معین او حاجت روا وگڼل شي چی هم دی مدد وکړي او دده په مدد سره زمونږه حاجت پوره شي دا عقیده ساتل درست ندي ، او الهي بطفیل فلان ، الهي بحرمت فلان ، الهي به جاه فلان ، الهي بحق فلان ویل هم درست دي ، ځینو بحق الفاظو سره اختلاف کړی او د لاحق للمخلوق علی الخالق نه استدلال کړی دی مگر دا صحیح ندی ځکه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی :

" قال هل تدری ما حق الله علی عباده قلت الله ورسوله اعلم قال حق الله علی عباده ان یعبدوه ولایشرکوا به شیئا ثم سار ساعةً ثم قال یا معاذ بن جبل قلت لبیك رسول الله وسعدیك قال هل تدری ما حق العباد علی الله اذ فعلوه قال الله ورسوله اعلم قال حق العباد علی الله ان لا یعذبهم " (بخاری شریف ص ۸۸۳ کتاب الادب باب من احق الناس بحسن الصحبة ج ۲ ص ۹۲۷ کتاب الاستیذان باب من اجاب بلبیك وسعدیك ج ۲ ص ۱۰۹۷) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي دي چی کوم سړی خپل کور نه لمانځه لپاره پدی وینا سره ووځي چی " الهی بحق السائلین علیك " یعنی ای الله زه د هغو سوال کونکو د حق په بدل کی کوم چی تا باندی دی او زه د دی لمونځ طرف ته تلو په بدل کی له تانه سوال کوم ، نو د هغه دعاء قبلیږي[1] .

حضرت شاه عبد العزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکلي دي ، چی طبراني په معجم صغیر کی او حاکم ، ابو نعیم او بیهقي امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه نه دا روایت نقل کړی چی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : دحضرت آدم .

---

[1] وجاء في روایة اللهم انی اسئلك بحق السائلین علیك وبحق ممشائی الیك فان لم اخرج اشراً ولا بطراً الحدیث فتاوی شامی حضرو الاباحة فصل في البیع ج ۶ ص ۳۹۷

عليه السلام نه خطاء وشوه نو خپله توبه او دعاء کی حضرت رسول محبوب صلی الله عليه وسلم وسيله کړ چې يا الله زه له تا نه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په حق سوال کوم چې زما گناه معاف کړی نو الله تعالى هغه ته مغفرت وکړ.

(فتح العزيز ص ۱۸۳)

او بلی دلی ويلي دي چی او بحق او بطفيل فلان ويل پروا نلري ځکه چی په ماثوره دعاگانو کی راغلي چی بحق السائلين عليك او لفظ د طفيل او حرمت سره مترادف دی او يوه معنی لري نه بل (رياض المرتاض د نواب صديق حسن خان ص ۲۹).

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله به هم داشان دعاء کولو :

خــــدا بــاحق بنی فــــاطمه
کــه بــر قــول ايمان كنم خاتمه

اگـــر دعـــوتم رد کنی ورقبـــول
مـــن و دست وامـــان آل رسول (ص)

ترجمه :

يـــا الله بـــحق بنی فـــاطمه
کـــه ايمـــان پـــر هـــو ميرا خاتمه
دعـــاء کـــو ميری رد کـــر يا قبول
مجهے بس هے دامـــان آل رسول (ص)

(مكتوبات ج ۲ ص ٦۴ مکتوب نمبر ٢٦) فقط والله اعلم

په ختم قرآن باندی دعاء

(سوال) حضرت محترم راته وليکئ چی د قرآن پاک په ختم باندی کومه دعاء کول پکار دي ؟

خواب : د حضرت مولانا يعقوب چرخي رحمه الله نه نقل دي چی صحابه کرامو رضی الله عنهم به د قرآن مجيد تلاوت نه وروسته روزانه دا لاندنی درود شريف لوستلو :

" اللهم صل على محمد وآله وصحبهِ بعدد ما فی جميع القرآن حرفاً حرفاً وبعـــدد كل حرف الفاً الفاً " او حضرت ملا علي قاري په شرح عين العلم کـی ليکـي : د قرآن شريف لوستونکی دی هره ورخ د قرآن مجيد د تلاوت نه وروسته دا دعا ولولي .

" اللهم آنس وحشتی فی قبری اللهم الرحمنی بالقرآن العظیم اللهم ذکرنی منه مانسیت وعلمنی منه ما جهلت وارزقنی تلاوته آناء الیل وآناء النهار اللهم اجعله لی اماماً ونوراً واجعله لی حجةً یارب العلمین "

د آذان په دعاء کی لاسونه اوچتول افضل دي ؟

(۷۵ سوال) د آذان نه وروسته دعاء کی لاس اوچتول مسنون دي یا خلاف سنت ؟ وضاحت وکړئ ، مهرباني.

ځواب : د آذان نه وروسته په دعاء کی لاس اوچتول نقل ندي ، او مطلقاً دعاء کی لاس اوچتول قولي او فعلي حدیثونو کی ثابت دي ، لهذا د آذان په دعاء کی لاس اوچتولو ته د سنت خلاف ورزي نشي ویل کیدی[1] مګر چونکی ثابت نديلهذا افضل هم نه ویل کیږي بلکی لاس نه اوچتولو ته افضل ویل کیږي ، فقط والله اعلم.

د لمانځه نه وروسته په سجده کی دعاء کول

(۷٦ سوال) د ځینو لمونځ ګذارو دا عادت دی چی لمانځه نه وروسته په سجده کی د لاسونو غوړولو سره دعاء کوي ، دی باره کی څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ ، مهرباني.

ځواب : د دعاء عام مسنون طریقه افضل ده ، پدی کی د هیڅا اختلاف نشته دمناجات سجده د زیاترو فقهاؤ په نزد مکروه دی په اشعة اللمعات کی دي : " سوم سجده مناجات وظاهر کلام اکثر علماء آنست که مکروه است " یعني دریم د مناجات سجده ده چی د زیاترو علماؤ په نزد مکروه ده (اشعة اللمعات ج ۱ ص ٦٢٠) او په شرح سفر السعادت کی دي : " ودیگر سجده مناجات است بعد از نماز وظاهر از کلام اکثر آنست که این مکروه است " (شرح سفر السعادت ص ۱۵۹).

---

[1] ـ چونکی دا دعاء متواره اذکارو څخه ده او په متواره اذکارو کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لاس اوچتول ثابت ندي مثلاً د طواف په وخت ، د اوده کیدو ، جوسات ته ننوتلو په وخت او وغیره کی لاس اوچتول ثابت ندي نو اوچتول به خلاف سنت وي دلته هم همدا حکم کیږي.

دل الحدیث علی انه اذا لم یرفع یدیه فی الدعاء لم یمسح بهما وهو قید حسن لانه صلی الله علیه وسلم کان یدعوا کثیرا کما فی الصلاة والطواف وغیرهما من الدعوات الماثورة دبر الصلوات وعند النوم وبعد الاکل وامثال ذلک لم یرفع یدیه ولم یمسح بهما وجهه طحطاوی علی مراقی الفلاح فصل فی صفة الاذکار ص ۱۷۷.

د خوراک نه وروسته دعاء کی لاس اوچتول :

(۷۷ سوال) د خوراک نه وروسته دعاء کولی شي ، پدیکی لاس اوچتول ثابت دي ؟ که ثابت وي نو د کتاب حواله ضرور ولیکئ ، مهرباني .

خواب : رسول الله صلیٰ الله علیه وسلم به د خوراک نه وروسته دعاء کولو لیکن پدیکی لاس اوچتول نقل ندي ، او ډیر داسی ځایونه شته چی په دعاء کی لاس اوچتول ثابت ندي لکه جومات ته د ننوتو او وتو ، بیت الخلاء ته د تللو او راتللو ، د زوجینو ملاویدو او جدا کیدو ، ویده کیدو او راویښیدو او د طواف په وخت کی دعاء کولو لاس اوچتول ثابت ندي ، په طحطاوي علی مراقی الفلاح کی دي : " دل الحديث على انه اذا لم يرفع يديه في الدعاء لم يمسح بهما وهو قيد حسن لانه صلى الله عليه وسلم كان يدعوا كثيراً كما في الصلاة والطواف وغيرهما من الدعوات الماثورة دبر الصلوات وعند النوم وبعد الاكل وامثال ذلك لم يرفع يديه ولم يمسح بهما وجهه . افاده في شرح المشكواة وشرح الحصن الحصين وغيرهما .

ترجمه : حدیث په دی خبره دلالت کوي چی کله په دعاء کی لاس اوچت نه کړی او په مخ باندی به هم نه تیروی ، دا قید ښه دی ، ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم به زیاتره وخت ، لمانځه کی ، طواف کی ، ویده کیدو کی او خوراک کولو نه وروسته او ددینه نه علاوه نورو ځایو کی دعاء کولو خو پدی وختو کی نه لاسونه اوچتول او نه به یی په خپل مخ مبارک باندی راتیرول (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص ۱۸۵ فصل في صفة الاذكار) .

د فاطمي تسبیحاتو د شمیر تحقیق او پدی کی زیادت کول

(۷۸ سوال) د فاطمي تسبیحاتو مقدار څه دی ؟ ایا روایتونو کی مختلف شمیر ثابت دی ؟ او بله خبره دا چی کومه شمیره په روایتونو کی راغلی که چیرته څوک له دینه زیات ولولي نو د ثواب مقدار ګرځي یا نه ؟ یو سړی وائي چی حقدار دی او بل سړی وائي کوم شمیر چی نقل دی دهغه لحاظ دی وکړی شي نو هلته د برکت باعث ګرځي پدی دواړو کی د چا خبره صحیح ده ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب فاطمي تسبيحات دا دي (۳۳) خله سبحان الله (۳۳) خله الحمد لله او (۳۳) خله الله اكبر او په اخر كي سل پوره كولو لپاره يو ځل " لا اله الا الله وحده لاشريك له . له الملك وله الحمد وهو على كل شيئ قدير " په مشكواة شريف كى د مسلم شريف په حواله روايت دى " عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من سبح الله فى دبر كل صلواة ثلثا وثلثين فتلك تسعة وتسعون وقال تمام المائة لا اله الا الله وحده لاشريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيئ قدير غفرت خطاياه وان كانت مثل زبد البحر " رواه مسلم (مشكواة شريف ص ۸۹ باب الذكر بعد الصلواة) او همداشمير مشهور دى او په همدى باندى عمل دى .

لدينه علاوه نوره شميره هم حديثونو كى نقل ده لكه چى په مشكواة شريف كى د مسلم شريف په حواله نقل دي : " عن كعب بن عجزة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم معقبات لايخيب قائلهن او فاعلهن دبر كل صلواة مكتوبة ثلث وثلثون تسبيحة وثلث وثلثون تحميدة واربع وثلثون تكبيرة " رواه مسلم (مشكواة شريف ص ۸۹ ايضاً)

په مشكواة شريف كى يو بل روايت د بخاري شريف په حواله دى : " وفى رواية للبخارى تسبحون فى دبر كل صلواة عشرا وتحمدون عشراً وتكبرون عشراً بدل ثلثا وثلثين " (مشكواة شريف ص ۸۹) .

لدينه علاوه نورى شميرى هم نقل دي چى علامه حافظ ابن حجر يوځاى كړي دي لكه چى په التعليق الصبيح كى دي :

" قال ابن حجر واعلم ان فى كل من تلك الكلمات الثلاث روايات مختلفة ذكر بعضها ونذكر باقيها ، ورد التسبيح ثلثا وثلثين وخمساً وعشرين واحدى عشرة وعشرة وثلاثاً ومرة واحدة وسبعين ومائة و ورد التحميد ثلاثا وثلثين وخمساً

وعشرين واحدى عشرة وعشرة ومائة و ورد التهليل عشرة وخمساً وعشرين ومائة " (ايضاً التعليق الصبيح ج ۲ ص ٥) .

کومی شمیرې چی ثابت دي د هغه لحاظ چی وکړی شي نو برکت پکی زیات دی ، او که غفلت سره زیات شي ابتداء کی د زیادت نیت نه وي نو انشاء الله فضیلت به ورته حاصل شي لیکن که چیرته له اول نه د زیات لوستو نیت وي نو شاید چی هغه فضیلت ورته حاصل نشي د کوم چی وعده شوی ، لکه په کوم دوا کی چی یو خاص مقدار شکر (چیني) اچول پکار وي که یو څوک د هغه معین مقدار نه زیات کړي نو د دواء چی کوم خاص اثر او فایده ده هغه نه حاصلیږي ، په التعلیق الصبیح کی دي : " قال بعض العلماء والاعداد الواردة فى الاذكار كالذكر عقب الصلواة اذا رتب عليها ثواب مخصوص فزاد الآتى بها على العدد لايحصل له ذلك الثواب المخصوص لاحتمال ان لتلك الاعداد حكما وخاصية تفوت مجاوزة العدد ونظر فيه الحافظ العراقى بانه اتى بالقدر الذى رتب الثواب على الاتيان به فحصل له ثواب فاذا زاد عليه من جنسه كيف تزيل الزيادة ذلك الثواب بعد حصوله قال الحافظ ويمكن ان يفترق الحاصل فيه بالنية فاذا نوى عند الانتها اليه امتثال الامر الوارد ثم اتى بالزيادة لم يضر وان نوى الزيادة ابتداءً بان يكون الثواب رتب على عشرة مثلاً فذكره هو مائة فيتجه القول الماضى ومثله بعضهم بالدواء يكون فيه مثلاً اوقية سكر فلو زيد فيه اوقية اخرى تخلف الانتفاع به فلو اقتصر على الاوقية فى الدواء ثم استعمل من السكر بعد ذلك ماشاء لم يتخلف الانتفاع اه"(التعليق الصبيح ج ۲ ص ٥ ايضاً)

والله اعلم .

د لمانځه د وختونو نه علاوه جومات کې د ذکر مجلس جوړول او د لوډ سپیکر په ذریعه ښځو ته د ذکر تلقین کولو سره په کور کې د دوی د ذکر مجلس جوړول څنګه دي ؟

(۷۹ سوال) یو مشهور عالم عارف بالله او منلی شوی بزرګ دی چې د ده فیض هند و پاک ، انګلستان او ډیرو ملکونوکی جاري دی دده یو مجاز (اجازه ورکړی شوی) عالِم د ده په اجازه سره د ذکر حلقه جوړه کړی ده ، هره هفته جومات کی کوم وخت کې لمونځ ګذاران او تلاوت کونکي نه وي د سړو لپاره د ذکر حلقه جوړوي او د جومات نه په کافي فاصله کې یوه مدرسه کې ښځې راټولیږي د لوډ سپیکر په ذریعه ورته د ذکر تلقین کیږي . الحمد لله پدی کار سره په سړو او ښځو کی دین طرف ته رجحان زیاتیږي او فایده کوي که دا سړي او ښځې په کورو کی وای نو خپل قیمتي وخت به یې په ټي وي ، ویډیو او نورو خرافاتو کی ضائع کولو ، ډیر علماء حضرات د ذکر د دغې طریقې تائید نه کوي ، همداشان یو بل د ذکر مجلس په جومات کی کله چې دلمونځ ګذارو او تلاوت کونکو نه خالي وي د مسلمانانو د فایدی په نیت شروع کیدونکی دی چې پدی کی به یو عالِم مختصر بیان کوي او بیا به ختم خواجه ګان وي (لکه چې دحضرت تهانوي رحمه الله په خانقاه کی کیدلو) او بیا به ذکر وي او وروسته اجتماعي دعاء به کیږي ، اوس ستاسو له عالي جناب نه دا تپوس کوو چې پورته ذکر شوی مجلس په جوړیدو کی شرعاً څه قباحت شته ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د حق مشائخو په خانقاه ګانو کی جهري او سري ذکر او مراقبه په توارث سره جاري دی ، دغه حضرات د خپلو تجربو په رڼا کې د روحاني مرضونو علاج کوي او د بدیو او ګناهونو څخه د بچ کیدو تدبیرونه ښائي او مقصد یې د نفس تزکیه وي د خپلو مریدانو په زړه کی د الله تعالی معرفت محبت او تعلق پیدا کولو لپاره او د الله تعالی په ذکر کی مشغول ساتلو لپاره د شرعي حدودو په دائره کی دننه د ذکر کومه حلقه جوړه کړي او پدی طریقه باندی اصرار نه وي او پدی طریقه کی نه شریکیدونکو باندی بدګماني او ګنهګار ونه ګڼل شي او تحقیر او تذلیل هم نشي او د دوی ذکر لمونځ ګذارو او ویده کیدونکو ته تشویش او خلل نه پیدا کوي نو بیا د دی ګنجائش شته البته د ښځو اجتماع یو باریک او نازک کار دی که په کور کی پاتی کیدو سره کوم صورت جوړیدی شي نو زیات بهتر دی او که داسی صورت نه جوړیده او

ښځې د شرعي پردې پوره اهتمام سره او دخپل محرم په ملګرتیا تګ راتګ وکړي یا داسې قابل اعتماد ملګرتیا اختیار کړي چې د فتنې او بدنامۍ نه محفوظ پاتې شي او په عزت او آبرو باندې هیڅ قسم داغ ونه لګي نو د فائدې په امید او د ګناهونو او خرافاتو څخه د حفاظت په غرض (کوم چې سوال کې ذکر شوی دی) ګنجائش پیدا کیږي په شرط د دې چې دا یو دیني حکم او سنت طریقه ونه ګڼي او پدې باندې اصرار هم نه وي او خداناخواسته که کوم وخت کې د فتنې پیدا کیدو خطره وي نو بیا د دې طریقې پرینبودل ضروري دي ، د ذکر د مستقل حلقې په ځای چې د تفسیر قرآن او یا درس قرآن په نوم مجلس جوړ کړی شي چې پدیکې دقرآن پاک تفسیر او نور ضروري مسائل بیان شي او ورسره څه وخت ذکر لپاره هم مقرر شي نو دا صورت ډیر مناسب معلومیږي ، په حدیث کې دي : " عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ما اجتمع قوم فی بیت من بیوت الله ویتدارسونه بینهم الا نزلت علیهم السکینة وغشیتهم الرحمة وحفتهم الملائکة وذکرهم الله فیمن عنده " رواه مسلم وابوداؤد .

یعنې حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد نقل کړی چې هیڅ یو قوم د الله تعالی په یو کور کې جمع کیدو سره د الله د کلام تلاوت او دور نه کوي مګر په هغو باندې سکینه نازلیږي او رحمت یې پټوي او ملائکې د رحمت ترینه چاپیره کیږي او الله تعالی د ملائکو په مجلس کې د هغوی تذکره کوي (په حواله د فضائل قرآن (۳۱ ، ۳۲) صفحې (۲۲) حدیث د شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب) .

دعاء ګنج العرش او دعاء قدح وغیره لوستل :

(۸۰ سوال) پنج سوره (کوم چې تقریباً هر جوماتې کې موندل کیږي) کې دعاء ګنج العرش او دعاء قدح وغیره دي د دې شرعي ثبوت څه دی ؟ ځینې علماء ددې د لوستلو نه منع کوي ځکه چې د دعاء ګنج العرش ثبوت په صحاح سته یا کوم بل صحیح حدیث کې نشته ، پنج سوره کې د دعاء ګنج العرش په باره کې لیکلي دي چې دا دعاء د حضرت جبرائیل علیه السلام په ذریعه د وحې په طور نازل شوی او د دې ډیر فضائل ښودلي دي لهذا د لاندینو خبرو متعلق صحیح لارښونه وکړئ :

(۱) د دعاء ګنج العرش ثبوت په صحیح احادیثو کې شته یا نه ؟

(۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک ژوند کی دا دعاء کړی یا کوم صحابي ته ښودلی دی ؟
(۳) که په صحیح حدیثو کی د دی ثبوت نه وي نو تر ننه پوری چی کوم خلک د ثواب په غرض دا دعاء وظیفه کوي هغو ته ثواب ملاویږي ؟ تفصیل سره ځواب راکړئ مهرباني .
ځواب : باسمه تعالی حامداً ومصلیاً ومسلماً ! (۱ _ ۲ _ ۳) د مذکوره دعاګانو روایتونه موضوعي ښودلی شوي کوم معتمد او مشهور محدث د دی روایتونو تصدیق ندی کړی .لهذا دغه دعاګانې او فضائل يې صحیح او مستند ګڼل درست ندي ، د قرآن کریم تلاوت او په حدیثونو کی ذکر شوي اذکار ، درود شریف ، اوله ، دریمه او څلورمه کلمه ، استغفار ، حص حصین ، حزب الاعظم ، مناجات مقبول وغیره کوم چی د علماء کرامو معمول دی پدی باندی اکتفاء کولو کی خیر و برکت او هدایت دی ، د درود تاج متعلق یوه فتوی په فتاوی رحیمیه اردو دویم جلد (۸۲ _ ۸۶) صفحې او په فتاوی رحیمیه ګجراتي دویم جلد (۲۳۰ _ ۲۳۴) صفحو کی شائع شوی دا فتوی ضرور مطالعه کړئ .
او دا خبره هم په یاد ولرئ چی هیڅ کومه دعاء لیکلو سره د مړي په کفن کی اېښودل او یا د سیاهي (رنګ) په ذریعه په کفن او یا د مړي په تندي باندی لیکل هم جائز ندي ځکه چی پدیکی بې ادبي ده ، البته بغیر د سیاهي (رنګ) تش په ګوتو سره کفن باندی کومه دعاء ولیکل شي نو د دی ګنجائش شته پدی باره کی یوه فتوی په فتاوی رحیمیه اردو اوم جلد (۱۰۳ _ ۱۰۵) صفحی او فتاوی رحیمیه ګجراتي اول (۲۹۴_۲۹۶) صفحو کی شائع شوی هیله ده چی دا هم وګورئ .
د دعاء قدح متعلق چی کوم روایت په پنج سوره کی دی هغه هم موضوعي دی لهذا دا دی مستند او صحیح ونه ګڼل کیږي او ددی مطابق عمل دی هم ونکړی شي قرآن کریم د الله تعالی کلام دی او مؤمنانو لپاره یو عظیم نعمت دی د قرآن کریم تلاوت الله پاک ته د نزدیکت حاصلولو ډیره قوي ذریعه ده ، په حدیثونو کی د قرآن کریم او ددی د تلاوت ډیر زیات فضائل راغلي دي ، مزید تفصیل لپاره د حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا صاحب فضائل قرآن او د احقر فتوی په فتاوی رحیمیه اردو دریم جلد (۲۷ _ ۳۱) صفحې او فتاوی رحیمیه ګجراتي څلورم جلد د (۹۷ _ ۱۰۳) صفحې وګورئ .

د قرآن کریم د تلاوت او د دی زده کول او ددی مطابق د عمل کولو لپاره خلک کوشش نه کوي او غیر مستند شیان خان سره ساتي ، دقرآن کریم تلاوت باید مکمل توجه او شوق، سره وکړی شي او دی سره د الله تعالی ذکر اوله ، دریمه او خلورمه کلمه ، استغفار ، درود شریف وغیره مستند دعاګانی هم لوستل پکار دي ، په فتاوی محمودیه کی دي :

(۳۵۰ سوال) د نور نامه ، عهد نامه ، دعاء ګنج العرش ، درود تاج ، درود لکي حقیقت څه دی د دوی تعریفونه صحیح دي یا مبالغه ده ؟ او د دوی ثبوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دي او که خلکو پخپله جوړ کړي دي او د دي لوستل څنګه دي ؟

خواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! د دوی هیڅ کوم صحیح سند ثابت ندی ، او کوم تعریفونه چي لیکلي دي بی اصل دي د دوی په ځای باید د قرآن پاک تلاوت وشي ، درود شریف او کلمه ، استغفار ولوستل شي ، فقط والله اعلم .

(حرره العبد محمود ګنګوهي غفر له (فتاوی محموده ص ۳۲۷ جلد نمبر ۵ الاشتات)

فقط والله اعلم بالصواب .

په جومات کی د جهري ذکر مجلس

(۸۲ سوال) سونړه پخپله علاقه کی یو جومات جوړ کړی او لمونځ هم پکی شروع شوی پدی کی خینی خلک جهري ذکر کول غواړي نو ایا جومات کی جهري ذکر کول جائز دی ؟ که چیرته دا خلک جهري ذکر شروع کړي نو وړاندی تللو سره نوي نوي شیانو پیدا کیدو خطره ده پدی باره کی شریعت څه وائي ؟

خواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! کوم سړی چی حقاني مشائخو څخه بیعت کړی وي او هغو ورته د ذکر جهري تعلیم ورکړی وي نو د تعلیم مطابق خانته خانته جهري ذکر کولی شي لیکن که چیرته جومات کی جهري ذکر نه لمونځ ګذارو ته تشویش او تکلیف وي نو بیا جومات کی جهري ذکر جائز ندی ، حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب لیکي . مسئله : په جومات کی جهراً ذکر او اوچت آواز سره د قرآن پاک تلاوت وغیره تول ناجائز دي (خلاصة الفتاوی) البته که چیرته جومات کی څوک لمونځ یا تسبیح وغیره کی لګیا نه وي نو بیا خینی علماؤ اجازت ورکړی دی (بیان ذکر الذاکر للشیخ عبد الوهاب شعرالی) او خینی علماؤ جومات کی جهراً ذکر او جهراً قرآن لوستل مطلقاً ناجائز ګرخولي د دی مسئلی مزید تفصیل او پوره تحقیق د دی رسالی په ضمیمه کی

ضرور وګورئ (آداب المساجد ص ١٦) په ضمیمه کی لیکلي دي : قوله ، (مسئله) په جوماث کی جهري ذکر او لوړ آواز سره د قرآن پاک تلاوت کول وغیره ټول ناجائز دي (خلاصة الفتاوی) الی قوله ناجائز ګرځولي دي ، اقول ـ پدی کی مختلف اقوال دي او فیصله هغه ده کومه چی شامي د د حموي حاشیی نه د امام شعراني قول نقل کړی: " اجمع العلماء سلفاً وخلفاً على استحباب ذكر الجماعة فى المساجد وغيرها الا ان يشوش جهرهم على نائم او مصل او قارئ ا لخ " (ص ٦٩ ج ١ مطلب فى احكام المساجد) .

همداشان که چیرته جوماث کی د جهري ذکر نه د بدعتونو او نوي نوي شیانو پیدا کیدو ویره وي نو پداسی موقع باندی به ذاکرین ورونه جوماث کی ذکر کولو باندی اصرار نه کوي او دوی ته پکار دي چی خپلو کورو کی پداسی طریقه باندی ذکر وکړي چی ویده کیدونکو ، او لمونځ ګذارو وغیره ته تکلیف نه وي .

اسلام کی بدعت باندی ډیر سخت وعیدونه راغلي دي‌لهذا د بدعت د پیدا کیدو سبب مه جوړیږئ جهري ذکر لپاره جوماث او جمع کیدل ضروري ندي هر څوک پخپل کور کی هم ذکر کولی شي ، فقط والله اعلم .

د خوراک نه وروسته دعاء کی لاس اوچتول مسنون دي یا نه ؟

(۸۳ سوال) د خوراک نه وروسته دعاء کولی شي ، پدی دعاء کی لاس اوچتول مسنون دي یا نه ؟ وضاحت وکړئ ، مهرباني .

خواب : هر مستحب او مسنو دعاء لپاره لاس اوچتول ضروري ندي یعنی د خوراک کولو نه وروسته دعاء کی لاس اوچتول مسنون ندي ، طواف کولو وخت کی دعاء مسنون ده مګر پدی کی لاس اوچتول نشته ، په لمانځه کی دننه هم دعاء ویل کیږي ، ویده کیدو ، جوماث ته ننوتو او وتو ، جماع ، بیت الخلاء نه د تګ او راتګ وخت کی هم دعاء ثابت دی مګر لاس اوچتول ثابت ندي همداشان د خوراک نه وروسته دعاء کولو کی هم لاس اوچتول مسنون ندي .

" لانه صلى الله عليه وسلم كان يدعوا كثيراً كما فى الصلاة والطواف وغيرهما من الدعوات الماثورة دبر الصلوات وعند النوم وبعد الاكل وامثال ذلك لم يرفع يديه ولم يمسح بهما وجهه " . افاده فى شرح المشكواة وشرح الحصن الحصين وغيرهما (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۱۸۵) فقط والله اعلم بالصواب .

په مقبره کی لاس اوچتولو سره دعاء کول :

(۸۴ سوال) د دین عالمان او مفتاین صاحبان پدی مسئله کی څه فرمائي چی د تدفین نه وروسته او د قبرونو د زیارت په وخت مقبره کی لاس اوچتولو سره دعاء کول څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : قبرستان کی لاس اوچتولو سره دعاء کول منع ندي بلکی مندوب دي ، ځکه چی د دعاء د آدابو څخه لاس اوچتول هم دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي په مسلم شریف کی دي : " حتى جاء البقيع فقام فاطال القيام ثم رفع يديه ثلث مرات وفى النووى (قولها حتى جاء البقيع فاطال القيام ثم رفع يديه ثلث مرات) فيه استحباب اطالة الدعاء وتكريره ورفع اليدين الخ " (مسلم شريف مع شرحه للنووى ج ۱ ص ۳۱۳ كتاب الجنائز) .

پدی حدیث کی تصریح دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم جنت البقیع کی لاس اوچتولو سره دعاء کړی ده ، او همداراز د ابوعوانه حدیث کوم چی حافظ ابن حجر عسقلاني د صحیح بخاري شرح فتح الباري کی راوړی له دینه هم ثابتیږي چی د تدفین نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس اوچتولو سره دعاء کړی ده .

" وفى حديث ابن مسعود رضى الله عنه رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فى قبر عبد الله ذى البجادين رضى الله عنه وفيه فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعا يديه " اخرجه ابوعوانة فى صحيحه (فتح البارى شرح بخارى ج ۱۱ ص ۱۲۲) .

یعنی ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي : ما رسول الله صی الله علیه وسلم د عبد الله ذی البجادین رضی الله عنه قبر باندی ولید کله د ده له دفن نه فارغ شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ په قبله ودریدو او لاس اوچتولو سره دعاء کولو کی مشغول شو .

او د فقهاوُ لـه عبـارت نـه ممانعـت نـه ثابتيـږي بلکـی اجـازت معلوميـږي " لان السكوت فى معرض البيان بيان " البته كه قبر مخامخ وي او د صاحب قبر نـه د استمداد شبهه وي نو بيا لاس اوچتول ممنوع دي[1] .

حكيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمائي :

(سوال) مقبره کی لاس اوچتولو سره دعاء كول صحيح دي يا نه ؟

ځواب : " فى رد المختار آداب زيارة القبور ثم يدعوا قائماً طـويلاً ".لدينـه د دعـاء جائز كيدل ثابتيږي او لاس اوچتول مطلقاً د دعاء له آدابو څخه دي نـو دا هـم صـحيح شو .

(امداد الفتاوى ج ۱ ص ۴۷٦ مطبوعه كراچي پاكستان)

د مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي محمد كفايت الله صاحب فتوى :

(سوال) په کوم مزار باندی لاس اوچتولو سره فاتحه ويل جائز دي يا نه ؟

ځواب : په کوم مزار باندي لاس اوچتولو سره دعـاء كـول مبـاح دي مگـر بهتـر دا دي چي يا مزار طرف ته مخ كولو سره بغير د لاس اوچتولو فاتحه ولولي يا قبلـی تـه ودريـدو لاس اوچتولو سره فاتحه ولولي ، د فاتحه نه مراد دا دی چي ايصال ثـواب پـه غـرض د قرآن كريم څو آيتونه ولولي او ثواب يي وبخښي او مـري تـه د مغفـرت دعـاء وكـړي او دصاحب قبر نه مرادونه او حاجتونه غوښتل او دوی ته نذرونه منل تول ناجائز دي .

(كفايت المفتي ۱۸۳/۴) ۱۱/ ربيع الاول ۱۴۰۰ھ فقط والله اعلم بالصواب .

---

[1] ـ د مري دفن کولو نه وروسته لاس اوچتولو سره د دعاء کولو صراحت شامي کی موجود دي :

" وجلوس ساعة بعد دفنه لدعآء وقرأة بقدر ماينحر الجزور ويفرق لحمه ، قال فى الشامية تحت قوله وجلـوس الخ لما فى السنن ابي داؤد كان النبي صلي الله عليه وسلم اذا فرغ من دفن الميت وقف علي قـبره .وقـال استـغفروا لاخيكم وسألوا الله له التثبيت فان الآن مسأل الخ شامي مطلب فى دفن الميت ج ۲ ص ۲۳۷ .